Download from:aghalibrary.cm

اسلامي عقيده



مؤلف:
پوهندوی مولوي محمدشريف (رحماني)

اسلامي عقيده



مئولف: پوهندوی مولوي محمد شريف رحماني

Download from:aghalibrary.cm

لړليک

سرليک

مخ

دلومړي څپرکي دمطالبوفهرست

- سريزه ---------- ۱
- دثقافت پېژندنه ---------- ۱۰
- دثقافت اهميت ---------- ۱۲
- داسلامي ثقافت ځانګړتياوې ---------- ۱۱
- داسلامي ثقافت سرچينې ---------- ۱۱
- داسلامي ثقافت دمضامينو موخې ---------- ۱۳
- داسلامي ثقافت مضامين ---------- ۱۵
- داسلامي ثقافت پروړاندې پراته ګوابنونه ---------- ۱۵
- په اسلامي امت دپورتنيو ګوابنونواغېزې ---------- ۱۵

ددويم څپرکي دمطالبوفهرست

- سريزه ---------- ۲۳
- دنړۍ ليد پېژندنه ---------- ۲۴
- دايديالوژۍ اونړۍ ليد ترمينځ فرق ---------- ۲۴
- دانسان اوحيوان فرق ---------- ۲۴
- ديو نړۍ ليددښه والي معيار ---------- ۲۴
- مهموپوښتنو ته ځواب ---------- ۲۵
- دنړۍ ليد ډولونه ---------- ۲۵
- داسلامي نړۍ ليد پېژندنه ---------- ۲۵
- موضوع يې ---------- ۲۵

- حکم یې ---- ۲۵
- سرچینې یې ---- ۲۶
- فضیلت یې ---- ۲۶
- اهمیت یې ---- ۲۶
- داسلامي نړۍ لید خصوصیات ---- ۲۶
- داسلامي نړۍ لید فکري کړنې ---- ۳۱
- په اسلامی نړۍ لید کې دحواسو رول ---- ۳۱
- په اسلامي نړۍ لید کې دعقل اووحی رول ---- ۳۱
- داسلامي نړۍ لید دبحث موضوعات: ---- ۳۲
- په بشري ژوند داسلامي نړۍلید اغیزې ---- ۳۳
- اسلامي نړۍ لید ته دنه اهمیت ورکولواغیزې ---- ۳۷
- دجاهلي نړۍ لید ډولونه ---- ۳۸
- ددویم فصل عمومي پوښتنې ---- ۴۶

ددریم څپرکي دموضوعاتو فهرست

- دایمان پېژندنه ---- ۴۹
- سریزه ---- ۴۹
- دایمان لغوی معنا ---- ۴۹
- دایمان اصطلاحي پېژندنه ---- ۵۰
- دایمان په تعریف دجلاجلا ویناو حقیقت ---- ۵۱
- دایمان په هکله داهل سنتو اتفاقي ټکي ---- ۵۱
- دایمان قوت اوضعف ---- ۵۲
- دایمان دقوت اسباب ---- ۵۳
- دایمان ضعف(کمزورتیا) ---- ۵۴
- دایمان دضعف اسباب ---- ۵۵
- دایمان دضعف دعلاج لارې چارې ---- ۵۷
- دایمان غوښتنې ---- ۵۹

- د مؤمن مسئولیتونه ---- ۶۰
- اسلام ---- ۶۱
- دمسلمان جوړېدالپاره لومړی ګام ---- ۶۱
- دمسلمان مسئولیت ---- ۶۲
- دایمان اواسلام فرق ---- ۶۲
- تقوی ---- ۶۳
- احسان ---- ۶۳

دځلورم څپرکي دموضوعاتو فهرست

- دایمان ارکان ---- ۶۹
- دایمان دښستونولومړی رکن ---- ۶۹
- په الله تعالی ایمان ---- ۷۱
- الله جل جلاله ---- ۷۱
- دالله تعالی پېژندنه ---- ۷۳
- دالله تعالی دپېژندنې وسایل ---- ۷۴
- دالله تعالی دوجوداثبات دلایل ---- ۷۵
- دځلورم څپرکي دموضوعاتولنډیز ---- ۸۹
- دځلورم څپرکي پوښتنې ---- ۹۲

دپنځم څپرکي دموضوعاتو فهرست

- توحید ---- ۹۵
- سریزه ---- ۹۵
- دتوحید لغوی اوشرعي معنا ---- ۹۵
- دتوحید موخه اوهدف ---- ۹۵
- دتوحید دزده کړې حکم ---- ۹۶
- دتوحید شرطونه ---- ۹۶
- دتوحید اهمیت ---- ۹۶
- دتوحید ډولونه ---- ۹۷

- دربوبیت توحید ---- ۹۷
- په اوسني وخت کې دربوبیت په توحید کې دشرک اثار ---- ۹۷
- دالوهیت توحید ---- ۹۹
- په اوسني وخت کې دالو هیت په توحید کې دشرک اثار ---- ۱۰۰
- داسماءو اوصفاتو توحید ---- ۱۰۱
- داسماءو اوصفاتو دتوحید بنستونه ---- ۱۰۲
- دتوحید مراتب ---- ۱۰۵
- دالله تعالی دصفاتو ډولونه ---- ۱۰۲
- دمئومن په زړه کې دتوحید دعقیدې دتنیګښت وسایل ---- ۱۰۶

دشپږم څپر کي دمطالبو فهرست

- دتصادف اومادې دازلیت پوچه نظریه ---- ۱۱۳
- سریزه ---- ۱۱۳
- دطبیعت اوانسان مقایسه ---- ۱۱۴
- درامینځته کېدولامل یې ---- ۱۱۵
- نړۍ دالحادي تصورپه تیاروکې ---- ۱۱۷
- دکایناتودپیدایښت په هکله نوی ساینس اوقران عظیم الشان -- ۱۱۸
- دسترانفجاردنظریې تاریخچه ---- ۱۱۹
- قران عظیم الشاناودکایناتوپیدایښت ---- ۱۲۰
- دکایناتودپیدایښت په هکله نوی ساینس ---- ۱۲۱
- دتصادف دغیرعلمي نظریې دردلایل ---- ۱۲۲
- دانسان ادراکي ځواک ---- ۱۲۶

داووم څپر کي دموضوعاتوفهرست

- دکایناتونظام دالله تعالی دقدرت ستره نښه ده ---- ۱۳۳
- سریزه ---- ۱۳۳
- اسمان ---- ۱۳۳
- داسمان ستوري ---- ۱۳۳

- کهکشانونه ---------- ۱۳۴
- دکهکشانونوشمېر ---------- ۱۳۴
- دستورومجموعي پراختيا ---------- ۱۳۴
- زمونږدکهکشان دستوروشمېر ---------- ۱۳۵
- دستوروحجم ---------- ۱۳۵
- لمرالله تعالی دقدرت لویه عظیم الشانه ننبنه ده---------- ۱۳۶
- سپوږمی دالهي قدرت بله ننبنه ---------- ۱۳۸
- ځمکه د الهي قدرت ستره ننبنه ---------- ۱۳۹

داتم څپرکي دموضوعاتو فهرست

- انسان د الهي قدرت بله ستره ننبنه ،په کاینناتو کې یې مقام اومرتبه۱۴۹
- سریزه ---------- ۱۴۹
- دانسان دلفظ معنا---------- ۱۴۹
- انسان داسلامي نړۍ لیدپه رڼاکې ---------- ۱۵۰
- انسان دالحادي اوکمونستي نړۍلیدپه تیاروکې ---------- ۱۵۰
- دانسان خلقت ---------- ۱۵۱
- دانسان مرتبه اومقام ---------- ۱۵۶
- بشري حقونه ---------- ۱۵۹
- دانسان دتخلیق موخه ---------- ۱۶۲
- دانسانانوډولونه---------- ۱۶۳
- دښځینه اونارینه ترمینځ برابري---------- ۱۶۳

دنهم څپرکي دموضوعاتو فهرست

- په ملایکو اوپېریانو ایمان ---------- ۱۶۷
- سریزه ---------- ۱۶۷
- دعلم دپیدایښت لار ---------- ۱۶۷
- دعلم مفهوم ---------- ۱۶۸

- ملایکې داسلام په رنا کې ---- ۱۷۱
- دملایکو مفهوم ---- ۱۷۱
- په ملایکو دایمان دلایل ---- ۱۷۱
- دملایکو حقیقت او صفات یې ---- ۱۷۲
- په ملایکو دانسان فضیلت ---- ۱۷۴
- دملایکو دندې ---- ۱۷۴
- دمومن پرژوند په ملایکو دایمان اغېزې ---- ۱۷۷
- پېریان او شیطانان ---- ۱۷۷
- دجن مفهوم ---- ۱۷۸
- دپېریانو حقیقت اوصفات ---- ۱۷۸
- ابلیس او شیطان دقراني لارښوونو په رنا کې ---- ۱۸۲
- دابلیس او شیطان معنا ---- ۱۸۲
- دشیطان دتخلیق ماده ---- ۱۸۳
- دشیطان اصل ---- ۱۸۳
- دشیطان نومونه ---- ۱۸۳
- دشیطانانو صفات ---- ۱۸۴
- دشیطان اهداف او مقاصد ---- ۱۸۶
- دشیطان زیانونه ---- ۱۸۷
- دانسان زړه ته دشیطان ننوت لارې ---- ۱۸۸
- له شیطان نه دژغورنې وسایل ---- ۱۸۸

دلسم څپرکي دمطالبوفهرست

- اسماني کتابونه ---- ۱۹۹
- سریزه ---- ۱۹۹
- دکتاب لغوي اوصطلاحي معنا ---- ۲۰۰
- دکتاب شرعي معنا ---- ۲۰۰

- په اسماني کتابونو دايمان حکم ---------- ۲۰۰
- په اسماني کتابونو دايمان دلايل ---------- ۲۰۱
- په اسماني کتابونو دايمان اهميت ---------- ۲۰۲
- داسماني کتابونو دنزول هدف ---------- ۲۰۲
- داسماني کتابونو اتفاقي ټکي ---------- ۲۰۳
- په اسماني کتابونو دايمان ګټې ---------- ۲۰۴
- دشريعتونو داختلاف قضيه ---------- ۲۰۴
- په اسماني کتابونو دايمان غوښتنې ---------- ۲۰۲
- هغه اسماني کتابونه چې په قران کريم کې يې يادونه شوې ---------- ۲۰۶
- دابراهيم اوموسی عليه السلام صحيفې ---------- ۲۰۶
- تورات ---------- ۲۰۶
- دتورات لارښوونې ---------- ۲۰۷
- اوسنی تورات ---------- ۲۰۷
- زبور ---------- ۲۰۷
- انجيل ---------- ۲۰۷
- دانجيل لارښوونې ---------- ۲۰۸
- دعيسی عليه السلام ترپورته کېدووروسته اناجيل ---------- ۲۰۸
- ديهودواوانصارؤدکتابونوپه هکله داسلامي عقيدې دريز ---------- ۲۱۰
- قران عظيم الشان داسماني کتابونوروستی لړۍ ---------- ۲۱۱
- دقران پېژندنه اونومونه ---------- ۲۱۱
- په قران عظيم الشان دايمان غوښتنې ---------- ۱۱۳
- په نورواسماني پېغامونو دقران امتيازات ---------- ۲۱۱
- پوښتنې اوتمرينونه ---------- ۲۱۸

ديوولسم څپرکي دمطالبوفهرست

- په پیغمبرانو ایمان ---------- ۲۲۱
- سریزه ---------- ۲۲۱
- درسالت اونبوت شرعي حیثیت ---------- ۲۲۳
- په پیغمبرانو دایمان راوړلو اهمیت ---------- ۲۲۴
- پیغمبرته دبشرضرورت اواهمیت ---------- ۲۲۶
- دنبوت اورسالت ضرورت داسلامی پوهانو له نظره ---------- ۲۲۸
- پیغمبر بشپړلازښود ---------- ۲۳۰
- دپیغمبرانوخصوصیات ---------- ۲۳۲
- دپیغمبر دپېژندلودلایل ---------- ۲۳۳
- دپیغمبرانو مسئولیتونه او دندې ---------- ۲۳۷
- دپیغمبرانوددعوت اوبلنې ځانګړتیاوې ---------- ۲۳۸
- اولوالعزمه پیغمبران ---------- ۲۴۱
- دپیغمبر دپېژ ندلو دلایل ---------- ۲۴۲
- دانبیاء اورسولانو شمېر، ---------- ۲۴۵
- په قران عظیم الشان کې ذکر شوي پیغمبران ---------- ۲۴۷

ددولسم څپرکی

- دنړی والو سردار او لارښود محمدصلي الله علیه وسلم ---------- ۲۵۹
- سریزه ---------- ۲۵۹
- دنړی وال لارښود صفات ---------- ۲۶۰
- دمحمد صلی الله علیه وسلم مبارک نومونه: ---------- ۲۶۲
- دمحمدصلی الله علیه وسلم دنبوت عقلي ثبوت ---------- ۲۶۲

- دنبوت پای---------- ۲۷۳
- دنبوت د پای دلایل---------- ۲۷۴
- له یوپیغمبره وروسته دبل دراتلو لاملونه---------- ۲۷۵
- دمحمد(ص) په هکله دختیځ او لویدیځ پوهانو ویناوې---------- ۲۷۶
- د محمد(ص)دنبو ت څو خصو میات---------- ۲۷۹
- په امت باندې درسول الله حقونه---------- ۲۸۱
- ددولسم څپرکي دمطالبولنډیز ---------- ۲۸۳

ددیارلسم څپرکي دموضوعاتو فهرست

- دایمان داساساتو شپږم رکن په قضا ---------- ۲۸۷
- سریزه ---------- ۲۸۷
- دتقدیر معنا ---------- ۲۸۸
- په تقدیر دایمان راوړواهمیت ---------- ۲۹۰
- دتقدیر مراتب ---------- ۲۹۰
- دتقدیر ډولونه ---------- ۲۹۲
- دقضا معنا ---------- ۲۹۳
- دقضا او قدر ترمینځ فرق---------- ۲۹۳
- دقضاډولونه ---------- ۲۹۳
- دالله تعالی اراده ---------- ۲۹۷
- دانسان ازادي ---------- ۲۹۷
- دالله تعالی اراده اورضا او دبنده اراده ---------- ۲۹۸
- ایا انسان خپلواک دی او که بې واکه ---------- ۳۰۰
- په انسان دالهي نعمتونو او مصیبتونو حکمت ---------- ۳۰۳
- دارادي اعمالو په هکله دانسان مسئولیت ---------- ۳۰۴
- په الله توکل او بروسه ---------- ۳۰۴
- دمؤمن پرژوند دقضا او قدر اغېزې---------- ۳۰۵

دڅوارلسم څپرکي دموضوعاتوفهرست

- روح ---------- ۳۱۱
- سريزه ---------- ۳۱۱
- دروح اونفس معنا ---------- ۳۱۱
- روح دقران عظيم الشان په رناکې ---------- ۳۱۲
- انساني اوحيواني روح ---------- ۳۱۳
- دنفس ډولونه ---------- ۳۱۵
- دمخلوقاتوډولونه ---------- ۳۱۶
- دروح مرتبه ---------- ۳۱۶
- دروح مړينه ---------- ۳۱۷
- دمړه اوژوندي فرق ---------- ۳۱۷
- دمرګ سبب ---------- ۳۱۸
- مرګ ناڅاپه راځي ---------- ۳۱۸
- ملک الموت اوداروا حواخيستل ---------- ۳۱۸
- له مرګه وروسته دانسان حالت ---------- ۳۱۹
- له بدن څخه ترجلاوالي وروسته دروح حالت ---------- ۳۱۹
- دقبرسوالاوځواب ---------- ۳۱۹
- دقبرعذاب ---------- ۳۲۰
- دقبرعذاب دنجات اسباب ---------- ۳۲۱
- دقبردعذاب دمنکرينوشهادت ---------- ۳۲۱
- درددلايل يې ---------- ۳۲۱
- دبرزخ نړۍ ---------- ۳۲۲
- برزخي ژونداوجنت ---------- ۳۲۳
- دارواګانوځايونه ---------- ۳۲۳

- دانسان دژوندپراوونه ---------- ۳۲۵
- په بشري ژوند دمرګ دیادولواغیزې ---------- ۳۲۵

د پنځلسم څپرکي دموضوعاتو فهرست

- په اخرت ایمان ---------- ۳۳۱
- سریزه ---------- ۳۳۱
- داخرت دورځې پېژندنه ---------- ۳۳۲
- داخرت په ورځې دایمان مفهوم ---------- ۳۳۲
- اخرت په ورځ دایمان اهمیت ، ---------- ۳۳۲
- داخرت دورځې نو مونه ---------- ۳۳۲
- دقیامت درامینځته کېدو ضرورت او اړتیا ---------- ۳۳۳
- داخرت په هکله داسلام تصور ---------- ۳۳۵
- داخرت په اړه دماده پالو نظریات او عملی تنقید ---------- ۳۳۵
- دقیامت سا ینسي او عقلي ثبوت ---------- ۳۳۸
- په اخرت دایمان تقاضا ---------- ۲۴۰
- په بشری ژوند داخرت په ورځ دایمان اغیزې ---------- ۳۴۱
- دقیامت نښې ---------- ۳۴۳

د شپاړلسم څپرکي دموضوعاتو فهرست

- دقیامت نندارې ---------- ۳۶۳
- سریزه ---------- ۳۶۳
- په شپېلۍ کې پوکی ---------- ۳۶۳
- بعث (له قبرونو راپورته کېدل) ---------- ۳۶۴
- قیامت ---------- ۳۶۷
- حساب ---------- ۳۶۸
- تله ---------- ۳۷۰
- دعملنامو خپرېدل ---------- ۳۷۲
- دکوثر حوض ---------- ۳۷۳

- دصراط پول ---- ۳۷۴
- جنت ---- ۳۷۵
- دوزخ ---- ۳۷۸
- دموضوعاتو لنډيز ---- ۳۷۹
- پوښتنې ---- ۳۸۲

داوه لسم څپرکي دمطالبو فهرست

- دایمان نواقض ---- ۳۸۶
  سرپزه ---- ۳۸۶
- د ایمان دنواقضو ډولونه ---- ۳۸۶
- لومړی دایمان اعتقادي نواقض ---- ۳۸۶
- کفر ---- ۳۸۶
- شرک ---- ۳۸۸
- ارتداد ---- ۳۹۵
- بدعت ---- ۳۹۲
- نفاق ---- ۳۹۶
- دویم دایمان قولي نواقض ---- ۳۹۶
- دریم دایمان عملي نواقض ---- ۳۹۸

سریزه

عقیده دانسا ني تصرفاتو دماغ کنل کېږ ي چې په له کاره لو ېد لـو سره يـې په بشري بدن کې لوی فسا داوانحراف رامینځتـه کـېږ ي لـه همـدې املـه قـران عظـيم الشان دعقيدې جوړولوته سخت اهتمام ا وپا ملرنه کړې ده په ځا نګړې تو ګه مکي سو رتو نه يواځې دعقيد ې دجو ړولو لپاره مختص شوي دی او ډبحث موضو ع يې هم عقيده ده .

نو پردې اساس دټولوبدبختيو ،فسادونواو بې لارېواساسي سرچينه چې زمـوږ په فـردي اوټـولنيز ژونـد کې ليـدل کـېږ ي او پرمـو ږ مصـيبتونه اوغمـو نـه راولـي اعتقادي کمزوري اوګډ وډي ګنل کېږ ي نو له همـدې املـه مسـلمان ولسـونه اوټول بشريت دعقيد ې بياودانو لوته سخت ضروت لري ترڅودالله جل جلا لـه وحدانيت وپېژني اوهغه جل جلاله عظمت ددوی دروح په ژوروکې ځای ونيسي او هغـه مينـه او محبت ددوی په نفسو نو کې نفو ذوکړي

دابه بېهوده اوبا بېزه کاروي چې داسلامي شريعت دپا بندی غو ښتنه لـه يوچا څخه وکړو چې ددې ددين داعتقا دي بنسټونوڅخه ناخبره وي حقيقت دادی چې په اوس وخت کـې لـه خلکونـه ددې لـوی ديـن حقيقـت پټ پا تـې دی ډ ېرخلـک پـه عباداتوټينګارکوي مګر په عين وخت کې دداسې افکارو څښتنان وي چې ددين له سا حې څخه يې وبا سي، پردې اساس فکرکوم چې دشريعت فرعـي مسـايلوته پاملرنه اواعتقادي مسايل له پامه غورځول داسې مثال لري لکه چې يو څوک په هواکې تخم وکري او بيا دحاصل په تمه نا ست و ي پرهمدې اساس دخلکو دروزنې لپاره بايد هغه الهي پروګرام چې الله تعالی دخلکو دروزنې لپاره رالېږ لی دی په انساني ژوند باند ې تطبيق شي تخم بايدپه نرمه اوصالحه خاوره کې وکرل شي او بيا يې پالنه وشي ترڅوشين شي او پخپله ساقه ودرېږ ي او بيايې ښاخو نه هرې خواته خپاره شي عقيد ه هغه محکم او مزبوت بنسټ دی چې ددې ديـن ټولـه مـانې پرې بنا کېږ ي دمحکم او ټينګ بنسټ له ايښودلو پرته به ز موږ ټولې هڅې ديوې پرتمينې مانې په جو ړولو کې عبث او بې ځايه وي اودما شومانو دلو بو په شان بـه کو مې نتيجې ته ونه رسېږ ي .

مونږ باید له همد غه ارزښتمن الهي تګلارې څخه چې الله جل جلاله دخپلې اسماني وحی په ترڅ کې پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته ښوونه کړې وه پیروي وکړو وبایدله عقیدې نه پیل وکړو وزمونږ موخه له عقیدې څخه پرشپږ ګو نوارکانو باندې ایمان راوړل دي یعني په الله جل جلاله په ملایکو په کتا بو نو په پیغمبرانوپه اخرت او دخیراوشر په اندازې باور

داسلامي عقیدې همد غه اساسات قران عظیم الشان او پیغمبرصلی الله علیه وسلم دخپلې وینا په ترڅ کې بیان کړي دي دغه ټول هغه حقایق دي چې له دزړه له تل څخه پرې یقین اوباوراو په ژبه اقرارکول ضروري دي له دې نه پرته دنېکواعمالو شتون هېڅ حیثیت نه پیداکوي

حقیقت دادی چې هره ودانۍ په بنسټ اوتاداؤاوهریوفصل په تخم اوزړې پاینبت مومي هېڅکله امکان نه لري چې یوتعمیردې په هواکې جوړاویادې یونبات له تخمه پرته رامښځته شي که دتعمیرتهداب متزلزل اوګاواکه وي تعمیرهم ولاړنه شي پاتې کېدای په همدې توګه چې تخم کمزوری اوارجل وي نوفصل به هم کمزری اوګډوډوي که مونږته اسلام ګران اوخوږوي اومونږ داسلام دپرتمینې مانۍ په سیوري کې په ډاډاواطمینان سره دالله جل جلاله له بندګي کول وغواړواوداسپېڅلې هیله راسره وي چې دالله جلت عظمته ټول بندګان ددغې مانۍ په سیوري کې دکفراوشرک څخه محفوظ اودالله جل جلاله دغوره بندګانوپه څېرژوندواوپه دنیااواخرت کې کامیاب واوسي نوبیا زمونږمسؤلیت دی چې مونږ دایمان دارکانوله حقیقت نه په بشپړډول خبرواوسواودټینګښت اوپیاوړتیالپاره یې بشپړه پاملرنه وکړوداڅکه چې داسلام دغه ستره مانۍ هغه وخت له خپلوبې شمېره قیمتي برکتونوسره ولاړه پاتې کېدای شي چې دغه بنسټ اوتاداؤمضبوط اوقوي وي

له دې کتاب نه دګټې اخیستلو په خاطر مې ددې کتاب موضوعات په اوه لسوڅپرکیووېشلی دی

- په لومړي څپرکي کې موداسلامي ثقافت پېژندنه بنسټونه موخې اواهداف وړاندې کړي داڅکه چې همدغه داسلامي ثقافت مضامینوته ننوت لاره تشکیلوي
- په دویم څپرکي کې مې اسلامي نړۍ لید ، خصوصیات ،بنسټونه اوپه بشري ژوندیې اغیزې اود جاهلي نړۍ لید پېژندنه اونیمګړتیاوې څېرلي دي

• په درېيم څپرکي کې مودايمان پېژندنه دايمان په تعريف کې دأمت دپو هانودجلاجلاويناؤحقيقت اوداهل سنت اتفاقي ټکي دايمان ضعف اوقوت دايمان دکمزورتياسباب اودايمان دقوت اوپياورتياسباب دايمان دضعف دعلاج لارې چارې دايمان غوښتنې، دمؤمن مسؤليتونه داسلام اوايمان فرق دمسلمان مسؤليت دايمان ډولونه بياوروسته تقوى اواحسان څېړل شوي

• په څلورم څپرکي کې مودايمان دښستونوپه لومړي رکن په الله تعالى ايمان او دالله تعالى دپېژندنې وسايل او دوجوددلايل څېړلي دي

• په پنځم څپرکي کې توحيدچې داسلام دعمارت مرکزي ستن اوداسماني پېغامونودنزول ستره موخه ده څېړلى دى په همدې توګه دتوحيد دزده کړې حکم دتوحيد شرطونه دتوحيداهميت دربوبيت دتوحيدپېژندنه اوپه اسلامي اُمت کې يې دشرک اثاراوننبې اودالوهيت توحيدچې او په اسلامي اُمت کې په دغه توحيد کې دشرک ننبې داسماؤاوصفاتوتوحيد، داسماؤاوصفاتودتوحيدبنستونه ،دالله تعالى صفات دالله تعالى دصفاتوډولونه دتوحيد مراتب، دمؤمن په زړه کې دتوحيددعقيدې دټينګښت وسايل بيان شوي دي

• په شپږم څپرکي کې دتصادف اومادې دازليت پوچه نظريه اود ،ردلايل يې شرحه شوي دي اوهمدارنګه دماده پالودمعبودطبيعت اوانسان مقايسه وړاندې شوې په همدې توګه ددغې باطلې نظريې درامينځته کېدوعوامل اواسباب ،دکاياناتوپه هکله نوى ساينس اوقران عظيم الشان اودتصادف دنظريې د،ردلايل وړاندې شوي اوپه پاى کې دانسان دحواسوپه کمزورتيابحث شوى اوهغه داچې دالله تعالى په پېژندنه کې يوازې حواس کافي نه دي بلکې له حواسوسره مل عقل اووحى هم ضروري بربښي

• په اووم څپرکي کې داسلامي نړۍ ليددبحث دويمه موضوع دکاياناتومحير العقول نظام دالله تعالى دسترخواک دننبوپه حيث وړاندې شوى په دې کې داسمان ستوري کهکشانونه بې شمېره،سياه چالونه اودستورودمجموعي پراختيازمورد کهکشان دستوروشمېردستوروحجم،لمردالله تعالى دقدرت ستره اوعظيم الشانه ننبه سپوږمۍ دالهي قدرت بله ننبه اوځمکه دالهي قدرت دسترې ننبې په حيث څېړل شوې

• په اتم څپرکي کې داسلامي نړۍ ليد درېيمه موضوع انسان څېړل شوى

انسان داسلامي نړۍ ليدپه رنا اودالحادي اوکمونستي نړۍ ليدپه تياروکې دانسان مرتبه اومقام دانسان دتخليق موخه اودانسانانوپه ډولونو بحث شوي

• په نهم څپرکي کې دايمان دارکانودويم رکن په ملايکواوپهريانوايمان څېړل شوی ملايکې داسلام په رنا کې دملايکومفهوم په ملايکودايمان دلايل دملايکوحقيقت اوصفات يې په ملايکودانسان فضيلت دملايکودندې دمؤمن په ژوندکې په ملايکودايمان اغېزې،پهريان اوشيطانان دجن مفهوم دپهريانوحقيقت اوصفات ،ابليس اوشيطان دقراني لارښوونوپه رنا کې دابليس اوشيطان معنا،دشيطان دتخليق ماده دشيطان اصل ،دشيطانانوډولونه دشيطانانوصفات دشيطان اهداف اومقاصددشيطان زيانونه دانسان زړه ته دشيطان دننوتولاړې اوله شيطان څخه دژغورنې په وسايلوبحث شوی

• په لسم څپرکي کې دايمان دارکانودرېيم رکن په اسماني کتابونوايمان څېړل شوی دکتاب لغوي اوشرعي معنا ،په اسماني کتابونودايمان حکم،په اسماني کتابونودايمان دلايل،په اسماني کتابونودايمان اهميت داسماني کتابونودنزول هدف داسماني کتابونواتفاقي تکي،په اسماني کتابونوکې ددين دوحدت مسئله په اسماني کتابونو دايمان ګټې دشريعتونوداختلاف قضيه په اسماني کتابونودايمان غوښتنې هغه اسماني کتابونه چې په قران کريم کې يې يادونه شوی . دابراهيم اوموسی عليه السلام صحيفې،تورات،دتورات لارښوونې اوسنی تورات،زبور،انجيل،دانجيل لارښوونې،دعيسی عليه السلام ترپورته کېدووروسته دانجيل حالت، ديهودواونصاری ؤ دکتابونوپه هکله داسلامي عقيدې دريز،قران عظيم الشان داسماني کتابونوروستی لړۍ ،دقران عظيم الشان پېژندنه،په قران عظيم الشان دايمان غوښتنې ، په نورواسماني پېغامونودقران کريم دلوړتياوجوهات بيان شوي

• يولسم څپرکی په يوولسم څپرکي کې درسالت اونبوت لغوي اوشرعي معنادنبي اورسول فرق په پېغمبرانودايمان راوړلواهميت. دنبوت اورسالت اهميت داسلامي پوهانولـه نظره،پېغمبربشپړلارښود ،دپېغمبرانو خصوصيات دنبوت اورسالت ارکان دپېغمبردپېژندلودلايل دپېغمبرانوشمېردپېغمبرانوصفات دنبوت اهداف اومقاصددپېغمبرانومسؤليتونه اودندې دپېغمبرانوددعوت څانګړتياوې درسولانواوانبياؤيوپربل غوره والی اولوالعزمه پېغمبران دانبياؤاورسولانوشمېر، په قران

عظیم الشان کې ذکر شوي پېغمبران بیان شوي

- په دولسم څپرکي کې محمد صلی الله علیه وسلم دنړۍ والوسردار اولاربنود .دده مبارک نومونه دمحمدي رسالت عقلي ثبوت دنبوت ختم اودنبوت دختم دلایل دمحمد صلی الله علیه وسلم دنبوت څوخصوصیات دمحمد صلی الله علیه وسلم په هکله دختیځ اولویدیځ پوهانووېناوې په اُمت باندې درسول الله حقونه اودرسول الله (ص) کارناموته لنډه کتنه شوې ده

- دیارلسم څپرکی: دایمان داساساتوشپږم رکن په قضااوقدرایمان ،دتقدیر معنا ،په تقدیر دایمان راوړلواهمیت دتقدیرمراتب دتقدیرډولونه دقضامعناد قضااوقدرترمینځ فرق دقضاډولونه دالله تعالی اراده اورضادانسان ازادي اوخپلواکي دمؤمن پرژوندپه قضااوقدردایمان اغېزې څېړل شوي دي

- څوارلسم څپرکی روح :دروح پېژندنه دروح اصلي ماهیت،روح دمسلمانانوپوهانو له نظره،دروح اجمالي پېژندنه دانسانیت اساس په روحانیت دی انساني اوحیواني روح دنفس ډولونه دمخلوقاتوډولونه دروح مړینه دمړه اوژوندي فرق دمرګ سبب، له ژونده وروسته مړینه ،مرګ ناڅاپه راڅي دبرزخ نړۍ برزخي ژوندواوجنت ملک الموت اودارواحواخیستل له مرګه وروسته دانسان حالت له بدن څخه ترجلاوالي وروسته دروح حالت،دقبرسوال اوځواب دقبردعذاب شمول په روح اوبدن دقبرعذاب اوراحت دقبردعذاب دمنکرینوشبهات، دارواګانوخایونه اودانسان دژوندپراوونه اوپه بشري ژوندد مرګ یادولواغېزې څېړل شوي دي

- په پنځلسم څپرکي کې دایمان دارکانوپنځم رکن په اخرت ایمان داخرت دورځې پېژندنه داخرت په ورځ دایمان مفهوم داخرت په ورځ دایمان اهمیت داخرت دورځې نومونه دقیامت درامینځته کېدوضرورت داخرت په هکله داسلام تصورداخرت په اړه دمادې پالوپه نظریاتوتنقید دقیامت ساینسي اوعقلي ثبوت په اخرت دایمان غوښتنې په بشري ژوندداخرت په ورځ دایمان اغېزې اودقیامت نښې ننباني څېړل شوي دي

- شپاړلسم څپرکی: دقیامت نښداري په شپېلۍ کې پوکی بعثه له صورونوراپورته کېدل قیامت،حساب،تله دعملناموخپرېدل دکوثرحوض دصراط پول جنت اودوزخ څېړل شوي

- اولسم څپرکی: په دې څپرکي کې دایمان نواقض،دایمان اعتقادي نواقض،دایمان قولي نواقض اودایمان عملي نواقض بیان شوي دي

دکتاب اهمیت

موږ مکلف یو تول هغه شیان وپېژنو چې په کومو د ایمان دعوی کوو لازمه ده چې دعقیدې پر اساساتو خان پوه کړو که دتحصیل . زده کړې او یا ددعوت په چارو کې خان

مصروفوو باید په همد غو اساساتو تر کیز وکړو ،څوک چې خپل خالق اوپیدا کونکی وند پېژني هغه به درانده په ځپر په نړۍ کې ژوند ترسره کوي نه به پوهېږي چې د څه شي په خاطر پیداشوی او دځمکې پرمخ یې دپید اینښت موخه څه ده ژوند یې پای ته رسېږي نه پوهېږي چې دژوند پیل یې دځه په خاطر ؤ او له نړۍ نه دتللو په صورت کې یې دسفر مسیر کوم لوري ته دی ؟ددنیا په لږ ژوند او نعمتو نوبه دوکه کېږي او ټول غم او اندېښنه به یې داوي چې له مرګه مخکې خپلې ټولې ګټې او مصالح دلتـه پوره کاندي نو په دنیوي وسایلو منګولې لګوي دحلا لو او حرامو پروانه ساتي ټولـه اندېښنه یې شخصي ګټې وي په دې سره په ټولنه کې انا نیت وده کوي او ټولنه دزوال په لوري درومي او انساني معا ملا ت دفسا د خوا ته میلان پیداکوي په همد ې تو ګه چې کله دخلکو عقاید فاسد او جهل اونا پوهي خپره شي نو په پای کې به اعمال فا سدشي او ګنا هو نه به زیات شي نو خلک به دالهي قهر او غضب وړ وګرځي اوپه رنګا رنګ عذابونو به اخته شي .

دکتاب څانګړنې :

ددې کتاب دځانګړتیا ءوځخه داده چې داسلامي عقید ې ټولـو بر خو او اجزاء وته شامل دی او تفصیلی ، څېړنه په کې شوې ده په همد ې تو ګه جنت او دوزخ اوداسلامي عقید ې نواقض (له مینځه وړونکي) شیان هم په کې په بشپړ تفصیل سره بیان شوي دي

دالله تعالی سپېځلي دربارته بیابیا شکرونه چې ماته یې ددغـه اساسي اومهم مضمون دتالیف توفیق راوبخښه تر ډېره حده مې کوښښ کړی چې کتاب ساده اوپه سلیسه ژبه وي دکتاب دمنځپانګې په راټولولوکې مې دډېرومعتبروسرچینوځخه ګټه اخیستې چې دکتاب په اخذ لیکونوکې ورته اشاره شوې هیله من یم دخپلې پوهې سره سم چې الله جلت عظمته راپه برخه کړي اودحق بصیرت یې رابخښلی دی . دایمان امور ، ارکان ، اودکفر ننبې ننبانې اسباب اوننوت لازي څرګندې کړم .الله جل جلا له حق ته درسیدلو توفیق په برخه کوي که چېرې حق ته رسیدلی وم دابه دالله پیرزوینه وي اوکه خطاشوی وم دابه زما کمزوري اودشیطان له وسوسو ځخه وي د الله جلت عظمته سپېځلي ذات ته لاس په دعا یم چې بخښنه راته وکړي اوپه خپلو نیکو صالحو بندګانو کې مې وشمیري حق راته څرګند اوحق ته درسیدلو توفیق راکړي .

والسلام

پوهندوی محمد شریف رحماني

دلومړي څپرکي دمطالبوفهرست

لړليک

- سريزه
- دثقافت پېژندنه
- دثقافت اهميت
- ثقافت او تمدن
- داسلامي ثقافت پېژندنه
- داسلامي ثقافت ځانګړتياوې
- داسلامي ثقافت سرچينې
- داسلامي ثقافت دمضامينو موخې
- داسلامي ثقافت مضامين
- داسلامي ثقافت پروړاندې پراته ګوابنونه
- په اسلامي امت دپورتنيو ګوابنونواغېزې

لومړی څپرکی

اسلامي ثقافت

سریزه

حقیقت دادی هریوملت ځانته مفاهیم،معتقدات،فکري،تولنیزاواقتصادي ارزښتونه لري اوهلې ځلې کوي چې دخپلونسلونوپه ذهنونوکې یې ترسیخ کړي دهمدغې موخې په خاطرکتابونه اورسالې لیکل کېږي کنفرانسونه اوغونډې دایرېږي اوډېرې خپرونې نشرته سپارل کیږي په همدغه بنسټ دښوونې اوروزنې پروګرامونه ایښودل کېږي هرځوک په خپل ثقافت اوکلتور ویاړي ،ولسونه خپل اوسنی حالت خپلې ماضي پورې تړي که داسې ونه شي نویوقام به په نوروکلتورونوکې ورډوب نوم اونښان به یې پای ته ورسېږي .

دامهال چې نړۍ دیوکلي بڼه غوره کړې ده له نورووسونوسره مخامخ کېږواوپه ګډه کارکوواوسنی وخت دتمدني شخړوموج دی که لږغفلت صورت ونیسي په لږ وخت کې به ټول ملت الله دې نه کړي په نابودۍ محکوم شي موږ په بشپړایمان اوپیاوړي شخصیت سره په دغه تمدني شخړه بریاحاصلولای شو .

په اوسني وخت کې چې د فکري موجونواوټولنیزونظامونو یوشوراوزوردی مسلمان ته لازمه ده چې خپله لارا وجهت اونورې فکري تګلارې وپېژني دشراوطغیان شیطاني لښکروچې بشریت په تورتم کې راایسارکړي مسلمان ته لازمه ده چې دشردټولو سرکښه ځواکونو په وړاندې دهدایت ځلانده مشال په لاس کې واخلي خپل عقل اوفکرداسماني وحی په وسیله پاک اوسوتره وګرځوي دګمراهۍ،انحراف ،هوی اوهوس له غلامۍ څخه بشریت ته نجات ورکړي ،داسلام رسالت په خپلواصولواوفروعوکې له بشري سپېځلي فطرت سره اړخ لګوي په همدغه الهي منهج سره موږداوسني متجاوز،سرکښ،باغي اووحشي ناوړه تمدن سره مقابله کولای شو ،ددې

څېړکې تر لوستلو وروسته به لوستونکی وکولی شي په لاندې ټکیو پوهه تر لاسه کړي

د ثقافت پېژندنه

په عربي ژب دود کې د ثقافت لفظ په ګڼو معناؤ راغلی چې ځینې یې معنوي اوځینې یې مادي دي

۱: په معنوي چاروکې: دزېرکتیا، ذکاوت، هوښیارتیاڅرګندوونه د علم لاسته راوړلو په معناسره دی

۲: په حسي اومادي چاروکې: دکاږه سمول، برابرولو، غلبې اواصلاح په معناسره راغلی دی

اصطلاحي معنا

culture په فرانسوي، المانې اوانګلیسي ژبوکې کې دزراعت معنا افاده کوي البته دټولنپوهنې دپوهانو په تعریف کې لاندې شیانوته شاملېږي.

- فنون، علوم، معارف، فلسفه اوعقاید
- دافرادوسلوک اوتصرفات.
- دټولنیزواړیکولارې چارې

داسلامي ثقافت پېژندنه

اسلامي ثقافت داسلامي عقایدو، افکارو، احکامو، قوانینو، اساساتو، علومو، اختراعاتو، ژبې، تاریخ، ارزښتونو، ویاړونو او مشترکواهدافوله مجموعې څخه عبارت دی، په لنډ ډول یې داسې هم تعریفولی شو، اسلامي ثقافت د قران کریم اونبوي سنتو په رڼا کې ټینګ او کلک عملي چلند ته ویل کېږي

څانګړتياوې يې

- رباني اوالهي سرچينه درلودل :چې له وحی اودپېغمبرانو درسالت

سره اړيکه نيسي.

- عموم :دهرځای اوهروخت دولسونو درهبری صلاحيت لري
- شمول :دژوند ټول اړخونه رهبري کوي
- ثبات:عقايداو قوانين يې ثابت او غير متزلزل دي
- له علمي حقايقو سره سمون :له علمي حقايقو سره اړخ لګوي او

ورسره په ټکر کې نه دی

- له عيب څخه سپېځلتيا :هېڅ رنګه عيب اونقصان په کې په سترګو

نه ښکاري

سرچينې يې

۱ :**اصلي سرچينه**:اصلي سرچينه يې قران عظيم الشان دی چې الله تعالی يې له تحريف اوتبديل څخه دساتنې ضمانت کړی دی اوهمدارنګه دټولو اسماني پيغامونوساتونکی دی، دټول بشريت لپاره بشپړالهي پيغام او قانون دی چې دټولوانسانانودديااواخرت دکاميابی ضمانت کوي، دويمه اصلي سرچينه يې نبوي سنت دی چې ټولوقولي، عملي اوتقريري احاديثوته شاملېږي

۲:**فرعي سرچينه** :فرعي سرچينې يې ۱ـ اجماع ۲ـ قياس ۳ـ اسلامي تاريخ ۴ـ عربي ژبه ۵ـ اسلامي ميراث ۶ـ انساني ګټورې پوهنې او تجربې

داسلامي ثقافت اهميت

هرکله چې اسلامي ثقافت دالله جل جلاله په ستر کتاب اودپيغمبرصلی الله علیه وسلم په نبوي سنتو ټينګ اوکلک چلند ته وايي نواهميت يې څرګندي دا ځکه چې

۱- په قران کريم اونبوي سنتوټينګ عملي سلوک ځينې مهال فرض اوځينې وخت به دمستحب بڼه غوره کوي چې يابه دغه شيان دعباداتوسره اړيکه لکه لمونځ، روژه، زکات اوحج اويابه داخلاقوسره لکه له موراوپلارسره احسان اونيکي ،له خپلې ميرمن سره ښه چلند ،صله رحمي اودګاونډي دحقوقورعايت کول اويابه له مادي شيانوسره اړوندوي لکه اقتصادي چارې ،اخيستل اوپېرودل ،پُوراجاره شرکت اومضاربت اويابه له سياسي چاروسره تړاؤلري لکه شوری ،دملي امانتونوساتنه دعدل اوانصاف ټينګښت بين المللي اړيکې دجګړې اوسولې دقواعدواواصولومراعاتول اوداسې نور---

۲- اسلامي ثقافت پردې اعتبارچې دعلم اومعرفت په رڼاکې دمسلمان عملي کړنلاره ده چې په دنياواخرت کې نيک بختي اوسوکالي له ځانه سره لري اودسرغړونې په صورت کې به دتنګ اوبدبخته ژوند څښتن وي.

۳- اسلامي ثقافت هغه الهي کړنلاره ده چې دبشردټولوستونزوحل ته مثبت ځواب وايي لوی الهي نعمت اورحمت ګڼل کېږي.

۴- موږټول دالله جل جلاله مخلوق يُوهغه جلت عظمته زموږ خالق، مالک رازق حاکم، بادار اوساتندوی دی هغه زموږ په مصالحواوګټوبنه پوهېږي له موراوپلارنه هم پرموږزيات مهربان دی دقيامت په ورځ به يې دحساب اوکتاب لپاره حاضرېږو هلته زموږ دخلاصون اوبريالیتوب يوازينۍ دليل اوحجت په کتاب اونبوي سنتوعمل دی پرهمدغه بنسټ به دجنت اويادوزخ پرېکړه صورت نيسي.

۵. په همدغه الهي اوشرعي تګلاره عمل به زموږ ژوندته ښکلاوبخښي په ټولنیز ژوند کې به ورورګلوي، عاطفه، زړه سوی تقوی عدل اواحسان واکمني پیدا کړي مګر ددې پرعکس له دغې لارې انحراف دظلم، وحشت، بربادی اوتباهی پیغام له ځانه سره لري چې اوسني مادي تمدن زموږ دغې ادعا څرګندثبوت دی.

قران عظیم الشان، نبوي سنتواودراشدینوخلفاؤ دورې ته په کتنې سره موږته څرګنده ږي چې اسلامي شریعت له عقیدې، عباداتو، اخلاقو، ټولنیزاواقتصادي نظام اوسیاست څخه ترکیب مونډلی ؤ په نبوي مبارک دوراوپه راوروسته دوروکې دهرې دورې متخصصین ؤ په نبوي دورکې په قراءت اوفقه کې عبدالله بن مسعود دمیراث په علم کې زیدبن ثابت په نسب پېژندنه کې ابوبکرصدیق په شعراوادب کې حسان بن ثابت په خطابه اووینا کې ثابت بن قیس په سیاست کې څلورواړه خلیفه ګان اوپه عسکری اوپوځي برخه کې خالد بن ولید، سعد بن ابی وقاص اوعمروابن لعاص رضوان الله علیهم شهرت درلود په راوروسته دوروکې دبېلابېلوعلومولکه علوم القران، دحدیثو، عقیدې، فقهې، اخلاقو، فلکیاتو، فلسفې، ژبواوادبیاتودتخصص څانګې جوړې شوې

داسلامي ثقافت موخې

- دقران عظیم الشان او نبوي سنتوپه رنا کې دهېوادد ځوان نسل دعقیدې جوړول اوغښتلی کول درسول الله دژوندبشپړه پېژندنه اوورسره مینه
- دعبادت په مفهوم دلمانځه، روژې، زکات اوحج په احکامو، حکمتونواوګټوپې پوهول اوداسلام دسپېځلی دین سره یې بشپړ تړاوراميي
- داسلام دټولنیزنظام په حکمت یې پوهاوی اوورته ښوونه چې کو

رښې دملتونو اوتمدنونو لومړۍ خښته ده کوم ملت چې موراوپلارونه لري هغه نوم اونښان نه لري

- په اسلامي اوقرانی اخلاقو دځوان نسل پوهول فضایلوته يې هڅونه اودرزایلوځخه يې مخنیوی
- دالله جلت عظمته دسترنړی وال پیغام قران عظیم الشان په حکمتونو،قوانینواواعجازیې پوهونه
- ځوان نسل ته ددې ښودنه چې اسلام جلا اقتصادي نظام لري دبشردټولوستونزودحل وړتیالري چې فردي

اوټولنیزې ګټې موازي رهبري کوي

- له اسلامي اوغیراسلامي سیاستونویې سره يې اشناکول اوداسلامی سیاست په ګټویې پوهول
- داسلام له تمدن سره يې اشناکول دمسلمانانودکمزوتیااوتهربرم ته دستنیداپه لاروچارویې پوهول
- ځوان نسل په عیني اوکفایې زده کړوکې دتخصص ترپړاوه هڅول،عیني فریضه لکه په عقیدې اخلاقو،عباداتوټولنیزوسیاسي اواقتصادي برخوکې بشپړمعلومات درلودل کفایي فریضه لکه طب،انجنیري زراعت،اقتصاد،قانون،قضاء،اداره،ښوونه اوروزنه،روان پېژندنه،ساینس،نظامي،ملکي،ترانسپورت اوپه مخابراتوکې تخصص اوداسې نور...
- داسلامي ثقافت دمضامینو په وسیله غوړولداسې ځوان نسل ولروچې له الله،رسول،قران اوهېوادسره يې بې کچه مینه وي دجماعت پابندپه خپل وخت حریص په خپلو چارولکې منظم دسالم بدن اوفکرځښتن باوخلاقه زیرکه مسلمان دحساس ضمیرځښتن ایمان يې پولیس اوځارندوی اوهمدارنګه دجنت اودالهي دیدار اوملاقات شوقمن

وي پورتنيو موخوته درسېدولپاره لازمه ده چې دثقافت مضامين لاندې عناصروته شامل وي

داسلامي ثقافت مضامين

- اسلامي نړۍ ليدا واسلامی عقيده
- دعباداتوپوهه اوحکمت
- داسلام تولنيزنظام اوحکمت يې
- داسلام اخلاقي نظام
- اسلامي سياست پوهنه
- داسلام اقتصادي نظام
- دقران عظيم الشان پېژندنه اوعلمي اعجاز
- داسلام دتمدن اوتېر برم تاريخ
- داسلام خصايص اوپرنورودينونويې لوړتيا
- دنبوي سيرت اوداسلام دتاريخ څخه درسونه اوعبرتونه

داسلامي ثقافت پروړاندې پراته ګوابنونه

دتاريخ په اوږدوکې مسلمانان له ګڼو ګوابنونو سره مخامخ شوي دي چې مهم يې:

۱.فوځي يرغلونه :

اسلامي امت له پيله له پوځي يرغلونو څخه رنځ وړي د ۴۹۰ هه کال نه تر ۶۶۱ هه کال پورې صليبيانو په شام اومصريرغل وکړ دغه دصليبي جګړو په نوم يادېږي بياپه اوومه هجري پېړۍ کې په عراق اوشام دتاتاريانواوچنګېزيانويرغل چې دعباسي حکومت په رنګبدلو، دبغداددسوزولودزرګونوعلماؤپه وژلواودميليونونوکتابونوپه له مينځه تللومنتج شو،بياروپاياندا ۱۷۷۸ نه تر ۱۹۶۲ پورې په اسلامي هېوادونودوام داره يرغل راوړچې په نتيجه کې يې دمسلمانانو ثقافت له

مینځه وې وړاودمسلمانانومادي شتمنی یې چوراړتالترغه کړې، مصر، شام، اوهنډوستان دانګلستان تونس، مراکش الجزایردفرانسې اولېبیا دایتالیې اواندونیزیادلکزامبورک له خوامستعمره وګرزېدل په همدې توګه دمرکزي اسیاپه هېوادونواوافغانستان دروسانو پوځي تېری په مرکزي اسیاکې یې اولس میلیونه اوپه افغانستان کې یې ددوه میلیونومسلمانانووینې وبیولې دمسلمانانودین، ناموس، شته اومال یې چوراوچپاول کړل داسلامي امت په زړه فلسطین کې دیهودیانو مېشت کېدل اوورسره دانګلستان، فرانسې اوامریکا مالي، سیاسي اوعسکري مرستې په عراق اوافغانستان دلویدیځوالوپوځي یرغل له یوغم نه وروسته په دوام داره توګه بل غم شامل دی

دویم: فکري یرغل

دغه غیرمسلح یرغل دی چې افکاراوخیالات تربریدلاندې نیسي په دې توګه ددښمن له خواپه عقلونوبمباردصورت مومي چې په نتیجه کې دین، ثقافت، اخلاق اوافکارله مینځ وړل کېږي چې وسایل یې په لاندې توګه دي.

۱: **اعلام**: لکه راډیو، تلوېزون، سینما، تیاتر، مجلې، بروشرونه، اخبارونه اوانترنېټي سایټونه اوداسې نور. چې په اسلامي معتقداتو پسې بدپروپاګند کوي ددین اودیني احکاموپه اړه شکونه اوشبهات وړاندې کوي اوهمدارنګه فسق. فجور، بې حیایي، بربنډتوب، موسیقي، اختلاط، زنا، لواطت، ګډا، نڅا، عیاشي اوفحاشي ته بلنه ورکوي. اوس مهال زیاتره فضایي شبکې باطل افکارخپروي او داسلام په هکله شکونه اوشبهات وړاندې کوي

۲. **استشراق**: دغه دلویدیځ پوهانو یوه ډله ده چې دختیځ علوم عربي ژبه او قران کریم یې زده کړي داسلام په هکله دخلکوپه زړونوکې شکونه اوشبهات اچوي په علمي ډول داسلام مقابله کوي اوهمدارنګه په بې ځایه

اونارواپروپاګندونولاس پوري کوي اسلام هم په بت پالو دينونوکې شمېري اووايي چې دوی کوتې ته عبادت کوي په داسې حال کې چې اسلام سراسر توحيددی ددوی زياتره ليکنې له بې ځايه تعصب اودښمنۍ څخه ډکې دي په شلمه پېړۍ کې دمستشرقينودفکري کاردنتايجوڅخه داسلامي دايرة المعارف ليکنه ده چې په انګليسي، فرانسوي اوالماني ژبوليکل شوی اوګنو ژبوته ترجمه شوی دی. دده په ليکنه کې څلورسوه ختيځ پوهانوبرخه اخيستې وه اوپه لس زره پانواوپه درې زره موادومشتمل دی په ده کې داسلام، اسلامي عقايدواسلامي تاريخ په هکله معلومات ليکل شوی په دغه کتاب کې درې سوه ځايه په اسلام اواسلامي عقيدې يرغل صورت موندلی.

زياتره مستشرقين داستعمارلاسپوڅي اوجاسوسان دي په اسلامي هېوادونوکې هم جاسوسان اواکاډميک شخصيتونه ددوی مرسته کوي يواځې په منځنۍ ختيځ کې دامريکادمتحده ايالاتو يوزر اوشپږسوه متخصصين په کاربوخت دي

۳ : **تنصير**:سره له دې چې دوی په خپله له نصرانيت څخه بېزاره دي مګر دوی دمسلمانانوپه نصراني کولوکې زيار باسي اوهلې ځلې کوي چې په اسلامي هېوادونوکې کليساګانې وداني کړي. ددغه کارلپاره په مليارډونو ډالربودیجته تاکي دتنصيرمهم وسايل تعليم، روغتيا، اعلام، دفقيرانواوسېلاب ځپلولاس نيوی دی

۴ **سيکولارېزم اوبې ديني**:په اسلامي هېوادونوکې دسيکولارېزم او بې ديني لورته دخلکو بلنه اودسياست اقتصاد، قانون، ټولنې او تعليم څخه دشريعت ګوښه کول شامل دي

۵ :داسلامي دعوت سره مقابله:دبېلابېلو بهانو په وسيله يې په اسلامي بلونکو دترورېزم بې ځايه تورونه ولګول دهغوی شتمني يې مصادره کړې او زندانونو ته يې وغورزول

۴: **لاسپوڅې دلې تپلې**: دوی دلاسپوڅوډلوتپاړ اونړی والړ کنفرانسونواوداعلام دبهلابهلووسایلولهلارې دغرب فرهنګ ته وده ورکوي چې ددغو کنفرانسونومحوري ټکی کورنۍ اوښځه، جنسي حقوق داولاد غورځول، هم جنس بازي دښځینه اونارینه دحقوقوبرابري، په میراث کې مساوات، دزنااو لواطت جوازاودزوجاتو دتعددمخنیوی دی

دپورتنیو ګوابونو اغیزې

۱: دقران عظیم الشان، نبوي سنتو، اسلامي عقیدې اواسلامي شریعت په اړه شکونه اوشبهات

۲۔په مسلمانانوکې قامي اومذهبي اختلافونه اوګډوډي، هغه امت چې په یوې کلمې راغونډؤاوس په بهلابهلوډلوتپلواواختلافاتوککړاویودبل وینو ته تړی ناست دی

۳۔په اسلامي عقایدو اواحکامونابوهي دبدعاتو اوخرافاتو اوباطلومذاهبو اوتګلاروخپراوی لکه قادیانیت، بهائیت، بریلویت، سیکولرېزم اوتکفیري متعصبې ډلې

۴۔روحي شکست اودلویدیځ په فاسد فرهنګ ویاړاوافتخار

۵: دعربي ژبې کمزورتیا اوپه عربي ژبه کې دنورو لهجو پیاوړتیااوپه استعماري ژبو ویاړ

۶: دحکومت او واک له ساحې څخه دشریعت ګوښه کول اوپه اسلامي هېوادونو کې دسکولرېزم او دیموکراسۍ ترویج

۷: تعلیمي فساداوداسلامي تعلیم کمزورتیااودمختلط تعلیم ترویج

۸: بښځینه فساد اودکور رنګېدل اودښځینه ؤبې پردګي او بې حیایي

دښمن په بشپړه توګه دمسلمان دهویت پای ته رسول غواړي دشاعرخبره ده چې(این خواب است ومحال)

الله به ددوی دغه ټول فریبونه رسوا کړي ان شاءالله اسلام اومسلمانان به سرلوړي وي

دلومړي فصل دموضوعاتو لنډيز

ثقافت په لغت کې زيرکتيا ،ذکاوت اوهوښيارتياته ويل کېږي اسلامي ثقافت داسلامي عقايدو ،احکامو، قوانينو ،اساساتوعلو مو ،اختراعاتو .ژبې،تاريخ،ارزښتونو .ويارونواومشترکواهدافوله مجموعې څخه عبارت دی

داسلامي ثقافت ځانګړتياوي الهي سرچينه درلودل،عموم،شمول ثبات،له بشری فطرت سره سمون،په عقل تنيګښت اوله هرعيب څخه سپېځلتياده سرچيني يې قران کريم،نبوي صحيح احاديث اجماع،قياس اسلامي تاريخ عربي ژبه،انساني ګټوره پوهه اوتجربې دي

موخې اواهداف :

په اسلامي عقيدې،نبوي سپېځلي سيرت.اسلامی عباداتوداسلام په تولنيزنظام،اخلاقي نظام،قران عظيم الشان،اسلامی اقتصاد ،اسلامی سياست داسلام په خصايصواوداسلام دتمدن په ځلانده تاريخ يې پوهول دی داسلامي ثقافت پروړاندې پرانه ګوابنونه،فوځي يرغلونه صليبي اودتاتاريانواواواروپابانواوسنۍ جګړې دي چې پراسلامي امت يې تپلي دي همدارنګه فکري يرغلونه اعلام.استشراق تنصير.سيکولارېزم بې دينې اولاس پوځې بې ديمه ډلې تپلې دي.

دپورتنيوګوابنونواغيزې دقران عظيم الشان نبوي سنتواواسلامي شريعت په اړه شکونه رامينځته کول په مسلمانانو کې قامي ژبني.مذهبي اختلافات اودباطلوډلواوتګلاروايجادول دعربي ژبې کمزورتياواوداستعماري ژبو پياوړتيادشريعت بې واکه ګرزول دسيکولريزم اوبې دينۍ ترويج تعليمی فسادد کورنۍ رنګول،بې پردګۍ اودلنډغرتوب تشويق.

دلومړي فصل عمومي پوښتنې

۱ - د ثقافت لغوی معنا عبارت دی له ..

۲ – اسلامي ثقافت راوپېژنی ..

۳ – داسلامي ثقافت سرچينې واضح کړئ

۴ – داسلامي ثقافت موخې وليکئ

۲ – داسلامي ثقافت پروړاندې ننګونې شرحه کړی

۷ – استشراق، تنصير او سيکولريزم راوپېژنی

۸ – دپورتنيو ننګونو اغيزې وليکئ .

کورنی دنده

محصـــلين دې داستشراق، تنصير، ســـيکولريزم قاديانيت، بهائيـــت اوبريلويت په هکله مقالې وليکی کتابتون اوانترنټ ته دې مراجعه وکړي

ددویم څپرکي دمطالبوفهرست

لړلیک

سریزه

- دنړۍ لید پېژندنه
- دایدیالوژۍ اونړۍ لید ترمینځ فرق
- دانسان اوحیوان فرق
- دیو نړۍ لیددنبه والي معیار
- مهموپوښتنو ته ځواب
- دنړۍ لید ډولونه
- داسلامي نړۍ لید پېژندنه
- موضوع یې
- حکم یې
- سرچینې یې
- فضیلت یې
- اهمیت یې
- داسلامي نړۍ لیدخصوصیات
- داسلامي نړۍ لید فکري کړنې
- په اسلامی نړۍ لید کې دحواسو رول
- په اسلامي نړۍ لید کې دعقل اووحی رول
- داسلامي نړۍ لید دبحث موضوعات
- په بشري ژوند داسلامي نړۍلید اغیزې
- اسلامي نړۍ لید ته دنه اهمیت ورکولواغیز ې
- دجاهلي نړۍ لید ډولونه
- ددلومړي فصل دموضوعاتو لنډیز
- ددویم فصل عمومي پوښتنې

دویم څپرکی

اسلامي نړۍ لید

سریزه:

انسان دځمکې پرمخ ژوند کوی ارته نړۍ لمر ،سپوږمۍ ،ستوري ،په ځمکه کې ځپانده سیندونه دنګ دنګ غرونه اورنګارنګ حیوانات اوژوي په خپلوستر ګو ګوري،په دغه ارته نړۍ کی انسان خپل ځان ددغو موجوداتو پر وړاندې کمزوری احساسوي ځینې وخت لمر ،سپوږمۍ ،اوستوري په الوهیت نیسي،ځینې وخت بیااور ،سیندونه،غرونه،وحشي ځناور اوکبرجن انسانان خپل معبودان بولي ګرکله چې دانسان دمعرفت اوپوهې ساحه لږ ارته اوپراخه شي ددغو ټولوشیانوپه ناتوانۍ پوهیږي.

حقیقت دادی چې دانسان فطرت دکاینا تولـه څنبستن سره اشنا ده لکه څرنګـه چـې مینـه اومحبت، کرکـه اونفرت،لـوږه اوتنـده ،یخني اوګرمـي اودجنسي غریزې اشباع فطري شیان دي په همدې توګه دالله تعالی معرفت اوپه یوکامل ذات یقین اوباور دانسان په فطرت کې ځای لریانسان ته الله تعالی درې ډوله ځواکونه ورکړي دي حواس ، عقل ، وحی ،په حواسو کی دانسان اوحیوان کوم فرق نشته دانسان لوی امتیازي شان په عقل ده مګرعقل هم دښواوبدو دخیراوشر په انتخاب کی مستقل نه دی له همدغه امله دانسان په فطری پوهه او عقل بسنه ونه شوه بلکی دانسان دلارښوونی لپاره دبشریت له پیله دوحی دنزول لړۍ پیل شوه دبشریت دلومړی پلار ادم علیه اسلام له وخته په ګڼو ملتونو کې دپیغمبرانو اواسمانی پیغامونو لړۍ روانه شوه چی پای یې په محمدصلی الله علیه وسلم اوقران عظیم الشان سرته ورسید.

دنړۍ لید موضوع ددرې شیانو پېژندل دي دکاینا تودځنبستن اومعبود پېژندل،دکاینا توپېژندل اودخپل ځان پېژندل،کاینات اوانسان دالله تعالی دقدرت اثار او نښې دي ،دځمکې پرمخ ګڼ ملتونه اودبېلابېلوافکارووګړي

اوسپړي اوهرڅوک يوه مفکوره لري هېڅوک بې مفکورې نشته هرفکري مکتب که هغه اسلامي وي اوکه غيراسلامي دنړۍ اوڅان په اړه يوه عقيده لري.همدغې مفکورې ته نړۍ ليدوايي،ددې په خاطرچې حق اوباطل وپېژنواوريښتينې عقيده له باطلې څخه بېله کړای شوموږ نړۍ ليدلولوترڅوددنيااواخرت کاميابي ترلاسه کړو.

دنړۍ ليد پېژندنه:

نړۍ ليد دانسان هغه طرزفکراوعقيدې ته ويل کېږي چې انسان يې دکاياناتوپه هکله لري

ايډيالوژي او نړۍ ليد

ديودين بشپړ سيستم اوعملي احکاموته ايديالوژي اواعتقادي سيستم ته يې نړۍ ليد وايي ايډيالوژي دنړۍ ليدڅخه رامينځته کېږي،نړۍ ليددانسان،کاياناتوټولنې اوتاريخ په اړه تحليل اوتفسيرکوي نړۍ ليددې چې ايديالوژي رامينځته کوي که نړۍ ليدونه مختلف وي نوهلته به ايډيالوژۍ مختلفې وي.

دانسان اوحيوان فرق

نړۍ پېژندنه فکراوعقل پورې اړه لري ددې پرعکس حيوان يوازې محسوسه نړۍ ګوري ډېرحيوانات دي چې له انسان څخه پرمختللي حواس لري دعقاب باصره قوه اودمېږۍ اوسپي د شامې (بويولو)ځواک اودموږک دسامعې قوه ډېره پياوړې ده مګراحساس اوپوهه جلا شيان دي چې تر انسان پورې اړيکه نيسي.

ديو نړۍ ليد دښه والی معيار:

۱:داثبات اواستدلال ځواک درلودل ۲:ژوندتيا مفهوم تاکل ۳:انسان جوړوونه اواحساس پارونه ۴:سپېڅلی هدف ۵:ژمنتيا اومسئوليت

د بشر پوښتنو ته ځواب

اسلامي نړۍ لید دانسان لاندې پوښتنې ځوابوي:

- له کوم ځایه راغلی یم
- دځه په خاطر
- چېرته به ځم
- دخپل ځان لپاره څه وکړم اود مخلوق لپاره څه وکړم

دنړۍ لید ډولونه

په نړۍ کې ببلابېل نظریات اونړۍ لیدونه موجود دي چې په مجموعي توګه يې په دوو برخووېشو

- اسلامي نړۍ لید
- جاهلی نړۍ لید ،داسلام نه پرته ټول افکاراوخیالات باطل دي اوګڼ ډولونه لري اګرکه ديني اوفلسفي اوعلمي رنګ هم ولري موږ به په بشپړ تفصیل سره هر یو وڅېړو.

داسلامی نړۍ لید پېژندنه

اسلامی نړۍ لید دحس،عقل اووحی په ځواک دالله تعالی،انسان اوکاینناتو دپېژندنې څخه عبارت ده.

موضوع يې:

داسلامي نړۍ لید موضوع دالله تعالی ذات ،نومونه، صفات د انسان اوکاینناتو څېړنه ده چې دالله جل جلاله دقدرت اثار تشکیلوي

حکم يې

داسلامی نړۍ لیدزده کړه اوپوهه په هر مکلف مسلمان (نارینه اوښځینه) عیني فریضه ده کوم وګړي چې دعلم او پوهې له نعمت څخه برخمن دي دتوحید دعلم په بشپړو تفصیلاتو پوهه لاسته راوړل پرې لازم دي په اسلام کې دیو شخص تر داخلېد و وروسته دتو حید زده کړه په لو مړي تو ب کې قرار لري پیغمبر صلی الله علیه وسلم چې کله معاذ بن جبل رضی الله

عنه يمن ته لېږه هغه ته يې همد غه توصيه کړې وه په مکه مکرمه کې پيغمبر صلى الله عليه وسلم پوره ديار لس کاله دفکرپه جوړولو تېر کړي تر هجرته وروسته بياپه مدينه منوره کې احکام او قوانين نازل شوي دي،دډېر افسوس ځای دی چی زياتره مسلمانان په بېلابېلو برخوکې تخصصي پوهه لري البته په اعتقادي او ديني مسايلو کې چی دمسلمانانو ددنيوي اواخروي ژوندبريالیتوب ورپورې مربوط دی ناپوهان دي

سرچينې يې

داسلامی نړۍ ليد سرچينه قران عظيم الشان اونبوي سنت دی،داسلام دلومړي دور مسلمانانو خپله عقيده اوايډيالوژي له قرانکريم اونبوي سنتو څخه اخيستې وه نو ځکه دټول بشريت سرداران وګرزېدل په ټوله نړۍ کې بې ساری قام ژوله دوی نه په راوروسته نسلو نو کې اختلافات او منحرف افکار چې فکري اړخ يې له قران کريم او نبوي سنتو څخه نه خړوبېده بلکې دګمراهانو تګلاري په کې ورننوتلې،نوپر دې اساس هر يوملت چی خپل نړۍ ليد له قران عظيم الشان اونبوي سنتوڅخه واخلي له ګمراهۍ او ضلالت نه به بچ پاتې شي اوپه ډاډ اواطمينان سره به خپل ژوند ته ادامه ورکوي.

فضيلت يې

داسلامي نړۍ ليد علم دغوره علومود جملی څخه ده داځکه چې دبحث او څېړنې موضوع يې دالله تعالی ذات ،نومونه، صفات د انسان اوکايناتو څېړنه ده.

د اسلامي نړۍ ليدخاصيتونه او ځانګړنې

اسلامي نړۍليد له نورو عقايدو څخه لاندی ځانګړتياوې لري

- **ربانيت**

داسلامي نړۍ ليد سرچينه دالله تعالی سپېڅلی ذات دی چې داسمانې وحی په وسيله يې خپل پيغمبرصلى الله عليه وسلم ته ورښو دلی دی نو

پردې اساس دپلر ونو او نبکو نو دافکا رو څخه نه خړ و بېړ ي .داسلام څخه پرته ټول عقاید ،نظریات او افکار او دژوندانه نظامونه دانساني او بشري فکر نتیجه ده

- **ثبات**

داسلامي نړۍ لید اساس او بنسټ الهي وحی ده دپیغمبر صلی الله علیه وسلم په وفات سره یې لړ
ی بند ه شو ې ده نو داسلامي عقید ې او دبشپړ دین احکام ثابت دي چې هېڅکله بد لون نه مو مي

- **تو قیفیت:**

اسلامي مفکوره په کتا ب الله او نبو ي احا دیثو ولاړ ه ده داجتهاد لپاره په کې ځای نشته ځکه چې مصد ریې وحی تشکیلو ی دایو ثا بت حقیقت دی چې دصحیحې عقید ې لپاره له ټینګ او پا خه یقین او باور څخه پرته بله چا ره نه وي پردې اساس قیاس اوبشر ي عقل داسلامي عقیدې سرچینه نه شي ګر ځېدای

- **محفو ظیت**

اسلامي عقیده له ټو لو قواعدو ،اصولو کلیاتواوجزئیاتوسره محفوظه ده ترقیامته پو ري
ثا بته اوله هر رنګ بدلون اوتغیر څخه یې دسا تني ذمه واري شوې ده .

- **له فطرت سره سمون**

دانسان زیاته پوهه فطري ده دمثال په توګه دزېږېدلي ماشوم دموردسینې رودل داولاد په وړاندې دمور عاطفه ، لوږه او تنده ،ګرمي او یخني ، شهواني احساس په بدن کې روح ، مینه او محبت ، کینه او عداوت غم او خو شالي دغه ټول فطري احساسات دي چې زده کړې او تعلیم ته اړتیا نه پیداکوي همدارنګه په الله تعالی باور هم دبشر فطري احساس دی دکاینا تو رنګارنګ نړۍ له ستورو ډک اسمان ، لمر ،سپوږمۍ ، ځمکه او

په ځمکه کې رنګارنګ نباتات ، سیندونه ، غرونه په زرګونه ډوله حیوانات دبدلون منظم نظام دکاینناتو بشپړنظم او دهغې ذره ذره قوانین دانسان داخلي ځواکونه او خپل مینځي ترتیب دژوند او مړینې پټ رازونه داشیاء وخواص اوځانګړتیاوې دانسان خیالي بلند پروازي او عملي ناتواني دغه ټول شیان انسان دیو صانع او خالق په وجود مجبوروي ددغه تک شنه اسمان چت او دځمکې تک شین فرش دشپې او ورځې منظم بدلون دیو خالق او پیداکونکي ادرس راښئي

- **وضاحت**

اسلامي عقیده دنورو ملتونو دمعتقد اتو په تنا سب څرګند ه دمسیحیت په شان دمذ هبي شخصیتو نو په واک کې قرارنه لري چې خلکو ته ووایې له عقله پرته به یې په پټو ستر ګو منځ بلکې دلته یې هر څو ک دبهلا بهلو عقلي ، عملي او اجتماعي مستوا ګا نو دبهلتو ن سره سره په زده کړه لاس پورې کوي اسلامي عقیده دتو حید پر بنسټونو ولاړ ه ده چې دانسان اودده دځښتن تر مینځ نېغ په نېغه اړیکې جوړ وي په عیسویت کې دالله او بندګانوترمینځ واسطه دیني شخصیتونه دي همدارنګه دغه نړۍ لید په پټو ستر ګو خلک نه رابولي بلکې په بشپړ او پوره بصیرت سره خلکوته بلنه ورکوي دتاریخ په بهلابهلو اړخونو کې ډېرو خلکومنلې په ډېر لږ وخت کې دجلاجلارنګونواو ژبوخلکو دزوراوتاوتریخوالی نه پرته ورته غاړه ایښې،په لږ وخت کې په ټوله ځمکه کې خپره شوې ده

- **اسانتیا**:

اسلامي نړۍ لید ډېراسانه اوله هررنګ پېچلتیا څخه پاک ده په همدې اساس دغه کوم پېچلي رموزاواشارات نه دي چې وضاحت تهٔ اړه ولري او نه تشې عقلي او فلسفي فرضیې دي چې لږ خلک یې ددرک او پوهې احساس وکولی شي ،دبشریت غوښتنو ته مثبت ځواب وایې او په ډېرو ښو لارو چارو دغه غوښتنې پوره کوي دغه عقیده چې یوځل زړه ته ورسیدله په

وجدان کې ځای نیسي او داعمالو په توګه یې اغیزې دانسان په ټولنیز ژوند کې څرګندېږي

- **شمول**

اسلامي نړۍ لید فرد اوټولنې، دنیا اواخرت، ژوندامرګ، روح اومادې ته شامله ده الله تعالی جل جلا له بشپړه پېژندنه یې وړاندې کړې چې هدف یې د ځمکې وداني او لوړه غایه یې دالله تعالی د رضاء حاصلول دي

- **دوام**

څرنګه چې اسلامي نړۍ لیدپه دلایلو استوارده په همدې توګه تلپاتې ثابت او همیشه ده هېڅکله په کې زیات والی، بدلون او تحریف نه ر منخته کېږي، هېڅ یو حاکم او کومه دیني ټولنه ددې حق نه لري چې څه شی په کې اضافه اویاکم کړي عقیدوې حقیقتونه کوم داسې نظریات اوافکارنه دي چې بشرې داساس ډبره ایښې وي اونه یې په اوهامو ،اتکلونواوتخمینونوبنسټ ایښودل شوی دغه عقیده دالله جلت عزوجل له لوري نازله شوې دعقیدې ثبات ددې په هریورکن کې څرګندې دی

- **وسطیت (میانه روي)**

اسلامي نړۍ لید دالحاداوشرک ترمینځ موقعیت لري ملحدین اومادې پال وګړي دمحسوسوکاياتونه وراخواپه یوذات باوري نه دي ددوی پرخلاف بت پالونکي، غوا ،خوسی، ونې، بوټي ،سیندونه اوغرونه لنډه داچې انساني اوغیرانسانې څواکونه په الوهیت کې شریک بولي اسلام له دواړوسره مبارزه کوی اودیوسپېځلي ذات بندګۍ ته یې رابولي په همدې توګه اسلامي عقیده دتعطیل او تشبیه دګمراه ډلوترمینځ مینځنی مقام لري دتعطیل دعقیدې څښتنان دالله تعالی داسماء و او صفاتو څخه انکار کوي او دتشبیه دعقیدې پیروان یې له مخلوق سره مشابه ګڼي مګراهل سنت والجماعت دالله تعالی ټول اسماء او صفات له تعطیل ، تشبیه اوکیفیت څخه پرته مني

- **واقعیت**

اسلامي نړۍ لید یو واقعي نړۍ لیدد ی په خیال اواټکل یې اساس نه دی ایښودل شوی له انساني واقعیتونوسره څنګ په څنګ حرکت کوي اوتطبیق یې دانسان له وسې وتلی کارنه دی

- **په دلایلو ټینګښت**

اسلامي نړۍ لیدپه څرګند ودلایلو ولاړدی هېڅاته هم په پټو ستر ګودعوت نه ورکوي قران عظیم الشان چې کله هم خلک دعقیدې اساساتوته رابولي دکاینناتواودانسان په نفس کې عقلي دلایل وړاندې کوي اوهېڅکله بې دلیله ړندې او کنې پیروۍ ته څوک نه رابولي دالوهیت په قضیه کې موږ وینو چی قران عظیم الشان له کاینناتو ،بشري نفس اوله تاریخ څخه دالله جلت عظمته په وجودباندی دلایل راوړي په همدې توګه بعث بعدالموت (له مرګه وروسته ژوند)او نور ټول قضایا اومسایل په ډېرلوړوعلمي او معقولودلایلومطرح کوي.

اهمیت یې

اسلامي نړۍ لید دانسان لپاره له اوبو اوهوا څخه هم ډېرزیات اهمیت لري له عقیدې نه پرته انسان په حیرا نتیاکې ژوندسرته رسوي نه پوهېږي چې له کوم ځایه راغلی اودځه په خاطر راغلی ،اساسي دنده یې څه شی دهاوکوم لوري ته به ځي ؟

عقیده دعباداتو ،اخلاقواو معاملاتو لپاره دبنیاداوتهداب حیثیت لري سمه عقیده یو شخص له شرک الحاد اوګناهونوڅخه ژغوري او په انسان کې دالله جل جلا له وېرې ته وده ورکوي اودشبهاتوله فتنوڅخه یې ساتي او له جهل څخه نجات پیدا کوي اودباطلوافکاروپرواند ې یې مقا بلې ته تیارو ي

فکري پولې يې

اسلامی نړۍ لید انسان ته فکري خط ورکوي چې په هغه کې درې شیان اساسي رول لري ۱- حس ۲- عقل ۳- وحی

دحواسو رول:

داسلام سپېڅلی دین ماده حقیقت ته دانسان دنیڑدې کولودوسیلې په توګه منې په ډېرو یاتونو کې دکایناتو واقعیت بیان شوی اوله هغه څخه ګټه اخیستنه هرمومن ته وړاندې شوې البته اسلامي نړۍ لید دمادې په نیمګړتیاؤاوظرفیتونو باندې باوري ده دحس دناتوانۍ په صورت کې عقل ته رجوع کوی.

دعقل رول:

اسلامی نړۍ لید عقل دانسان لویه پانګه اودټولومکلفیتونومحوربولي له همدغه امله یې انسان ته په څارویو فضیلت په برخه کړی دی پردې اساس عقل یوه پوله لري چې هلته په ټپه ودرېږي نوله همدې کبله اسلامي نړۍ لید یوبل عنصر وړاندې کوي چې له وحی څخه عبارت دی ډېرو حقایقوپه اړه راته حس اوعقل څه شی نه شي ویلی په حواسوسره دالله تعالی دقدرت اثاراوننبې وینوعقل راته وایي چی هریو جوړشوی شی جوړوونکی لري ځمکې،اسمانونه،انسانان اوحیوانات ټول یوذات جوړکړي دي موږ بایددهغه چاپه وینا باوروکړو چې دنړۍ والو خالق اوځښتن داستازي په توګه معرفی کړی دی چی هغه وروستی پیغمبرمحمدصلی الله علیه وسلم دی.

دغه حقیقت دیومثال په ترڅ کې داسې روښانه کووپه بازار کې مودموبایل تلفون واخیست ډېرښایسته ؤپه ستر ګو مې دموبایل دټولې ښکلا نندارې کوله عقل راته وویل چې څومره هوښیارانجینر ډیزاین کړی دی ماپه خپلو سترګونه هغه انجینر لید لی اونه هغه کارخانه، علم ماته وایي چې دغه مصنوع ارومرویوصانع لري اوس چی له عقل نه پوښتنه کوم

خواب نه شي راکولی دډ هر غور او فکر په نتیجه کې د دغه موبایل د کمپنۍ ادرس او کتلاګ ترلاسه کوم دهغه په کتنې سره د موبایل دسم استعمال لارې چارې زده کوم.

موږ چې کله ارته نړۍ په ستر ګو ګورو عقل راته وایي چې دغه ښایسته نړۍ او منظم نظام اورمرو یو خالق لري چې دغه نظم او خوځښت یې رامینځته کړی دی اوس عقل راته وایي چې زه ښه اوبد نه پېژنم چې ښه کوم دې اوبد کوم دي دکاینناتو څښتن انسان په تیاره کې پرې اینښی نه ده دښو اوبدو د خیر او شر ښوونه دالهي استازو او اسماني پیغامونو په وسیله شوې ده هغه مې ولوست ځان مې پرې پوه کړ او حقیقت ته ورسېدلم ښه اوبد ، خیر او شر او د ژوند هدف او د ژوند د اوږده سفر و اتنونه یې راته په ګوته کړل.

دوحی رول:

د اسلامي نړۍ لید دستر و امتیازاتو د جملې څخه دوحی د نعمت څخه ګټه اخیستل دی ځکه ډ پر خلک حس او عقل په نیمه لار کې پرېښی دی اسلامي نړۍ لید په غیبي امورو کې د حس او عقل دنا توانۍ په صورت کې وحی ته رجوع کوي.

محسوسات ـــــ معقولات ـــــ غیبیات

د حواسو په وسیله ـــــ د عقل په وسیله ـــــ دوحی په وسیله

په دې توګه هغه پوښتنې چې ماتریالستان او فلاسفه ور څخه لاځواب اوبې لاړې شوي په اسلامي نړۍ لید کې دوحی پر اساس ځواب شوي دي

د بحث موضوعات یې

- د الله پېژندنه
- د کاینناتو پېژندنه
- د انسان پېژندنه ده

په بشري ژوند داسلامي نړۍ لید اغیزې

الف :په فردي برخه کې

- **اخلاص**

اخلاص دعمل دقبولتیا لپاره اساسي شرط ده مؤمن مسلمان دالله او بنده ګانو سره په اړیکو کې مخلص انسان وي

- **دالهي تائید احساس**

دلته مو دمرستې څخه موخه الهي تائید او ساتنه ده که دښمن هرڅومره او ځواکمن او زور اور وي مؤمن دالله په مرسته او نصرت بشپړ باوري وي په پوره ډاډاو اطمینان په پوره میړانې ددښمن مقابله کوي په یوه لارښود ،یوه قانون او یوه مرکز راتولېږي

- **دعلم هڅې**

مؤمن مسلمان دجهل پربنسټ دالله تعالی بندګي نه کوي ددین او ددنیا په چاروکې جهل او ناپوهي رنځ دی په ټولوچاروکې به یې هڅې دپوهې پراساس وي

- **شجاعت**

مؤمن مسلمان پردې پوهېږي چې مړینه اوژوند دالله له خوا دی چې الله تعالی دیو چا دمرګ پرېکړه نه وي کړي څوک یې په وژلونه شي محکومولی

- **ازادي**

اسلامي نړۍ لید له مؤمن څخه غواړي چې دالله عزوجل څخه پرته به دهېڅا بندګي او غلامي نه کوي او نه به دبل چا قانون ته سرټیټوي

- **له خرافاتولېږې والی**

اسلامي نړۍ لیدعقل ته لارښوونه کوي اوله ړندو میراثي افکارو او عاداتو څخه یې ازادوي خپله عقیده دیقین پر اساس ټینګوي او له انده تقلید(دپلرونودړندې پیروی) سره په کلکه مبارزه کوي لکه څرنګه یې چې دانسان عقل له اوهامواوخرافاتواوجهل څخه ژغورلی دی په همدی توګه یې انسان په کایناتو کې غوراو څېړنې ته هڅولی دی

• **دعزت احساس**

اسلامي نړۍ ليد انسان په خپلې روزې او د مرګ په نېټې ډاډه کوي دغه باور له انسان څخه ويارمن او عزتمند انسان جوړوي ، شيخ الاسلام امام تقي الدين ابن تيمية رحمة الله عليه د همدغې عقيدې مثالي سرلوړی شخصيت دی هلته يې چې دوخت تجاوزګر وحکمرانانو ته په زندان کې داسې وويل تاسو په ماڅه کوئ ؟ مرګ مې شهادت او تبعيد مې سياحت او زندان مې رياضت دی، حضرت خبيب رضی الله عنه هم چې کله کافرانو وژلو دغه اشعاريې ويل :

فلست ابالی حين اقتل مسلما + علی ای جنب کان فی الله مصرعي

يعنی زه هيڅ پروانه لرم چی د مسلمان په توګه وژل کېږم په هر اړخ چې مې د الله په لار کې څملوئ ورته تياريم. اسلامي عقيده انسان ته په روحاني او عقلي لحاظ ازادي په برخه کوي د تفکر او اختراع لپاره يې انسان ته دکاينات وارت ډګر وربښلی .

• **استقامت**

هر کله چې مؤمن مسلمان په اسلام عمل کوي د عقيدې اغيزې يې په ژوند کې ښکاره کېږي خپل ځان په حق برابروي او په ټولو کړو وړو کې الله جل شانه دخپلو اعمالو څارونکې بولي دا ځکه چې د تل لپاره له الله جلت عظمته سره د تړاؤ په احساسولو سره له خپل ځښتن څخه حيا او شرم کوي نو له انحراف او ډګناه له کولو څخه ځان ژغوري

• **دسر بښندنې حس**

داسلامي نړۍ ليد له کبله انسان خپل ځان ،مال ،اولاد ټول دالله په لار کې قربانوي دلته يې لازمه بولو چې داسلام دلومړي دور دلښکرو داعلی سر قومندان خالد بن وليد وينا ته درنو لوستونکيو پام راواړوو چې د امپراتورته يې کړې وه« زه د داسې يو قام په ملګرتيا ستاسيمې ته راغلې چې هغوی دالله په لار کې مرينه تر ژوند غوره بولي ،داهماغه دريز دی چې

حضرت حنظله يې دخپل واده په شپه داحد په غزاکې دمجاهدينودليکو سره يوځای کړتر څويې دشهادت سترمقام ترلاسه کړ

- **دمسؤليت روح:**

اسلامي نړۍليد دانسان کړه وړه دالهی او امرو په چوکاټ کې تنظيموي په دی صورت کې انسان خپل ځان او نفسي غوښتنې په قابو کې ساتي.

- **دژوند دهدف پېژندل**

په نړۍ کې مؤ من مسلمان په سمه لاره ژوند تيروي قران عظيم الشان فرمايې

﴿ أَفَمَن يَمْشِي مُكِبًّا عَلَىٰ وَجْهِهِۦٓ أَهْدَىٰٓ أَمَّن يَمْشِي سَوِيًّا عَلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴾ (٢٢) الملك

ژباړه: ايا هغه څوک چې سر نسکور په سر روان وي ښه لار ميندلی شي او که هغه څوک چې په روغه لار سم روان وي ؟

- **ډاډ او اطمينان**

داسلامي نړۍ ليد په رڼا کې دمؤمن روح اوزره ډاډه وي او پردې پوهېږي چې په دنيا کې هم الله ورڅخه راضي ده او په اخرت کې هم

- **د نېکيوخپرېدا**

څوک چې په اسلامي نړۍ ليد باوري نه وي هغه به حلال او حرام څنګه و

پېژني له اسلامي عقيدې پرته انسان هغه حيوان ته ورته دی چې دځمکې په

سر ژوند کوي په دی نه پوهېږي چې دځه په خاطر ځمکې ته راغلی له دنيا

څخه به خالې لاس او بې عمله ناکام درومي،

ب: په ټولنيز ژوند

- **د پيغمبرانو وراثت:**

داسلامي نړۍ ليد پېر وان يوتاريخي امت دی چې پيل يې له ادمه اوپای يې په محمد صلی الله علیه وسلم دی معناداچې دغه امت ځان دانبيا ءوعليهم السلامود لړۍ وا رث بو لي ديوې نړۍ والې يوموټې مسلماني ټو لنې رامينځته کول غواړي داځکه چې دوی ديوه رب اوحاکم ،يوه لارښود ،يوه قانون، يوې قبلې لوري ته مخه ګر زوي

- **اتفاق او اتحاد**

داسلامي نړۍ ليد په لړکې به دخلکو زړونه په يوذات يوه کتاب يوه پيغمبر او يوي قبلي راجمع شي ، ايماني و رورګلوي تحقق پيداکوي نو ددې ايات مصداق به ﴿ كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ ﴿١١٠﴾ ﴾ ال عمران ژباړه: تاسې دامت غوره ډله يې چې دخلکو دښېګنې لپاره راوېستلې شوي ياست

- **اعتقادي تړاو**

داسلامي نړۍ ليد پيروان خپلې اړيکې دعقيد ې پر بنسټ ټينګو ي هلته دجنس، رنګ، ژبې ، سيمې اوملي مصالحو ټولې پرسمنې اړيکې له مينځه ځي

- **محبت**

داسلامي عقيدې امت دمحبت ، يووالي اوورورګلوی دفولادين اواو سپنيز ديوال په څېرمضبوط دی چې دځمکې پرمخ دعدل اوانصاف دقيام لپاره مبارزه کوي

- **صداقت**

دداسې فا ضله ټولنې ايجادول چې په سپېڅلتيا ،صداقت امانت، شرافت اوعدالت سينګاره وي هلته چې وګړي يې له الله جلت عظمته ځخه وېرېږي

- **استقلال**

مومن مسلمان په خپل ایمان اوپه خپل دین ویاړي دهیڅا غلامی ته سرنه ټیټوي داځکه چې دغه امت دملتونو لارښوداورهبردی

- **سوله**

دشرق اودغرب دطواغیتواوسرکښانودغلامی څخه دخلاصون په نتیجه کې به مسلمانان دامن او امان درشل ته ورسېږي په اسلامي هېوادونو کې بدامني ،جګړې او بې اتفاقي ددوی دناوړه دسیسونتیجه ده

- **نجات**

دغه امت دخپلو شخصي ګټواومصالحو لپاره ژوند نه ترسره کوي بلکې هدف يې دبشریت نجا ت،هدایت اوددنیا اواخرت نېکبختي ده

- **مساوات**

داسلامي عقیدې په سیوري کې ټول وګړي حاکم اومحکوم شتمن اونیستمن ټول سره برابر دي رب يې ي، لارښودیې یو ،قانون يې یواوقبله يې یوه ده

- **عدل**

داسلامي امت جګړه او سوله دعقیدې پربنسټ ولاړه ده مو خه يې دوینو بیول اودشتمنیواونا موسونولوټ کول نه دي ستر هدف يې دځمکې پرمخ دعدل اوانصاف اقامه اودظالمانوله ناولومنګولوځخه دولسونوازادي ده .

اسلامي نړۍ لید ته دنه اهمیت اغیز ې

- **تنګ ژوند**

چې ژوند ی ببلګه يې او سنی مادي تمد ن دی چې له هر رنګه مادي اسا تنیا ع سره هلته خلک ځان وژني

- **ځان پا لنه**

په دې تو ګه چې هر څوک دخپل ځان ګټو پسې ګرزي اګر که بل چا ته زیان رسېږي

- **جرمونه**

دائکه چې انسان غیر مسؤلانه ژوند تېر وي نو په وحشت او جنا یا تولا س پورې کوي

- **ټولنیز فساد**

دافرادو فسا د په ټولنیز فسا د منتج او ټوله ټولنه په بربادۍ او تباهۍ اخته کېږي

- **ځان وژنه**

په لویدیز و هېوادونو کې ځان وژونکي نیستمن نه بلکې شتمن خلک دي

- **له ځان سره ظلم**

دغسې اشخاص یاانسانیت هېرکړي خپل ځان په تباهۍ کې غورزوي دماسوی الله بنده جوړشي

- **له حقیقت نه محرومیت**

دغسې انسان نه خپل څښتن پېژني نه خپل ځان او نه دژوند هدف او منزل

- **تباهي اوبربادي**

دغسې انسان دروحي سکون او ډاډ څخه بر خمن نه وي ژوند یې هم له بد بختۍ ډک او مړینه یې هم په سپکه او ذلیله توګه وي

دجاهلي نړۍ لید ډولونه

۱: **تجربوي:**

دغه نړۍ لیدپه دووشیانو اعتماد کوي

- دهرې ستونزې دحل لپاره یولړ اټکلونه اوعلمی نظریات وړاندې کوی
- دغه اټکلونه تجربه کوي اوحقیقت ته پرې ځان رسوي

دمثال په توګه يو ساينس پوه لومړی په يوه فرضيه فکر کوي بيايي په لابراتوار کې تجربه کوي اويو علمي حقيقت په لاس راوړي البته دغه حقيقت ترهغه داعتبار وړ وي ترڅوپه دې هکله قوي اونوې تجربه نه وي رامينځته شوې ساينس پوهان په لومړی ځل باوري ؤچې اتوم دتجزيې وړنه دی مګرڅه وخت چې يوعالم وکولای شول اتوم تجزيه کړي دغه علمي نظريه باطله شوه دغه نړۍ ليدشامل نه بلکې په جزيي مسايلو ترکيز کوي دژوند اهداف ښه اوبدخيراوشرانسان ته نه شي ورښودلی.

۲: فلسفي نړۍ ليد

چې بېلابېل فلسفي مکتبونه لري چې په لاندې توګه يې څېړو

الف:عقلاني نړۍ ليد:

ددغې برخې پوهان په فلسفي چاروکې عقل اساسي محور بولي چې ددغه مکتب زياتره پوهان ديونان پخواني فلاسفه او اوله پنځلسمې ميلادي پېړۍ نه تر ننه پورې دلويديز معاصر پوهان دي.

دعقلاني نړۍ ليد نيمګړتيا داده چې دوی يوازې په عقل اعتماد کوي عقل هم يوه پوله لري چې له هغې نه تجاوز نه شي کولای دغه نړۍ ليد انسان په نيمه لار کې يوازې پرېږدي موږ دغه مطلب ديومثال په ترڅ کې ځرګندوو. يوڅوک ستادکور دروازه درټکوی عقل درته وايي چې ددروازې ترشا څوک شته داچې څوک دی لوی دی اوکه کوچنی ښځه ده اوکه نرعقل تاته دقناعت ورڅواب نه شي درکولی دلته لازمه ده چې دغه شخص دوه کاره وکړی چې يو ددروازې خلاصول اودشخص ليدل دي

ب: حسي نړۍ ليد(ماتريالېزم)

ددغې فلسفې ښوونځی په اتلسمه ميلادی پېړۍ کې ديهودي کارل مارکس او انګلز په وسيله رامينځته شو.

افکار يې په لاندې توګه خلاصه کولی شو

- دوی دمحسوساتو نه پرته بل هېڅ شی په رسميت نه پېژني

- نړۍ له نظم اوانضباط سره تاکلی هدف نه لري
- دتصادف په توګه رامینځته شوېده
- دغه نړۍ خالق نه لري اوپخپله رامینځته شوې
- انسان یومتکامل حیوان دی هیلې اوغوښتنې لري اودپوره کولو لپاره یې بایدله هرې ممکنې وسیلې څخه کار واخلي
- هغه باید دنفس دتولوغوښتنواطاعت وکړي
- انسان دهېڅاپروړاندې مسئولیت نه لري دژوندپه تولوقضایاوکې ازاد دی
- هېڅ حساب اوکتاب نشته انسان په خپله دقانون سرچینه ده
- ژوندیوازې په دنیاکې ده اخرت له سره شتون نه لری

نودماتریالستي مفکورې لنډیزدادی چې له هېڅ نه پیدایم ژوندمې پوچ اوبې هدفه، دژوندهدف مې دنفسي خواهشاتو پوره کول اودهېڅ په لوري تلل دي

نو ژوندهېڅ پوچ هېڅ

مشخصات یې

- سیاسي نظام په دکتاتورۍ اودبشردحاکمیت پراساس ولاړ وي.
- قوانین دیوې طبقې ګټې په نظر کې نیسي.
- دتولنې رهبري دچلبازو،فریبکارواو وینه څښونکواوفاسدوخلکو په لاس کې وي.
- تولنیز ژوند دشهوت پالنې اوځان غوښتنې پراساس ولاړ وی.
- په دغسې تولنه کې صنعت دهوی اوهوس ترتاثیرلاندې راځي اودفحشاءو او رزایلواسباب ورځ په ورځ زیاتېږي.
- اقتصادي حالت غیرمتوازن وي ګوندي حاکمه طبقه دژوندد تولومزایاءوڅخه برخمنه مګرتیته طبقه یوه مړۍ ډوډۍ نه مینده کوي ځکه هرڅه دګوندپه لاس کې وي.

نیمګړتیاوې یې:

د هر ماده پالونکي له دې امله په ګمراهۍ اخته شول چې داشیاءوپه وظایفو کې یې اختلاط رامینځته کړموږنه شوکولی دبدن دغړیو دندوته بدلون ورکړو دمثال په توګه چې دباصري دحس کار غوږونوته وسپاروا ویادزړه دنده معدې ته محول کړوپه همدې توګه دحقایقو دپېژندګلوی لپاره لارې شتون لري چې ددندوبدلون یې دګمراهۍ لامل ګرزي یوفیلسوف نه شي کولی چې په عقل سره داخبره ثابته کړي چې مادي اجسام له مالیکولونواواتومونوځخه جوړشوي دي موږنه شوکولی عقلي امور په لابراتوارکې په پنځه ګونوحواسو سره ثابت کړو پردې اساس دالله تعالی،ملایکو،اسماني پیغامونو موضوع عقل پورې اړیکه نیسي په داسې مسایلو کې دمادې اومشاهداتي امورو داخلول دګمراهۍ سبب ګرزي.

درېیم:شرک

دجاهلی نړۍ لیدبله کثیفه اوناولې څېره شرک دی چې بنسټونه یې په وهم،تخمین،اتکل او ګومان باندې ولاړ دي لکه یوسړی لمر،سپوږمۍ اواور وګوري اوهغه ته دمعبود نسبت وکړي اوخپل ځان یې پرورانده خواراوذلیل وبولي.دغه فکري تګلاره دبهلابهلو خدایانو په شتون باوري ده کامیابي اوناکامي،خوشالي اوغم دهغو په مینځ کې وېشي دغه طرز فکر چې له ناپوهۍ نه یې سرچینه اخیستې ده په ټولنه کې دمختلفو مفاسدو اصلي عامل او سبب دی.

مشخصات یې:

- په وهم،تخمین اواتکل یې ټینګښت
- له هغو شیانوځخه وېره چې هېڅ قدرت نه لري.
- دخواري اوذلت په حال کې ژوند تېرول کله قبر ته پناه وړلاوکله بت ته ګونډې وهل.اوکله دانسان پښتوته لوېدل هغه خپل حامي اومرستندوی بلل.

- دخس اوخاشاکو په څېر ذلیل ژوند کول اود حوادثو پر وړاندې داستقامت څخه لاس په سر کېدل
- دبې اساسه تشریفاتو سبب ګرزېدل.
- دمیراثي رواجونو په بند، کې راګیرېدل.
- ټګانو اودجالانو ته دخلکو پر ژوند د لوبو زمینه برابرول

اوس وخت دمشرکانه جاهلیت نمایندګي، نصرانیت، بودېزم او هندوئېز سرته رسوي.

څلورم: رهبانیت:

دجاهلي نړۍ لیدناولې څېره رهبانیت دی چې دژوندنعمتونه دبدبختۍ سبب ګڼی جسم دروح لپاره زندان بولي دژوندلـه ډګره غارونواوسمځوته تېښته کوی په یوکنج کې کښېني اوله ټولنې خپلې اړیکې غوڅوي اوله ټولنیزو دندو څخه ځان ساتي اوله خلکوسره په خوشالۍ اوغم کې ګډون نه کوي.

نیمګړتیاوې یې:

- په دې توګه ټولنه له بېکاره خلکو څخه ډکېږي ویلی شو چې رهبانیت دټولنې د وروسته پاتې والي ستر عامل ګڼل کېږي.
- په دې توګه دالله تعالی بنه بندګان له ټولنې لېرې کېږي دټولنې چارې دبدکاره خلکولاسونوته ورځي.
- دغه طرز فکر ستمګرو اوظالمانو ته دظلم زمینه برابرویخپل غیر انساني حکومت پرې تحمیلوي.

رهبانیت دلومړی ځل لپاره په نصاری و کې رامینځته شو مګر په راوروسته دوروکې یې په مسلمانانو کې هم رواج وموند.

پنځم: تیوکراسي

دا له هغه نړۍ لید څخه عبارت دی چې په کلیسااود کلیسا په مشربشپړ اعتماد کوي په دغه نړۍ لید کې عقل ته ځای نه وي په پټو او ړندو سترګو دپاپ پیروي کېږي دکلیسا ټولې خبرې دعقل اومنطق خلاف دي دوی

دعقلانیت اوعلم پرضد پالیسي لري په منځنیو پېړیو کې دغه نړۍ لید اروپا دبدبختۍ په ځاله بدله کړې وه پاپانو به خلکو ته دجنت ټکسونه ورکول دساینس په علماءو یې دکفر فتواوې صادرې کړې دري لکه اودهرش زره پوهان یې دمرګ په درشل ودرول دد هرش زرو په هکله یې ویلي ؤ چې ژوندي باید وسوزول شي له همدغه امله هلته دوه غبرګونه رامینځته شول چې یویې مارکسستي اوبل یې لبرالي اوسیکولاریستي ،مارکسستي غبرګون خو په بشپړه توګه له الله او اخرت څخه انکار وکړ مګر سیکولر تصور دین تر عبادت خانې پورې منحصر وباله له تمدن،سیاست،اقتصاد اود ټولنې څخه یې ګوښه کړ.

ددویم څپرکي دموضوعاتو لنډیز

- دنړۍ،انسان اوژوندوضاحت اوپېژندنې ته نړۍلید ویل کېږي
- دیودین بشپړسیستم او عملي احکا مو ته ایډیالوژي او اعتقا دي اوفکري بر خې ته یې نړ ی لید ویل کېږي نړی لید چې ایډ یالوژي رامینځته کوي که نړی لید ونه مختلف وي هلته بیا ایډیالو ژۍ مختلفې وي
- نړی پېژندنه تفکراوعقل پورې اړه لري ددې پرعکس حیوان یوازې محسوسه نړۍ ګوري
- دیونړۍلید دښه والي معیارچې داستدلال اواثبات قابلیت ولري چې انسان ته سپېڅلی هدف ورپه برخه کړي،ژمن مسؤلیت جوړونکی اواحساس پاروونکی وي.
- اسلامي نړۍلید دبشر دغوپونښتنوته مثبت ځواب وایي،له کوم ځایه راغلی یم،دځه لپاره؟اوپه کوم لوري به ځم ؟
- نړی لیدپه دووبرخووېشل شو ۱:اسلامي نړۍ لید : جاهلي نړی لید
- داسلامي نړی لیدپېژندنه :دحس ، عقل اووحی په ځواک دالله تعالی ، کایناتو اوانسان پېژندنې ته اسلامي نړۍ لید وایي
- داسلامي نړۍلیدموضوع دالله جل جلاله دذات اوصفاتوکایناتواوانسان پېژندل دي چې دغه دواړه دالله تعالی دقدرت اثاراوننبې تشکیلوي

- دزده کړې حکم يې په هريومسلمان عيني فريضه ده سرچينه يې قران عظيم الشان اونبوي سنت دي
- فضيلت يې: په ټولوعلوموکې غوره علم ځکه ده چې تعلق يې دالله تعالى دذات اوصفاتودزده کړې سره ده
- ځانګړنې اوخاصيتونه يې: ربانيت ، ثبات ، توقيفيت ، محفوظيت ، له بشري فطرت سره سمون ،وضاحت اوځرګند تيا ، اسانتيا ، شمول اوتوازن ، ثبات او دوام ، ميانه روي ، واقعيت ، په دلايلو ټينګښت
- اهميت يې : دانسان لپاره له اوبو اوهواڅخه هم ډېرمهم دی
- اسلامي نړۍليدسرچينه :قران عظيم الشان اونبوي صحيح احاديث دي
- داسلامي نړۍليدخصوصيات :دغه نړۍ ليدپه علم اوپوهه ولاړدی دحس، عقل اوو حی څخه کاراخلي او

حقيقت ته پرې ځان رسوي ټولوکاياناتوته خالق،مدبراوتنظيموونکی ثابتوي اومهم خصوصيت يې توحيددی دانسان تخليق باهدفه بولي اودانسان پوښتنوته مثبت ځواب وايي او هغه داچې له کوم ځايه راغلی يم دڅه په خاطر چېر ته به ځم ؟دغه نړۍ ليد الله تعالى دقانون جوړولو ، داقتداراعلى اولو ړحاکميت حقد اربولي اوله انسان نه دحا کميت صلا حيت اخلي دالله تعالى پر وړاند ې دانسان حيثيت دخليفه اونوکردی . دغه نړۍ ليد ثابت دعموم اوشمول صفت له ځانه سره لري ، علم اوعقل ته درنا وی کوي دحس ،عقل اووحی لپاره جلا حدودتا کي اودژوند ټول اړخونه په نظرکې نيسي .

داسلامي نړۍليدفکري پولې :حس،عقل اووحی دي داسلامي نړۍليددبحث موضوعات يې دالله،کاياناتواوانسان پېژندنه ده

په بشري ژوند داسلامي نړۍليداغېزې

په فردي برخه کې [1]-ازادي [2]-له چټياتو څخه دعقل خلاصون [3]دعزت احساس [4]-استقامت دسربښندنې حس [6]-دمسئوليت روح [7]-ډاډ اواطمينان [8]-دژوندد هدف پېژندل [9]-دنېکيو خپرېدل

په ټولنيزه برخه کې [1]- نړۍ واله يوموتې ټولنه رامنځته کول [2]-دبشريت نجات خلاصون [3]-مساوات او برابري [4]-دظالمانو له ناولو منګولو داسيرو ملتونو ازادي

۵.دعقیدې او ایمان پربنسټ نړۍ والې اړیکې جوړول **اسلامي نړۍ لیدته دنه اهمیت اغیزې** ۱ـ تنګ او خفه ژوند ۲ـ ځان پالنه ۳ـ دجر ـ داوهامو مونوزیاتوالی ۴:تولنیزفساد ۵:دځان وژنې زیاتوالی ۶ـ بغاوت۷ اووېرې خپرېدا ۸.له خپل ځان سره ظلم ۹.له حقیقت نه بې برخې کېدل ۱۰.تباهي اوبربادي

جاهلي نړۍ لید :

لومړي تجربو ي نړۍ لید ،چې یوه فرضیه تجربه کوي اویو علمي حقیقت په لاس راوړي البته که قوي تجربه رامینځته شوه نومورې تجربه باطلوي دغه نړ ی لید شامل نه دی جزیی مسا ئیل څېړي دژوند اهداف خیر اوشر ښه اوبد انسان ته نه شي ښو دلی .

دویم :فلسفي نړۍ لید چې لاند ې فلسفي مکتبو نو ته شا مل دی الف :عقلا ني نړۍ لید :ددغې بر خې پو هان عقل اساسي محور بو لي اوله وحی څخه کار نه اخلي دغه دیو نان پخوانی فلا سفه اودلوید یز نوي پو هان دي

ب :حسي نړۍ لید (ما تریالېزم) دوی دمحسوساتو نه پرته بل هیڅ شی په رسمیت نه پېژ ني نړۍ دتصادف پربنسټ بې هدفه بولي اوله خالق نه انکار کوی انسان یو متکل مل حیوان بولي دغه طر ز فکروایي چې له هیڅ نه پیدایم ژوند مې بې هدفه اودهیڅ په لوري ځم .

مشخصات یې :

سیاسي نظام په دکتاتوری ، استبداد اودواکمنۍ طبقې په حاکمیت ولاړوي دتولنې قیادت دچلبازو وینه څښونکو اوفاسدو وګړو په لاس وي تو لنیز ژوند په شهوت پالنې اوفحشاء و استوار وي ،حاکمه طبقه دژوند دتولو خوندونو څخه بر خمنه مګرتهته طبقه یوې مړۍ دوډۍ ته ستر ګې په لار ه وي

درېیم شرک :

دجاهلي نړۍ لید چتله څېره ده چې دبنسټ ډبر ه یې په وهم اوګومان دلاړه ده مشرک انسان لمر ، سپوږ مۍ ، بربښنا ، غواوخوسي ونو بو تو کانو ، اوبو غرونو اودانسان تنا سلي اندام ته په عبادت بو خت وي

مشخصات يې :وهم ، تخمين ، اټکل له بېکاره شيانو وېره ،خواري اوذلت بې
اساسه تشريفات ، ميراثي رواجونه چې په نتيجه کې فر ېبکار وخلکو ته دخلکو
پرژوند دلوبو زمينه برابر ېږ ي
څلورم رهبانيت :
چې دژوند نعمتونه دبد بختي سبب ګڼې جسم ته اذيت ورکو ي غا رونو اوسمځونو
پنا ه وړي له تو لنې اړيکې غوڅو ي نېکا ن خلک له تو لنې ګو ښه کېږ ي اوتو لنه
فاسدو خلکو ته پاتې کېږ ي
نيمګړ تياوې يې :
له بېکاره خلکو دتو لنې ډکېدل ، ظا لمانو ته داستبدادزمينه برابر ول
دغه طرز فکر دلو مړ ي ځل لپاره په نصرانيانو کې رامينځته شو
پينځم تيوکررسي :
دغه طر زفکردکليسا په مشر انو اعتماد کوي په ړند و ستر ګو دپا پ پير وي کوي
دوی دعقل ضد پاليسي لري دغه نړ ی ليد اروپا دبد بختي په ځاله بد له کړې وه
خلکو ته به يې دجنت ټکسونه ورکول همدغه ناولي تصورپه اروپا کې لبر الي ،
سيکو لاريستي اوکمو نستي لادينه تصورته زمينه برابر ه کړه

ددويم څپرکي عمومي پوښتنې

۱: س : اسلامی نړی ليد راوپېژ نی
۲ : س : دايډيالوژی اونړ ی ليد فرق وليکی
۳ـ داسلامي نړی ليد دزده کړې حکم وليکئ
۴ـ سرچينه يې واضح کړئ ۵ـ فضيلت يې څرګند کړئ
۶ـ داسلامي نړی ليد ځانګړنې وليکئ ۷:س:داسلامي نړی ليد اهميت عبارت دی له
۸: س :داسلامی نړ ی ليد درې خصوصيات وليکی ۹ س :داسلامي نړی ليد فکر
ي پولې واضح کړئ ۱۰:س:په بشري ژوند داسلامي نړی ليد فردي اغېزې وليکئ
۱۱ په بشري ژند داسلامي نړی تولنيزې اغېزې وايکئ ۱۲:اسلامي نړی ليد ته دنه
اهميت اغېزې وليکئ ۱۳ س دجاهلی نړی ليد ډولونه وليکی
۱۴ س عقلا ني نړ ی ليد څه ته وايي ۱۵ س ماټر يالېزم راوپېژنی
۱۶ س دماټر يالېزم مشخصات وليکی ۱۷ س شرک څه ته وايي
۱۸ س رهبانيت راوپيژنی ۱۹ س تيو کراسي څه شي ته وايی اوغبر ګون يې څه و

ددرییم څپرکي دموضوعاتو فهرست

لړلیک

- دایمان پېژندنه
- سریزه
- دایمان لغوی معنا
- دایمان اصطلاحي پېژندنه
- دایمان په تعریف دجلاجلا ویناءو حقیقت
- دایمان په هکله داهل سنتو اتفاقي تکي
- دایمان قوت اوضعف
- دایمان دقوت اسباب
- دایمان ضعف(کمزورتیا)
- دایمان دضعف اسباب
- دایمان دضعف دعلاج لارې چارې
- دایمان غوښتنې
- د مؤمن مسئولیتونه
- اسلام
- دمسلمان جوړېدالپاره لومړی ګام
- دمسلمان مسئولیت
- دایمان اواسلام فرق
- دایمان ډولونه
- تقوی اواحسان

درپیم څپر کی

دایمان پیژ ند نه

سریز ه

ایمان داسلام لپاره دیو ې ودانۍ دتا داؤ او اساس او دفصل لپارې دتخم او زړ ي او دبدن لپاره دزړ ه حیثیت لر ي لکه څر نګه چې یوه ودانۍ له تا داؤ او اساس اوونه له زړي او بدن له زړه نه پرته نه شي رامینځته کېدای په همدې توګه اسلام هم له ایمان نه پرته شتون نه شي پیدا کولی ایمان یوداسې معنو ی ځواک دی چې اسلام پرې تینګښت مومي اوله بهروني ځواک نه پرته انساني نفس دې ته اماده کوي چې دالله جلت عظمته احکاموته غاړه کښېږدي.

دایمان لغوی معنا:

ایمان دمصدرصیغه اود(ا،م،ن)له توروڅخه جوړشوی اودوه مفهومه لري

- دزړه باوراوتصدیق
- دامن،حفاظت اوصیانت په معنا

ایمان دبنده کړه وړه دي پردې اساس هرچاچې په مؤمن به شیا نو (په الله جل جلاله ، ملا یکو ، اسماني کتا بونو ، پیغمبر انو ، داخرت په ورځ او دخیر او شر په تقد یر) ایمان راوړ،خپل ځان یې دکفر ،بې دینۍ اودالله تعالی دغوسې اوغضب څخه په امن وګرځاؤهمدارنګه یې خپله وینه مال اوځان هم محفوظ وګرزول له همدې امله مؤمنان یودبل په حفاظت اوساتنه کې دي ،مؤمن دالله تعالی صفتي نوم هم دی معنایې دادی چې له خپلوبندګانو سره خپلې ژمنې ریښتینی ګرزوی اوپه اخرت کې له عذاب نجات ورپه برخه کوي

په تو حید او رسالت باندې داقرارنوم ایمان دی په همدې سره سړی داسلام په دایره کې داخلېږ ي اوس به دده تصورداوي چې له شکه پرته الله جل جلاله موجوداو دنړۍ خالق په خپل ذات اوصفاتوکې واحد اولاشریک دی هغه په پټواو ښکاره ؤ عالم سمیع اوبصیردحاجتونوپوره کوو نکی دعبادت حقدار اوحاکم دی دغه شخص به خپل ځان او خپل هر څه دالله جل جلاله مینې ته ورکوي خپله مینه اوکرکه دوستی اودښمني تمایل اونفرت سوله اوجګړه هرڅه به دالله په رضا اوخو ښۍ کې محدودوي.

په نبوت اورسالت باندې دايمان مقصد دادی چې دژوند په ټولومعاملاتوکې به نبی کريم صلی الله عليه وسلم دخپل لارښودپه توګه مني دهغه په راوړې پيغام قران عظيم الشان باندې به دقانون په توګه دزړه له تل نه قانع وي داخروي معيارونواوارزښتونو پروړاندې به دنيو ي ارزښتو نه ترپښو لاندې کوي اوداخرت دورځې دسوال او ځواب احساس به يې تا ندوي په همدغه پا خه بنسټ داسلامي ژوندپرتمينه او عاليشا نه ودانۍ جوړېدای شي

دايمان اصطلاحي پېژندنه

په شرعي اصطلاح کې اهل سنت والجماعت دايمان په تعريف کې ګڼ اراء او نظر يات لري چې مو ږ ورته په لاندې توګه کتنه کوؤ

لومړۍ ډله محدثين او جمهور فقهاء

لکه امام مالک ، شافعی ، احمد بن حنبل ، امام بخاري داؤد ظا هري او امام او زاعي يې له دريۍ شيانو مرکب بو لي اوو ايي (انه تصديق با الجنا ن واقرار باللسان وعمل باالاركان) يعنې ايمان په زړه تصديق ، په ژبه اقرار او دعمل څخه عبارت دی .

دويمه ډله : اشاعره او احناف

داشاعره ؤ په نېزد ايمان عبارت له (الايمان هوا لتصديق بالجنا ن والقو ل باللسا ن والعمل باالاركان ففر وعه) يعنې ايمان په زړه تصد يق ، په ژبه اقرار، او عمل دايمان اساس نه بلکې فرعه او ښا خ يې تشکيلو ي ،دحنفي مسلک لو ړمنز عالم امام طحا وي رحمة الله ايمان داسی راپېژ ني .

والايمان هو الاقرار با اللسان ، والتصد يق با لجنان وجميع ماصح عن رسول الله صلى الله عليه وسلم من الشرع والبيا ن كله حق والايمان واحد واهله فى اصله سوا ء والتفا ضل بينهم با لخشية والتقى ومخا لفة الهو ى وملا زمة الاولى) يعنې ايمان په ژبه اقرار په زړه له تصديق څخه عبارت دی په همد ې تو ګه داسلامي شريعت هغه نظام چې دالله عز وجل پيغمبرله ځان سره راوړی ټول حق اوريښتينی دی دايمان اساسات او بنسټونه دټولو مئو منا نو سره يو او په دې کې ټول سره برابر دي البټه دتقو ی او دنفسي غو ښتنو دمخا لفت او دنېکو چارو په سرته سولو سره ددوی تر مينځ فضيلت او يو پر بل غوره والی راتلی شي .

دایمان په تعریف کې دجلا جلا ویناء و حقیقت

داحنافو او محد ثینو تر مینځ اختلا ف په حقیقت کې دایمان په نو عیت پو ري تړ لې دی ایمان په دوه ډوله دی یو کامل ایمان او بل نیمګړ ی ایمان او یا په بل عبارت هغه ایمان چی سړ ي ته داو رله ننو تلو څخه نجا ت ورکو ي او بل هغه چې سړی ته په اور کې دتل تر تله پا تې کید و څخه نجا ت ورکو ي

نو په حقیقت کې ددوی دتعریفونو تر مینځ هېڅ بېلتو ن نشته یواځې دنو عیت بیلتو ن دی ، احنا فوله هغه ایمان څخه بحث کړی دی چې یو شخص له تل تر تله په اورکې دااوسېدو څخه ژغو ري دا ځکه چې ددوی په وخت کې معتزله ګمراه ډله او سبد له هغوی دګناه مرتکب کافر باله ددوی پر خلا ف یې عمل له ایمان څخه جلا وباله

هم دارازدمحد ثینو په وخت کې دمر جئه ګمراه ډله او سید له دوی ایمان یوازې تصدیق باله او عمل یې مهم نه ګا ڼه ددوی پر خلا ف محد ثینو له کامل ایمان څخه بحث وکړاودایې څرګنده کړه چې په تش ایمان نجات نه ترلاسه کیږ ي بلکې عمل ته هم ضرورت دی چې دایمان په رڼا کی عمل کول سړ ی اورته له ننوتلو څخه ژغوري .

دایمان په هکله داهل سنتو اتفا قي ټکي

(۱) هغه څوک چې په څر ګند ډول په ژبه اقرار وکړي او په زړ ه کې یې با وراو تصد یق نه وي په ایمان کې شامل نه دی دوی منا فقین ګڼل کیږي په قران عظیم الشان کې ددوې په هکله ګڼ ایا تونه دي چې دایمان نفی ورڅخه شوې ده

(۲) په همد ې تو ګه یوازې دزړه معرفت او با ور هم دایمان په حقیقت کې شامل نه دی دا ځکه چې فرعون اودده قام دمو سی اوهارون علیهم السلام دنبوت ریښتینو لي پیژند له خوله دې سره سره کا فران ؤوقران عظیم الشان فرمایي

﴿ وَجَحَدُواْ بِهَا وَٱسْتَيْقَنَتْهَآ أَنفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا ۚ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿١٤﴾ ﴾ النمل: زباړه: هغوی له سره ترپایه دظلم او غرورله لارې له دغو نښانو څخه انکار وکړ پداسې حال کښې چې زړونه یې پرې قائل شوي وو،اوس وګورئ چې دهغو مفسدانوعاقبت څنګه شو .

په همدې توګه اهل کتابو (یهو دواو نصا ری ؤ) پیغمبرصلی الله علیه وسلم پیژانده خوایمان یې پرې نه درلود نویوازې یقین اوباور ایمان نه شي کېدی

۳: داهل السنة والجماعة ټول په دې متفق دي چې یو څوک بشپړ با ور و لر ي او په زړه کې یې هیڅ رنګه شک او تر دد نه وي داسلام په سپېڅلي دین معتقد او دشها دت په کلمې اقرار وکړي هغوی به تل ترتله په دوزخ کې نه وي البته که چېر ې یې یو جزء نیمګړ ی ؤ مئو من نه دی او که چېر ته یې په اقرارکې داکراه اویا دګو نګ والي له امله نیمګړ تیا رامینځته شي ایمان ته یې نقصا ن نه پېښېږ ي

(۴) ټول اهل سنت په دې متفق دی چې الله پاک دخپلو بند ګا نو څخه قول او عمل غواړ ي دلته له قول څخه دزړه اوژبې وینا مقصد دی چې له تصد یق او اقرار څخه عبارت دی او عمل خو دایمان ثمر ه ګڼل کېږ ي

(۵) په همد ې تو ګه ټو ل اهل سنت په دې متفق دی چې که چېر ې یو څوک په زړه تصد یق او په ژبه اقرار وکړ ي خو دعمل څخه ډډ ه کړي دغه سړي ګنا ه ګار او دعذاب مستحق دی

(۶) دلو یې ګنا ه مر تکب تر څو پو ر ې چې د ګناه په حر مت قایل وي کا فر نه ګڼل کېږ ي

(۷) ایمان ددنیاداحکا مودالتزام په اعتباریوازې په ژبه دشها دتینو(توحیداورسا لت) اقراردی نو هر څوک چې په شها دتینو اقرار وکړ ي ددنیا احکام پر ې جار ي کېږ ي

کا فرورته نه شي ویل کید ی البته کچېر ې یې په وینا او عمل کې ددوارو پر خلا ف عمل وکړ کا فر ګڼل کېږ ي

دایمان قوت او ضعف (کمز ورتیا)

دقران عظیم الشان ایاتو نه او نبو ي مبا رک احا دیث په دې دلیل دي چې ایمان قوت او ضعف مني دمئو من به(دایمان داساساتو) په اعتبار دټولو خلکو ایمان یو شي دی په دې کې کمو الی او زیاتوالی نه شي کېدای البته دایمان په نو عیت کې کموالی او زیات والی رازي دمثال په توګه دعقل په اعتبار خلک یو شی دی مګر نو عیت یې فرق کوی امام بخاری رحمة الله علیه وایي چې ما دحد یثو له زړو تنو استا ذانو سره ملا قات کړی ټولو ویل چې ایمان مضبوط کېږ ي په طا عت سره او کمز ور ی کېږ ي په معصیت سره

حضرت ابو درداء رضی الله عنه فرمایي دیو شخص دپو هې څخه دادی چې دخپل ایمان حال واخلي چی ایا ایمان یې کمزوری شوی اوکه قوی شوی حضرت عمر رضی الله عنه خپلوملګروته ویل راشئ چې ایمان قوی اومضبوط کړونودالله عزوجل په ذکراویادولو به یې لاس پوري کا ؤدایمان په قوت او ضعف دقران اوسنت دومره ګڼ دلایل دی مو ږ دلته همد غه بشپړګنو.

دایمان دقوت اسباب

حقیقت دادی چې هر یوه هدف اومقصد لپاره الله تعالی اسباب او لاري پیداکړي دي ایمان دانسان ستر ضرورت دی دایمان دپیاوړتیا او قوت لپاره هم اسباب اووسایل دی چې موږ ورته په لاندې توګه کتنه کوو.

۱- دالهی اسماء حسنی پېژندنه: دالله تعالی دسپېڅلو نومونو په الفاظو اومعنا ګانو پوهه او الله تعالی ته پرې دعاء اوزاري دایمان وسیله ده پردې اساس هرڅومره چې دالله تعالی په اسماءو اوصفاتو پوهه زیاته شي په هماغه اندازه په ایمان اویقین کې قوت اوپیاوړتیا رامینځته کېږي.

۲- په قرانکریم کې تدبر اوتفکر: دقران عظیم الشان په الفاظو اومعناګانو کې فکر اوسوچ په احکامو اوقوانینو کې یې ژور فکر اوپه حکمتونو اومصلحتونوکې یې پوهه ایمان ته قوت په برخه کوی.

۳- دنبوی احادیثو پوهه هر څومره چې مؤمن مسلمان دالله په کتاب اوپه نبوی احادیثو علم زیاتېږي په هماغه اندول یې ایمان دیقین تر پراوه رسېږي.

۴- درسول الله ص پېژندنه: درسول الله ص دصورت اوسیرت پېژندنه دهغه په نبوت دقناعت وسیله ده دهغه لوړ عالي اخلاق اوستر صفات پخپله دهغه دنبوت دلیل دی.

۵- په کایناتو کې غور اوفکر: داسمانونو اوځمکې دموجوداتو په نظام کې غور اوفکر ایمان ته پیاوړتیا بخښي دائکه چې دمخلوق عظمت دخالق دجلال اوکمال دلیل دی له اتوم نه تر کهکشانونو اوله حجرې نه تر لویوحیواناتو پورې دغه منظم نظام دالله تعالی دعظمت دلیل ګڼل کېږي.

۶- دالله تعالی ذکراویاد: په ژبه ،زړه اوعمل سره دالله تعالی ذکراویاد په ایمان کې ځواک اوقوت رامینځته کوی.

۷۔ داسلام دمحاسنوپېژندنه:داسلام دین ټول په جمال اوښکلا متصف دی عقاید یي،عبادات یي،اخلاق اومعاملات یي ټول معقول،ګټور اوښایسته دي.

۸۔ دالله تعالی په بندګی کې کوښښ :دالله تعالی په بندګی کې زیاروېستل اودالله تعالی له مخلوق سره ښېګڼه ایمان پیاوړی کوی.

۹۔ دالله تعالی لورته بلنه:دالله لورته دعوت په حق امر اوددین په لاره کې په ستونزو صبر ایمان ته قوت په برخه کوي.

۱۰۔ دکفر او شرک څخه ډډه:دکفر ،شرک اوالحادي تګلارو څخه لېرې والی اود هغوی له پیروانو څخه کرکه اونفرت ایمان ته پیاوړتیابخښي.

۱۱۔ دفرایضو او نوافلو پرځای راوړل :دفرضي اونفلي بدنی او مالي عباداتو پرځای کول دالله تعالی درضا اوخوشالی لامل ګرزي.

۱۲۔ الله سره مناجات اودقران کریم تلاوت:په ګوښه ځای کې الله ته زاري اوفریاددزړه په مینه دالهي سپېځلي کلام قران عظیم الشان تلاوت استغفاراوتوبه هم دایمان دپیاوړتیا داسبابوڅخه ده.

۱۳۔ له مخلصوعلماء و سره ناسته :دربښتینو رباني علماءوسره ناسته ولاړه اودهغوی نېک صحبت ته غوږ ایښودل هم ایمان پیاوړی کوي.

۱۴۔ له هر هغه سبب نه لېرې والی چې دبنده اوالله جل جلاله ترمینځ واټن رامینځته کوي.

دایمان ضعف(کمزورتیا)

دایمان دکمزورتیارنځ هغه لویه بلااوافت دی چې زیات مسلمانان پرې اخته دي دزړه سختیا ، له عبادت څخه لذت نه اخیستل دقران کریم دتلاوت څخه نه اغېزمن کېدل په اسانۍ سره په ګناهونو لاس پورې کول دایمان دکمزورتیا نښې دي پردې اساس دزړه دسختوالي موضوع ډېره حساسه ده هرمسلمان ته په کاردي چې دخپل زړه حال واخلي اودعلاج لپاره یې ژرترژره اقدام وکړي دائکه چې مور به الله تعالی له سخت ،رنځور، راننده،منحرف اومهرشوي زړه څخه وېرولي یومور به په لنډ ډول دایمان دضعف نښوته اشاره وکړي

۱.دګناهونو او ناروا کارونو سرته رسول

ځینې خلک په ډېرې اسانتیا سره په ګناهونو لاس بورې کوي چې بیا یې دګناهونو کول عادت وګرزي او دګناه په کولو شرم نه احساسوي

۲.دزړه دسخت والي احساس : مرګ ، او دمړیو دجنازو څخه هېڅ عبرت نه اخلي قران عظیم الشان دغه مطلب ته داشاري په ترڅ کې فرمایي (تقره ۷۴)

۳.دعباداتو په سرته رسولو کې بې پروایي : دلمانځه پرمهال یې ذهني تمرکز نه وي په ذکراو اذکارو لاس پورې کوي مګرله خپل ذکرڅخه غافل وي پیغمبر(ص) فرمایي ( )

۴.به عباداتو کې سستي او کوتاهي

دعباداتو په اجراء کولو کې سستي هم دایمان دضعف نښه ده دلمانځ حرکات رکوع،سجده اوقیام یې له خشوع پرته بې روحه وي

۵.دقران کریم څخه نه اغېزمن کېدل : دکمزوري ایمان څښتن دتل لپاره دقران کریم دایاتونو داورېدولوڅخه دزړه تنګسیا احساس کوي قران کریم سره کومه علاقه نه ښئي که په تلاوت یې لاس پورې هم کړي ژریې بند کړي .

۶.دکمزوري ایمان څښتن له ذکراودعا څخه خوند نه اخلي چې لاسونه اوچت هم کړي ژرترژره یې تیتوي همدغه دمنافقانو صفت دی

۷.دالهي حدودو او محرماتو دماتېدلو په مهال بې پروایي

دمنکراتو او فواحشو دڅرګند ېدلو پروخت دایمان غیرت په جوش نه راتلل دایمان دکمزورتیا نښه ده ډېرخلک دشخصي انتقام په خاطرهررنګه غبرګون څرګندوي مګرددین په هکله بې تفاوته وي

۸.دشهرت او منصب سره مینه او له خلکو څخه دعزت غوښتنه :غسې خلک تل دمنب ، چوکۍ او شهرت وړې دتل لپاره له خلکو څخه داحترام غوښتونکی وي

۹.بخل او دمال سره بې کچه مینه : مؤمن مسلمان مال ته په جیب کې ځای ورکوي نه په زړه کې مګر دغسې وګړي له مال سره قلبي مینه لري دحلال او حرام پروانه ساتي

۱۰۔ دوینا او عمل نابرابري :دوینا او عمل ترمنځ تکرهم دایمان دکمزورتیانښه ده په خوله یوځه وایي او عمل یې بل ډول وي دغسې خلک اسلام ته سترزیان اړوي همدغسې خلکو اسلام ته ستره صدمه رسولې ده .

۱۱۔ دمسلمانانو په شکست خوشالي :ځبوک چې دمسلمان په غم دخوشالی احساس کوي دکمزوري ایمان ځښتن دی ډېرد کمزوري ایمان ځښتنان دمسلمان په غم او درد دخوښی اظهار کوي

۱۲۔ دخیر چاري بې ارزښته ګڼل :

۱۳۔ اسلامي امت دقضایاؤ په هکله بې پروایي :داسلام ددښمنانو له خوادمسلمانانو په وژلو ،ترور،چور او چپاول او دهغوی دناموس په بې عزتی بې احساسه او سپدل دایمان دکمزورتیا ستره ننبه ده .

۱۴۔ ددیني فعالیتونو پروړاندې بې پروایي :داسلام دغلبې خپرونې او ښوونې په اړه بې پروایي دایمان کمزورتیا ګڼل کېږي

۱۵۔ دمصیبت درسېدلو پروخت بې صبري .دمصیبت او غم پرمهال حواس له لاسه ورکول وېره او عدم تعادل دایمان دکمزورتیا ننبه ده

۱۶۔ دنیاپورې زړه ترڼ : ټول غم او فکر یې یوازې دنیااو ددنیادشتمنیو راټولول وي له دنیا سره بې کچه مینه دایمان دکمزورتیا ننبه ده

۱۷۔ جسم ته زیاته پاملرنه : په خوراک ،ځښاک ، پوښاک زیات تمرکز دایمان دکمزورتیا ننبه ګڼل کېږي پیغمبر(ص) فرمایلي دي

دایمان دضعف او کمزور تیا اسباب

دایمان دکمزورتیا عوامل په لاندې ډول ذکر کېږي

- دایماني فضاء ځخه لېرې والی :دایماني چاپېریال او دایمان له ملګرو او ورونو ځخه لېرې

والی دایمان دکمزورتیا لامل ګرزي دمثال په توګه یوتن په لېرې سفر درومي له ایماني محیط او ورونو ځخه فاصله نیسي که چېرې دغه وضعیت دوام پیداکړي په زړه کې یې وحشت ،غربت او تیاره ځای نیسي اوزړه یې سخت کېږي

- له صالح مربي ځخه لېرې والی :یوځوک چې دیونېک او پرهېزګاره عالم ځخه علم او پوهه

ترلاسه کوي اوله هغه سره يې ټينګ ايماني پيوند وي ديوځه وخت په فاصلې نيولو سره دده په زړه کې بدلون رامينځته کېږي دپيغمبر (ص) درحلت نه وروسته اصحابو کرامو همدغه کمی احساس کړی ؤ په داسې حال کې چې رسول الله (ص) په خپل سپېځلي ژوند کې ستري نمونې روزلې وې چې هريوه يې درسول الله (ص) دغای ناستي او خليفه وړتيا درلوده اوس مهال مسلمانان صالح مربي او پالونکي ته ترټولو زياته اړتيالري.

- دديني او شرعي علومو دزده کړې څخه مخ اړول :دايمان دضعف داسبابو څخه دقران کريم او نبوي سنتو او داسلامي امت دپوهانو او علمي شخصيتونو. دعلمي ليکنو دلوستلو څخه لېرې والی دی دنبوي احاديثولوستل درسول الله (ص) دصحبت او ملاقات ياد راتازه کوي
- په ګناهونو ډک چاپيريال کې استوګنه : په يوداسې ګنده او چټل محيط کې استوګنه چې حيا او پت په کې ليلام او په دخانياتو ، موسيقی ، ګډا او نڅا اخته وي دغسې چټله ټولنه ايمان له مينځه وړي.
- دنيوي شيانو پورې دزړه تړاؤ :دنيا او دنيوي پستو شيانو سره مينه دايمان دکمزورتيا لامل ګرزي
- اوږدې هيلې درلودل :دايمان دضعف داسبابو څخه اوږدې هيلې درلودل دي
- په خوراک او څښاک کې زياتوالی :ډېرخوراک او څښاک ،خوب او اختلاط له خلکو سره هم دايمان دکمزورتيا داسبابو څخه ده ځکه چې زيات خوراک دحافظې ځواک خرابوي او دوزن دزيات والي لامل ګرزي همدارنګه زياته خندا اوله خلکو سره زياته ناسته دزړه دمړينې سبب ګرزي

دايمان دضعف دعلاج لارې چارې

ټول اسلامي امت پردې خبره متفق دی چې ايمان قوي کېږي په طاعت سره او کمزوری کېږي په معصيت او ګناه سره دغه دسترګو ليدلی حالت دی چې يوشخص بازارته درومي هلته يې بربنډې او لوڅې ښځې ترسترګو کېږي که چېرې همدغه وضعيت دوام ومومي په زړه کې يې بدلون رامينځته کېږي مګر قبرستان ته په تللو او هلته دمړ ګ يادول زړه نرموي دانسان زړه دطاعت او معصيت په

نتیجه کې دښه او بد په لوري دبدلون وړتیا لري مونږ به په دغه برخه کې په لنډ ډول دایمان دضعف دعلاج په لاروچارو بحث وکړو.

- دقران عظیم الشان په معناکې فکراوسوچ :قران عظیم الشان دټولو جسماني اوروحاني رنځونو شفاء ده الله تعالی په خپل سپېځلي پیغام کې همدغه مطلب ته اشاره کړې ده پیغمبر(ص) به دشپې په لمونځونو کې قرانکریم په ډېر شوق ،تدبیر او تفکر سره تلاوت کاؤ،ابن قیم جوزي (رح)دقران کریم په وسیله دزړه علاج داسې ذکرکړی دی چې ترهرڅه دمخه خپل زړه ددنیاڅخه داخرت نړۍ ته انتقال کړه اوبیا دالله تعالی جل جلاله عظمت اولویي ته په خپل زړه کې ځای ورکړه اودهغه په اسماء حسنی او صفاتوکې غوروکړه
- دذکر په حلقاتو کې ګډون : اصحاب کرام وایي چې کله به مونږ دپیغمبر (ص) په صحبت او ناسته کې ؤ زمونږ حالت به یوشان مګر کله به چې ددنیاپه چارو او دخپل اولاد او اهل او عیال سره بوخت شولو زمونږ حالت به بل شان ؤ
- دنېکوچارو په کولودوام : دنېکو چارو دوام دزړه درنځ علاج دی ډېرځله یوشخص په نېک عمل لاس پورې کوي مګر بیایې پرېږدي نوپردې اساس دنېکواعمالو په کولو کې تسلسل ضروري دی
- دشرعي اودیني علومو حصول : دیني اوشرعي علوم په انسان کې دالله تعالی عظمت اووېره رامنځته کوي اودایمان دقوت لامل ګرزي پردې اساس پوه اوناپوه برابر نه دي او نه په ایمان کې سره یوشان دي ځکه چې یوځوک شرعي مسایل به تفصیل سره پېژني دقبر او حشر دجنت په راحت اوددوزخ په عذابونوپوهه ولري دهغه چا په نسبت چې په دیني احکامو جاهل او ړنده عقیده ولري ډېرستر فرق لري
- دبدو اعمالو دنتایجو څخه وېره :دغه هم دایمان دقوت وسیله ده چې یوشخص دبدو کړو وړو پایلې ته وګوري نو دناوړه اعمالو څخه به کرکه وکړي
- دمرګ ډېریادول : دمرګ ډېریادول هم دایمان دپیاوړتیا لامل ګرزي پیغمبر (ص) فرمایلي دي پردې اساس اړینه ده چې یوشخص په جنازوکې ګډون وکړي او دقبرونو زیارت ته ورشي ترڅو یې داخرت فکر تاند واوسي
- دتوپان اوزلزلې پرمهال وېره : دباران ،زلزلې او توپان پروخت وېرېدل هم

دایمان دپیاورتیالامل ګرزي څوک چې له کوني حادثو څخه نه اغیزمن کیږي زړه یې سخت او بدبخت وي.

- دهیلولنډول :مؤمن مسلمان ته لازمه ده چې دژوند په اړه اوږدې هیلې ونه لري په نړۍ کې ځان مسافروبولي اواخرت ته په تیاري کولو بوخت اوسي
- دنیاته ارزښت نه ورکول : دنیااودنیوي خوندونوته په ټیټه سترګه کتل هم دایمان دپیاورتیا

لامل ګرزي قران عظیم الشان دنیوي لذتونه مؤقت سامان بولي (ال عمران)

- دالهي شعایرو درناوی :ددین دنښو او الهي شعایرو درناوی هم دایمان دپیاورتیا لامل ګرزي دهنددنیمې وچې امام شاه ولي الله (رح) ددیني شعایرو اساسات څلوربولي ۱: الله ۲:کتاب الله :۳رسول الله ۴: بیت الله نوپردې اساس داسلام ټول دین عقاید ، عبادات او معاملات ، اخلاق ، حق پالونکي علماء اوپوهان دالله دسپېځلي پیغمبر ریښتیني وارثان او ټول جوماتونه او مساجد دبیت الله شاخونه او په شعایرالله کې شمېرل کیږي

دایمان غوښتنې

ایمان تشه فلسفه نه ده چې له عملي ژوند سره یې اړیکه نه وي ایمان ځینې غوښتنې لري چې موږ ورته په لاندې توګه کتنه کوو.

- په الهی نظام ټینګ باور:مومن مسلمان باید په هغولارښوونو باندې کلک باور ولري چې الله جل جلاله په خپل سپېځلي کتاب قران عظیم الشان او یا پیغمبر (ص په مبارکو نبوي حدیثونوکې دوی ته خبر ورکړی دی او ټول هغه څه باید باطل وګڼي چې له دغو دواړو سرچینو سره په ټکر کې وي.
- الله او رسول ته تسلیمي:مومن مسلمان باید له خپل هوی او هوس څخه لاس په سر شي په بشپړه توګه باید دزړه په مینه اورغبت سره خپل ځان دالله جل جلاله اورسول الله (ص) لارښوونو اواوامروته وسپاري.
- دفرایضو سرته رسول:دفرایضو اداء کول دایمان غوښتنه ده څوک چې فرایض نه اداء کوي اودایمان دعوی ولري په باوري ډول دروغژن ګڼل کیږي.
- دواجباتوسرته رسول اوله ناروا ووځخه ځان ساتل :مومن مسلمان باید

الهی اوامر پرځای کړي اوله نواهيو څخه ځان وساتي هغه څوک چې واجبات نه ترسره کوی اوله ناروا‌ءو څخه ځان نه ساتي مثال يي هغه چاته ورته دی چې يوځوک دحاکم په توګه مني مګر له اوامرو اوفرمانونو څخه يې سرغړوي.

• توبه اواستغفار:له مومن مسلمان سره شيطان مل دی هغه تل هڅه کوي ترڅو انسان بې لارې کړي په دغه صورت کې به مومن مسلمان الله تعالی ته رجوع کوي او توبه به باسي.

• په نېکيو امر اوله بديو منعه:په ښو چارو امر او دبدو چارو مخنيوی دمومن مسلمان ستره ځانګړنه ده دښو چارو خپرول اودتولو مفاسدو مخنيوی دمومن مسلمان لويه ذمه واري ده.

• دالله دين ته بلنه اوجهاد:ددين لورته بلنه اوددين دغلبې اوسر لوړې لپاره هلې ځلې کول دايمان غوښتنه ده هره نظريه اومفکوره خپرول قايمول اوحاکمول غواړي اسلام هم دخپرولو اوحاکم ګرزولو غوښتونکی دی.

• دمومنانو سره ولاء او ه کافرانوڅخه براء‌له مومنانو سره دوستي اوله کفاروڅخه کرکه، دايمان مهمه غوښتنه ده

دمومن مسؤليتونه

مؤمن مسلمان ځانګړي وجايب اومسؤليتونه لري چې موږ ورته په لاندې توګه کتنه کوو.

۱- دالله تعالی معرفت: مؤمن مسلمان مسؤليت لري چې په علمي اواګاهانه ډول الله تعالی وپېژني کور کورانه ايمان داعتبار وړ نه ګڼل کېږي قران عظيم الشان دغه مطلب ته داشاري په ترڅ کې داسې فرمايي.

۲- دالله دپيغمبر پېژندنه:دمؤمن دويم مسؤليت دپيغمبر معرفت او دده د رسالت دصدق او ريښتينولی پېژندل دي.

۳- دخپل ژوند دحکمت اومصلحت پېژندل:مؤمن مسلمان بايد په نړۍ کې دخپل هدف او مصلحت وپېژني چې دڅه لپاره دنيا ته راغلی؟او کوم لوري ته به درومي دخپل ځان لپاره څه وکړي او دمخلوق لپاره څه وکړي.

۴- دالله تعالی ددين اونظام پېژندل:مؤمن مسلمانبايد دالله تعالی دين وپېژني چې دژوند په ټولو برخو کې کومې لارښوونې ورته لري.

۵۔ دخپل مصیر اومنزل پېژندل مؤمن مسلمان داخرت لپاره تیاری کوي دبلې دنیالپاره کار کوي په نړۍ کې خپل ځان مسافر بولي او مسؤلاته ژوند تر سره کوي اوپه دې یې باوروي چې په قیامت کې به ورسره د ذرې ذرې حساب کېږي.

اسلام

داسلام معنا دالله جل جلا له اطاعت او فرمان برادارۍ ده خپل ځان الله جلت عظمته ته سپارل او له خپلې ازادۍ او خپلو اکې څخه لاس اخیستل او دالله با دشا هۍ او حکمرانۍ ته دسر تیټو لو معنا اسلام دی ، څوک چې خپل ټول معا ملا ت الله جل جلا له ته وسپا ري هغه مسلمان دی

ددې پر عکس چې څوک خپلې چا رې په خپل لاس کې ونیسي او یا یې دالله داسماني پیغام او پیغمبر صلی الله علیه وسلم دلار ښو ونو نه پرته بل چا ته وسپا ري هغه مسلمان نه دی څوک چې خپل عقل ، خو اهشا ت ددنیا دوداو دستو ر اود هر چا خبره شاته وغورزوي او په هر ه معامله کې خپل ځان الله جل جلا له ته سپارل دمسلمانۍ نوم دی ددې پر عکس چې څوک قران عظیم الشان او نبو ي سنت خپل لارښو د نه بو لي بلکې دپلا ر نیکه څخه دپا تې شو یو غلطو او نا سمو دودونو په پیر وۍ کې خپل ژوند تېروي او یا دنړۍ وال بهیر سره خپل ځان عیاروي اودژوندپه کړو وړو کې دقران کریم او نبو ي سنتو لارښوونې غیرمعقو لې وبولي اودپلا رنیکه نا سم رسم اورواج ورته محبوب او دبشر په لاس په جوړوشویو تګلاروقانع واو سي په دغو ټولو صو رتو نوکې دغه شخص هېڅکله مسلمان نه بلکې دروغژن او دمسلمانۍ دعو ه یې با طله او مردوده ده .

- **دمسلمان جوړ ېد الپاره لو مړ ی ګام**

حقیقت دادی چې مسلمان دکوم قام نو م نه دی او نه سړ ی پر دې مسلمانېږ ي چې مسلمان مور او پلار ته یې نسبت شوی مسلماني دکوم نسل نوم نه دی او نه په میراثي تو ګه یو چاته په بر خه کېږ ي داسلام مطلب دادی محمد صلی الله علیه وسلم چې کومې لارښوونې له ځان سره راوړي هغه ومنل شي او دهغې مطا بق عمل وکړای شي څوک چې په داسې عمل لاس پورې کړي هغه مسلمان دی او چې داسې ونه کړ ي مسلمان نه ګڼل کېږ ي

- **دمسلمان مسئو لیت**

کله چې داکلمه (لااله الاالله محمد رسول الله) لو لئ او دمسلمانۍ اقرار کوئ ددې خبر ې او اقرار مفهو م دادی چې ستا سې معبو د ، حاکم اوواکمن یوا زې الله جل جلا له دی تاسې به هغه دقانون اطاعت کوئ

چې کله تا سې داسلام اقرار وکړ نو دالله جل جلا له پر وړاند ې مولـه خپلې ازادۍ څخه لاس واخیست خپل نظر او فکر به الله او رسول ته سپا رئ او س ستاسو مسئو لیت او کار دادی چې هر شی قران عظیم الشان او نبو ي سنتوته وړاند ې کړئ کوم شی چې دهغې مطابق وي په منلو یې لاس پور ې کړئ او چې کوم شی یې مخالف وي لېر ې یې وغور زوئ برابره خبره ده چې دهر چا وینا او دهر چا تګلار ه اوسي .

خپل ځان ته مسلمان ویل او بیا دقران عظیم الشان اونبو ي سنتو په مقا بل کې دخپل فکر ، رواج ، دود او دستو ر او یاد بل چا وینا او عمل ته تر جیح ورکول دواړه یو دبل ضد دي ،څو ک چې په خپله خو ښه نه غواړ ي دمسلمان په تو ګه ژوند وکړي څو ک یې پرې نه شي مجبو رولی دده خپله خو ښه ده چې کومه تګلار ه ځان ته انتخابو ي خوکله چې څو ک ځان مسلمان بو لي او دکلمې اقرار کوي ده ته په دې خبره ځان پو هول په کاردي چې هغه تر هغه پور ې مسلمان پا تې کېدا شي چې داسلام په چا پېر یا ل او پو لو کې ژوند سرته ورسو ي دالله جل جلا له وینا او دهغه درسول سنت دحق دمعیار په تو ګه منل او ددې پر خلا ف هر شی با طل او مر دود ګڼل داسلام سر حد او پو له ده ددغې پو لې او سرحد په مینځ کې چې څو ک ژوند تېر وي هغه مسلمان دی اوله دې څخه چې څو ک بېر ون پښه ږ دي له اسلام څخه بېر ون ګڼل کېږ ي هېڅکله کېدای نه شي چې یو څو ک دیو هېواد تا بعیت قبو ل کړي او بیا دې دهغه هېواد قوانینو ته سر تیټ نه کړ ي هېڅ هېواد له قانون نه سر غړ وونکي په خپل هېواد کې نه شي زغملی

دایمان او اسلام فرق

دایمان مثال دودانۍ دتهد اب او داسلام د دیو الو نو او چت دی کامله ودانۍ هغه وي چې هم تهداب وی او هم دیو الو نه او چت هغه ودانۍ ډېر ه کا واکه وي چې تهدا ب یې کمز ور ی اویا نیمګړ ی اوسي ایمان په دوه ډوله ده(۱) کا مل ایمان ۲) او نیمګړ ی ایمان ،کامل ایمان او اسلام یو شی دی ،نیمګړ ی ایمان دادی چې

باور او تصد يق وي مګر عمل ته تيار نه شي البته له عمل نه انکار کفر ګڼل کېږي دعمل په حقا نيت اقرار او باور دواړه وي مګر دايمان دکمزور تيا له امله عمل ته تيار نه شي

تقوی

تقو ی له وقا يې څخه ده اووقايه سا تلو ، مصئو نيت او حفا ظت ته ويل کېږي ، متقي انسان هم دالله تعالی له نا فر مانۍ څخه مصؤ ن او محفوظ وي تقو ی په حقيقت کې دنفس دهغه کيفيت نو م دی چې دالله نه دوېر ې او دمسئو ليت له احساس څخه پيدا کېږي حقيقي تقوی هغه ده چې دانسان په زړه کې دالله دبند ګۍ ، وېر ې او دهغه عز وجل پر وړاند ې دسوال او ځواب ورکولو احسا س او ددې خبر ې ژوند ی پو هه او درک وي چې دنيا داز مېښت ځای دی الله تعالی ماته دعمر مهلت راکړ ی دی او په اخر ت کې له ماسر ه دذر ې ذرې حساب کېږي – هر وخت دخپل ځان مراقبت او ځارنه کوي دخپل ژوند محا سبه په خپله کوي هغه له هر ډول ممنو عا تو لاځه چې دمشتبها تو څخه هم ځان ساتي دالله تعالی او امر په بشپړ ې فرمان برداری سره تر سره کوي او له نا روا ء ؤ څخه ځان ژغو ري دحقو ق الله او دبند ګانو دحقونو دحدودو سا تل يې خپل عا دت جوړ کړی وي هغه ددين دقيام او ټينګښت لپاره په هلو ځلو بو خت وي مګر په تاسف سره بايد ووايو چې ځينې وګړ ی دتقو ی ظا هر ي ځېره جو ړه کړي مګر نه د حرا مو او نا روا ء وځخه بند وي او نه ددين دغلبې او واکمنۍ لپاره څه پروګر ام لري په خپله عبادت خا نه کې په نفلو او اذ کارو بو خت اود با طل پروړاند ې يې وچو لی هم نه ګو نځې کېږي

احسان

اوس به د احسان په برخه کې وغږېږو چې داسلام ترټولو ، لوړ منزل دی احسان په حقيقت کې دالله (ج) او د هغه درسول او د هغه د دين سره د قلبي اړيکو دهغې ژورې مينې ، هغې ريښتوني وفاداری فداکاری او سربندنې نوم دی چې مسلمان فنافی الاسلام کړي .دتقوی اساسي تصور له الله (ج) نه ويره ده چې انسان دهغه له نارضايتي نه ژغوري او داحسان اساسي تصور له الله (ج) سره هغه مينه ده چې انسان دالله درضا دحاصلولو لپاره هڅوي د دغو دواړو مسئلو توپير به ديو مثال په ترڅ کې داسې څرګند کړودحکومت په مامورينو کې يوه هغه ډله وګړې دي چې ډير وظيفه شناس دي او په زيات اخلاص سره د ټولو ظوابطو او قواعدو

پابندي هم په بشپړه توګه تر سره کوي او هيڅ داسې کوم کارنه کوي چې دحکومت لپاره داعتراض او ګوته نيونې ور وي.

دويمه ډله د هغو وفادارو او سربښندونکو وي چې د زړه له کومي د حکومت پلويان وي دوی نه يوازې داچې ورسپارل شوې دندې په ښه توګه سرته رسوي بلکې د تل لپاره دافکر هم ورسره وي چې د سلطنت ګټې او مفادات په څه ډول ښه پرمختګ کولی شي ددغه تصور په لرلو سره هغه له وظيفې او مطالبې نه زيات کار کوي که دسلطنت لپاره دکوم زيان او صدمې ويره راپيداشي نو هغه دځان، مال او اولادد ټولو قربانولو لپاره چمتو کيږي، که په کوم ځای کې د قانون خلاف ورزي وي نو د هغه زړه ته پرې صدمه رسيږي که چېرته د بغاوت اثار وګوري نو هغه ورته ناکراره کيږي او په له مينځه وړلو کې يې د ځان په قربانولو هم صرفه نه کوي. داخو پرځای پريږده چې دی به قصداً هم دسلطنت ګټو ته زيان ورسوي هغه د هيواد ګټو ته دتاوان رسېدل هم نه شي تحمل کولی ددغې نيمګړتيا په له مينځه وړلو کې يوه دقيقه اهمال (بې پروايې) هم نه کوي. دزړه له کومي نه دهغه د اهيله وي چې په نړۍ کې يوازې دهمدې هيواد ټوغ په رپاوي او د زمکې پر مخ يوه لويشت ځای هم داسې پاتې نه شي چې هلته د ده د بيرغ ټوټه پورته نه شي.

ددويم څپر کې دمطالبو لنډ يز

(۱) ايمان داسلام لپاره ديوې ودانۍ دتهداب او دفضل اوونې لپاره دتخم او دانسان دبدن لپاره دزړه حثيټ لري دعربی ژبې دټولو پوهانو په اتفاق دايمان معنا تصديق او باور دی په توحيد او رسالت داقرار او تصديق نوم ايمان دی په همدې سره يو شخص داسلام په دايره کې داخليږي. له خپلې خپل سرۍ نه به لاس اخلي په خپل زړه کې به دالله مينې ته ځای ورکوي او پيغمبر صلی الله عليه وسلم به دخپل لارښود په توګه مني او له هغه په راوړی پيغام قران عظيم الشان باندې به دقانون په توګه دزړه له تل نه قانع وي په همدغه پاخه بنسټ داسلام ژوند عالي شانه ماضۍ ودا نېدلی شي.

(۲) دايمان په تعريف کې اهل سنت والجماعة ګڼ نظريات لري محدثين او جمهور فقهاء يې له اقرار، تصديق او عمل څخه عبارت بولي حنفي فقها

ء او اشا عره يې له اقرار او تصد يق څخه مر کب بولي او عمل دايمان اصل نه بلکې فرعه بو لي

(۳) داحنا فو او محد ثينو تر مينځ اختلا ف دايمان په نو عيت پور ې اړه پيد اکوي محد ثينو له کامل ايمان څخه بحث کړی په کا مل ايمان کې عمل هم شامل دی کا مل ايمان او اسلام يو شي دی دوی له هغه ايمان څخه يا دونه کړې چې په او رکې ددخول نه سړ ی ژغور ي او احنافو دنيمګړ ي ايمان څخه بحث کړی چې يو شخص په دوز خ کې تل تر تله اوسېد لو نه ژ غو ري

(۴) دايمان په هکله داهل سنت والجماعت اتفا قي ټکي په لا ند ې تو ګه دي

الف : يوازې په ژبه اقرار چی تصد يق نه وي ايمان نه ګڼل کېږ ي

ب : يوازې دزړه معرفت هم ايمان نه ګڼل کېږ ي

ج : ټول اهل سنت په دې متفق دي چی الله تعالی له خپلو بند ګانو څخه قول او عمل غواړ ی

د : په زبه اقرار او په زړه تصديق او دعمل څخه وړ ه ګناه او دعذاب وړدی

هـ : دلو يې ګناه مرتکب چې په حرمت باوري وي کافر نه بلکې ګناه ګار دی

و : په شها دتينو اقرار ددنيا داحکامو دجاري کېدو وسيله ده

(۵) ايمان دنو عيت په اعتبار ضعف او قو ت منی مګر داصل مو من به په اعتبار کی نه مني

ايمان قو ي کېږ ي په طا عت سره او کمز وری کېږ ي په معصيت سره

. دايمان دقوت اسباب:

۱. دالهي اسماءحسنی پېژندنه

۲. په قران کريم کې تدبر

۳. دنبوي احاديثو پوهه

۴. درسول الله صلی الله عليه وسلم پېژندنه

۵. په کايناتو کې غور اوفکر

۶۔ دالله تعالی ذکر
۷۔ داسلام دمحاسنو پېژندل
۸۔ دالله تعالی په بندګی کې کوښښ
۹۔ دعوت الی الله
۱۰۔ دکفر او شرک څخه ډډه
۱۱۔ دفرایضو اونوافلو پرځای راوړل
۱۲۔ الله تعالی سره مناجات
۱۳۔ له مخلصو علماءو سره ناسته ولاړه

دایمان کمزورتیا :ننبې یې

۱۔ دګناهونو سرته رسول ۲۔ دزړه دسختیا احساس ب۳۔ دعباداتو په سرته رسولو کې بې پروایي ۴۔ په عباداتوکې سستي او کوتاهي ۵۔ دقران کریم دتلاوت نه نه اغیزمن کېدل ۶۔ له دعا خوندنه اخیستل ۷۔ په حرامو کې بې پروایي ۸۔ دشهرت اومنصب سره مینه ۹۔ بخل او دمال سره مینه ۱۰۔ دوینا او عمل نابرابري ۱۱۔ دمسلمانانو په شکست خوښي ۱۲۔ دخیر چارې بې ارزښته ګڼل ۱۳۔ داسلامي امت دقضایاءو په هکله بې پروایی ۱۴۔ ددیني فعالیتونوپروراندې بې پروایي ۱۵۔ دمعیت په رسېدلو بې صبري ۱۶۔ دنیا پورې ځان تړل ۱۷۔ جسم ته زیاته پاملرنه

دایمان دکمزورتیا اسباب: ۱۔ دایماني فضا څخه لېرې والی ۲۔ له صالح مربی څخه لېرې والی ۳۔ ددیني او شرعي علومو دزده کړې څخه مخ اړول ۴۔ په ګناهونو ډک چاپېریال کې استوګنه ۵۔ دنیوي شیانو پورې د زړه تړاؤ ۶۔ اوږدې هیلې درلودل ۷۔ په خوراک اوڅښاک کې زیاتوالی.

دایمان دضعف دعلاج لارې چارې

۱۔ دقران کریم په معنا کې فکر ۲۔ دذکر په حلقاتوکې ګډون ۳۔ دنېکوچارو په کولو دوام ۴۔ دشرعي علومو حصول ۵۔ دبدو اعمالو دنتایجوڅخه وېره ۶۔

دمرګ ډېر یادول ۷۔ دتوپان اوزلزلې پرمهال وېره ۸۔ دنیا ته ارزښت نه ورکول ۹۔ دهیلو لنډول ۱۰۔ دالهي شعایرو درناوی.

دایمان غوښتنې: ۱۔ په الهي نظام ټینګ باور ۲۔ الله او رسول ته تسلیمي ۳۔ دفرایضو سرته رسول ۴۔ له نارواءو ځان ساتل ۵۔ توبه او استغفار ۶۔ په نېکیو امر او له بدو مخنیوی ۷۔ دین ته بلنه او جهاد ۸۔ دمؤمنانو سره دوستي اود کافرانو سره دښمني.

دمؤمن مسئولیتونه: ۱۔ دالله معرفت ۲۔ دپیغمبر معرفت ۳۔ دژوند حکمت او مصلحت پېژندل ۴۔ دالله تعالی ددین پېژندل ۵۔ دخپل مصیر اومنزل پېژندل

(۸) داسلام معنا دالله تعالی طاعت او فرمان بر داري ده خپل ځان الله جلت عظمة سپارل او له خپلې خپل سرۍ نه لاس په سر کېدل دالله با دشاهی او حکمرانۍ ته دسر ټیټول معنا اسلام دی

(۹) ددې پر عکس چې قران عظیم الشان او نبوی سنت خپل لارښود نه بولي د پلار نیکه غلطورسمونو او دودونو پسې درومي او یا دنړۍ وال کفر ي بهیر سره ځان برابر وي او بشر په لاس په جوړ وشو یو تګلارو قانع وي دغه شخص مسلمان نه بلکې دروغژن او دمسلمانۍ دعوه یې باطله او مردوده ده

(۱۰) سړی پر دې نه مسلمان نېږي چې دده نسبت مسلمان مور او پلار ته شوی او نه په میراثي توګه چا ته په برخه کېږي

داسلام مطلب داذی چې محمد صلی الله علیه وسلم کومې لارښونې له ځان سره را وړي هغه دې منل شي او دهغی مطابق دې په عمل لاس پورې کړای شي

(۱۱) دمسلمان ستر مسئولت دادی چې هر شی قران عظیم الشان او نبوي سنتو ته وړاندې کړی کوم شی چې دهغې مطابق وي وه یې مني او چې ورسره مخالف وي لېرې یې وغورزوي برابره خبره ده چی دهر چا وینا او تګلاره وي

(۱۲) خپل خان ته مسلمان ویل اوبیا دقرانکریم او نبوي سنتو په مقابل کې دخپل فکر ، رواج ، دوداو دستور او یا بل چا ویا او عمل ته ترجیح ورکول دواړه یو دبل ضد عمل دی

(۱۳) هېڅکله نه شي کېدای چې یو څوک دیو هېواد تابعیت قبول کړي او بیا دهغه هېواد له قانون نه سر وغړوي دشها دت کلمه ویل داسلام دتابعیت منل دي

(۱۴) دایمان مثال دودانې دتهداب او داسلام مثال ددویولونو ،او چت دی

(۱۵) کامل ایمان او اسلام یو شی دی سره فرق نه لري . ایمان هم په ډوله ده (۱) کامل ایمان (۲) ناقص ایمان

(۱۶) تقوی له وقایې څخه ده حفاظت او مصئونیت ته ویل کېږي متقی انسان هم دالله له معصیت او نافرمانۍ څخه مصئون وي

(۱۷) داسلام مثال دوظیفه شناس مامور دی چې خپله دنده په بشپړ اخلاص سرته رسوي مګر داحسان مثال دوفادارو سرښند ونکو وي چې دزړه له کومې په بشپړ اخلاص سره دوظیفې نه زیات کار کوي دځان ، مال او اولاد قربانولو ته چمتو وي

پوښتنې

(۱) دایمان لغوی معنا واضح کړئ

(۲) دایمان په تعریف کی داهل سنت دټولو ډلو نظریات ولیکي

(۳) دایمان په هکله داهل سنت اتفاقي ټکي په ګوته کړئ

(۴) دمئومن په اعتبار ایمان کمو الی منی او کنه ؟

(۵) دایمان دقوت او ضعف مطلب څه دی –

(۶) دایمان دقوت او ضعف اسباب په ګوته کړئ

(۷) داسلام معنا واضح کړئ

(۸) دمسلمان ستر مسئولیت په ګوته کړئ

(۹) دایمان او اسلام مثال واضح کړئ

(۱۰) کامل ایمان او اسلام څه فرق لري ؟


(۱۱) تقوی راوپېژنی ؛

(۱۲) داسلام او حسان مثال ولیکي ؟

دځلورم څپرکي دموضوعاتو فهرست

دایمان ارکان

داسلامي عقیدې بنسټونه په الله جـ ـل جلاله، ملایکو، اسمانی کتابونو، پیغمبرانو، اخرت اودخیراوشر په تقدیر باوردرلودل دي په عربي ژبه کې رکن دیوشي قوي اومضبوط لوري ته ویل کېږي اوپه اصطلاح کې چې دیوشي وجود ورپو رې مربوط وي چې په نشت سره یې هغه شی نشت وګڼل شي



دایمان دبنسټونولومړی رکن

په الله تعالی ایمان

په الله تعالی دایمان مطلب دادی چې پردې خبره ټینګ باور ولرو چې الله پاک دهرشي څښتن، پالونکی اوخالق مثل او شریک نه لري دټولوبشپړو صفاتوڅښتن دمجد، عظمت، قوت، علم اوحکمت څښتن

دځمکواواسمانونو خالق په پټو اوښکاره عالم له هرعیب اونقصان څخه سپېځلی او منزه ذات دی،په الله تعالی ایمان څلو روشیانوته شاملېږي

۱:دالله تعالی په وجودایمان
۲- دالله تعالی په ربو بیت ایمان
۳- دالله تعالی په الو هیت ایمان
۴- دالله تعالی په اسماء و اوصفاتوایمان
په دغه څېرکي کې به موږ یوازې
- دالله تعالی په وجودایمان
- اودالله تعالی دوجودپه دلایلوبحث وکړو
- دالله تعالی په ربو بیت ایمان
- دالله تعالی په الوهیت ایمان
- دالله تعالی په اسماء و اوصفاتو ایمان به

په ببل څېرکي کې دتوحید تر عنوان لاندې وڅېړو

دځلورم څېرکي دموضوعاتو فهرست

سریزه :

- الله جل جلاله
- دالله تعالی پېژندنه
- دالله تعالی دپېژندنې وسایل
- دالله تعالی دوجوددلایل

څلورم څپرکی

په الله تعالی ایمان

سریزه

الله تعالی دټولوموجوداتوخالق،مالک،حاکم،پالونکی واجب الوجودهمېشه ذات دی تل اوهمېشه ژوندی دی فنا نه لري په هرڅه قادراوتواناهغه چاته محتاج نه بلکې ټول هغه ته محتاج دي نه يې مور نه يې پلار نه يې مېرمن نه يې اولاد اونه يې کهول شته په ذات او په صفاتو کې تنها بې نیاز دهېڅا مرستې ته محتاج نه دهېڅ کار له کولو عاجز نه دی دټولو خیرونو سرچینه ټول سپېڅلي نومونه اولوړ صفات ورته ثابت دي،نه خوب ورځي اونه پرکالي له نیمګړتیاؤ سلامت دی دټولوکایناتو واکمن په ټولوموجوداتوېې حکم چلېږي په خپل اقتدارکې چاته اړنه بلکې ټول ځواکونه دهغه پرورانديې هېڅ نه دي دعلم اوقدرت په لحاظ په هروخت اوهرځای کې موجود هېڅ شی ورڅخه پټ نه دی مرګ،ژوند ،عزت ،ذلت دده په واک کې دي دبې شمېره خزانوګټې اوتاوان یواځېنی څښتن له خپلو بندګانوسره مینه لري ګناهونه معاف کوي همغه یوازې دعبادت اواطاعت لایق دی چې قانون يې ومنلی شي وېره،هیلې اوامیدونه ورپورې وترلی شي له دغه سپېڅلي ذات څخه انکار ،کفر،شرک او لویه تباهي اوبربادي اوپه کفراخته وګړي دځمکې دمخ لعنتي خلک دي شرک ترټولو لوی ظلم دهمېشه عذاب لامل او تل ترتله رسوايي ده

الله جل جلاله

دالله تعالی په سپېڅلونومونو مورِ قران عظیم الشأن اونبوي احادیثوپوه کړي یودالله تعالی په نومونوکې جامع نوم الله دی الله دواجب الوجود ذات نوم دی چې دالوهیت دبشپړوصفاتوڅښتن په خپل حقیقي

وجود کې یواځینی ازلي اوابدي ذات دکمال دبشپړو صفاتو خاوندی دعربي ژبې ځینې پوهان یې مشتقي اود(الاله)څخه یې ماخوذ بولي همزه ورڅخه حذف اولام په لام کې مدغم ددواړو لامونو څخه مشدد لام جوړشوی،په عربي ژبه کې اله معبود دعبادت اوبندګۍ مستحق ته ویل کېږی یعنی هغه ذات چې دجلال اولویي په لحاظ ددې وړوي چې عبادت اوپر وړاندې یې سرتیټ شي

داله کلمه په عربي ژبه کې لاندې معناګانې لري

- سکون اوډاډ
- پناه وړل اوامان غوښتل
- له اندازې زیاته توجه اوشوق
- مورته دخپل بچي میلان اومینه
- بندګي اوعبادت
- په قدرت اوځواک کې یې اریانتیا
- هېچاته نه اړتیا
- په حجاب اوپردوکې پټېدل

نودپورتنیومحاوروپه نتیجه کې په ټولوکاینناتوکې دالله جلت عظمته نه پرته بله هستي نشته چې دعبادت وړاودبندګۍ لپاره ورته سرتیټ اوانسان یې پروړاندې سکون اوډاډترلاسه کړي دامن ،پناه،مینې اومحبت،دهیلواوامیدونو،بندګۍ اوتعظیم مرکزدټولې نړۍ څښتن ټول هغه ته محتاج اوپه مرستې غوښتلو مجبور،له بشري حواسو پټ،دذات په پېژندلوکې یې عقل اریان ،خالق،مالک،رازق،تکویني اوتشریعي حاکم دغیبي علم څښتن بشپړواکمن،کارساز،حاجت روا دقانون ورکوونکی دعظمت اولوی اودالوهیت دبشپړوصفاتوځښتن ترتله لامثاله ذات واوسي، الله تعالی په خپل عظمت،لویې،واکمنۍ اوپه خپلوبنایسته نومونواولوړ وصفاتو

کښله هېڅ مخلوق سره مشابهت نه لري اونه مخلوق له الله تعالی سره مشابه کېدای شي ذات يې ازلي اوصفات يې قديمي دي بشري فطرت پردې څرګندباورلري چې داشیاءو خالق دمخلوق په شان نه وي

دالله تعالی پېژندنه

دالله دذات په موضوع باندې دبحث نه دمخه پردې خبره پوهېدل ضروري دي چې دالله عزوجل وجود مادي نه دی بلکې له مادي نړۍ ورداخوا يو حقيقي ذات دی.په عامه ډول ديوشي دوجود پېژندنې لپاره چې له موږسره کوم وسايل دي هغه حواس دي دکاياناتو علم دحواسو په وسيله معلومېږي البته دماوراء طبيعت دپېژندنې لپاره حواس کافي نه دي.

دماده پالو ساينس پوهانو ترټولو لويه غلطي داوه چې هغوی دساينس حدود ،ونه پېژندل اوپه دې اټکل اخته شول چې ساينس هره مسئله حل کوي دالله تعالی سپېځلی ذات له دې خورا ډېر لوی دی چې بشري عقل ورته ورسېږي اويا يې انساني افکار درک کړي که دانسان عقل هرڅومره پر مختګ وکړي اودانسان خيال اوفکرهرڅومره پرمخ ولاړشي دالله تعالی دادراک څخه دهغه صلاحيت ډېرلېراومحدوددی دالله ذات خو لاپرېږده بشري عقل دموجوده اشیاءوله کشف څخه هم ناتوانه اوناخبره دی دانسان خپل بدن ورته مجهول دی،له ابن عباس څخه روايت دی چې يوځل ځينې خلکودالله دذات په باره کې خبرې اترې کولې اوچورتونه يې په کې وهل رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل(تفکروافی خلق الله ولا تتفکروافی الله فانکم لن تقدرواقدره)يعنې تاسې دالله تعالی په مخلوق کې فکرکوئ دالله تعالی په ذات کې فکرمه کوئ ځکه چې هېڅکله دهغه دذات په احاطه کولو څواکمن نه ياست.

ددې حديث مطلب دانه دی چې ګواکې اسلام په غور اوفکر بنديزلګولی دی اويايې دعقل اوفکر دايره تنګه کړې ده اسلام دغه حکم ددې په خاطر ورکړ

ی ترڅو انسان له ګمراهۍ څخه وساتل شي اوددا سې بحثونو څخه ډډه
وکړي دکومودسمون اودرمل لپاره چې عقلي ذرايع اووسايل ناکافي وي

دالله تعالی دپېژندنې وسایل
۱: عقل ۲: وحی

لومړی عقل

لکه څرنګه چې دټولو اسلامي احکامو سرچينه وحی(قران کريم اونبوي سنت)دي په همدې توګه داسلامي عقايدوبنسټ هم په پورته دووشيانوايښو دل شوی مګرله دې سره سره سليم عقل دټولواسلامي عقايدو دصحت تائيد اوملاتړ کوي له همدې کبله الله تعالی عقل ته دخطاب شرافت ورکړ اوانسان يې دعقل په سيله په خپلو احکامو مامور کړ دانسان دبدن هريوغړی جلا دنده لري دعقل دنده تدبراوتفکردی هرکله چې يوملت په عقلي لحاظ کمزوری شي دذلت،خواری اوپستۍ تيټې کندې ته به وغورزېږي ټول کاينات له اتوم نه واخله تر لويو کهکشانونواوله حجرې نه بياتر لويو اجسامو پورې دعقل اوفکر ارت ډګرتشکيلوی قران عظيم الشان دانسان فکردکاياتوارتې نړی ته په کتلودغوراوفکرلورته رااړوي هلته چې فرمايي ﴿ قُلِ ٱنظُرُواْ مَاذَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَمَا تُغۡنِي ٱلۡأٓيَٰتُ وَٱلنُّذُرُ عَن قَوۡمٖ لَّا يُؤۡمِنُونَ ﴿١٠١﴾ ﴾يونس: زياته:دوی ته ووايه "په اسمانونواوځمکه کښې څه دي هغه په غړبدلو سترګو وګورئ" اوکوم خلک چې له سره ايمان راوړل نه غواړي دهغوله پاره ننبانې اواخطارونه مدافع ګټورکيدای نه شي.

قران عظيم الشان موږ ته داسلام دښمنو ملحدو ځواکونو پروړاندې دپيغمبرانو داستدلال يادونه کوي چې هغوی دالله تعالی دتوحيد په دلايلو کې کاينات وړاندې کول لکه لمر،سپوږمۍ اوستوري ابراهيم عليه السلام

اوموسی علیه السلام دوخت دطواغیتو اوسرکښانو پروړاندې له همدغه اسلوب څخه کار اخیستی

دویم اسماء اوصفات

دالله تعالی په سپېڅلو نومونومو ړقران عظیم الشان اونبوي سنتوپوه کړي یو.الله اسم ذات دی اونورې صفتي نومونه دي دغوته اسماء الحسنی هم وایي هغه چې په نبوي فرمان ثابت دي اونهه نوي نومونو ته رسېږي (عن ابی هو ذروایة قال الله تسعة وتسعون اسما مئةالا واحدا لایحفظها احد الا دخل الجنةوهو وتر یحب الوتر) یعنې دالله تعالی نهه نوي نومونه دي چاچې دغه نومونه حفظ اویادکړل هغه اړومړو جنتي دی اوهغه به جنت ته ولاړشي الله تعالی طاق دی اوطاق خوښوي.

په دغه مبارک حدیث کې د(وتر)څخه مراد توحیددی یعنې لامثاله اوبې ساری ذات دی چاچې دغه نومونه زده کړل اوخپل ذهن ته یې وسپارل او باور یې پرې وکړ الله به یې جنت ته داخل کړي.البته دالله تعالی نومونه په نهه نوي نومونوکې منحصر نه دي ځینو علماء ودقران عظیم الشان اونبوي حدیثونوڅخه یوزرنومونه راغونډ کړي دي مګر دالله تعالی ټول نومونه توقیفي دي یعنې اورېدل یې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ثابت دي الله تعالی ته دداسی نوم اوصفت نسبت ناروادی چې په قران کریم اونبوی سنتوکې یې ثبوت نه وي که څه هم په هغه نامه کې حسن اوجمال وي لکه الله تعالی ته دکایناتوانجنیراویاعام مدیر ویل ناروادي

دالله تعالی دوجوداثبات دلایل

دالله تعالی وجودیوثابت حقیقت دی دسلیم فطرت څښتنان یې په ثابتولوکې دلایلوته هم اړتیانه پیداکوي انسان که خپل ځان اوچاپیریال ته وګوري دیوسترڅواک احساس به یې ترسترګوشي څکه دلته نظم،حرکت

اوبدلون اوسکون وینو دغه ټول دواحد اولاشریک ذات پروجود دلالت کوي په ننني معاصره نړۍ کې ملحد عناصرپه شرعي دلایلو قناعت نه کوي بلکې هغوی ته به عقلي دلایل راوړې

لومړی دسبب دلیل

موږپه کاینناتو کې خوځښت اوتلپاتې بدلونونه وینوپردې اساس هربدلون سبب غواړي که هغه موږته څرګندوي اوکه نه ؟

داځکه هېڅکله کېدای نه شي چې یوشی دې په خپله خپل ځان ته وجودورکړي بلکې هرشی صانع اوجوړوونکی غواړي اوهغه باید دبشپړ ځواک ،قدرت اوعلم څښتن واجب الوجود کامل ذات وي لکه څرنګه چې یوتعمیرپرته له معمار اولیک پرته له لیکوال اومصنوع پرته له صانع څخه نه شي رامنځته کېدی نوپرهمدې اساس دغه ځمکه ،لمر،سپوږمی ستوري،عناصراواجسام له خالق اوایجادوونکي نه پرته څنګه رامنځته شول داځکه هریوحرکت محرک غواړي اوهریوشی موجد ،یوځل دانګلیسي ساینس پوه نیوټن ملاقات ته دده یوملحد ملګری ورغی نیوټن دمصنوعي شمسي منظومې څخه لیدنه کوله هغه ملګري یې وویل داخودهره نااشنامنظومه ده داچاجوړه کړې ده؟نیوټن ورته ځواب ورکړاپخپله جوړه شوي جوړونکی نه لري ملحد ملګري یې نیوټن ته ځواب ورکړتاماته داحمق نسبت وکړ، له شکه پرته دایودنبوغ څښتن جوړه کړې ده غواړم نوم یې راته څرګند کړې په دغه مهال نیوټن پاځیداودخپل ملګري په اوږه یې لاس کیښودااوورته ویې ویل دغه ماشیني اله خودیوستر نظام یوتصویردی ښه نوچې دغه تصویراورمرویوجوړونکی غواړي دادومره لوی نظام ځمکه،سپوږمی ستوري اوپه میلیاردونو کهکشانونه اودغه مغلق نظام له یوخالق اوصانع نه پرته څنګه رامنځته کېدی شي ملګری یې خجالت اوقناعت یې وکړ

دويم داتقان دليل

هر کله چی يوڅوک خپل چاپيريال ته وګوري په دې کې به يوعجيب تنسيق په ستر ګووينې کله چې يوڅوک يوتعميرګوري هلته مېلمستون، دخوب خونې اودناستې ځای اونورشيان وينې نواروميږي په دې باوروي چې دغه شيان ديوماهرانجنيردپلان په نتيجه کې رامنځته شوي په همدې توګه کله چې موږيوښايسته کتاب وينوداديوښه ليکوال اوښکلې چاپخانې څخه نمايندګې کوي هرکله چې موږارتې نړۍ ته ګورولمر، سپوږمی، ستوري، ځمکه اودکاينات ودقيق پلان شوی نظام وينودهرستوري خپل مدارسرعت، حجم، جاذبه اوهرباريک سيستم دی چې په معمولي بدلون سره يې ټول نظام نړيږي دمادې دترټولوکوچنی ذرې اتوم جوړښت دشمسی نظام په څېردی اليکترونونه دساعت دعقرب پرعکس خوځښت ته ادامه ورکوي اتوم دمثبت اومنفی جارج درلودونکی دي نباتات انسانان اوټول حيوانات جوړې دي انسان اکسيجن په کاربن دای اکسايدبدلوي مګرنباتات ددې پرعکس کاربن دای اکسايدپه اکسيجن بدلوی انسان اکسين په کاربن دای اکسايدبدلي مګرنباتات ددې پرعکس کاربن دای اکسايدپه اکسيجن بدلوي پردې اساس هرڅومره چې علم پرمختګ کوي په هماغه اندازه دالله تعالی دقدرت د لايل اواثارراسپرل کېږي دالله تعالی دپيژندنې لپاره موږدوه وسايل لرويوعقل اوبل وحی ټول ساينس دعقل ډګراودالله تعالی دپيژندنې وسايل دي

دريم الزامي عقلي دليل

سره له دې چې دالله تعالی وجود يوڅرګند حقيقت دی چې دانسان په فطرت کې ځای لري البته موږکولای شوچې ددغه احساس دثبوت په خاطردلايل وړاندې کړودلته موږدالله تعالی په وجودالزامي عقلي دليل وړاندې کوؤ.

- اصل په خالق کې وجوددی نووجوديې عقلاً واجب اولازم دی

• په کاینناتو کې اصل شی نشتوالی دی نووجودیې عقلاً ممکن دی

• هېڅکله کېدای نه شي چې عدم اونشتوالی دی خپل ځان ته وجود ورکړي مګرواجب الوجوددغه کارکولی شی په دنیاکې هېڅ یوهوښیارانسان پدې کې شک نه لري چې دوجودپه مقابل کې عدم راځي دوجوداوعدم ترمینځ درېیم شی نه شي کېدای اوس دلته پوښتنه داده چې کوم یواصل دی ایاوجوداصل دی اوکه عدم ،دعدم معنادادی چې هېڅ یوځواک چې ژوندارادە ،علم اوقوت ولري نه وو،اوس پوښتنه دادی چې عدم څنګه وتوانېده چې دومره ستر کاینناترامینځ ته کړي؟دغه یوځرګند حقیقت دی چې عدم جودنه شي رامینځ ته کولای همدغه مطلب ته قران عظیم الشان داسې اشاره کړې ده ﴿ أَمْ خُلِقُوا۟ مِنْ غَيْرِ شَىْءٍ أَمْ هُمُ ٱلْخَٰلِقُونَ ﴿٣٥﴾ ﴾ الطور

ژباړه:ایادوی له کوم خالق نه پرته پخپله پیداشویدي؟یا پخپله دخپل ځان هستوونکي دي؟ معناداچې ایادغه موجودات له عدم نه وجودته دیوپیداکوونکي اومدبرذات نه پرته رامینځ ته شول اویاپه دغه انتقال کې دوی خپلوځانونوته وجودورکړی،دایوځرګند حقیقت دی چې دغه دواړه کارونه امکان نه لري پردې اساس په غوځ ډول ثابته شوه چې اصل وجوددی نه عدم نوهرکله چې وجوداصل شو نوایاددې وجودلپاره پیل شته اویاکېدای شي چې عدم پرې مسلط شي؟

ددغې پوښتنې په ځواب کې موږوایوهرکله چې دیوشي وجوداصل شوداصحیح نه ده چې دده لپاره دې پیل وي داځکه چې کوم شی پیل ولري هغه یوسبب ته اړتیاپیداکوي ترڅودغه شی رامینځته کړي هرشی چې داسې شي وجودیې اصل نه ګرځي .هرکله چې دیوشي وجوداصل شي په هغه باندې عدم هم نه راځي قران عظیم الشان دغه مطلب داسې بیانوي ﴿ وَتَوَكَّلْ عَلَى ٱلْحَىِّ ٱلَّذِى لَا يَمُوتُ وَسَبِّحْ بِحَمْدِهِۦ ۚ وَكَفَىٰ بِهِۦ بِذُنُوبِ عِبَادِهِۦ

خبرام هغه ذات چې په شپږو ورځو کښې يې اسمانونه اوځمکه اوټول هغه څه پيدا کړل چې د اسمانونو اوځمکې په مينځ کښې دي بيا هغه پر عرش باندې استوای وکړه، رحمان، دهغه دشان پوښتنه له کوم خبيدونکي څخه وکړه.

يعنې هغه ذات چې مړينه نه لري وجود يې اصل دی نو د حيات او کمال د صفاتو څښتن دی هېڅکله کېدای نه شي چې عدم او مړينه پرې راشي مونږ په دغو کاينناتو کې حرکت اونظم په خپلو ستر ګو وينو دغه ټول شيان يو مئوثر سبب نه ارتيا پيدا کوي چې له عدم څخه يې وجود ته ټول شيان راوښتلې دي قران عظيم الشان همدغه حقيقت مونږ ته روښانه کوي چې انسان نه ؤ خو وروسته رامينځته شو ﴿ هَلْ أَتَىٰ عَلَى ٱلْإِنسَٰنِ حِينٌ مِّنَ ٱلدَّهْرِ لَمْ يَكُن شَيْـًٔا مَّذْكُورًا ﴿١﴾ ﴾ ژباړه: ايا پر انسان دزمانې يووخت داسې هم تېرشوی دی چې هغه کوم دياد ونې وړشي نه وء؟ نو پردې اساس چې کوم شی نه وي هغه ايجادونکی اوخالق غواړي چې ده ته يې شکل اوصورت ښکلی دی.

څلورم: دفطرت دليل

فطرت دخلقت په معناسره ده الهي ورکړي استعدادته فطرت وايي چې غيراکتسابی شی دی دبشري پوهې زياته برخه فطري ده دمثال په توګه نوی زېږېدلی ماشوم دخپل فطرت پربنسټ دمورسينه اخلي اومورداولادپروړاندې دمينې اومحبت عاطفه لري لوبه اوتنده، درداوغم ،خوشالي اوخپګان، يخني اوګرمي، جنسي غريزه اومينه، بغض اوکينه، حسداورخه ،مال سره محبت له ازادی سره عشق، له ژوندسره مينه اودانسان په بدن کې دروح شتوالی ټول فطري شيان دي چې زده کړې ته ارتيا نه پيداکوي، همدارنګه دکاينناتودخالق اوپيداکونکي دوجوداحساس هم دبشرپه فطرت کې خای لري په دغه احساس اوشعورکې دکوچني ماشوم نه واخله بياتربانډ چې اومتمدن، عالم اوفيلسوف

اونابغه پورې ټول سره مساوي دي قران عظيم الشان همدغه مطلب ته داشاري
په ترڅ کې فرمايي ﴿ فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا ۚ فِطْرَتَ ٱللَّهِ ٱلَّتِى
فَطَرَ ٱلنَّاسَ عَلَيْهَا ۚ لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ ٱللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلْقَيِّمُ
وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٠﴾ ﴾الروم: ژباړه:خودغه
ظالمان بې پوهې اوادراکه پخپلوانګيرنوپسې خوئيدلي دي.اوس څوک هغه
چاته لاره ښودلی شي چې الله هغه ګمراه کړی وي.ددغسې خلکوخوهيڅ
مرستندوی نشي پيداکيدلی.
دغه سپېڅلی فطرت کله ناکله دمور اوپلار اوچاپېريال دناوړه اغېزوله
امله اغېزمن شي پيغمبر(ص) همدغه مطلب داسې بيانوي **عن أبي هريرة أن
رسول الله صلى الله عليه و سلم قال :كل مولود يولد على الفطرة
فأبواه يهودانه أو ينصرانه)** ژباړه:له ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی
چې بيشکه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي هريوماشوم په اسلامي
فطرت زېږېږي نومورواوپلاريې يايهودي ګرزوي اويانصراني)
دغه فطري احساس اوشعورهېڅکله خپله رڼاله لاسه نه ورکوی مګر داچې
دفطرت صافه شيشه يې دجهل،عناد،شهوتونواونفساني
غرايزو،کبراوغرور،شکونواوشبهاتو په چټليو سره يې خپرنه کړې اوسي،
اوس مهال په نړۍ واله سطحه استعماري کبرجن ځواکونه دخپلو ناوړه
تبليغاتي وسايلو په وسيله زيار باسي ترڅو دمسلمان قام داولادونو دغه
احساس له مينځه يوسي چې په دې کار کې په زرګونو ليکوالان،
ژورنالستان، اديبان ، پوهان اوفيلسوفان په هلو ځلو بوخت دي په دغه
صورت کې بيا دنظري او عقلي دلايلو اقامي ته اړتيا ليدل کېږي ترڅو يې
دفطرت شيشه له چټليو څخه صفا کړي

موږ په خپلو حواسو او عقل سره ډیر مادي اوغیري مادي شیان احساس کوولکه خمکه ،لمر ،سپوږمی ،ستوري، دخمکې اومقناطیس دجاذبې قوه اوهمدارنګه دنورو ګڼوبې شمیره مادي مرکباتو کیمیاوي اوفزیکي خواص اوپه همدې توګه هغه شیان چې زموږ دحواسو څخه بهرون دي لکه ملایکې اوپیریان دجوړښت کیفیت اوصفات یې دغوشیانوته دکتنې پربنسټ دعقل له مخې موږ ویلای شوچې کېدای شي دغوشیانوبل یوصورت غوره کړی وای دلته ډیرواحتمالاتو امکان درلوده چې دکاینا تاموجوده شیانوبله بڼه اوبل ډول خواص ځان ته خپل کړي وای ددې هېڅ مانع نه ؤچې یاشپه تل ترتله اویاورځ همیشه وای اویاانسان په اوسنۍ بڼه نه وای اویاځارویوعقل درلودی اویایې خبرې اترې کولې اویاځمکه لمراوسپوږمی ته له اوسني وضعیت څخه نېژدې اویا لېرې وای .

که یوځوک داووایې چې دحکمت غوښتنه همدغه وه دنړۍ نظام به مختل اوګډوډشوی وای موږ وایوچې حکمت دحکیم صفت دی اوهغه ذات الله جل جلاله دی چې هرشی یې دخپل حکمت اوپوهې پراساس تنظیم کړی دادتصادف کارنه دی اونه ړوند ،کوڼ طبیعت دغه کارکولای شي همدغه دلیل موږ دامکان دلیل بولوقران عظیم الشان همدغه مطلب ته داشاري په ترڅ کې داسې فرمایې .﴿ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ بِٱلْحَقِّ ۚ إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ وَيَأْتِ بِخَلْقٍ جَدِيدٍ ﴿١٩﴾

﴿ابراهیم ژباړه: ایا ته نه وینې چې الله د اسمانونو او زمکې پیدایښت پر حق درولي دی؟ که هغه وغواړي نوتاسې به له مینځه یوسي اویونوی مخلوق به ستاسې پرځای راولي

شپږم د تغیر اوسببیت دلیل

موږ ټول موجودات مادي دي اوکه غیرمادي په حواسوسره یې معلومولای شواوکه نه ؟ ټول دتغیراوبدلون په حال کې دي دمثال په توګه تخم په فصل اومیووبدلون مومي په پای کې بیاوچ وانښه ،اوپه کیمیاوي اوعضوي موادوبدل شي په همدې توګه غذایي موادپه وینه اووینه په سپرم اواوم بدلون مومي هریوحیوان ځان ته صفات اوخواص اودژوند محدودوخت لري دغه ټول کاینات په دایمي توګه په خوځښت کې دي په میلیاردونو کهکشانونه اوهریوستوری منظم حرکت لري له لویو کایناتوکه وړتهرشودمادې کوچنۍ ذره اتوم هم دشمسي نظام په څېربنه اوخوځښت لري په همدې توګه دشپې اوورځې منظم بدلون ،بېلابیل موسمونه ،پسرلی ، اوړی ،منی اوژمی یخني اوګرمي ژوند اومرګ اوداسې نورې هرشیان چې شمیریې له حسابه وتلی دی په خپلو ستر ګوویناوالبته دلته ځینې شیان دي چې بدلون یې موږته ډیرژر څرګندېږي لکه حیوانات اونباتات مګر ځینونوروشیانوبدلون زرګونه کلونه وخت نیسي لکه ستوري اوجامدشیان.حقیقت دادې چې دعقل پرېنسټ ثابته شوې ده چې تغیراوبدلون په هغوشیانوکې اوسي چې حادث وي دمثال په توګه یوجسم د(الف) له نقطې پیل شه اود(ب) په نقطې پای ته ورسېدنوپردې اساس دغه جسم د(الف)په نقطه کې نه وو اود(ب) په ټکي کې رامینځته شو دغه یوځرګند حقیقت دی اوپه تجربوثابته شوې ده چې په کاینناتوکې هریوبدلون سبب غواړي په نړۍ کې ډېرکوچنی بدلون لکه دیوکانې انتقال له یوې سیمې نه بلې ته دیومئوترسبب غوښتنه کوي دمثال په توګه که چېرته په خپل قلف شوي صندوق کې دسروزرواوسپینوزروروپۍ کښېږدی اوهغه روپۍ ستاد ګاونډي دکورپه بکس کې ومونډل شي اوهغه ووایي چې دهواله لارې په خپله زماً کورته انتقال شوي په محکمه کې هېڅکله دغه دلیل دمنلوورنه ګڼل کیږي هرکله چې دغه کوچنی بدلون اوله یوه ځایه تربله ځایه

دپسوانتقال هېڅکله عقل نه مني نوپه کاياناتوکې دغه لوی بدلونونه څنګه
په خپله رامينځته کېدلای شي

اووم: داتقان دليل

هر کله چې يوشخص دعقل په ستر ګو کاياناتوته وګوري نويوستر ترتيب
اوتنظيم به يې ترستر ګوشي ځمکه، لمر، سپوږمی اوپه مليارد ونوستوري
زمونږ په دغه موجوده کهکشان کې په ډير دقيق ډول په خپلو مدارونوکې په
خوځښت دي چې هېڅکله هم ښي اويا کين لوري ته انحراف نه کوي اوپه
خپلتاکلي سرعت سره روان دي قران عظيم الشان همدغه مطلب ته داشاري
په ترڅ کې فرمايې ﴿ وَٱلشَّمۡسُ تَجۡرِي لِمُسۡتَقَرّٖ لَّهَاۚ ذَٰلِكَ تَقۡدِيرُ
ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ ﴿٣٨﴾ ﴾ يس: ژباړه: اولمر دخپل تاکلی ځای خواته ځي
دادخورا ډير ځواکمن پوه ذات، وضع کړی حساب دی.

په بل ځای کې داسې ارشاد دی ﴿ ٱلَّذِي خَلَقَ سَبۡعَ سَمَٰوَٰتٖ طِبَاقٗاۖ مَّا
تَرَىٰ فِي خَلۡقِ ٱلرَّحۡمَٰنِ مِن تَفَٰوُتٖۖ فَٱرۡجِعِ ٱلۡبَصَرَ هَلۡ تَرَىٰ مِن فُطُورٖ
﴿٣﴾ ﴾ الملک: ژباړه: هغه ذات چې لاندې باندې اوه اسمانونه يې
پيداکړل ته به درحمان په هستونه کښې هېڅ رازنا اړوندي ونه مومې
بياراوګرځه وګوره چېرته دې کومه نيمګړتيا ترستر ګوکېږي؟

دمادې کوچنۍ ذره اتوم دی اوترټولوکوچنی موجوددی چې الکترونونه
يې دساعت دعقرب پرعکس دهستې په شاوخوا په حرکت دی په همدې توګه
لمر، سپوږمی اوځمکه اوټول شمسي نظام دالکترون په څېرپه خوځښت دی
ډېره داريانتياخبره داده چې دهستې اوالکترون ترمينځ نسبت داسې دی
لکه دلمراوسيارو، دکاياناتوهرشی زوج (جوړه)ده دمادې کوچنۍ ذره اتوم هم
مثبت اومنفي لري په حيوان، انسان اونبات کې هم زوجيت شته په

کاینناتو کې یو عجیب تنسیق شتون لري دغه هواچې موږیې تنفس کوؤانسان
ته ګټوره برخه یې اکسیجن دی اوزیان منه برخه یې کاربن ډای اکسایډ دی
نباتات کاربن ډای اکسایډ په اکسیجن بدلوي هره پانه یومنظم نظام لري
دلته هیڅ شی بې نظمه نه دی قران عظیم الشان دغه مطلب داسې بیانوي

﴿ ٱلَّذِىٓ أَحۡسَنَ كُلَّ شَىۡءٍ خَلَقَهُۥۖ وَبَدَأَ خَلۡقَ ٱلۡإِنسَٰنِ مِن طِينٍ ﴿٧﴾

السجده ژباړه: هغه چې هرشی پیدا کړه برښه یې پیدا کړاوهغه
دانسان دهستونې پیل له پخې شوې ختې څخه وکړ

اتم: دښکلااوجمال دلیل

کله چې دکاینناتوخلقت دالله تعالی پروجودباندې دلالت کوي نوپه کاینناتوکې دښکلااوجمال رمزله خلقت نه خورابنه دلیل دی چې دالله جل جلاله په موجودیت باندې ګواهي ورکوي که چېرې یوشی پیدا شي خودهغه په وجودکې دغږیونظم ګډوډوي اودښکلااثارپه کې ونه لیدل شي موږحکم کوؤچې ددغه شي خلقت نیمګړی دی مثال په ډول ځمکه په نظرکې ونیسئ چې الله (ج)داسې پیدا کړې چې دانسان دسکونت اوداستقرارصلاحیت لري غرونه یې دمیوګیوپه توګه په کې ځای پرځای کړي دي که چېرې دځمکې قشرټوله تیګه یاټوله وچه اویاټول سمندروای دشنه کولواوزراعت صلاحیت په کې نه وای هرهغه ژوندی موجودچې دځمکې پرمخ ژوند کوي دمناسب اوحکیمانه جوړښت لرونکی دی دمثال په توګه اوښ درواخلئ اوږده غاړه لري سرپورته نیولای شي اوخپلې سترګې له خاورو . دوړواودصحراله شګوڼغوري اودشق شویوشونډوپه وسیله دصحرااغزي په خوله کې ننباسي په خپل کوهان کې وازګه ذخیره کوي ترڅوکه په صحراکې خوراک ونه موندل شي انرژي ترې اخلي سومان یې پلن دي ترڅوپه ښه یاکې ونه ننبلي له همدې امله اوښ ته دصحراکښتی وایي

همدارنګه یې ځیرونکوحیواناتوته تېره انیاب غاښونه اوقوي منګولې ورکړي الوتونکومرغانوته یې تېرې منښوکې ورکړي لنډه داچې ژوندي مخلوقات په مناسبې وسلې سره سنبال شوي دي لکه ښکرونه اوګردې

مبنو کې د کبانو شاپرونه د دفاع او ځغاستې وسیلې دي که چېرې د انسان
جسمي جوړښت ته ځیر شوپه هغه کې داریانتیاورنقشې طرحې ،نظم ،نسق
اودغږیوتناسب لېدل کیږي د انسان دغږیواسکلیتي جوړښت ،دهاضمې
جهاز،دوینې ددوران جهاز ،دتنفس جهاز ،تناسلي جهاز ،عصبي دستګاه
،بولی جهاز ،دځکلو ،بویولو ،اورېدلواولېدلوحواس داهریوپه خپل وارسره
دالله تعالی دقدرت اثاردي چې عقلونه ورته تسلیمېږي.

په دې کې شک نه شته چې انسان دغویې په شان پیاوړي غږي داس په
شان تېزه منډه داوښ په شان زغم دالوتونکوپه شان وزرونه دزمري په شان
تېره غاښونه اوغښتلې منګولې دحشراتوپه شان میکروسکوبي سترګې
اودبازپه څېرتلسکوبي سترګې اودشاتودمچې اومېږتنوپه شان ارام غرایزنه
لري مګرواقعیت دادی چې انسان ته داسې استعداداوعقل ورکړشوی چې
دتفکرقابلیت لري انسان په خپل عقلي قوت دمیخانیکي دستګاؤ په ا
ختراع بریالی شوی چې دځمکې له یوه سره تربله سفروکړي ننني نړۍ هغه
ته دکلي حیثیت لري دلویوغرونوپه زړه اودسمندرونوپه تل کې یې لاره
پیداکړي فضایې سفرونه کوي

نهم: دهدایت دلیل

داهدایت عام دی اودکایناتوهرشی تر پې برخمن دی که ژوندی موجودوي
اوکه جامد ،عاقل وي اوکه غیرعاقل بلکې دغه هدایت هرشي ته شامل دی
ټول شیان دظوابطواوالهي سننومحکوم دي هلته چې موسی علیه السلام
دمصردکتاتورواکمن پروړاندې ویلي ؤهمدغه مطلب ته قران عظیم الشان
داسې اشاره کوي ﴿ قَالَ فَمَن رَّبُّكُمَا يَٰمُوسَىٰ ﴿٤٩﴾ ﴾طه زباره:فرعون
وویل((نبه نو بیا ستاسې دواړو رب څوک دی ای موسی ،،؟ قَالَ رَبُّنَا ٱلَّذِىٓ
أَعۡطَىٰ كُلَّ شَىۡءٍ خَلۡقَهُۥ ثُمَّ هَدَىٰ ﴿٥٠﴾ زباره موسی ځواب ورکړزمونږ

رب هغه ذات دی چې هرشي ته یې دهغه خپل ساختمان ورکړ، بیایې ورته لارونبودله،

هوا دکاینناتوپه قلمروکې هېڅ شی داسې نه شته چې الله ورته یومسیرنه وې تاکلی اویوه دنده سرته ونه رسوي له اتوم نه یې واخله ترلویوکهکشانونوپورې اوله حجرې نه یې واخله تر لویوحیواناتواونباتاتوپورې هریومشخصه دنده لري

په دې کې شک نه شته چې دحیواناتو، الوتونکو، مرغانواوحشراتودهدایت ډګردومره پراخ دی دشاتومچی څه ډول نقشې جوړوي اودیوماهرماندس وظیفه سرته رسوي کورونه جوړوي اویوه مضبوطه منظمه اداره لري الوتونکي مرغان له یوه براعظمه بل ته سفرونه کوي اوډدواتن وهي په هماغه ځای کې شپه تېروي چې تېرکال یې په کې تېره کړې وه کوترې ته وګورئ چې له یوه هیواده بل ته پوسته وړي کله ناکله دلارې په موندلوکې اشتباه وکړي یوځوشیبې څرخ خوري اودوره نیسي اوبېرته خپل وطن ته راګرځي مېړتون خپله روزي په اوړي کې ذخیره کوي ترڅووکولای شي په ژمي کې ترې استفاده وکړي په دې کې داسې دانه چې دشنه کېدلواحتمال ولري دوه سوري ترې وباسي ترڅودشنه کېدلوقابلیت له لاسه ورکړي ، دشامې حس یې ډېرپیاوړی دی په ډله ایزه توګه کارکوي اویولارښودلري ،ددارووونکوحیواناتوبنځینه ډله چاورزده کړي چې خپل بچي دپیدایښت پروخت څوورځې له ځمکې پورته وساتي ترڅویې دکوچنیواوغټومېړتنوله ضررځخه خوندي کړي ،بنځینه فیل ته چاوښودله چې دحمل دزېږولوپروخت اوبوته لاړه شي اوبچي وزېږي ځکه داپه ولاړه لنګېږي ،دنباتاتوعجیبه نړۍ که وګورې نوحیران به شئ

لسم دوحی دلالت

دالله تعالی دوجودله دلایلوڅخه یودلیل دپیغمبرانوسیاست دی چې دسیدناادم علیه السلام نه ترسیدنامحمدرسول الله صلی الله علیه وسلم پورې په متوالي ډول یې جریان درلود ،هېوادونه ،قامونه اوژبې یې سره

جلاوي مگر دتولويوپيغام ؤچې هغه له توحيد اودالله عزوجل له بندګۍ څخه عبارت دی چې په دې لړکې ددوی اوددوی دقامونوپه مينځ کې سخت اخ اوډبونه تېرشوي ددوی قامونه له الله جل جلاله څخه منکرنه ؤبلکې دهغوی لوی اعتقادي رنځ شرک ؤپيغمبران عليم السلام په داسې حال کې چې وسايل اودوستان يې لرؤالله جل جلاله خپل نصرت ورپيرزوکړی دی اودښمنان يې ورته تباه کړي دي

يولسم: دتاريخ دلالت

نامتوتاريخ پوه پلوتارک ويلي دي چې دتاريخ په اوږدوکې هېڅکله د اسې ښارونه نه دي ليدل شوي چې هلته عبادت ځايونه نه وي سره له دې چې داسې برجوړې کلاګاني په کې نشته مګرمعبدونه لري دفرانسې نامتوفليسوف برګسون وايې کېدلای شي داسې انساني پرګنې وي چې له هغوی سره علم ،فنون اوفلسفه نه وي مګرهېڅکله نړۍ ته داسې قام نه دی راغلی چې له هغوی سره ديانت نه وي دغوټولوملتونودالله جل جلاله پروجودباندې چې دتعظيم اوعبادت وړدی معتقدؤ.هغه څوک چې بشري نوعې ته احترام لري دتاريخ نتايجواوخپل عقل ته درناوی کوي بايدداسې ومني چې دغه تاريخي اجماع يوداسې دليل دی چې دلوی حقيقت پرصحت دتاکېدمهروهي اوهغه لوی حقيقت دالله تعالی سپېځلی وجوددی البته ملتونودالوهيت په باب ځينې اشتباهات کړي دي مګرله دې سره سره دالله له وجودڅخه منکرنه ؤدپيغمبرانووظيفه دانحرافاتوله مينځه وړل ،دايمان دتصحيح اوتصفيې لپاره چې له بت پالنې اوخرافاتونه پاک شي هڅه اوهاندؤ.

دولسم: دعنايت دليل

موږ دغه دليل په ټولو کاينناتوکې په خپلوسترګو مشاهده کوو ،سپوږمی،ستوري اودکاينناتودهرې ذرې دقيق نظام دبارانونومنظم اورښت دځمکې اجزاء داوبو جوړښت،بحري حيوانات،الوتونکي اوداسې نورکه

موږ په غور سره وګورو موږ به اورمرو په یو ذات باور او یقین ته رسو
موږ د کایناتو هره ذره دیوانظباط او استحکام په رښا کې ګورو دغه حقیقت
یې موږ ته په خپله څرګندوي چې دلته دیو مدبر ذات تد بیر حاکم دی قران
عظیم الشان فرمایي

﴿ ٱلَّذِى خَلَقَ سَبۡعَ سَمَٰوَٰتٍ طِبَاقًاۖ مَّا تَرَىٰ فِى خَلۡقِ ٱلرَّحۡمَٰنِ مِن تَفَٰوُتٍۖ فَٱرۡجِعِ
ٱلۡبَصَرَ هَلۡ تَرَىٰ مِن فُطُورٍ ﴿٣﴾ ﴾ الملک زیارہ: هغه ذات چې لاندې باندې
اوه اسمانونه یې پیدا کړل ته به درحمان په هستونه کښې هېڅ رازنا اړوندې
ونه مومې بیا راوګرځه وګوره چېرته دې کومه نیمګړتیا ترستر ګو کېږي؟

دیارلسم: دتسخیر او تدبیر دلیل

موږ چې دغه نړۍ په خپلو ستر ګو وینو دظوابطو اوقواعدو تر سیوري لاندې
ده دلته دیومدبر ځواک دواک اثار اوننبې په خپلوستر ګو ګورو دکاینا تو هره
ذره دیوقانون اوظوابطو پر بنسټ تنظیم شوې ده دلته هېڅ شی بېهوده
اوعبث په ستر ګو نه ښکاري بلکې هر شی دیوهدف په لوري په خوځښت
کې دی

۱۲: افاقي دلیل

دهرستوري وجود، منظم حرکت، دقیق نظام دیو مدبر ځواک دشتون څرګند
دلایل دي قران عظیم الشان فرمایي

﴿ ٱللَّهُ ٱلَّذِى رَفَعَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ بِغَيۡرِ عَمَدٖ تَرَوۡنَهَاۖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ وَسَخَّرَ
ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَۖ كُلٞ يَجۡرِى لِأَجَلٖ مُّسَمّٗىۚ يُدَبِّرُ ٱلۡأَمۡرَ يُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ
لَعَلَّكُم بِلِقَآءِ رَبِّكُمۡ تُوقِنُونَ ﴿٢﴾ ﴾ الرعد زیارہ: همغه الله دی چې هغه
اسمانونه له ستنوپرته همداسې درولي دي چې تاسې یې په خپله
ګورئ، بیایې پرعرش استوا وکړه اوهغه لمراوسپوږمۍ دیوقانون تابع
ګرزولي دي. ددې ټول نظام هرشی تریوټاکلي وخت پورې چلېږي اوهمغه

الله ددې ټول کارتدبیر کوي؛هغه ښښانې په ډاګه څرګنده بیانوي،ښائي چې تاسې له خپل رب سره په یوځای کېدو باور وکړئ.

دځلورم څپرکي دموضوعاتولنډیز

دایمان ارکان داسلامي عقیدې بنسټونه هم بللی شي چې عبارت دي له په الله،ملایکو،اسماني کتابونو،پیغمبرانو،اخرت اودخیراوشرپه تقدیرباوردرلودل دي په الله تعالی ایمان څلوروشیانوته شاملېږي دالله تعالی په وجودایمان،دالله تعالی په ربوبیت ایمان،دلله تعالی په الوهیت ایمان،دالله تعالی په اسماءواوصفاتوایمان

- الله جل جلاله: دالله تعالی په سپېڅلونومونومورقران عظیم الشان

اونبوي احادیثوپوه کړي یو الله اسم ذات

دی دهغه ذات نوم دی چې واجب الوجوددالوهیت دبشپړوصفاتوڅښتن په خپل حقیقي وجودکې یواځینی ازلي اوابدي ذات دکمال دبشپړوصفاتوخاوند دی

- دعربي ژبې ځینې پوهان یې دالاله څخه مأخوذبولي همزه ورڅخه

حذفه اولام په لام کې مدغم شوی الله ورڅخه جورشوی په عربي ژبه کې اله معبوداودعبادت مستحق ته ویل کېږي چې ګڼې معناوې لري دسکون،ډاډ،پناه ورلو،توجه اوشوق، مینه،بندګي اوعبادت، په حجاب اوپردوکې پتېدل دپورتنیومحوراتوپه نتیجه کې په ټولوکاینانوکې دالله جل جلاله نه پرته بله هستي نشته چې دعبادت وړاودبندګۍ لپاره ورته سرټیټ اوانسان یې پروړاندې سکون اوډاډترلاسه کړي دامن،پناه مینې اومحبت دهیلو،امیدونو،بندګۍ اوتعظیم مرکزدټولې نړۍ څښتن ټول هغه ته محتاج اوپه مرسته غوښتلومجبورله بشري حواسوپټ چې عقل یې په عظمت کې اریان خالق،مالک،رارق تکویني اوتشریعي حاکم دغیبي حکم څښتن ترتله لامثاله ذات واوسي په خپل عظمت،لویې،واکمنۍ

اوښايسته نومونواولوړوصفاتوکې له مخلوق سره هېڅ مشابهت نه لري ذات يې ازلي اوصفات يې قديم دي

- دالله دپېژندنې وسايل دوه دي يوعقل اوبل وحی ټول ساينس اوټول

کاينات دالله تعالی دقدرت ننبې اواثاردي دوحی په وسيله دالله تعالی اسماءاوصفات پېژنوچې دالله تعالی په اسماؤاوصفاتوپوه شونودالله تعالی معرفت به راته په برخه شي په يوروايت نهه نوي نومونه ذکرشوي ځينې علماؤدقران عظيم الشان اونبوي سنتوپه رڼاکې دالله تعالی زرنومونه راټول کړي دي

- دالله تعالی دوجود دلايل: په قران عظيم الشان اونبوي سنتوکې ګڼ

عقلي دلايل راغلي دي ببله ستنواسمان،لمرسپوږمی ستوري،ځمکه،وچه،لمده،غرونه اوسمه سيندونه ويالې،وريځې اوهوا ګانې اوپه دې ټولوشيانوکې دقيق توازن نباتات ،حيوانات، حشرات اودهرشي دقيق جوړښت ټول دالله تعالی دقدرت اثاراونبې دي.

دالله تعالی په وجودالزامي عقل:

اصل په خالق کې وجوددی نووجوديې عقلاً لازم دی په کاينناتوکې اصل شی عدم (نشتوالی) دی نووجوديې عقلاً ممکن دی هېڅ کله کېدای نه شي چې عدم دې وجودرامېنځته کړي مګرواجب الوجوددغه کارکولې شي نوددغوکاينناتوخالق اوموجدالله تعالی دی.

۲- دفطرت دليل: فطرت دخلقت په معنا سره ده الهي ورکړي استعدادته وايې غيراکتسابي شی دی لکه مينه اومحبت ،خوراک،ځښاک ،ګرمي اويخني کينه اوحسدله مال اوازادی سره مينه دانسان په بدن کې دروح شتوالی دالله تعالی معرفت داټول فطري شيان دي زده کړې ته اړتيانه لري.

۳- دامکان دليل: موږپه خپلوحواسوسره ډيرمادي اوغيرمادي شيان وينوځمکه،لمر،سپوږمی،ستوري، دځمکې اومقناطيس جاذبه ،ملايکې،پيريان اوداسې نوردعقل پربنسټ موږ ويلی شوکېدای شي دغوشيانوبل صورت ځانته غوره کړی وای داچې ځمکې محوري حرکت نه درلودای تل شپه اوتل ورځ وای

اویالمراوسپوږمي ځمکې ته نږدې اویالهې وای اویاحیواناتوعقل درلودای اوخبرې یې کولی دغه ټول دتصادف کارنه دی همدغه موږ دامکان دلیل بولونودغه منظم دقیق سنجول شوی نظام دیوعلیم اوخبیراوحکیم ذات دتدبیرنتیجه ده اویس

۴۔ دتغیراوسببیت دلیل: موږټول موجودات مادي اوغیرمادي په حواسویې معلومولی شوټول دتغیراوبدلون په حال کې دي مثلاً تخم په فصل اومیوؤ بدلون مومی په پای کې وچ وانښه په کیمیاوي اوعضوي موادوبدل شي همدارنګه غذایې توکې په وینه اووینه په سپرم اواوم بدلون مومي هرحیوان ځانته صفات لري پردي اساس تغیراوبدلون په هغو شیانوکې وي چې حادث اونوي پیداشوي وي نودحادث لپاره محدث په کاردی چې هغه الله جل جلاله دی.

۔داتقان دلیل: موږ په خپلوسترګواوعقل په کاینناتوکې سترتربیت اوتنظیم ګورو،ځمکه ،لمرسپوږمی اوپه میلیاردونوستوري په دقیق ډول په خپل مدارکې په خوځښت دي داتوم نه ترلویوکهکشانونواوبیادحجري نه ترلویو حیواناتوپوري ډېردقیق محکم نظام دی دغه ټول دالله تعالی دوجوددلایل دي

- دښکلااوجمال دلیل: که چېرې یوشی موجود شي مګردهغه په غړیوکې بې نظمي اوګډوډي وي اود

ښکلااثارپه کې ښکاره نه شي موږ حکم کوؤ چې ددغه شي خلقت نیمګړی دی مثلاً ځمکه وګورئ دقیق توازن لري همدارنګه دهرحیوان جوړښت درواخله

- دهدایت دلیل: هدایت په دوه قسمه ده یوفطري هدایت اوبل کسبي . دشاتومچی، مېږیانو،مرغانواو نورو

ژوبوته الله تعالی فطري لارښوونه اوپوهه یې ورکړې ده انسان ته یې دفطري پوهې ترڅنګ کسبي هم ورکړې ده

- دوحی دلالت: دټولوپېغمبرانوله ادمه نه محمد(ص) پورې په داسې حال کې هېوادونه ،ژبې قامونه یې سره

جلامګريوپيغام يې درلودچې له توحيد څخه عبارت دی

- دتاريخ دليل: دتاريخ په اوږدوکې داسې نه دي شوي چې په يوښارکې دې معبد ،نه وي ليدل شوی دغه

دملتونو اجماع دالله تعالی دوجودستردليل ګڼلی شي

- دتسخيردليل: دلته هرڅه دقوانينواوظوابطولاندې دي ديومدبرذات دواک اثارپه کې له ورايه ګورو
- افاقي دليل: دهرستوري وجود ،منظم حرکت يې دکايناتودقيق نظام ديومدبرځواک دشتون ستردلايل دي

دڅلورم څپرکي پوښتنې

۱ـ دالله تعالی لفظ په عربي ژبه له څه شي څخه مأخوذدی خپل معلومات څرګندکړئ

۲ـ دالله تعالی دپېژندنې وسايل څرګندکړئ

۳ـ دالله تعالی دوجودپه دلايلوکې الزامي عقلي دليل واضح کړئ

۴ـ دفطرت دليل شرحه کړئ

۵ـ دامکان اوتغيردليل واضح کړئ

۶ـ داتقان اوجمال دليل واضح کړئ

۷ـ دهدايت دليل شرحه کړئ

۸ـ دوحی دليل روښانه کړئ

۹ـ دتاريخ دليل اوافاقي دليل واضح کړئ

کورنۍ دنده

دمضمون استاددې محصلينوته دنده وسپاري ترڅوددې څپرکي ټول اياتونه اواحاديث په کتابچوکې اوليکي اوهم دالله تعالی اسماءالحسنی په پوچارټ کې له معناسره وليکي

د پنځم څپر کي دموضوعاتو فهرست

لړليک

- **توحيد**
- **سريزه**
- دتوحيد لغوی اوشرعي معنا
- دتوحيد موخې اوهدف
- دتوحيد دزده کړې حکم
- دتوحيد شرطونه
- دتوحيد اهميت
- دتوحيد ډولونه
- دربوبيت توحيد
- په اوسني وخت کې دربوبيت په توحيد کې دشرک اثار
- دالوهيت توحيد
- په اوسني وخت کې دالوهيت په توحيد کې دشرک اثار
- داسماءو اوصفاتو توحيد
- داسماءو اوصفاتو دتوحيد بنسټونه
- دتوحيد مراتب
- دالله تعالی دصفاتو ډولونه
- دمئومن په زړه کې دتوحيد دعقيدې دټينګښت وسايل

توحید

سریزه

توحید داسلامي عقیدې اساس اوبنسټ اودټولوپیغمبرانودعوت محوراوداسلام دعمارت مرکز ي ستن اوداسماني پیغامونو دنزول سترهدف دی اسلام چی دهرانسان څخه دکوموشیانوغوښتنه کوي په هغوکې ترټول مهم دري بیان دی (۱)توحید (۲) رسالت (۳) اخرت .له توحیدڅخه مقصد دادی چې انسان دالله تعالی الوهیت اوربوبیت ومني او پردې عقیده ولري چې له هغه پرته هیڅوک داطاعت اوعبادت ورنه دي،توحیددانسانانواعتقادته ویل کېږي دکلمې طیبې لومړۍ برخه دالله تعالی په توحید دایمان اعلان ګڼل کېږي ددې څپرکي ترلوستلو وروسته به لوستونکي وکولی شي په لاندې موضوعاتو وپوهېږي

دتوحید معنا

په عربي ژب دودکې توحید اختصاس اویوازې ګرزولو ته وایي اوپه شرعي اصطلاح کې په ربو بیت،الوهیت،اسماواوصفاتوکې دالله تعالی اختصاص ته توحیدویل کېږي همدارنګه پردې باور درلو دل چې الله تعالی په خپل واک،تدبیراوحاکمیت کې بې ساری له مخلوق نه مستقل ازلي اوابدي ذات دی ترزمان اومکان پورې محدودنه په هرڅه قادر اوتوانا اوپیغمبرانودلړۍ وروستنی استازی محمد صل الله علیه وسلم یې ترقیامته له خپل بشپړوروستي پیغام قران عظیم الشان سره دټول بشریت دلارښوونې لپاره استولی دی.

په قرانکریم اونبوي سنتوکې دتوحید حقیقت په بېلابېلواشکالوپه ګڼو ځایونوکې بیان شوی دی په ځانګړې توګه داخلاص سورة چې دتوحید سورة هم بللی شي همدغه مسئله یې په پوره وضاحت سره بیان کړې ده

دتوحید موخه

دتوحیدڅخه هدف یوازې الله تعالی ته بندګي اوپه همده اعتماد اوبروسه ده.له بوچاسره دوستي اودښمني اوهرعمل دده درضالپاره سرته رسول دتوحیدموخه ده،دتوحیددهمدغې برخې دتحقق لپاره پیغمبران رالېږل شوي هریونېک عمل چې اساس یې توحید نه وي دالله تعالی په نېزدهیڅ ارزښت نه لري

دزده کړي حکم يې

دزده کړي حکم يې په هر مسلمان عيني فريضه ده

د توحيد شرطونه

توحيد ګڼ شرطونه لري موږ ورته په لاندې ډول کتنه کوؤ

- **علم اوپوهه**

مؤمن مسلمان بايد په علمي اواګاهانه ډول په الله تعالى باوري وي ايمان يې بايد په کورکورانه او جاهلانه توګه ونه اوسي

- **يقين**

په دې توګه چې دزړه دتل څخه پرې کلک باور ولري اوپه رګ رګ کې يې دغې عقيدې څای نيولی وي

- **قبول اومنل**

ځينې خلک علم لري دالله تعالى داوامرومنلو ته تيارنه وی نو پردې اساس توحيدله مؤمن مسلمان نه بشپړه تسليمي غواړي

- **اخلاص**

په دی ډول چې ريا اوتظاهر ته په کې څای نه وي اوپه بشپړ اخلاص سره يې دغه عقيده منلي وي

- **محبت**

په داسې توګه چې ايمان ته يې نسبت دمينې اومحبت پربنسټ وي

د توحيد اهميت

په عبادت اوبندګۍ کې دالله تعالى يوازې ګرزول لوی نعمت اوفضليت اوددنيا اوعقبى ددښېګڼواوبريالیتوبونووسيله ده دالله تعالى سترنړۍ وال اسماني پيغام قران عظيم الشان اونبوي فرمانونه دتوحيدله اهميته ډک دي چې په لاندې ټکيوکې يې راخلاصه کوو

- دانسانانو اوپېريانودتخليق ستره موخه ده
- دټولواسماني پيغامونودنزول هدف دی
- په اسلامي دعوت کې لومړی مقام لري
- دبشر له غلامی څخه دخلاصون وسيله ده

- الهي نصرت، عزت، شرف اوهدايت ذريعه ده
- دنيکو اعمالو قبولتيا اورپوري مربوطه ده
- ددنيا اواخرت له عذابونو څخه دخلاصون وسيله ده
- په قبرکې ترهرڅه دمخه دتوحيد پوښتنه کيږي
- دتوحيد له امله الله تعالی ټول ګناهونه بخښي
- په قيامت کې دشفاعت لپاره اساسي شرط دی

د توحيد ډولونه

په الله تعالی ايمان دتوحيد دري ډولون ته شاملېږي چې عبارت دي له
۱:دربوبيت توحيد ۲ دالوهيت توحيد ۳:داسماءواوصفاتو توحيد
دتوحيد دد غو دري واړو ډولونو له باوره پرته ايمان شتون نه پيداکوي موږ به هريو په بشپړ تفصيل سره وڅېړو

۱ دربوبيت توحيد

پردې خبره باور درلودل چې الله تعالی دبندګانو يواځينی خالق،مالک،رازق دمرګ اوژوندبخښونکی ددعا اوفريادا و رېدونکی دګټې اوزيان څښتن دی،حقيقت دادی چې دمکې بت پالومشرکانو، يهوديانو،مجوسيانواورپالونکيو،اونصاری هم الله تعالی دکايناتودخالق،مالک،رازق اوفريادا ورېدونکي په توګه منلو يوازې اوسني اوپخوانی دهريان ورڅخه منکر دي نو پردې اساس هرڅوک چې الله تعالی دهرشي خالق او مالک وبولي مګر په الوهيت،عبادت اوحاکميت کې ورسره نورمخلوقات شريک کړي اويايې صفات معطل اويايې دمخلوق سره مشابه وګرزوي او جسم ورته ثابت کړي دغسې فاسده عقيده اوباور يوشخص دکفرله دايرې څخه دايمان پولې ته نه داخلوي قران عظيم الشان دمشرکو ملتونو حالت بيانوی چی الله تعالی يې منلو مګر دالوهيت څخه يې منکر وو

دربوبيت په توحيدکې دشرک نښې

درسول الله صلی الله عليه وسلم دبعثت پرمهال عرب قام دالله تعالی په ربوبيت قايل دکايناتوپه پيداکولوکې يې له الله جلت عظمته سره هېڅوک شريک نه باله يوازې دالوهيت په توحيدکې په شريک نيولواخته ؤ

۱: داقطابو اوابدالو په نوم په کاینناتو کې دتصرف عقیده ډېر دتاسف ځای دی چې ځینې ناپوه مسلمانان دژوند په ببلابېلو برخو کې په ځرګنده توګه دربو بیت په شرک اخته دي ډېر جاهل اوناپوه مسلمانان پردې معتقد دي چې په نړۍ کې ځینې صالح اونېک انسانان داقطابو اوابدالو په نوم په کاینناتو کې تصرف کوي دوی دپاچایانو دنصب اوعزل دورکړې اومنعې، ګټې اوتاوان واکمني لري په همدې دول دوی دصالحانو یو دیوان اودفترلري چې له همدې ځخه اوامرصادرېږي دخلکودکامیابۍ اوناکامۍ پربکړې کوي له همدې املـه ډېرخلک ددوی لمن نیسي همدوی ته فریادونه کوي اوپه سختیواومشکلاتو کې دوی ته په زاریواخته وي،دوی دخپلې مدعادثبوت په خاطر په ځینوبې سنده روایاتواستدلال کوي چې له قران عظیم الشان سره په ټکردي داځکه چې په تکویني چاروکې له الله تعالی سره هېڅوک شریکان نه دي اوکچېرې یې ثبوت ومنل شي نوله دوی ځخه په تشریعي چاروکې مجددین مراد دي چې له دین ځخه دوړې او ګردونه لېرې کوي اوددجالانو اوګمراهانوناوړه شبهاتوته مثبت ځواب وایي.

۲ : ډېر ناپوهان پردې باورلري چې داولیاءو اوصالحانو روحونه ددوی ترمړینې وروسته تصرف کوي ناروغانو ته روغتیا بخښي اوخلکو ته اولادونه ورکوي همدغه باطل فکرډېرجاهلان په قبر پالنې اخته کړي دي له قبرونو طوافونه کوې ختې اوخاورې یې ځټې

۳ :له پېریانو وېره اوورته فریادونه اوهغوی ته نذرونه وړاندې کول چې دغه ټولې چارې دالله تعالی په ربوبیت کې دپېریانوشریکول دي

۴ : دالله تعالی دطاعت پرخلاف دځینو مشایخوتقدیس دهغوی اطاعت اوددوی دبدعاتومنل او پردې اعتقاددرلودل چې دوی په پټو اوښکاره وپوهېږي چې همدغه مطلق تسلیم اوانقیاددالله تعالی په ربوبیت کې شرک ګڼلی شي

۵ :نامسلمانوحاکمانوته بشپړه تسلیمي اودزړه په مینه دهغوی دقوانینو منل دالله تعالی په ربو بیت کې دشرک ځرګنده ننبه ده

همدغه په اسلامي امت کې دربوبیت په توحید کې دشرک یوځوننبې دي چې سترلامل یې له دین نه لېرې والی اودالله تعالی په عظیم الشان پیغام قران اونبوي سنتوجهل اوناپوهي ده

دالوهیت توحید دربوبیت اوداسماءو اوصفا تودتوحید ثمره اونتیجه ده معناداچې په عبادت، بندګۍ اوحاکمیت کې دالله تعالی یوازې کول اودالله جل جلاله نه پرته دنورو معبودانوله بندګۍ نه ځان ساتل دالوهیت توحیددی نو پردې اساس دالوهیت په توحید باوري انسان نه ملک، نه پېري، نه پیغمبر، نه شیخ، نه موراوپلار، نه حاکم اوواکمن ته په عبادت لاس پورې کوي

د الوهیت د توحید غوښتنه

دالوهیت دتوحید غوښتنه دالله عبادت اوبندګي ده، عبادت جامع اهر اړخیز لفظه دی ټولوهغو اعمالو اووینا وته شاملېږي چې الله تعالی پرې خوشالېږي په پورتني تعریف کې عبادت دانسان دبدن درې برخوته شاملېږي ۱ : قلبي (دزړه) ۲: لساني (دژبې) ۳(داندامونو)

- **قلبي عبادت**

لکه وېره، هیله، مینه، توکل اوبروسه، انابت(رجوع)اواخلاص

- **دژبې عبادت** :

لکه تسبیح، تکبیر، تهلیل، ثنا اوستاینه اودعا

- **داند امونو عبادت**

لکه لمونځ ،روژه زکات حج نذرفی سبیل الله جها ،صله رحمي، امربالمعروف اونهی عن المنکر دالله جل جلاله اوبندګانو دحقوقوساتنه اودالله جل جلاله دښېړقانون حاکمیت په پورتنیوشیانوکې دالله سره هېڅوک نه شریکول دالوهیت دتوحیدڅخه عبادت دی البته عبادت درې ترکیبي اجزاء لري

۱:محبت ۲:طاعت ۳: تعظیم

محبت اواطاعت په معرفت سره رامینځته کېږي دزیاتروتش په نامه مسلمانانوالله تعالی سره پېژندګلوی نشنه نوزیاته افراددالله تعالی په بغاوت اوسرکشۍ اخته دي یوازې لاس په نامه ږدي اودعبادت شکل اوصورت جوړوي مثال یې هغه نوکر ته ورته ده چې خپل بادارته تشه سلامي کوي امر منلو ته یې تیارنه وي نو دالوهیت دتوحید بنسټ یوازې الله تعالی ته په په ښکاره اوپټه توګه دبندګۍ په خالص ګرزولوسره ایښودل شوی دتوحیدسپېڅلې کلمه دالوهیت

دتوحید بشپړه څرګندونه کوي داچې دالله تعالی څرنګه بندګي اوعبادت وکړای شي په همدې خاطر يې اسماني پيغامونه نازل کړي دي نوټول عقايد عبادات اودمعاملاتو رواوناروادجرايموسزاګاني،دجګړې اوسولې اودنړۍ وال سياست قواعداواصول دوحې په وسيله ترلاسه کېږي نو پرهمدې اساس دالوهيت توحيددټولو پيغمبرانوددعوت محوردټول دين اساس اوبنسټ اودنجات يواځينی وسيله ده دپيغمبرانواودهغوی دولسو نو ترمينځ داختلاف اصلی ټکی دالوهيت توحيد وو

دالوهيت په توحيد کې دشرک اثار او ننې

الله تعالی دلوړ ذات اولوړوصفاتوڅخښتن دی ذات يې کامل اوصفات يې کامل دي په اسلامي امت کې اوس مهال دالوهيت په توحيد کې دشرک اثار اوننې په لاندې توګه دي.

۱ - څوک چې دالله تعالی داسماء واوصفاتو نه انکار وکړي اويايې په تعطيل اوتشبيه باوري وي معنا داچې له الله تعالی نه صفات نفی اويايې دمخلوق دصفاتوپه شان وبولي نوپه يقني توګه دغه شخص دايمان له دايرې څخه وتلی دی.

۲ - هر څوک چې دبل چا په ربوبيت اوالوهيت معتقدوي کافر بللی شي داسماني کتاب تو هين دپيغمبر انو سپکاوی او کاريکاتوروبستل په قضاوقدر،په اخرت،جنت اودوزخ پورې ملنډې وهل کفر ګڼل کېږي په اسلامی هېوادونوکې زياتره زنادقه پيغمبران توهينوی اوهم اسماني پيغام قران عظيم الشان ترپښولاندې اچوي.

۳ - دالله تعالی دقانون نه پرته په بل قانون پربکړه کول اوپه بل نظام خوښی اورغبت کفر دی په زياترو اسلامي هېوادونو کې په بشپړې مينې سره ځينې خلک دانګلستان،فرانسې،روسيې اوامريکاقانون ته ترجيح ورکوي اسلامي قانون ته دزاړه اوفرسوده قانون خطاب کوي.

ډېرتش په نامه مسلمانان دکفري ډلواواحزابو غړي دی او پرې ويارې اوخپل ځان مسلمان هم بولي

۴ - له غيرالله سره مينه چې الله تعالی پرې حکم نه وي کړی په همدې توګه دحاکمانو چارواکو اودنيا سره محبت کول چې دالله تعالی په معصيت منتج شي شرک ګڼل کېږي

۵ - دغیر الله څخه وبره اویایې تعظیم اودرناوی اوورته سرتیټول اوالله تعالی دطاعت پرخلاف یې او امرو ته غاړه ایښودل شرک دی ډېر وګړي په دغه رنځ اخته دي

۶ - له الله تعالی نه پرته بل چاته هیلې اوامیدونه ګمراهي اوشرک ګڼل کېږي

۷ - دالله جل جلا له څخه پرته بل چاته انابت اورجوع کول باطل اودشرک داثاروڅخه دی

۸ - داندامونو عبادات قولي اوبدني ته شاملېږي ټول بدني او قولي عبادات به الله جل جلاله ته خا لص ګرزوې لکه لمونځ، رکوع، سجده روژه، ذبحه(قرباني)،دبیت الله طواف،نذر،استغفار تحمید ، تسبیح اوتهلیل(الحمدالله،سبحان الله اولااله اله الله)ویل لازمه ده چې دغه ټول عبادات الله جل جلاله ته خاص کړی شي البته چاچې یوله دې شیانو څخه له ا لله تعالی نه پرته بل چاته وګرزول نوپه یقینی توګه یې په شرک لاس پورې کړقران عظیم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې فرمایي

﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُۚ وَمَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلَٰلَۢا بَعِيدًا ﴿١١٦﴾ ﴾

۹ - غیر الله ته رکوع اوسجده دپېرانو په پښو کې سرایښودل دقبرونو پروړاندې ذبحه اوقرباني.دزیارت په نوم نذر شرک ګڼل کېږي دغه چارې په څرګند ډول په قبرپرستو اوپیرپرستوقامونوکې په خپلو ستر ګوو ینوچې خپل مذهبي مشران دمعبودپه حیث ګڼي په غیبویې پوه بولي دخیراوشرواکمن یې ګڼي په پښو کې یې پرېږدي با مېړ هم پرې خوشاله وي

۳: ډول داسماء و اوصفاتو توحید

لنډ مفهوم یې

په دې خبره ټینګ باور درلودل چې الله تعالی دکمال دټولوصفاتو څښتن اودټولوعیبونو څخه پاک دی هغه صفتونه چې الله تعالی خپل ځان ته ثابت ګرزولي اوپه قران کریم اوښوي سنتوکې ذکرشوي دالفاظواومعناګانوله تحریف،تعطیل اویادځینوپه نفی اودکیفیت په تحدید اودمخلوقاتوله صفاتو سره له تشبیه نه پرته یې منل دي

داسماءو اوصفاتو د تو حید بنستونه

۱ – دمخلوق دصفاتوله مشابهت نه پرته دالهي صفاتو منل دالله تعالی دذات په څېرهېڅ ذات اونه يې دنوم په شان هېڅ نوم اونه يې دافعالو اوصفاتوپه شان افعال اوصفات شته دالله اودمخلوق دصفاتوتر مينځ يوازې لفظي اشتراک دی ذات يې ازلي اوصفات يې ازلي دي

۲ – موږ ته لازمه ده چې الله تعالی ته هغه اسماء اوصفات ثابت کړو چې په قران کريم اونبوي سنتوکې يې يا دونه شوې ده نو پردې اساس دالهی صفاتواواسماء ودثبوت بنسټ وحی ده

دالله لـه مخلوقاتوسـره دالله تعـالی دصـفاتو پـه مشـابه ګرزولو، پـه قـران اوسنتودثابتوصفاتوڅخه پـه انکـا ر اوپـه تشـبيه اوتمثيـل بـاور درلودلـو سره يو شخص کافر ګرزي

۳ : دالله تعالی په منصومي اسماءو اوصفاتو دکيفيت اوحقيقت له معلومو پرته يقين درلودل مثلا داستواء په باره کې دپخوانيوعلماء ومسلک داؤچې استواء معلو مه ده کيفيت يې مجهول دی ايمان پرې واجب دی اوپوښتنه يې بدعت ده

حقيقت دادی چې دصفت په کيفيت پوهه دموصوف په کيفيت پوهه لازموي ځکه چې صفت دموصوف تابع وي نوسمع، بصر، کلام، نزول اواستواء نفس الامري حقايق دی دالله ذات کامل اوصفا ت يې کامل دي ځنګه يې چې دشان سره مناسب وي دالله تعالی صفات به له تشبيه تعطيل، تکيف، بدلون اوتاويل څخه پرته منئ

دالله تعالی صفات

دالله جل جلا لـه سپېڅلی ذات چې دکاينـاتو پيداکونکی دی دربـو بيت دښپړې، غوښـتنې پراسـاس دنېکواولوړوصفاتوڅښـتن دی اوپـه خپلوصـفاتوکې واحد اولا شريک دی

دالله تعالی دصفاتو ډولو نه

دالله تعالی صفات په دووبرخو وېشل شوي دی

۱: ثبوتي ۲: سلبيي

۱: ثبوتي صفات : هغه دي چې الله تعالی ته ثابت دي چې څوک دې الله تعالی ته په ثبوت باوري نه وي مومن نه ګڼل کېږي

دثبوتي صفاتو ډولو نه

۱: **ذاتي**

۲: **فعلي**

۱- **ذاتي صفات** :هغه دي چې دالله تعالی دسپېځلي ذات څخه نه جلاکېږي لکه علم،حیات،قـــدرت، سمع،بصـــر،مخ،کلام،ملک،قدم،عظمت،غناء،رحمت اوحکمت

دځینو ذاتي صفا تو شرحه

۱- **قدرت**

الله تعالی قادر اوتواناذات دی اودهېڅ یوکار دکولو څخه ناتوانه نه دی موجوده نړۍ ددومره عظمت سره دهغه دستراولوی قدرت ننبنه ده دهغه بې اندازې قوت دومره دی چې هروخت وغواړي اراده وکړي کولی شي ټول موجودات پناه اوبیایې پیداکړي،په اسمانونو،شپې،ورځې،لمر اوسپوږمۍ ژوند اومرګ کې لږسوچ اوفکرموږدالله تعالی سترقدرت ته متوجه کوي

۲ - **اراده** :

الله تعالی چې څنګه وغواړي دخپلې غوښتنې سره سم په نړۍ کې تصرف کوي

۳ - **علم** :

الله تعالی په هرشي عالم دی برابر ه خبره ده که هغه له ماضي،حال اومستقبل سره اړیکه ونیسی دالله په سپېځلي ذات کې جهل اوناپوهي ځای نه لري دهغه پوهه په زمان اومکان پوري مقیده نه ده بلکې دټولوشیانوپه جزئیاتو اوکلیاتوعالم دی موجوده نړۍ یې په ځانګړي نظم سره دبې انتهاعلم روښانه دلیل دی

۴- **ژوند** :

الله پاک ژوندی اوژوند دهغه ذاتي صفت دی تل ؤ تل دی تل به وي دحیات صفت یې مطلق دی هېڅوک یې په اصلي حقیقت دنورو صفاتو په شان نه پوهېږي حقیقت دادی چې دنړۍ وجود دتلپاتې او همېشه ذات نه پرته امکان نه لري

۳- **کلام**

الله عزوجل متکلم دی څنګه یې چې دشان سره مناسب ده الله پاک دغه صفت په قران کریم کې خپل ځان ته ثابت کړی.

۴- سمع اوبصر

څرنګه چې الله تعالی اورېدونکی دی لیدونکی هم دی لیدل اواورېدل یې هراړخیزاوشامل دي څنګه یې چې له شانه سره منا سب دي زمونږ پرې په غیبوایمان دی

۲ - فعلي صفات

فعلي صفات هغه دي چې دالله تعالی ترمشیت قدرت،استواء،نزول،تللو،خندااوخوشالی تدبیر، غضب،رزق،ژوندي کولواومړه کولو،عزت اوذلت پورې اړیکه نیسي لازمه چې دهغې دمعناپه نظر کې نیولوسره چې دالله تعالی دشانه سره مناسب ده ایمان ولرو

دالله تعالی سلبي صفات

سلبي صفات هغو صفاتو ته ویل کېږي چې الله عزوجل ته ته ثابت نه دي ثبوت یې دکفر لامل ګرزي لکه ړوندوالی،کوڼ والی جهل اوناپوهي،لوړه اوتنده فساد،بخل ناتواني،رنځ اوتکلیف،اوداسې نور مونږ یو لنډ جدول دځینو ثبوتي اوسلبي صفاتو وړاندې کوو

ګڼه	ثبوتي صفات	سلبي صفات
۱	وجود	عدم او نشتوال
۲	ازلیت	حدوث اونوی رامنځته کېدل
۳	بقاء	فناء
۴	پخپل ذات قایم	بل چاته اړ
۵	وحدانیت	تعدد
۶	علم	جهل
۷	ژوند	مرګ
۸	اورېدل	کوڼ توب
۹	لیدل	ړوندوالی
۱۰	کلام	ګونګ توب
۱۱	حکمت	ناپوهي
۱۲	اصلاح	فساد

۱۳	قدرت	ناتواني
۱۴	سخا	بخل
۱۵	له تکلیف اورنځ نه پاکي	تکلیف او رنځ
۱۶	له خوړ ک اوځنباک نه پاکی	خوراک خنباک
۷	سور اویلار نه پاکي اوسپېځلتیا	مور ویلار ورته ثابتول
۰	سهرمن څخه سپېځلتیا	دمهرمن ثبوت
۱	حوی او لورنه پاکي	داولاد او لورثبوت
۲۰	له شریک نه پاکوالی	دشریک ثابتول
۲۱	دقهري شفاعت نه ثبوت	دقهري شفاعت ثابتول
۲۲	عزت	ذلت
۲۳	نه ستومانی	ستومانی
۲۴	ژوند	مړینه
۲۵	عدل	ظلم
۲۶	قدرت	بې واکي
۲۷	دسیال نه شتون	دسیال شتون
۲۸	دمکان اوزمان داحتواء څخه پاکوالی	مکان اوزمان ورته ثابتول

د توحید مراتب

ځینو پوهانو په دغه مسئله کې تفصیلي بحث کړی اوتوحید یې لاندې مراتبو ته وېشلی دی

۱ذات توحید (۲) دصفاتو توحید (۳) دخالقیت توحید (۴) دربوبیت توحید (۵) دحاکمیت توحید (۶) داطاعت توحید (۷) دتشریع اوقانون توحید (۸) دعبادت توحید ،موږ به په لنډه توګه هریو راوپېژنو .

۱-دذات توحید : معناداچې الله تعالی په خپل ذات کې بی ساری اوبې سیاله دی داخلاص په سورة کې دتوحید ددغې برخې بشپړه څرګندونه شوې ده.

۲-دصفاتو توحید : معناداچې الله تعالی دکمال اوجمال دعلم،قدرت اوتلپاتې ژوند په صفاتو متصف دی اوپه دې کې ورسره هېڅوک شریک نه دي .

۳ – دخالقیت توحید :معناداچې په ټولوکاینناتوکې دالله تعالی نه پرته بل څوک دکاینناتو موجداوخالق نشته دغه حقیقت په عقلي دلایلو استواردی

۴ : دربوبیت توحید :معناداچې خیراوشر اودټولوکاینناتوتدبیر یوازې دالله تعالی په لاس کې ده په دې کارکې ورسره هېڅوک شریکان نه دي.

۵ - دحاکمیت توحید :معناداچې تکویني اوتشریعي حاکمیت یوازې الله تعالی لره ثابت دی ټول کاینات دالهي قواعدواوقوانینوترواکمنی لاندې دي دلمر،سپوږمی اوځمکې خوځښت دکاینناتو منظم نظام دالله تعالی ترواکمنی لاندې چلېږي دلته هېڅ یوه پېښه په خپل سرنه ده په همدې توګه دانسان په ارادې برخه کې دښواوبدو لارښود دخیراوشردحلالواوحراموواکمن اله دی په دې کارکې ورسره هېڅوک شریکان نه دي.

۶ – دتشریع توحید :معناداچې هېڅوک په اسلامي ټولنه کې دازادتقنین صلاحیت نه لري قوانین به داسلامي شریعت په رناکې جوړېږی

۷ – داطاعت توحید :معناداچې دلته به دالله حکم په حاکم اومحکوم په امراومامورپه شتمن او نیستمن په ټولوبه یوشان جاري وي دمشرانواوامربه هلته دمنلو وړ وي چې دالهي قانون سره سمون ولري.

۸ – په عبادت کې توحید :له دې څخه مطلب دادی چې محبت،اطاعت،بندګي اوتعظیم به یوازې الله ته کېږي په دې حق کې له الله تعالی سره هېڅوک شریکان نه دي.

دتوحید دعقیدې دټینګښت وسایل

- دطاعت اوعبادت سره مینه
- دګناهونوڅخه ځان ساتنه
- په کاینناتوکې تفکراوتدبر
- دالله تعالی داسماءواوصفاتو پېژندل
- علم اواستقامت اودعوت
- دقران کریم لوست اوپه معنا کې یې فکر اوتدبر
- دفرایضو اونوافلو سرته رسول
- دالله تعالی ذکر

- د الله تعالی په نعمتونو کې تدبر
- د الله تعالی پرواندې عاجزي
- دشپې دتهجد ولمونځ او د الله تعالی سره کوښه راز اونیاز
- دښو خلکو سره ناسته اوولاړه
- له کینې، کبر او عزور څخه دزړه لامتیا
- په نعمتونو شکر اوپه غمونو صبر
- دګناهونو دارتکاب په مهال الله تعالی ته رجوع کول
- دژوند په ټولو چاروکې دپیغمبر صلی الله علیه وسلم پیروي
- فی سبیل الله جهاد
- حلاله روزي
- په ښو کارو امر اودبدو مخنیوی

دپنځم څپرکي دموضوعاتو لنډیز

۱ - توحید د اسلامي عقیدې اساس دټولو پیغمبرانو ددعوت محور او د اسلام دعمارت مرکزي ستن ده

۲ - توحید دانسانانو اعتقادته ویل کېږي

۳ - دکلمې طیبې لومړۍ برخه د الله تعالی دتوحید اعلان دی

۴- په لغت کې دیوشي اختصاص اویوازي ګرزولو ته وایي

۵ - په شرعي اصطلاح کې په ربوبیت، الوهیت، اسماءواوصفاتوکې د الله تعالی اختصاص ته توحید وایي

۶ - دتوحید شرطونه :ایمان، یقین، قبول، اخلاص، محبت اومینه

۸ - دتوحید اهمیت :توحید دانسانانو اویېریانو دتخلیق مقصد، دبشرله غلامۍ څخه خلاصون دفتحې اوغلبې وسیله دټولواسماني پیغامونو دنزول موخه، له عذابونو دخلاصون ذریعه دنېکو اعمالو دقبولتیااوپه قیامت کې دشفاعت لپاره اساسی شرط دی

۹ – توحید دری ډولونو ته شاملېږي ـ دربوبیت، الوهیت، اسماء واوصفاتو توحید

۱۰ – ربوبیت توحید پردې خبره باور درلودل چې الله تعالی دبندګی نویوائښنی خالق، مالک، رازق، دمرګ اوژوند بخښونکی اودفریاد اوربدونکی دی

۱۱ – درسول الله دبعثت پرمهال عرب قام دالله تعالی په ربوبیت قایل ؤمګر په الوهیت کې یې له الله تعالی سره شریکان نیول

۱۲ – په اوسنی وخت کې په اسلامي امت کې دربوبیت دشرک اثار داقطابو اوابدالو په نوم په کایناتو کې دتصرف عقیده داولیاءو اوصالحانو ترمړینې وروسته ددوی دارواحوپه تصرف باور ناروغانوته شفا اواولادونه ورکول له پېریانو وېره، فریاد، اوو رته نذرونه وړاندې کول دالله تعالی دطاعت پرخلاف دځینو مشایخو په تقدیس باور، نامسلمانوحاکمانوته بشپړه تسلیمي اودهغوی دلاډینه قوانینو منل په اسلامي امت کې دربوبیت دشرک ننبې دي.

۱۳ – دالوهیت توحید په عبادت اوحاکمیت کې الله تعالی یوازې کول دالوهیت توحید دی

۱۴ – عبادت جامع لفظ دی تولوهغواعمالو اووینا ءو ته شاملېږي چې الله تعالی پرې خوشالېږي

۱۵ – عبادت دانسان دبدن درې برخو ته شاملېږي قلبی، لسانی، دجوارحو اندامونو)

۱۶ – دعبادت ترکیبي اجزاء محبت، طاعت اوتعظیم دي.

۱۷ – دپیغمبرانو اوولسونو ترمینځ داختلاف اصلي ټکی دالوهیت توحید ؤ

۱۸ دالوهیت دتوحید غوښتنې ایمان، محبت، وېره، هیله اورغبت، انابة (الله تعالی ته رجوع) کول دي

۱۹ - دالوهیت په توحید کې د شرک اثار اونبني دالله تعالی دصفاتو څخه انکار اویایې په تعطیل اوتشبیه باور درلودل، داسماني کتاب توهین دپیغمبرانوسپکاوی په قضااوقدرجنت اودوزخ پوري ملنډې وهل.له اخرته انکار.دالله تعالی له قانونه پرته په بل قانون پرېکړه کول په بل نظام خوښي اورغبت اسلامی قانون ته دفرسوده اوزاړه نسبت کول له غیرالله څخه وېره اوتعظیم، هیلې اوامیدونه بل چاته سجده، ذبحه، نذر، دپیرانو په پښوکې سرایښودل دقبر پرورانديې ذبحه اوسجده، دزیارت په نوم نذر شرک ګڼل کېږي

۲۰ دتوحید مراتب:

ذات، صفاتو، خالقیت، ربوبیت، حاکمیت، طاعت، شارعیت اوعبادت دي.

داسماءو اوصفاتو دتوحید معنا داچې الله تعالی دکمال دټولوصفتونو یواځینی څښتن دی په قران کریم اونبوی سنتوکی چې دالله تعالی داسماءواوصفاتویادونه شوې له تحریف، تعطیل تشبیه اوتکیف نه پرته یې منل دي.

۲۲ - دالله تعالی صفات په دوولو وېشل کېږي ثبوتي اوسلبی ثبوتی هغه دي چې الله تعالی ته به یې ثابتوې اودغه بیا په دووبرخو وېشل شوي ذاتي اوفعلی ذاتي لکه علم، حیات، قدرت، سمع، بصر، مخ، کلام، ملک، عظمت، غناء، رحمت اوحکمت دغه صفات هیڅکله دالله تعالی څخه انفکاک نه مومي

فعلي صفات: لکه مشیت، استواء، نزول، پیداکول، روزي ورکول، مینه، غوسه، تدبیر

۲۳ - سلبی صفات هغه دي چې دالله تعالی څخه به یې نفی کوې لکه مړینه، مېرمن مور اوپلار اولاد شریک، سیال، تکلیف، ستومانی، ناپوهي، ظلم، غفلت، نسیان، پرکالي اوخوب دمکان اوځای احتواء اوداسې نور..

۲۴ – دمومن په زړه کې دتوحید دعقیدې دټینګښت وسایل طاعت اوعبادت سره مینه دګناهونو څخه ځان ساتنه، په کایناتو کی فکرد الله تعالی داسماءو اوصفاتوپېژندل علم، عمل، استقامت او د الله جل جلاله لورتیه دعوت دقران کریم تلاوت اوپه معناکې یې تدبر، دفرایضواونوافلو سرته رسول ذکر، عاجزي، تهجد استغفار دنېکانوخلکوسره صحبت، په نعمتونوشکر، صبر، انابت، دپیغمبرصلی الله علیه وسلم اطاعت، فی سبیل الله جهاد، حلاله روزي په ښوچاروامراوبدومخنیوي شامل دي.

لاندې پو ښتنو ته تشر یحي ځوابونه ووایاست

۱ :دتوحید لغوی اواصطلاحي معنا ولیکی

۲ – دتوحید شرطونه شرحه کړئ ؟

۳ – دتوحید اهمیت واضح کړئ ؟

۴ :دالوهیت دتوحید غوښتنې ولیکی

۵ – دربوبیت توحید راوپېژنی

۶ – دالوهیت توحید راوپېژنئ

۷ – داوسنی وخت کې دربو بیت په توحید کې دشرک اثاراوننې واضح کړئ

۸ – دالوهیت په توحید کې

۹ – عبادت راوپېژنی

۱۰ – دعبادت ترکیبي اجزاء عبادرت دي له ...

۱۱ -دمکې دمشرکانواورسول الله صلی الله علیه وسلم ترمینځ داختلاف اصلي تکی ...

۱۲ – دالوهیت دتوحید غوښتنې ولیکئ

۱۳ – دمئو من په زړه کې دتوحید دعقیدې دټنګښت وسایل ولیکئ

د کورنی دنده :

محصلین دې دسورةا لاخلاص، ایة الکرسي، دسورة الحشر وروستی رکوع اودشلمې پا ري لومړی رکوع حفظ اوله معناسره زده کړي

دشپږم څپر کي دمطالبو فهرست

لړليک

- دتصادف اومادي دازليت پو چه نظريه
- سريزه
- دمادپالودمعبودطبيعت اوانسان مقايسه
- درامينځته کېدولامل يې
- نړۍدالحادي تصورپه تياروکې
- نړۍداسلامي نړۍليدپه رڼاکې
- دکاينناتودپيدايښت په هکله نوی ساينس اوقران عظيم الشان
- دسترانفجاردنظريې تاريخچه
- قران عظيم الشان اودکاينناتوپيدايښت
- دکاينناتودپيدايښت په هکله نوی ساينس
- دتصادف دغيرعلمي نظريې دردلايل
- دانسانادراکي ځواک

شپږم څپرکی
د تصادف او دمادې دازلیت پوچه نظریه

سریزه:
دشلمې پیړۍ ترپیلې پورې ساینس پوهان دنیوټن اودکارت په نظریاتو منکي ؤکاینات اوفضایې ساکنه،بې نهایته اوازلي ګڼله باوریې درلودچې دمادې خپرې ذرې له ازله په فضاکې دتکامل په حال کې دي دهمدغو پوچو اوناسمو نظریاتوپه نتیجه کې ماټریالستانو ماده پرشعور مقدمه وګڼله دکاینناتو دقیق نظام ماده پال وګړی دېته اړ کړي دي چې دکاینناتو په ستر ځواک اعتراف وکړي دوی دغه ستر ځواک دطبیعت په نوم یادوي کله چې له دوی څخه د کاینناتو داسرارو په هکله پوښتنه وشي نواریان ولاړ وی اووایي طبیعت

دکارل مارکس اوانګلز په څېراشخاص چې ساینس پوهان هم نه ؤدغه ساینسي نظریات یې دخپلې مدعاداثبات لپاره په کارول اوباوري ول چې دغه کاینات هېڅ خالق نه لري ماده پخپله ازلي اوابدي ده دکاینناتوشتون بې تصادفي باله اوویل به یې چې موږ طبیعت پیداکړی یوله هېڅ نه پیدایو،ژوندموبې هدفه اودهېڅ په لوري درومو نوژوند = هېڅ = پوچ = هېڅ

اوس پوښتنه دادی چې بنه نوطبیعت څه شی دی؟طبیعت همدغه محسوسه نړۍ ده لکه لمر،سپوږمۍ،ستوري،ونې کانې،هوا،کانې،نباتات،حیوانات اوبه،سمندرونه اوداسې نور...ماده پال وګړي پردې باور دي چې انسان دکیمیاوي تعاملاتوپه نتیجه کې مینځته راغلی دی اودغه تعاملات په تصادفي ډول سرته رسیدلې دي

موږبه په دغه بحث کې دطبیعت اوانسان ترمینځ مقایسه وړاندې کړواو هم به ددغه پوچ فکرپه اساسي لامِلونوخېړنه وکړو.اوبیابه دنیوټنې او

دکارتي فلسفې په نیمګړتیاءو اودکاینات دپیدایښت په هکله دنویو ساینسي نظریاتو او قران عظیم الشان ترمینځ توافق ته اشاره وکړواوبیا کې به په معقولو دلایلو دتصادف په پوچه اوغیرمنطقي نظریه دردلایل وړاندې کړو.

دطبیعت او انسان مقایسه

طبیعت خو له محسوسو کاینناتو څخه عبارت دی دماتریالستانو معبود ،طبیعت،نه عقل نه اراده اونه پوهه اوعلم لري

- انسان عقل لري = طبیعت عقل نه لري
- انسان علم لري =طبیعت علم نه لري
- انساناراده لري = طبیعت اراده نه لري
- انسان غوږونه لري = طبیعت غوږونه نه لري
- انسان سترګې لري = طبیعت سترګې نه لري
- انسان احساسات لري = مګرطبیعت احساس نه لري

قران عظیم الشان دمکې په بت پالو داسې نیوکه کړې ده هلته چې فرمایې

﴿ قُلۡ أَتَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَمۡلِكُ لَكُمۡ ضَرّٗا وَلَا نَفۡعٗاۚ وَٱللَّهُ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٧٦﴾ ﴾ المائدة:ژباړه:دوی ته ووایه، ایاتاسې له الله نه پرته دداسې شي بندګې کوئ چې نه تاسې ته دضررورسولوواک وس لري اونه دګټې؟ په داسې حال کښې چې دهرڅه اورېدونکی اوپه هرڅه پوهېدونکی خویوازې الله دی.

پر دې اساس ماتریالستان چې خپل ځانونه اکاډمیک اوپوهان هم بولي له جاهلو بت پالو بتر دی ځکه چې دوی دمادې هرې ذرې ته دالوهیت مقام ورکوي کاینات خودانسان دخدمت لپاره رامینځته شوي،لمر،سپو ږمی،ستورې، ځمکه،معدنونه،نباتات اوحیوانات دانسان دګټې لپاره پیداکړی شو ي دي قران

عظیم الشان دغه مطلب ته داشاري په ترڅ کې داسې فرمايي ﴿ أَلَمْ تَرَوْا أَنَّ اللَّهَ سَخَّرَ لَكُم مَّا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَأَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهُ ظَاهِرَةً وَبَاطِنَةً ۗ وَمِنَ النَّاسِ مَن يُجَادِلُ فِي اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَلَا هُدًى وَلَا كِتَابٍ مُّنِيرٍ ﴿٢٠﴾ ﴾ لقمان: ژباړه: ایا تاسې نه وینئ چې الله داسمانونواوځمکې ټول شیان ستاسې له پاره مسخرکړي. دي اوخپل ښکاره اوپټ نعمتونه يې پرتاسې تمام کړي دي؟ خوحال دادی چې له انسانانوڅخه ځینې خلک دي چې دالله په باب شخړې کوي بې له دې چې له هغوې سره څه علم وي، یا هدایت یاکوم روښنایئ ښودونکی کتاب.

موږ به دتېر تاریخ بېت پالوپورې خندل چې څومره ناپوه قام ؤ. غوا، پېشو، لمر، سپوږمی، ستوري، سمندرونه، سیندونه کانې اوبوتې يې په خدایي نیولی ؤ مګر ماتریالیستانو دمادې هره ذره په الوهیت ونیوله اودالله تعالی له وجود څخه يې انکاروکړ اودین يې دملتونو افیون وباله

درامینځته کېدو لامل يې

حقیقت دادی چې ددغه پوچ فکر درامینځته کېدو عوامل اواسباب چې په اروپایي ټولنه کې يې دالحاد اولادینه مسلک په خپرېداکې مرسته وکړه مهم يې په لاندې توګه دي !

- دکلیسا ددیني رهبرانو ظلم،
- ددین تحریف اوبدلون
- په غیرمعقول شکل خپل فکراونظرپه خلکوتحمیلول اوهغې ته مذهبي اودیني رنګ ورکول
- خلکوته ګناهونه بخښل اودجنت ټکسونه لیکل.
- په مسیحیت کې بت پالنه اوشرک راننوتل
- دکلیسااوعصري پوهانوترمینځ ټکر
- شهوت پالنه اوله دیني اوشرعي قیودوڅخه پرته ازاد ژوندسره دخلکومینه

یهودیانو دعیسي علیه السلام دوژلو تصمیم ونیو مګر الله تعالی ورته نجات
ورکړ اوژوندی یې اسمان ته پورته کړ ترهغه وروسته یې دهغه دملګرو په
تعذیبولولاس پورې کړ، بولس یهودي دنصراني دین داساس دې بره کښښوده بیا
پالنه، شرک موسیقي، ګډا نځا، زنا، سود خوړل اوشراب څښل یې دغه دین ته راته
کړل

په مینځنیو پېړیو کې داروپا یانو پرژوند کلیسا او دصلیب دیني شخصیتو
نو واکمني درلوده کلیسا خپلو مذهبي مشرانو ته له اندازې زیات واک ورو بخښلو
تردې چې دپاپ په عظمت اوله هر رنګ ګناه اوتېروتنې څخه یې دپا کوالي اعلان
وکړاوهم یې فرمان صادر کړچې ددوی داوامرو اوحکمونو مخالفت له کفر سره
ترادف لري داروپا وګړي څوپېړۍ چوپه خوله ناست ؤ دپاپ له رایې پرته
هېڅا دنظر وړاندې کولو حق نه درلودؤ دین یې تحریف کړ دپاپ وینا دالهي کلام
حیثیت درلوددا روپا وګړي دپاپ له لاسه ترسپو بړمو راغلي وو

دکلیسا مشرانو دوخت فلسفه په کتاب مقدس کې وردننه کړه هرکله چې په
شپاړلسمه پېړۍ کې ساینس پوهانو نظریات ورکول دپاپ له کتاب مقدس سره یې
سمون نه درلود دساینس پوهانو اوپاپ ترمینځ تکرر امینځته شو اوپه هغوی یې
دکفر فتوی صادره کړه دې لکه اود هرش زره ساینس پو هان یې په مرګ محکوم
کړل ددوی له جملې څخه یې دهرش زره ژوندی وسو زول.

تردې وروسته دکلیسا او دوخت دامپراتور پرضد پاڅون وشو دحریت او ازادۍ نارې
پیل شوې ولسونو اوساینس پوهانو ازادي ترلاسه کړه په اروپا کې صنعتي انقلاب
رامینځته شو دخلکو تولې پاملر نه عصري علومو لورته شوه ددوی پوهانو یه چې
هرخبره وکړه خلکو به پرې اعتماد اوباور کا ؤ.

دغسې ظالمانه، فاسد دتوکو او مسخروغیر معقول نصرانیت او دمسیحیت ظلم
اووحشت لبرالي، سیکولاریستي اوکمونستي تصورته دواکمنۍ زمینه برابره کړه
اوبشریتیې له انسانیت نه دحیوانیت ژورې کندې ته پرې وښت
دمارکسستانو، دېموکراتانو، سیکولر اولبرالو وګړولو یه اشتباه داوه چې اسلام یې
هم دمزخرفو، محرفو، غیرمعقولو دینونو په کتارکې ودرولو په داسې حال کې چې
اسلام نه غیرمعقول دین اونه دساینس ضد اونه محرف او نه دمذهبي رجالو په
انحصارکې قرارلري اونه داشرافو، سودخورو، محتکرینو په چوپړ کې دی اسلام

جلا اقتصادي نظام لري، اسلام اودلويديځ پانګواله نظام په يوه کتار کې درول ډيره لويه غلطي اوستره اشتباه ګڼل کېږي.

په اسلامي هېوادونو کې داسلامي حکومت غياب داسلام دحقيقي واکمنۍ سقوط، په ديني اوعصري علومو کې ډملتونواوحا کمانوناپوهي ،ګډوډي، نفاق، فقراوبدبختي اعتقادي اودیني خرافات، اخلاقي زوال ،اسلامي هېوادونوته دالحادي اولادينه افکارودرانتوبستوزمينه رابره کړه، ځوان نسل دالحادي څپوترانحصارلاندې راغی اسلام ته هم دکليسا دمزخرف اوتحريف شوي دين په سترګه وکتل شوه.

حقيقت دادی چې اسلام ددنياواخرت دروح اومادې دين دی دکليساله تحريف شوي اوتغيرشوي دين سره يې په يوه تله تلل معقول کارنه بربښي دائکه چې يوخودعيسی عليه السلام لاربښوونې په خپل حال پاتې نه شوې له بلې خوانصرانيت يواقليمی اوسيمه ئيز دين ؤهدايات يې دمؤقت وخت لپاره ؤپه داسې حال کې چې قران عظيم الشان نړی وال، تل پاتې پيغام او محمدصلی الله عليه وسلم ترقيامته پورې دټولې نړۍ دقاموتوددلاربښودپه توګه لېږل شوی دی.

اروپايان په دې پوهېږي چې اسلام دبشريت دټولوستونزودحل صلاحيت لري اويوازې دعربودين نه بلکې دټول بشريت دين دی دکرکې اوکينې له ملې يې دېرپخواپه صليبي جګړولاس پورې کړاوبيايې نولسمه اوشلمه پېړۍ کې زياتره اسلامي هېوادونه ترخپلې ولکې لاندې راوستل مګر وروسته چې اسلامي امت راوښې اودخپلې ازادی لپاره يې په کوښښونولاس پورې کړاو استعماري هېوادونه يې وتلوته مجبورکړل هغوی په دغه موده کې دزنادقه و، ګمراهانو، اولادينه خلکوڅپلې جوړې کړې ترازادی وروسته يې په اسلامي هېوادونوکې نظامي، عسکري اوملکي واک اختيارخپلونوکرانوته په ميراث پرېښود ،په اوسني وخت کې په اسلامي هېوادونوکې داخ اوډب ګډ وډۍ اودجګړوعمده لامل بې ديني اوداستعمارتالي څټې دي

نړۍ دالحادي تصورپه تيارو کې

الحادي نړۍ ليدماده پرستانه تصوری چې دالله جل جلاله وجود نفی کوي اوژوندبې هدفه بولي

- ماتریالیزم ژوند د دنیا ترژوندانه پورې محدود ګڼي
- ماتریالیزم انسان غیرمسئول بولي
- دغه طرز فکر دنړۍ وجود د تصادف پربنسټ ګڼي
- لنډه داچې دماتریالیزم فلسفه دادی چې له هېڅ نه پیدا یم ژوند مې پوچ اوبې هدفه هېڅ په لوري ځم

نوژوند ------ هېڅ ---------- پوچ -------- او هېڅ

دکایناتو پیدایښت د نوی ساینس اوقران په رڼا کې

په شلمه پېړۍ کې بشریت دیوه سترعلمي بدلون شاهد ؤ دزمکې فضاء او انسان په اړه ژوري څېړنې وشوې چې تردې وړاندې یې چاتصور هم نه شو کولی دهغود جملې څخه یوه دبیګ بینګ په نامه یاده شوه اوبله دعالم دسریع اومسلسل پراخېدو په اړه ده اودرېیمه یې دبلیک هول په نوم یاد ېږي داسې سترستر ستوري ومونډل شول چې دجاذبې قوه یې دومره زیاته وه چې نورورڅخه نشي وتلی

دلومړۍ نظریې په باب اوسني ساینس پوهان وایي چې دغه عالم دسترې چاودنې په ترڅ کې راپیدا شوی اسمانونه اوځمکه سره نښتي اویوه وړه کتله وه چې لویه چاودنه وشوه بیا وروسته عناصر اومرکبات پیدا شوه دغه نظریه پرتخمینونو ولاړه نه ده ددې لپاره په ۲۰۰۱ م کال داروپا ډېرمحققین راغونډ شول اوپه فرانسه کې یې دهمدغې نظریې پربنسټ دیوعملي تجربې کارپیل کړپه یوه تونل کې چې نیږدې دېرش کیلومتره ؤداسې نسبي شرایط برابرکړل چې دبیګ بینګ هغې چاودنې ته ورته چاودنه ترسره کړي د انشتاین دنسبیت فارمول اونویو نظریاتو لکه کوانتوم او تورم وضعیت په بشپړه توګه واړولو اودماده پالو ماتریالستانو اوکمونستانونظریاتواوافکاروته یې په رسمي توګه دپای ټکی کېښود

دلوی اوعظیم انفجاردنوې نظریې مطابق دغه کاینات تقریباشل زره ملیونه کاله پخواچې هېڅ شی نه ؤنه کهکشانونه،نه ستوري،نه لمر، نه سیارې ،نه ځمکه،نه سپوږمۍ اونه هېڅ یوسماوي جرم نه شهاب نه غبار نه هېڅ مالیکول او نه عنصر نه هیلیم ، نه هایدروجن نه کاربن او نه هېڅ اتوم نه زمان اونه مکان تردې چې فضاهم نه وه یوه کوچنۍ ذره چې ساینس پوهان یې دکایناتو نطفه بولي البرت انشتاین یې

له اتوم نه کوچنی ګڼي بلکې داتوم دهستې (۳۲) (۱۰) ملي متر يعنی يو ملي
مترچې په (..... ۱۰) برخو
وويشل شي يوه برخه يې دکاينات لومړی ذره وه ټول ساينس پوهان پردې متفق دی
چې ټول کاينات دهمدغې ذرې څخه دي په ملياردونو ځله له لمرنه توده نهايت
غليظه اوله کثافته ډکه وه ساينس پوهان همدغه چاودنې ته د ( ) نوم
ورکوي دکايناتوانسباط دنور دحرکت نه ډېرتېزژونورپه يوه ثانيه کې (۳۰۰۰۰۰)
کيلومتره مسافه طی کوي دغه حرکت (۵۲) (۱۰) ديوې ثانيې يعنې زرګونه
ميليونه ځله کم رامينځته شو دکاينات دتودوخې درجه دغه مهال
(۱۷۰۶، ۳۱۴، ۲۸۲، ۱۵۹، ۲۱۵، ۲۷، ۴۷۲، ۲۳۹، ۱۶۶) سانتی ګراده وه په
داسې حال کې چې دلمرهسته (۱۵۰۰۰۰۰۰) درجې سانتی ګراده تودوخه لري
دتودوخې درجه تدريجي کمېدله دځوساعتواوورځودکاينات وله عمره مادې يوتربله
فاصله واخيسته چې خلارامينځته شوه چې تراوسه دپرا ختياپه حال کې ده
دهايدروجن اوهيليم دتعامل نه دلومړي نسل ستوري تشکيل شوه دغه ستوري
ډېرغټ ژواوانفجاريې وکړکاربن، اکسيجن، سليکان، سلفراواوسپنه
دهمدغوستوروپه هسته کې تشکيل شوي دي

دستر انفجار دنظريې تاريخچه

دسترانفجاردنظريې دکشف افتخارساينس پوهان ښاغلي ا ډوان هبل
امريکايې ساينس پوه ته بخښې هغه په خپل مجهزتکلسوب سره
دکايناتوانبساط په ثبوت ورساؤ البته زيات بريالي مشاهدات په ۱۹۹۲ م
کال دناسادستلايټ په وسيله امريکايي ساينس پوهانو ديوګروپ په وسيله
سرته ورسول ددغومشاهداتونه وروسته ټولو ساينس پوهانو په بشپړاتفاق
سره دغه نظريه ومنله اونړی والورسنيو راواخيسته، ښاغلي ليون لدرمن چې
دوخت دلويوفزيک پوهانو دجملې څخه ده په خپل کتاب کې يې
دسترانفجارپه هکله څوکرښې داسې ليکلي دي.

په پيل کې دمادي نړۍ هيڅ شی نه ؤاوبيادکاينات وکېسه پيل شوه. په تاسف
سره بايدووايم چې ددغې کيسې دپيل په هکله موږسره معلومات نشته
ترډې چې کاينات دپوخوالي پراؤته ورسېدل بلکې ديوې ثانيې په

یوتریولینومې برخې کې انفجارپوخوالي ته ورسېداودکاینناتو حیثیت یې
خان ته ونیوهرکله چې دکاینناتو درامینځته کېدوپه هکله څه اوروایي
لولودیوځه په باره کې ژورفکرکوؤنورالله تعالی ښه پوهېږي چې په لومړی
لحظه کې څه پېښ شول.

قران عظیم الشان او دکاینناتو پیدا یښت

قران عظیم الشان دعالم دپیدایښت په اړه فرمایي ﴿ أَوَلَمْ يَرَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟
أَنَّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَٰهُمَا ۖ وَجَعَلْنَا مِنَ ٱلْمَآءِ كُلَّ
شَىْءٍ حَىٍّ ۖ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٠﴾ ﴾الأنبياء: ژباړه:ایاهغه کسان چې (د
پېغمبردخبرې له منلونه یې) انکارکړیدی غورنکوي چې دغه ټول اسمانونه
اوزمکه یوله بله سره نښتي وو،بیامونږدوی دواړه بېل کړل، اوله اوبونه
موهرژوندی شی پیداکړایاهغوی(زمونږدغه خلاقیت)نه منې؟

ددې مبارک ایات لاربښوونې دادي:

دغه مبارک ایات په ډېرصراحت سره وایي

- چې الله تعالی کاینات،ځمکه اولمرسره بېل کړل اواوسنی ښه یې
ورکړه د(رتق)معناپیوستون اویوله بل سره سره ننښتلدي الله تعالی سره
جلاکړل
- دژوودپیدایښت اساسي ماده اوبه دي ټول ژوي الله تعالی له
اوبوپیدا کړي دي
- دبېلبدوپرمهال به ځمکه سپوږمی اونورستوري داسې ځلاندؤلکه
لمر ځینوبه ورو ورو خپله رنا له لاسه ورکړي وي اورومروبه زموږ ځمکه له
نوروکاینناتودرابېلبدوپرمهال دلمرپه څېرګرمه اوسره وه بېرون برخه یې سړه
شوې مګرزړه یې لاهماغسې توداوګرم دی هومره تودچې هرڅه په کې ویلې
کېږي اوسني تحقیقات ښیي چې دځمکې دزړه تودوخه دساتني ګرېډپه حسا
ب څو زره درجې ده

دکاینناتو د پیدایښت په هکله دنویو ساینس پوهانو نظریات.

اوسني محققین اوساینس پوهان دکاینناتوپه هکله هماغه څه وایي چې څوارلس پېړۍ مخکې قران عظیم الشان ویلي دي ددې معنادادی چې قران کریم دالله جل جلاله وینااوکاینات دالله تعالی فعل دی دهغه جلت عظمة دوینااوفعل ترمینځ تکر نه وي

دسترانفجاردنظریې دکشف اود انبیاء دسورة دبرشم ایات داسلامي اوغیراسلامي ساینس پوهانوپام ځان ته راواړولو دري نیمې پېړۍ پخوادستوروعلماء وځمکه دکاینناتو جزء نه ګڼله بلکې ځمکه یې یوه لویه جلا جثه بلله اوتصوریې درلو دچې ټول کاینات دځمکې په محورځرخي قران عظیم الشان دکاینناتو ترځنګ ځمکه هم یاده کړې ده چې ځمکه هم حرکت لري ځمکه اواسما نونه ټول دکاینناتو مربوط دي.

له دې نه معلومه شوه چې ساینس غلطي کوي ساینس به دالله داسماني پیغام قران عظیم الشان پسې درومي له سترانفجارنه وروسته ددري دقیقو په جریان کې هایدروجن اوهیلم دعناصرولویه برخه جوړه کړه داځکه چې نن ټول ستوري اولمر دهمدغو دووغازونوهستوي تعاملاتو په نتیجه کې ځلېږي البته دسترانفجار نه لږ وروسته بشپړه فضا تشکیل شوه هغه مهال کهکشانونه،ستوري،سیارې،سپوږمکۍ اوهېڅ یوه سماوي کتله نه وه ټول عناصرچې زیات مقداریې هایدروجن اوهیلیم ؤ دګازي کتلو په بڼه ؤقران عظیم الشان همدغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې فرمایي ﴿ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ وَهِيَ دُخَانٌ فَقَالَ لَهَا وَلِلْأَرْضِ ٱئْتِيَا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا قَالَتَآ أَتَيْنَا طَآئِعِينَ ﴿١١﴾ ﴾فصلت: ژباړه:بیا هغه داسمانو خواته متوجه

شوچې په هغه وخت کښې محضې لوګی و .هغه اسمان او ځمکې ته وویل ((مینځ ته راشئ ، که تاسې وغواړئ اوکه ونه غواړئ)). دواړو وویل ((مونږ رامینځ ته شوو دفرمان منونکو په توګه

ددې نظریې څرګندونه چې کاینات ساکن نه بلکې دپراختیاپه حال کې دي یو لوی انقلاب رامینځته کړ همد غه فلسفي نظریې دقران عظیم الشان سره مطا

بقت درلود هلته چې فرمایي ﴿ وَٱلسَّمَآءَ بَنَيۡنَٰهَا بِأَيۡيْدٍ وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ

﴿٤٧﴾ الذاریات زباړه:اوآسمان مونږ په خپل قدرت سره جوړ کړیدی او مونږ د دې پراخه کوونکي یو.

امریکایې نامتوساینس پوه اډوان هبل دخپل مجهزتلسکوپ په وسیله خپل معلومات اعلان کړل اوهغه داچې کاینات دپراختیاپه حال کې دي ښاغلي هبل یوه شپه چې اسمان صاف وُپه خپل مجهزتلسکوپ سره دکهکشانونوننداره وکړه ګوري چې کهکشانونه یوله بل نه فاصله نیسي همدغه چټک انبساط دفرار دقوې په حیث دکاینا تو دلغزش مخه نیولې ده که نه تراوسه به د کاینا توجاذبې قوې اوهستوي قوې په کې سقوط کړی وای

قران عظیم الشان فرمایي ﴿ وَٱلسَّمَآءَ رَفَعَهَا وَوَضَعَ ٱلۡمِيزَانَ ﴿٧﴾

الرحمن زباړه اسمان یې اوچت کړ اوتله یې کښبودله.

د تصادف د پوچې نظریې د ،رد دلایل

دلته مونږ دکائناتو دقیق تنظیم په باره کې چې دتصادف دنظرله مینځه وړونکی دی یوځو مثالونه وړاندې کوو:

- دکاینا تو منظم نظام دتصادف نظر یه ردوي هېڅکله کېدای

نخې چې په تصادفي ډول په طبیعت کې د ۹۲ کیمیاوي عناصرو دجملې
څخه دې داوبو دجوړښت لپاره دې دوه اتومه هایدروجن او یو اتوم اکسیجن
انتخاب شی اوپخپله دې سره یوځای شي

- پروتین دژوندیو حجراتو اساسي مرکب او له پنځوعناصرو څخه
یې جوړښت مونډلی لکه کاربن ، هایدروجن ، نایتروجن ، اکسیجن ،
کبریت ،دیوې حجرې داتومونو شمېر ۴۰۰۰۰ ته رسېږي دتصادف دنظریې
پراساس دپروتین دجوړښت لپاره دسویسي ریاضي پوه چارلز یوګین
دمحاسبې پربنسټ (۱۰۲۴۳) یعنې لس په ۲۴۳ مېلیاردونو کلونه
په کارېږي له دې سره سره پروتین کیمیاوي توکی دی چې ژوند په کې شتون
نه لري مګر دغه دغیبي ذات دتدبیر نتیجه ده چې له مړو موادو څخه یې
ژوندی موجود جوړ کړ عقل ورته اریانېږي

- دهرنبات او حیوان ځلا جنیتکي جوړښت په علمي توګه
دتصادف نظریه ردوي

- همدارنګه په انسان کې د ۲۵ نه تر ۳۰ ملیاردو پورې سره
کرویات دي چې دفاعي ځواک تشکیلوي همدارنګه وینه متحرک حجرات
دي چې بدن ته په مناسب ډول غذایي توکي انتقالوي.

- په همدې ډول پوستکی دبدن دفاعي څارونکي ځواک او معده
په نړۍ کې ستره کارخانه او مغز سترتلفوني سنترال دی چې سل زره ملیونه
عصبي تارونه ورته راغلي دي

- که دلمرشعاع داوسني په نسبت دنیمایي په اندازلږې وای دځمکې
هرڅه به کنګل وای اوکه زیاتې وای دځمکې هر څه به ایره شوي وای.

- که په هواکې داکسیجن فیصدي د ۲۱ پرځای ۵ وای نوپه یوې برېښنایې
جټکې سره به ټول ځنګلونه سوځېدلي وای

- که په هواکې داکسیجن اندازه ۱۰ وای دځمکې پرمخ به انساني تمدن
شتون نه درلودای.

- که باران نه وای ځمکه به وچه صحراوای که با دونه اوسمندرونه

اوسیندونه نه وای نوپه څمکه کې به ژوند نه وای

- که اوبه تبخیر کېدای اوفراریې کولی اوله هوانه سپکې وای ژوندبه له سره شتون نه درلود
- که چېرې داتو م الکترونونه له پروتو نونو سره پیوست وای اوپه مینځ کې یې فاصله نه وای نو دځمکې کره به دیوې هګۍ په اندازه وای (
- _ که عناصرویوتربله سره پیوستون نه کولی نونه به خاوره وه نه به اوبه وې نه ونې اوبو تې نه حیوانات اونه نباتات
- که چېرې دځمکې پرمخ غرونوشتون نه درلودای نوځمکه به خوره وره شوې وای،غرونوځمکه دمېخونوپه څېرراتینګه کړې ده
- که دځمکی محوري حرکت په شپه اوورځ کې څلېرویشت ساعته نه وای یازیات اویاکم وای ژوندبه ممکن نه ؤ
- که دځمکې قشر (باندنی پوست) له اوسني مقدارڅخه پرېږ (ډبل) وای نوکاربن ډای اکسایډبه دځمکې دمخ تول اکسیجن خپل ځان ته جذب کړی ؤاوژوندبه نه ؤ.
- که دهو الورڅالی له اوسنی اندازې څخه ټیټ وای نودملیونونو په شمېر کې هغه شهابونه چې په خارجي هواکې له مینځه ځي یوه برخه به یې دځمکې له کرې سره ټکر کېد ای او دسو ځېد ورڅیز ونه به یې لمبه کول.
- که لمرخپلې نیمایي هغه شعاع چې لرې یې له لاسه ورکړي موږبه تول له یخه کنګل (منجمد) شواوکه دموجوده شعاع دنیمایي په اندازه پرې زیاته شي موږبه تول له حرارته په ایروبدل شو.
- که سپوږمی دموجوده واټن په بدل کې د ۲۰۰۰۰ ۱ میله په اندازه له موږڅخه لرې وای داوبومد (څپاندهتوب)به دومره قوت موندلی چې ځمکه به یې په ورځ کې دوه ځلې ډوبوله اوغرونه به یې له ببخه وبستلي وای
- که شپه لس ځلې له خپلې اوسنی اندازې نه اوږده وای نوداوړې سره

لمريه دځمکې دمخ ټول نباتات دورځې له خواسوځول اودشپې له خوابه ټول نباتات کنګل (منجمد) کېدل.

• که دسمندرونواوبه خوږې وای ټوله نړۍ به بدبويي په سراخيستې وه اودځمکې پرمخ به ژوندنه کېدونکی ژوندی هم دغه دډرياوبونومالګه ده چې داوبو دخرابېدو اوبدبويې مخه نيسي اوکه کلو رين له سودیم سره نه يوځای کېدلی مالګه به منځ ته نه وه راغلې، اوکه مالګه نه وای ژوندبه نه ؤ.

• که ډجاذبي قوانين نه وای نودذراتواجزاءبه نه ووسره يوځای شوي.

• که ځمکه دعطاردکرې غوندې وای چې يوازې يوطرف يې لمرته دی نوپه هغه طرف کې به چې تل ورځ وی اويا تل شپه چاژوندنه شوای کولی اوژوندبه په کې وجودنه درلوده.

• که چيرته ځمکه دلمرپه اندازه لويه وای دجاذبې قوه (۱۵۰) برابره لوړيده په دغه صورت کې بياپه ځمکه کې په هيڅ صورت دژوندشرايط نه برابريدل.

• که چيرې په اوبوکې اکسيجن نه وای ټول بحري حيوانات به تس نس شوي وای مګرحکيم ذات په اوبوکې دخپلومخلوقاتودژوندانه وسايل برابرکړه داکاريې موږته څرګندوي چې دغه کاينات دتصادف پربنسټ نه بلکې ديوحکيم ذات دارادې پراساس رامينځته شوي دي

• که چېرې نباتاتوکاربن ډای اکسايدنه اخستلی اوپه اکسيجن يې نه تبديلولی نوټوله فضابه ککړه شوې اودتنفس مجال به انسان ته نه ورکول کېدای مګردکاياناتوحکيم څښتن نباتاتوته دنده سپارلې ترڅوهغه هواچې انسان يې تنفس کوي اوپه کاربن ډای اکسايديې بدلوي په اکسيجن تبديل کړينود پورتنيودلايلوله مخې دتصادف نظريه باطله اومردوده ده،

• داتوم جوړښت دتصادف نظريه نفی کوي، اتوم يوماده ده چې

د ډ هرو کو چنیو ذراتو څخه داتوم په نوم جوړه شوېده چې په
ډ هرولو یو میکروسکوبونویې هم نه شولیدلای.

نوماته ووایاست چې ایا داټول شیان دیو پلان ، اندازې شامل تقدیر پر بنسټ رامینځته شوي نه دي بېله ستنو لورڅخه اسمان په خپل مدارکې په زرګونه ټر یولو نه ستوري اودهر ستوري سرعت ځمکه،وچه ، لمده غرونه ، خوړونه ، ویالې، سیند ونه دځمکې چارپېر ه دهواغلاف ، وریځې ، اوپو رته طبقات دځمکې لپاسه دنباتاتو ګڼ انواع، جوړ بنت اودنډ ې یې دسمندرونو اوسیندونوپه تل کې په زرګونه ډوله بحر ي حیوانات په زرګونه ډوله الوتو نکې دوچې حیوانات دبېلا بېلو رنګو نو انسانان دغه ټول دالله تعالی دقدرت ننبې دي . که چېر ې انسان په دغو خوروورواله ي ننبانوکې فکر اوتدبدوکړ ي دالله جل جلا له له عظمت څخه به یې بدن ولړزېږ ي دشپې اوورځې دقیق او منظم بدلون داوبومنظم تبخیراودباره راکو زېدل دغه ټول دعلیم اوخیر ذات دقدرت ننبې دي . قران عظیم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې داسې فرمایي ﴿ إِنَّ فِي خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَٰفِ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ وَٱلْفُلْكِ ٱلَّتِي تَجْرِي فِي ٱلْبَحْرِ بِمَا يَنفَعُ ٱلنَّاسَ وَمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مِن مَّآءٍ فَأَحْيَا بِهِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَآبَّةٍ وَتَصْرِيفِ ٱلرِّيَٰحِ وَٱلسَّحَابِ ٱلْمُسَخَّرِ بَيْنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ لَأٓيَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿١٦٤﴾ ﴾ البقرة:

دانسان ادراکي قوه

ډ هرکسان وایې که مور داومنوچې دکائناتو ترشاخالق شته چې الله جل جلا له دی نو ایادانشي کېدای چې مور یې په خپلوحواسو ووینو ؟ددې پوښتنې دځواب لپاره پکارده چې پوښتونکي ته دا رو ښانه کړوچې زمور دغه حواس چې دشاوخوا موجوداتودپېژندیې لپاره یوازینی لاره ده ډ هر واړه منافذ (سو ري)دي چې دکمیت اوکیفیت په لحاظ یې دفعا لیت ساحه ډ ېره محدوده ده دمثال په ډ ول

• فضاءله ډ هرواشکالوڅخه ډ که ده خوبیایې هم موږپه دې وجه نشولیدلی چې زموږدستر ګو(بصارت)څپې دهغوله څپوسره سمون نه لری.

• فضاءله داسې اوازونوڅخه ډ که ده چې موږدغوږونوداورېدوله سطحې نه ټیټ دی کېدای شي په ځانګړو الکترونیکي وسایلو سره یې واورو.

• کله چې زموږحواس دډ هروکوچنیوحسي شیانوله ادراک څخه چې نیژدې زموږپه شاوخواکې موجود دي عاجزدی څنګه به وکړی شی چې دماوراء طبیعت شیانو چې دقدرت له سترو عجائباتوڅخه دي احاطه وکړي نوله همدې ځایه پرانسان لازمه ده چې داثاروڅخه یې په وجود قایل واوسي

دپنځم څپرکي دمطالبو لنډیز

• دشلمې پیړۍترپیله ساینس پوهان دنیوتن اودکارت په نظریاتو متکي ؤ کاینات یې ازلي بلل همدغې نا سمې نظریې دمارکس اوانګلز په څېر اشخاصوته چې ساینس پوهان هم نه ول دخپلې مدعا داثبات دلایل په لاس ورکړل او څرګنده یې کړه چې ماده ازلي اوابدي ده معنا داچې ماده تل وه تل دی تل به وي ،دغه کاینات هېڅ خالق نه لري موږ طبیعت، پید اکړي یو انسان دکیمیاوي تعاملاتو په نتیجه کې رامینځته شوی اودشا دي له نسله ده اودغه ټول تعاملات په تصادفي ډول پخپله رامینځته شوي دژوند هدف خوراک څښاک اودشهوت پوره کول دي دوباره ژوند ون له سره شتون نه لري نو ژوند- هېڅ -پوچ- هېڅ

• دماده پالو دمعبود طبیعت اوانسان ترمینځ مقایسه داده چې انسان عقل لري دماده پالو معبود طبیعت عقل نه لري انسان پوهه اوعلم لري اوطبیعت علم نه لري انسان اراده لري ، طبیعت اراده نه لري انسان حواس لري طبیعت حواس نه لري ښه نوروند ،کوني طبیعت ته څنګه دالوهیت مقام بخښئ موږ به د تېر تاریخ بت پالو پورې خندلې چې څومره ناپوه قام ؤ لمر ، سپوږمۍ ، سیندونه کانې بوتې غوا، خوسي اوبو تان یې په الوهیت نیولي وو مګر ماتړ یالستان دمادې هر ې ذرې ته دالوهیت مرتبه ورکو ي دالله تعالی څخه انکارکوي اودین دملتو نو افیون بولي

- دتصادف دنظریې درامینځته کېدو لامل ،په اروپا کې دکلیسا ددیني رهبر انو ظلم ، ددین تحریف اوبدلون ،

خپلو نظریاتو اوفکاروته دیني رنګ ورکول ، خلکوته ګناهونه بخښل اودجنت ټکسونه ورکول ، په مسیحیت کې شرک اوبت پالنه راننوتل ، دکلیسا اوعصرې علوموډ پوهانو تر منځ ټکر ددې لکه اودهرش زروپوهانو وژل، شهوت پالنې اوازاد ژوند سره مینه اوله شرعي قیود اتو ازادي اوداسې نور.....

- نړۍ دالحاد دي تصورپه تیاروکې دادی چې ماتړ یالستان دالله جل جلاله څخه انکار کوي اوژوند بې هدفه

بولي ددنیا ژوند تصادفي ګڼي لنډه داچې دماتړ یا لهزم فلسفه داده چې له هېڅ نه پیدا –ژوند مې بې هدفه– دهېڅ په لوري ځم ځکه چې اخرت حساب اوکتاب نه منم

- نړۍ داسلامي نړۍ لید په رڼا کې، الله تعالی پیدا کړی یم دلته هر څه دهغه دحکیمانه کړنو په وسیله سرته رسېږي دکاینا توپه هره ذره کې یې دقدرت ننبې څرګندې دي دلته په کاینا تو کې موږ نظم او حکمت په ستر ګوګورو هرشی په یوه اند ازه اوپه یوه معین مقدار پیداشوي دکاینا تو څښتن علیم حکیم او خبیرذات دی یو لک څلېر وښت زره پیغمبر انو او الهي استازو یې معرفت بیان کړی ټول اسمانی پیغامونه یې په معرفت ډک دي او ټول ملتونه یې پېژني ژوندمې دیوستر هدف لپاره ده چې هغه له مرګه ددوباره ژوندون نه وروسته بله تلپاتې نړۍ ده دنیا اود نیوي سازاو سامان مې دژوند وسایل دي نه اهداف او موخې او له مرګه وروسته به دوباره دالله جل جلاله په لوري ورځم نو لنډه داچې الله جل جلاله پیداکړي یم +ژوند مې دستر هدف لپاره ده +او دوباره دخپل څښتن په لوري ورستنېږم

- دکاینا تو دپیدابښت په هکله نوی ساینس اوقراني ارشادات یو شان دي داځکه چې قران دالله تعالی کلام اوساینس دالله تعالی فعل دی نودالله تعالی دفعل اووینا تر مینځه ټکر نه وي که چېرې کوم ځای ټکر ولېدل شي نوهلته به ساینس اشتباه کړې وي ځکه چې دساینس بنسټ په تجربوده انساني تجربې خطاء کېږي په پای کې به دتحقیق نه وروسته له قران سره سمون پیدا کوي په شلمه پېړۍ کې بشریت دستر علمي بدلون شاهدؤو دځمکې ، فضاء اوانسان په اړه

ژوري څېړنې وشو ې چې يوه يې دبېګ بېنګ اوبله دعالم دسريع پراختيا او دريمه دبليک هول په نامه يادە شوه

• دستر انفجار دنظريې دکشف افتخار ساينس پوهان اډوان هبل امر يکايي ساينس پوه ته بخښي هغه په خپل مجهز تلسکوب سره دکاينا تو انسباط په ثبوت ورسا ؤ مګر زيات بر يالي مشا هدات په (۱۹۹۲ م) کال دناسا دستلا يت په وسيله دامريکا يې ساينس پوهانو يو ګروپ سرته ورسو ل نړ ى والو رسنيو هم راواخيستل په پاى کې بناغلى ليون ادرمن چې دوخت لوى فز يک پوه دى په خپل کتاب کې دستر انفجار په هکله څو کر ښې داسى وليکلې .

په پيل کې دمادي هېڅ شى نه وووروسته بيا دکاينا تو کيسه پيل شو ه اوستر انفجار سرته ورسېد اودغه کار ديوې ثا نيې دتر يو لو نمې بر خى په وخت کې ترسره شو په تا سف بايد ووايم چې ددغې کيسې دپيل په هکله مونږ سره هېڅ معلو مات نشته قران هم دکاينا تو دپيدا ايښت په هکله همداسې وايي ﴿ بَدِيعُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَإِذَا قَضَىٰٓ أَمۡرٗا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ١١٧ ﴾ البقـــــــــرة: ۱۱۷ ژباړه: هغه د اسمانونو او ځمکې هستوونکى دي او د کومې خبرې چې فيصله صادروي ، صرف دومره امر ورته کوي چې " شئ " نو هغسې کېږي اوسنيو محققينو دکاينا تو په هکله هماغه څه ويلي چې څو ارلس پېړۍ مخکې قران ويلي دي . دتصادف دپو چې نظر يې درد ،دلايل له حد اواندازې څخه بهر ون دي مګر مو ږ به دنمو نې په تو ګه دکاينا تو نظا م ته اشا ره وکړ و چې دتصا دف نظر يه ردوي .اوهغه داچې دکاينا تو ذره ذره دقيق نظام دى په دې کې لږ ه بې نظمې اوپه مقدارکې ګډوډ ي دتو ل نظام په خرابتيا منتج کېږ ي له اتوم نه واخله بيا تر لويو لويو کهکشا نونو پورې اوبيا له حجرې نه تر لويولويو حيو اناتو پورې تول ديو حکيم ذات دوجود غو ښتنه کوي دهر عنصر ببل ببل مدار اوتر کيب پخپله دانسان دبدن دقيق نظام دالله تعالى دوجو د ستر دليل دى پيغمبر انو هم چې دالله تعالى په وحدانيت استدلال کړى دکانياتو دنظام ببلا ببلې بر خې يې د ګواه اوشاهد په تو ګه وړاند ې کړي دي مونږ به دکا ينا تو ددقيق نظام لويو بر خو ته اشاره وکړ و -

۱ – که چېرې په هوا کې د اکسیجن سلنه ۲۱ وای نو بر ښنایي جټکې به ټول څنګلونه سو ځولي وای

که په هوا کې اکسیجن ۱۰ سلنه وای د ځمکې پر مخ به انساني تمدن نه ؤ

که باران نه وای ځمکه به وچ ډګر وای که باد ، سمندرونه اوسیندونه نه وای نو په ځمکه کې به ژوند نه وای که اوبه تبخیر کېدا ی اوله هوا سپکې وای ټولو به فرار کړی وای که چېرې داتوم الیکترونو نه له هستې سره پیوست وای نو د ځمکې کره به دهګې په څېر وای که عناصرو یو تر بله تر کیب نه موند لی نو هېڅ به نه وی

که غرونه نه وای ځمکه به خوره وره شوې وای که د ځمکې قشر دله اوسني مقدار ه ډبل وای نو کاربن ډای کسا ید به ټول اکسیجن جذب کړی وای که چېرې د هوا ارتفاع کمه وای هر ه ورځ به شها بونه ځمکې ته راتلل که د دلمر شعاع له اوسنۍ اندازې نه کمې اویا زیاتې وای ژوند ممکن نه ؤ که سپوږمۍ د مو جوده واټن نه ځمکې ته نېژ دی وای مداوجزربه زیات وای که دسمند راوبه خوږې وای ټوله ځمکه به بوی په سراخیستې وای که د ځمکې جا ذبه نه وای ژوند به نه و

که جاذبه زیاته وای هم ژوند به نه ووکه په اوبو کې اکسیجن نه وای بحر ي حیوانات به نه وای که نبا تاتو کاربن ډای اکسا ید نه جذبو لی ژوند به نه ؤ داتو م جوړښت د تصا دف نظر یه نفی کوې د انسان ادراکي ځواک ډېر کمز وری دی انسان خپله ، روح ، عقل اود فضاء ، بېلابیل اشکال نه ویني د مغنا طیس ، د ځمکې جا ذبه او په زرګونه ډېر شیان په ستر ګونه ګو ري مګر شتون لري

د پنځم څېرکې پوښتنې

۱ – س : د تصادف نظر یه لنډه شرحه کړئ

۲ – س : د طبیعت او انسان تر مینځ لنډه مقایسه ولیکي

۳ – س : په اروپا کې د دغې پو چې نظر یې درامینځته کېدو په اسبابو اولاملو نو تفصیلی رنا واچوئ

۴ – س : نړی دالحاډی تصور په تیا روکې لنډه شر حه کړئ

۵ – س : نړی د اسلامي نړی لید په رنا کې شرحه کړئ

۶ – س : د کاینا تو د پیدا ایښت په هکله د نو ي ساینس او قران ارشادات شرحه کړئ

۷ – س : په شلمه پېړۍ کې بشر یت د څه شي شا هد وؤ

۸ – س : د ستر انفجار د نظریې د کشف افتخار چا ته په بر خه ده

۹ – س : تصا دف د پو چې نظر یې د ردد لایل شر حه کړئ

۱۰ – س : د انسا ن په ادارکی قو ه رنا واچوئ

داووم څپرکي دموضوعاتوفهرست

لړليک

- دکاياناتونظام دالله تعالی دقدرت ستره ننبنه ده
- سريزه
- اسمان
- داسمان ستوري
- کهکشانونه
- دکهکشانونوشمېر
- سياه چال
- دستورومجموعي پراختيا
- زمورږدکهکشان دستوروشمېر
- دستوروحجم
- لمردالله تعالی دقدرت لويه عظيم الشانه ننبنه ده
- سپورږمۍ دالهي قدرت بله ننبنه
- ځمکه د الهي قدرت ستره ننبنه

اووم څپرکی

داسلامي نړۍ ليددبحث دويمه موضوع

دکاينناتونظام دالله تعالی دقدرت ستره نښه

سريزه

موږپردې باورلروچې دغه ټول موجودات ديوحکيم اوعليم ذات ترواک اوسلطې لاندې دي هغه نه يواځې داچې ددې کاينناتومنتظم اومدبردی بلکې خالق يې هم دی

زمکه له ټولوشتمنيوسره دشمسي نظام برخه ده اوشمسي نظام دټول کهکشان هرکله چې پوهان په کاينناتوکې څېړنې کوي يواځې دالله تعالی دقدرت ننبانې راڅېړي ټول موجودات دالله تعالی په وجودعقلي دلايل دي موږدلته دکاينناتولويې برخې ترکتنې لاندې نښسو

۱.اسمان :

دکاينناتوفضاء ډيره پراخه ده چې په دې کې بې شمېره ستوري په ډېرسرعت سره په خوځښت دي خبنې يې يواځې خپل سفرته ادامه ورکوي ځينې يې جوړه جوړه اوځينې يې ديوې مجموعې په بڼه روان دي هرکله چې موږدکوتې کړکۍ پرانېزودلمرپه ورانګوکې ګڼ ذرات په سترګووينو په همدې توګه په فضاء کې په مليونونوستوري په حرکت دي هريوستوری جلامدارلري چې له ټکره پرته خپل سفرته ادامه ور کوي.

فروفيسورګاموخرګنده کړې ده چې کاينات دخپل پيل په مرحله کې ګازي شکله کتلې وې چې ډېرکثافت اوتودوخه يې درلوده په دغه ګازکې دېلابېلوعناصروترمينځ داتومي تحول عمليات ترسره شول دهمدې ستري تودوخې اوګرم ګازپه نتيجه کې کاينناتوپراختياپيداکړه.

- **داسمان ستوري** :

داسمان فضاء له کهکشانونوڅخه ده په هرکهکشان کې لس ګونه مليارده ستوري دي سلګونه مليونه سياري اوزرګونه مليونه سپوږمي اوبې شمېره کوچني سماوي اجرام اتومي ګازونه پيچلي مرکبات لکه هايدروجن ،نايتروجن کاربن ،سليکان اوداسې نورشتون لري.

- **د کهکشانونو شمېر**

ټول کاینات په ۱۷۰ ملیارد و کهکشانونو مشتمل دي هر یو کهکشان د یوه مرکزپه شاوخوا په یوټاکلي مدارکې په خوځښت دی زمونږ شمسي منظومه نېږدې کهکشان پورې له یوه سره تربله سل زره نوري کاله فاصله لري لمریزنظام د کهکشان په داسې ځای کې موقعیت لري چې د برش زره نوري کاله د کهکشان له مرکزه فاصله لري لمریزنظام د ځمکې په شمول یوځای د کهکشان د مرکزپه شاوخوا په یواوږده مدارپه حرکت کې دی لمریزنظام د ۲۲۰ کیلومتروپه سرعت په یوه ثانیه په دغه مدارکې دتاوبدوپه حال کې ده دغه ډېر یوسریع خوځښت دی که چېرې یوه الوتکه په دې سرعت سره الوتنه وکړي دیوې نیمې دقیقې په موده کې به د کابل له هوایي ډګره تر واشنګټنه ورسېږي له دې سره سره لمریزنظام په ۲۵۰ ملیونه کلونوکې یواځې یوځل د کهکشان د مرکزپه شاوخواتاوېږي دغه موږته دزرګونه میلیونه کهکشانونوپراختیارابنیئ.

- **دستورومجموعي پراختیا**

موږد ځمکې استوګن دستورو د مجموعې څخه د د برش زره نوري کلونوپه انډول فاصله لرو د دووستوروترمینځ فاصله یونوري کال دی پردې اساس دستوروترمینځ داندازې واحدنوري کال دی نور ترټولوشیانوزیات چټک حرکت لري په یوه ثانیه کې ۳۰۰۰۰۰ km فاصله وهي که چېرې ماده دنور دسلمې برخې چټکتیاپه انډول خپل خوځښت ته ادامه ورکړي خپل خواص له لاسه ورکوي اوپه انرژي تبدیلېږي دمادې دقانون مطابق فضایي راکټونه دنوردسرعت دسلمې برخې نه په راټیټ خوځښت له مینځه ځي اونابودېږي

ځمکې ته ډېرنېږدې ستوری لمردی چې له ځمکې نه اته دقیقې اواولس نورې ثانیې فاصله لري ځمکې ته له لمرنه وروسته نېږدی ستوری پراکزیمادی چې له ځمکې نه ۴،۲ نوري کاله فاصله لري زمونږ کهکشان چې موږورپورې مربوط یودټولوکاناتوپه انډول داسې مثال لري لکه دسمندر، یوڅاڅکی

زموږ کهکشان سل میلیارده ستوري لري دګاونډیو ستوروترمینځ واټن یونوري کال تشکیلوي که چېرې په ډېرلوړسرعت سره یوراکټ له وقفې پرته حرکت وکړي په دوه زره میلیونه کلو نوکې به زموږ د کهکشان قطرله یوه سره تربله ووهي، دشپې پرمهال چې اسمان صاف وي دپنځه زرو په شاوخواکې ستوري په سترګولیدلای شوالبته دیوساده فضایي تلسکوپ په وسیله په ملیونونوستوري لیدلای شوالبته دیومډرن تلکسوپ په ذریعه په ملیاردونوستوري لیدلای شودغه ټول ستوري زموږ د کهکشان اړوند دي البته دنورو کهکشانونولوی ستوری چې دانفجارپه حالت کې وي په تلسکوپ سره دلیدلوړدی په همدې توګه دتلسکوب په وسیله نېژدې کهکشان داسې وینولکه یوستوری په داسې حال کې چې په حقیقت کې ستوری نه بلکې دلس ګونه میلیاردونوستورواوسیارواوسپوږمکیوځخه تشکیل شوی چې له ځمکې نه په میلیونونوري کاله فاصله لري په دغوټولوستروکاياتوکې یومنظم قانون واکمن دی چې هېڅ رنګ نیمګړتیاپه کې نه لیدل کېږي

دناسا Nasa ساینس پوهانوپه ۲۰۰۶ میلادي کال یوستوری یې په خپل پیاوړي تلسکوب سره دانفجارپه حالت کې ولیدچې ۱۵۰ځله له لمرڅخه لوی ؤ اودانفجارپرمهال پنځوس میلیارده ځله له لمره زیات پرقېده دغه ستوری له ځمکې څخه دوسوه څلوېښت نوري کاله فاصله لري.

- **دستوروحجم**

لمریوستوری دی هغه هم یومعمولي ستوری دی فرق یې هم دادی چې ځمکې ته نیژدې ارزښتناکه اومهم دی لمریومعمولي اومیانه ستوری دی ځینې ستوري دي چې درې ځله له لمره لوی اویادرې ځله ورڅخه کوچني دي البته له دې نه کوچني ستوري هم شتون لري تردې چې دځمکې نه کوچنی ستوري هم شته بلکې دومره کوچني لکه دکابل ولایت چې ۲۰ کیلومتره

قطرلري په دې ستوروکې اتومي تعاملات شته له اوږدوهستوې تعاملاتوورروسته په اوسپنه تبديل شوي اواوسپنه يې متلاشي شوې نه ده خينې ستوري څوڅوڅله دلمرڅخه لوی دي چې داتومي تعاملاتواوداخلي انفجارڅخه وروسته به په هغه صورت کې چې داخلي اوسپنه يې له چاودبدوورروسته خوره وره نه شي په کوچنيونيوتروني ستوروتبديل شي دااوس مهال زمورږپه کهکشان کې چې له سل زره مليونه ستوروزيات شتون لري دلته داسې ستوري هم شته چې زرګونه ځله دلمرڅخه لوی دی دغه دهيولاستوروپه نوم يادږي په همدې ډول په دې کهکشان کې داسې ستوري هم موجوددي چې په ميليونونوځله له لمرڅخه لوی دی دغه دلويې هيولاپه نوم شهرت لري داتلسمې پېړۍ ترنيمايي پورې ستوروپېژندونکيوتول ستوري دسپورږمۍ څخه کوچني ګڼل مګردلويودوربينونواونيووسايلوپه ايجادسره په دې برخه کې نوې تجربې اوپرمختګونه رامينځته شول.

لمرالله تعالی دقدرت عظيم الشانه ښښه

لمرهغه ځلانده ډيوه ده چې توري تيارې له مينځه وړي دالله جلت عظمته دقدرت دلويوښښانودجملې څخه ده چې په خپل حکمت سره يې انسان ته تابع ګرځولی دی انسان ورڅخه ګټه اخلي دالهي ارادې سره سم به همداسې ترقيامته بلپږي لمردلمريزنظام مرکزدی اوه سياري عطارد ،زهره ،ځمکه،مريخ،مشتري،زحل ،اورانوس اونپتون يې په شاوخواچورلي هېڅ يوه سياره له هغه پرته څه حيثيت نه لري ځمکه دلمريزنظام درېيمه سياره ده په داسې ځای کې نصب شوې چې دژوندیوشيانودتکامل قابليت لري.

• لمرځخه شی دی؟

الله تعالی په خپل سپېځلي پيغام کې لمرداسې راپيژني ﴿ هُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ ٱلشَّمْسَ ضِيَآءً وَٱلْقَمَرَ نُورًا وَقَدَّرَهُۥ مَنَازِلَ لِتَعْلَمُوا۟ عَدَدَ ٱلسِّنِينَ وَٱلْحِسَابَ ۚ مَا خَلَقَ ٱللَّهُ ذَٰلِكَ إِلَّا بِٱلْحَقِّ يُفَصِّلُ ٱلْـَٔايَٰتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿٥﴾ ﴾ يونس:څ پاره: هماغه ذات دی چې لمريې رون اوسپوږمۍ يې روښانه پيدا کړې ده اودسپوږمۍ د نورې کېدو غټېدو پرا وونه يې په منظم ډول تاکلي دي، چې تاسې په هغوسره دکلونواونېټوحساب معلوم کړئ. الله داهرڅه(دلوبې په ډول نه بلکې)له يومقصدسره پيدا کړيدي. هغه خپلې ننبانې د هغوخلکو له پاره چې علم لري په روښانه څرګنده توګه وړاندې کوي.

اوسني ساينس پوهان وايي چې لمرداتومي چاودنوله املې ځلېږي دلمرزياته برخه دهېليم اوهايدروجن ګازتشکيلوي. هېليم په ډېرسرعت سره دلمرهستې ته ننوځي اوپه هماغه اندازه هايدروجن له هستې راوځي اوپه هېليم بدلون مومي دهېليم ننوتل دلمرهستې ته اوله هستې نه دهايدروجن راوتل اوپه هيليم يې بدلون اتومي تعاملات دي چې نور، انرژي اوتودوخه توليدوي.

• دلمرلوی والی اوتودوخه

دلمرقطر ۳۸۵۰۰۰ کيلومتره مساحت يې دځمکې په نسبت ۱۲۰۰۰ خله زيات دی حجم يې دځمکې په نسبت ۱۳۰۵۰۰۰ خله دځمکې څخه ۱۵۰ مليونه کيلومتره فاصله لري په سطحه يې دتودوخې درجه ۲۰۰۰ درجې دننه په مرکزکې يې تودوخه ۱۴ مليونه درجې ده په هره ثانيه کې

څلور ملیونه ټنه نور فضا ته شیندي زمونږ ځمکې ته هره ورځ ۱۷۳ ټنه دنور وړانګې رارسېږي.

- **دلمر په هکله د پخوانیو پوهانو نظریات**

څلور پېړۍ مخکې پوهانو داسې فکر کاوه چې ځمکه ساکنه لمر، ستوري اوسپوږمۍ یې پرشاوخوا چورلي وروسته ګالیلې او نورو ساینس پوهانو څرګنده کړه چې ځمکه په خپل محور او دلمر په شاوخوا په حرکت ده وروسته بیا ثابته شوه چې هېڅ شی ساکن نه دي بلکې ټول سماوي اجرام په حرکت کې دي قران عظیم الشان همدغه مطلب ته له نن ۱۴ پېړۍ مخکې اشاره کړې ﴿ وَٱلشَّمۡسُ تَجۡرِي لِمُسۡتَقَرّٖ لَّهَاۚ ذَٰلِكَ تَقۡدِيرُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ ﴿٣٨﴾ ﴾ سورة یاسین اولمر دخپل ټاکلی ځای خواته ځي دا دخورا ډیر ځواکمن پوه ذات وضع کړی حساب دی.

په ژوند کې دلمر اهمیت

- دلمر دوړانګو په وسیله دشیانو لیدل
- دمیوو اوغلو دانو جوړښت
- داوبو تبخیر او دوریځو تشکیل
- په نباتاتو اوونو کې دلمر دوړانګو ذخیره کېدل او بیا یې په زغالو اوتېلو بدلون.

سپوږمۍ دالهي ځواک بله نښه

سپوږمۍ دالله تعالی دقدرت بله لویه نښه ده چې په دقیق نظام پوهه یې دالله جلت عظمته دوجود غوښ اوقوي دلیل دی. سپوږمۍ فضایي یخ جسم دی چې خپله رنا دلمر څخه ترلاسه کوي اودشپې دروبنانتیالامل ګرځي قران عظیم الشان دغه ستره جثه دالله تعالی دقدرت نښه بولي هلته چې فرمایي ﴿ وَمِنۡ ءَايَٰتِهِ ٱلَّيۡلُ وَٱلنَّهَارُ وَٱلشَّمۡسُ وَٱلۡقَمَرُۚ لَا تَسۡجُدُواْ لِلشَّمۡسِ

وَلَا لِلْقَمَرِ وَٱسْجُدُوا۟ لِلَّهِ ٱلَّذِى خَلَقَهُنَّ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ ﴿٣٧﴾ فصلت: زيارد: دغه شپه او ورځ ، لمر او سپوږمی دالله له نښانوڅخه دي لمراوسپوږمی ته سجده مه کوئ بلکې هغه الله ته سجده وکړئ چې دايې پيدا کړي دي که په ريښتيا سره تاسې دهغه عبادت کوونکي يئ.

اوسني علم څرګنده کړيده چې سپوږمی ځمکې ته ترټولونږدې سياره ده حجم يې دځمکې څخه ۴۹ ځله لږدی دځمکې څخه ۳۸۴۰۰۰ کيلومتره فاصله لري قطريې ۱۷۴۰ کيلومتره دځمکې په شاوخوايې ددوران چټکتيا په يوه دقيقه کې شپېته کيلومتره ده.

اټکلونه

که چېرې دسپوږمی فاصله دځمکې څخه لږاويادې هره وای اويايې حجم داوسني وضعيت نه زيات اويالږوای نودځمکې موجوده نظام به ګډوډشوی وای که چېرې يې فاصله ځمکې ته لږوای نوپه ځمکه کې به مداوجزر زيات شوی وای اوټولـه وچـه بـه اوبولانـدې کړې وای اوکـه چېرې يـې فاصـله لـه اوسنی اندازې څخه زياته وای نودځمکې ددوران سرعت به مختل شوی وای دشپې اوورځې نظام به ګډوډشوی وای اوهم به مداوجزرکم شوی وای اوسنی علم دتصادف نظريه ردوي اديسون دبرينښنانوماندمخترع وايي(لکه څنګـه چـې زمااختراعګـانې تصـادفي بنـه نـه لـري پـه همـدې توګـه دکايناتوموجوده نظام تصادفي نه دی).

ځمکه دالهي قدرت بله لويه نښه

ځمکه هم دالله تعـالی دوجودبـل څرګنـد دليل دی يـواځينی سياره ده چې دژوندصلاحيت پـه کې ايښـودل شوی لمرتـه فاصـله اوتودوبنـه،جاذبه قـوه، ورځينی دوران يې معتدل دی په همدې توګه يې دلمرپـه شاوخواکلنی دوران هم معتدل دی دټولوژوندیوموجوداتودژوندلپاره مناسب اوورطبيعت لري پرهمدې بنسټ دژونـدزانګوګنلای شـي قـران عظـيم الشـان دغـه مطلب تـه

داسې اشاره کوي ﴿ وَٱلْأَرْضَ فَرَشْنَٰهَا فَنِعْمَ ٱلْمَٰهِدُونَ ﴿٤٨﴾

﴿ الذاريات ژباړه: ځمکه مونږ غوړولې ده او مونږ ډيره ښه غوړوونکي يو .

دايوه سياره ده چې کروي بڼه لري په خپل محور په تسلسل سره خوځښت لري اودلمر په شاوخواهم حرکت کوي تمايل يې د ۲۳ درجو په زاويې سره ده شکل يې بيضوي محيط يې ۳۴۸۰۰ ميله ده ددواړو قطبونو ترمينځ قطر يې ۷۹۱۰ ميله اواستوايي قطر يې ۹۷۲۷ ميله دی دلمرځخه يو ميليون اودې لکه ځله کوچنی اودسپوږمی ځخه ۴۹ ځله لويه ده مساحت يې ۱۹۷×۲۱۰ مربع ميله ۷۳٪ برخه يې اوبه او ۲۷٪ يې وچه ده ۹۳ ميليونه ميله دلمرځخه فاصله لري په خپل محور يې دګرځېدو سرعت ۱۰۰۰ ميله په يوساعت کې دلمر په شاوخوا دچورلېدو چټکتيا يې په يوساعت کې ۲۵۰۰۰ ميله ده ځمکه کروي اوپه خپل محور راچورلي قران عظيم الشان هم همدغه مطلب ته داسې اشاره کوي ﴿ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ بِٱلْحَقِّ يُكَوِّرُ ٱلَّيْلَ عَلَى ٱلنَّهَارِ وَيُكَوِّرُ ٱلنَّهَارَ عَلَى ٱلَّيْلِ وَسَخَّرَ ٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِى لِأَجَلٍ مُّسَمًّى أَلَا هُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْغَفَّٰرُ ﴿٥﴾ ﴾ الزمر ژباړه: هغه اسمانونه اوځمکه په حقه پيدا کړيدي. هغه پرورځ شپه اوپرشپه ورځ نغاړي. هغه لمراوسپوږمی په داسې شان ايل کړي دي چې هريوتريوتاکلي وخت پورې روان دي. وپوهېږئ هغه زورور اوښه بخښونکی دی.

ځمکني غازونه

نوي علمي تحقيقات يې څرګندوي چې

- هوا کې داکسيجن نسبت ۲۱٪ چې دتنفس بنسټ دی

- نايتروجن دهوا په سلوکې ۷۸ برخې جوړوي چې داکسيجن دسريع النهاب اواحتراق مخه نيسي
- کاربن ډای اکسايد چې دژوويه سړوکې داکسيجن داحتراق په نتيجه کې رامينځه کېږي. دغه غازسره له دې چې زهرناکه ماده ده ليکن له دې سره سره دنباتاتولپاره غذايي ارزښت لري چې نباتات يې په اکسيجن تبديلوي په همدې توګه دځمکې جاذبه هم غيرعادي بڼه لري دځمکې جاذبې اودهوافشاردځمکې پرمخ موږ ټينګ نيولي يو.

غرونه:

غرونه دځمکې لپاره ستراارزښت لري اوداالله تعالى دحکمت ښښه ده قران عظيم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې داسې فرمايي ﴿ وَٱلْجِبَالَ أَوْتَادًا ﴿٧﴾ ﴾ غرونه ډېرې ګټې لري چې موږورته په لاندې توګه اشاره کوو

- غرونه داوبورسولوبهترين نظام دى دلمر دوړانګوپه وسيله دسمندرونواوبه تبخيراوپه وربڅوتبديلوي دغرونولپاسه دواوروذخيرې جوړې شي په تدريجي توګه ويلې کېږي سيندونه اوويالې جوړوي
- غارونه اوسمڅې يې ستري دفاعي کلاوې تشکيلوي
- دکورونودجوړولولپاره ګټې شمېربنايسته ډبرې لري
- دسروزرو،سپينوزرواوسپنې،الماسو،سرپواومسوکانونه لري
- زينتي کانې هم دغرونومهمه برخه ده
- دبادونواوتوپاني څپوپروړاندې دحايل حيثيت لري
- دلارودپېژندلووسيله ده
- ددوايي بوټودشنه کېدوځاى دى
- دځمکې دميخونوحيثيت لري

عجیب اوناآشناجوړښت یې دالله تعالی دحکمت ننبه ده که چېرې دډیوال په شان نېغ وای ختل به ورته سختوای اوکه دځمکې پرمخ هوارهوای کښت ځایونه به تنګ اودبادځپوبه دځمکې پرمخ ژوندسخت کړی وای

قران عظیم الشان همدغه مطلب داسې بیانوي ﴿ أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى ٱلْإِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ ﴿١٧﴾ وَإِلَى ٱلسَّمَآءِ كَيْفَ رُفِعَتْ ﴿١٨﴾ وَإِلَى ٱلْجِبَالِ كَيْفَ نُصِبَتْ ﴿١٩﴾ وَإِلَى ٱلْأَرْضِ كَيْفَ سُطِحَتْ ﴿٢٠﴾ ﴾

الغاشیه ژباړه: نوایادوي اوښانوته نه ګوري چې څنګه پیداکړی شوي دي اوآسمان ته نه ګوری چې څنګه اوچت کړای شوی اوغرونوته نه ګوری چې څنګه ښخ درول شوي دي؟ اوځمکې ته نه ګوری چې څنګه غوړول شوې ده؟

اټکلونه

ځمکه دنظام شمس ارزښتناکه سیاره ده ځکه چې په دې کې داسې حالت موندلای شي چې ددغوپراخه کاینناتوپه نوروشیانوکې شتون نه لري دکاینناتوپروړاندې دغټ والي نسبت یې داسې ده لکه هوایي ذره

- که چېرې دځمکې حجم لږ اویازیات وای ژوندپرې امکان نه درلود
- که چېرې یې حجم دسپوږمۍ په اندازه وای دمثال په توګه که چېرې اوسنی قطریې څلورمې برخې ته

راټیټ شوی وای نوجاذبه شپږچنده کمېدله نووریځو، اوبواوهوابه فرارکړی وای په سپوږمۍ کې اوبه اوهواشتون نه لري

- دجاذبې په ټیټ والي دغه نتیجه هم مرتبېدله چې شپه به یخه اوورځ به ګرمه وای
- که چېرې یې قطرداوسني په نسبت دوه برخې زیات وای نوجاذبه ډېرېدله

• که چېرې دځمکې حجم دلمر په اندول وای نوجاذبه داوسنۍ اندازې څخه ۱۵۰ الوړېدله بیابه هوایي غلاف دپنځه سوه میلوپرځای څلورمیلوته راټیټ شوی وای په دې صورت کې به دژوند یواجسامو پیدا ینبت سخت اودانسان دبدن حجم به لږ شوی وای چې په نتیجه کې به دانسان عقل نه وای دائکه چې دعقل شتون په جسم کې ډېرې عصبي حجرې غواړي اوداهلته کېدای شي چې دانسان جسم په تاکلي اندازه حجم ولري

• په همدې توګه دځمکې ځینې برخې وچه تشکیلوي که چېرې ټوله وچه اوکانیزه وای نوبیابه دنباتاتودودې لپاره چې دانسان اوحیوان ژوندورپورې ترلی دی زمینه نه وای برابره شوی

• ځمکه په خپل محورپه یوساعت کې دزرمیلوپه اندازه تاوېږي اودغه کارپه ۲۴ ساعتونوکې بشپړوي که چېرته په خپل محور دتاوېدودوران یې کمزوری اولږوای نوورځ اوږدېدله دې کارپه نباتاتوبده اغېزه پرې وېستله زیاتره سیندونه به کنګل وای

• که چېرې په خپل محوردځمکې تاوېدل نه وای نونه به شپه رامینځته شوې وای اونه ورځ ،دځمکې نظام دیومدبرواکمنذات دحکمت نتیجه ده

داووم څپرکي دموضوعاتولنډیز

موږپردې باورلروچې دغه ټول موجودات دیوحکیم،علیم اوخبیرذات ترواک اوسلطې لاندې دي هغه نه یوازې داچې ددې کایناتوخالق دی بلکې منتظم،مالک اومدبریې هم دی ځمکه له ټولوشتمنیوسره دشمسي نظام اوشمسي نظام دکهکشان اوزمورږ کهکشان د ۱۷۰ میلیارده کهکشانونوبرخه ده هرکله چې پوهان په کایناتوکې څېړنې کوي یواځې دالله تعالی دقدرت ننبې راسپړي

۱- داسمان فضاء ډیره ارته ده چې ۱۷۰ میلیارده کهکشانونه په ډیرسرعت سره په کې په خوځښت دي هرکله چې موږدکوتې کړکۍ

پرانېزودلمرورانګوکې ګڼ ذرات مشاهده کووپه همدې توګه په فضاء کې په میلیاردونوستوري په حرکت دي هرستوری جلاجلامداراوخوښت لري له ټکره پرته خپل سفرته ادامه ورکوي

۲ــ داسمان فضاء له کهکشانونوڅه ده په هرکهکشان کې په ملیاردنوستوري سلګونه میلیونه سیارې اوبې شمېره کوچني سماوي اجرام اتومي ګازونه پېچلي مرکبات لکه هایدروجن، نایتروجن، کاربن ،سلیکان اوداسې نورشتون لري

۳ـ کهکشان یا ګلیکسي یوناني کلمه ده داسمان لاراویاداس ترې ته وایې اودشمسي نظام یوه مجموعه ده چې له پنځه ملیاردونوڅخه ترسل زره ملیاردونوپورې ستوري لري ببلابېل ډولونه لري ځینې یې غټ اوځینې یې واړه دي په اوسط ډول دمینځ فاصله یې ددوه میلیونه نوري کلونوسره برابره ده اوترمینځ فاصله یې له ګازونوڅه ده زمونږ کهکشان له یوه سره تربله سل زره نوري کاله فاصله لري لمریزنظام دکهکشان له مرکزه ۳۰ کاله فاصله لري یونوري کال نهه نیم تریولونه کیلومتره فاصلې سره برابردی

۴ـ تروا وسه پورې ۱۷۰ میلیارده کهکشانونه کشف شوي دي لمریزنظام دکهکشان دمرکزپه په شاوخوا په یوه اوږده مدارکې د ۲۲۰ کیلومتره في ثانیه په دغه مدارکې تاویږي لمریزنظام په ۲۵۰ میلیونه کلونوکې یوځل دکهکشان دمرکزپه شاوخواتاویږي هرکهکشان یومرکزي سیاه چال اونورواړه سیاه چالونه لري.

۵ـ سیاه چال دکهکشان په مینځ کې موقعیت لري دګرداوپه شکل تاویږي ډېره تېزه جاذبه لري کهکشان په خپل محورځرخوي په اسمان کې ډېرسیاه چالونه شته ترټولوغټ یې په ۲۰۱۱ م کال کشف شوله موږنه ۳۳۶ میلیونه نوري کاله فاصله لري ستفېن هاوکنک یې کاشف دی چې په خپل ۶۰ متره ئیزتلسکوپ سره یې کشف کړ

۶ـ موږ د ځمکې استوګن دستورود مجموعې څخه د هرش زره نوري کاله فاصله لرو د دووستوروترمینځ فاصله یونوري کال، ځمکې ته ډیرنېژدې ستوری لمر دی رڼایې په ۸ دقیقواو ۱۷ ثانیوکې ځمکې ته رادرومي

۷ـ لمر دالله تعالی دقدرت ستره ننبنه ده چې انسان ورځخه ګټه اخلي اوه سیارې عطارد زهره، ځمکه، مریخ، مشتري اورانوس اونپتون یې په شاوخواچورلي ځمکه دلمریزنظام دریمه سیاره ده چې دژوندیواجساموډتکامل صلاحیت لري

۸ـ دلمرقطر ۳۸۵۰۰ کیلو متره د ځمکې په نسبت ۱۲۰۰۰ ځله زیات، حجم یې له ځمکې ۱۳۰۵۰۰۰ زیات دی له ځمکې ۱.۵۰ میلیونه کیلومتره فاصله لري دسطحې تودوخه یې ۶۰۰۰ درجې دننه تودوخه یې ۱۴ میلیونه درجې په هره ثانیه کې څلورمیلیونه ټنه نورفضاته شیندي ځمکې ته هره ورځ ۱۷۲ ټنه دنورورانګې رارسېږي

په ژوندکې یې اهمیت، دشیانولیدل، دمیووپخلی، داوبوتبخیرپه نباتاتوکې یې دورانګوذخیره کېدل اوپه زغالواوتېلویې بدلون

۹ـ سپوږمی دالله تعالی دقدرت بله لویه ننبنه ده چې دقیق نظام یې دالله دوجودغوڅ دلیل دی له ځمکې ۴۹ ځله کوچنی له ځمکې ۳۸۴۰۰۰ فاصله لري قطریې ۱۷۴۰ کیلومتره د ځمکې په شاوخوایې ددوران چټکتیاپه یوه دقیقه کې ۶۰ کیلومتره ده

۱۰ـ ځکه دالهي قدرت بله ننبنه اودالله تعالی دقدرت ستردلیل دی لمرته فاصله تودوخه اوجاذبه قوه ورځینی دوران یې معتدل دی دلمرپه شاوخواکلنی دوران یې هم معتدل دتولوژوندیوزویولپاره مناسب اوورطبیعت لري په همدې اساس دژوندزانګوبللی شي کروي بڼه لري دلمرپه شاوخواهم حرکت کوي تمایل یې ۲۳ درجې شکل یې ببضوي محیط یې ۳۴۸۰۰ میله دقطبونوقطریې ۷۹۱۰ میله استوایي قطریې ۹۷۲۷ میله ده دلمرڅخه یومیلیون اودرې لکه ځله کوچنی ده اوله سپوږمی ۴۹ ځله

لويه ده محوري حرکت يې ۱۰۰۰ ميله في ساعت انتقالي يې في ساعت ۶۵۰۰ ميله، په هواکې اکسيجن ٪۲۱ نايتروجن ۷۸ فيصده چې داکسيجن دسريع التهاب مخه نيسي اوکاربن دای اکسايد دژووپه سربوکې داکسيجن داحتراق په نتيجه کې رامينځته کېږي په همدې توګه ځمکه غرونه هم لري، داوبورسولونظام ،غارونه ځمځې يې مضبوطې مورچلې دي دسرواوسپينواوالماسوکانونه لري دبادونودځپوپروړاندې حايل دلارودپېژندنې وسيله ددوايې بوتودشنه کېدوځای او دځمکې دمېخونوحيثيت لري عجيب اوناآشناجوړښت لري که نېغ وای ختل به ورته سخت اوکه هواروای کښت ځايونه به تنګ اودباددځپوپروړاندې به ژوندسخت وای

داووم څپرکي تشريحي پوښتنې

۱- کهکشان راوپېژنی اوشمېرېې څومره ده خپل بشپړ معلومات وليکئ

۲- سياه چال څه شی دی عمق يې څومره ده غټ سياه کله اوچاکشف کړ؟

۳- زموږ د کهشکان دستوروشمېرځومره ده اوهم دستوروحجم وليکئ

۴- لمرالله تعالی دقدرت ستره ننبه ده قطريې ،ځمکې نه فاصله يې ،په سطحه يې دتودوخې درجه اوپه مرکزکې يې تودوخه اوهم په هره ثانيه څومره نورفضاءته شيندي

۵- دلمراهميت وليکئ

۶- سپوږمی دالهي قدرت بله ستره ننبه بشپړه شرحه کړئ

۷- ځمکه دالهي قدرت ستره ننبه مکمله شرحه کړئ

کورنی دنده:

دمضمون استاددې داسمان،لمر،سپوږمی اوځمکې په هکله محصلينوته دنده وسپارې چې اړوندایاتونه حفظ اوپه خپلوکتابچوکې دې وليکی اوپه صنف کې دې مناقشه کړي.

داتم څپرکي دموضوعاتو فهرست

انسان د الهي قدرت بله ستره ننبنه ،په کاينناتو کې يې مقام اومرتبه

سريزه

- دانسان دلفظ معنا
- انسان داسلامي نړۍ ليدپه رڼاکې
- انسان دالحادي اوکمونستي نړۍليدپه تيارو کې
- دانسان خلقت
- دانسان مرتبه اومقام
- بشري حقونه
- دانسان دتخليق موخه
- دانسانانوډولونه
- دښځينه اونارينه ترمينځ برابري

داسلامي نړۍ ليددويمه موضوع

انسان دالهي قدرت بله ستره نښه ،په کايناتو کې يې مقام اومرتبه

سريزه:

انسان ژوندی موجود دښه قامت،ښايسته مخ،عقل اوفکر،ښايسته اخلاقودځپانده احساساتودسليم منطق اوفصيحې ژبې ځنښتن دی پيل يې له خټې اوبيايې نسلونوله منوي مادې څخه تکثرموندلی ی داځکه چې دبشريت لومړی پلارادم عليهم السلام يې له خاوروځخه پيداکړاوبيايې په کې انساني روح پوکړ او دده له جنسه يې دده ميرمن حواپيداکړه ده ته يې علم اوپوهه ورکړه دټولوشيانونومونه يې وروښودل داسمان ملايکې يې ورته په تعظيم وروستلې مګرابليس ورځخه انکاروکړبيايې ادم جنت ته بوتلواوديوې ونې له خوراک څخه يې منعه کړادم عليه السلام دغه خبره هېره شوې وه په ناپوهۍ اوهېرې سره ونې ته ورنېژدې شواوورځخه يې خوراک وکړبيا الله تعالی ځمکې ته راکوزکړاوده اشتباه يې وبخښله. الله تعالی په ټولومخلوقاتوکې انسان ته کرامت اوشرافت به برخه کړی دی له انسانانوځخه يې پيغمبران،علماء،اولياء اوصالحان غوره کړي دي دغه زموږ په معتقداتوکې دانسان پېژندنه ده چې له وحی ځخه خړوبېږي حقوق يې دوينې،مال،ابرواواحساساتودرناوی دی ددې برخې له لوستلواومطالعې وروسته به لوستونکي وکولای شي په لاندې موضوعاتووپوهېږي

دانسان دلفظ معنا:

- انسان دانس څخه دی دملک اوپېري پرخلاف دليدلووړاويا خويې

معنا مينه اومحبت دی ،دانسان فطرت ټولنيزاواجتماعي دی دحجرات په سورة کې دانساني پرګنوپرمختلفوډلودوېشلومقصد يودبل سره پېژندګلوی

بنودل شوی، تعارف دانس اومحبت بنسټ دی اوهمدې ته تمدني ژوندویل کېږي

- اویاخودانسان لفظ له نسیان څخه اخیستل شوی اونسیان هېرولوته

وایي دانسانانوپلارادم علیه السلام څخه هم دالله تعالی وعده هېره شوې وه انسان هم ځینې وخت خپل اصل هېروي چې په نتیجه کې ورڅخه لوې ځناورجوړشي په جنایاتولاس پورې کوي چې اوسنی مادي وحشي تمدن زموږ ددغې ادعاء څرګنداوروښانه دلیل دی

انسان داسلامي نړۍ لیدپه رڼاکې

په اسمان کې یې دالله تعالی له خواپه مباشراومستقل ډول له خاورینوموادوصورت اوشکل برابرشوی اوبیاپه کې انساني روح پوکړی شوې لومړی انسان پیغمبر اومهذب انسان وو ملایکې ورته په تعظیم وروستلی شوې وې، الله تعالی ورسره مستقیمې خبرې کړې وې اوجنت ته یې بیولی وو، دنګه ونه اوښه صورت، کرامت، غیرت، شرف اوویاړورپه برخه شوی دی وینه، مال اوابرویې په حقه توګه ساتل شوی اودلارښوونې لپاره یې اسماني پیغامونه رالېږلي دي ترڅودنیااواخرت بری تر لاسه کړي

انسان دالحادي نړۍ لیدپه تیارو کې

لومړی انسان ځناوراوبیاپه شادي اودملیونونوکلونوورروسته په انسان بدل شوی انسان دلومړي ځل لپاره په تیاره کې دنیاته راغلی لومړی انسان وحشي اوغیرمهذب ژاوورروسته یې بیا پرمختګ کړی دی.

دغه نظریه مردوده اوپه هېڅ یوعلمي ارزښت تکیه نه لګوي دائکه که چېرې انسان دشادي دنسل څخه وای نودغه نورې شادوګاني له کومه شوې دوی ولې یې ارتقاء ونه کړه په همدې توګه انسان بایدپه یوې بلې

بلابدل شوی وای په همدې توګه دطب دعلم په پرمختګ سره په دغې نظریې پورې ټول ساینس پوهان اوعلمي شخصیتونه خاندي داځکه چې دانساني نارینه اوښځینه دکروموزمونودهریوه شمېر(۲۳) او(۲۳) دی چې مجموعه یې (۴۶) ته رسېږي دشادودنارینه اوښځینه دکروموزمونوشمېر(۲۴) او(۲۴) دی چې دټولومجموعه (۴۸) کېږي په دغه کودونوکې معمولي بدلون امکان نه لري اوکه بدلونه وموومي نوبیابل شی جوړېږي

دانسان خلقت

حقیقت دادی چې انسان دالله تعالی دقدرت دلویونښانوله جملې څخه ده قران عظیم الشان دانسان پام دغه لورته راګرځوي چې په خپل بدن کې فکروکړي هلته چې فرمایي﴿ وَفِي ٱلۡأَرۡضِ ءَايَٰتٞ لِّلۡمُوقِنِينَ ٢٠ وَفِيٓ أَنفُسِكُمۡۚ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ ٢١ ﴾الذاریات: ژباړه:په ځمکه کښې ډیرې نښانې دي دباورکوونکو لپاره،او پخپله ستاسې پخپل وجود کښې.ایا تاسې په ځیرکتونکي نه یئ؟

انسان دځمکې پرمخ دالهي عجایباتولویه مجموعه ده خودخپل ارزښت اودخپل وجود دپټورازونوڅخه خبرتیانه لري که چېرې انسان دخپل بدن په اسرارواودبدن په جلاجلادندوپوه شي نووبه لړزېږي.

دمثال په توګه دهضم،تنفس،دوینې دوران دعصبي سیستم،جوړښت اودجسم اداره ،غدې اوافرازات یې اودبدن له نموسره یې اړیکه په همدې توګه نورسیستمونه درواخله لکه داورېدلو،ویلو،لیدلواوبویولوحواس شوه ددغوعجایباتوتفصیل په یوه کتاب کې امکان نه لري بلکې څوټوکونوته به ورسېږي البته دانسان مجهولې برخې له معلومې څخه زیاتې دي موږبه انشاء الله په اجمالي توګه دانسان داندامونودجلاجلادندوڅېړنه وړاندې کړو

دانسان دبدن دځينواندامونوار قام

الف: زړه

- زړه چې ۳۱۲ګرامه وزن لري اودلاس دموټې په اندازه حجم لري په يوه دقيقه کې له ۲۰۸۰ځلوپوري خوځښت اوپه يوکال کې څلوېښت مليونه ځله ټکانونه لري.

- په يوه ورځ کې ۲۲۰۰ګېلنه اوپه ټول ژوند کې ۵۲مليونه ګېلنه وينه بدن ته پمپ کوي اياداسې ماشين په نړۍ کې شته چې دومره سترکارسرته ورسوي.

- هغه وينه چې دماغ ته پورته شوې ده په اتوثانيوکې بېرته زړه ته راګرځي په داسې حال کې چې دپښوګوتوته په اتلس ثانيوکې ټګ راټګ کوي.

- دوينې په هرملي مترمکعب کې پنځه مليونه سره کرويات موندل کېږي.

- دانسان جسم له شپږسوه عضلاتو اوله ۲۰۰څخه زياتوهډوکوڅخه جوړشوی دهرې عضلې متوسط حجم په لس ميليونه عضلي تارونومشتمل دی.

- په شپه اوورځ کې انسان ۲۵۰۰۰ځله تنفس کوي چې ۱۸۰متره

مکعبه هوا په لګښت رسوي چې له دې جملې څخه ۲.۵ متره مکعبه اکسیجن وینې ته رسوي.

- معده په پنځه درېرش ملیونه افرازوونکو غدوباندې مشتمله ده.
- دانسان دماغ په ۱۳ ملیارده عصبي حجراتو مشتمل دی په داسې

حال کې چې سل ملیارده استنادي دفاعي حجرې هم لري چې عصبي حجرې له هرڼګه اغیزو څخه ژغوري.

- په ستر ګو کې ۱۴۰ ملیونه نورجذبوونکي شیان دي.
- په غوږ کې ۳۰ زره حجرات دي چې دبېلابېلو دا وازونو دانتقال دنده

ترسره کوي.

- ځېګر دانسان دبدن لویه غده ده چې وزن یې ۱۵۰۰ ګرامه اوپه ۳۰۰ میلیاردو حجراتو مشتمل اوپه څلورو میاشتو کې له سره نوي کېږي دځېګر دندې ډېرې حیرانوونکي دي.

- دګردې وزن ۱۵۰ ګرامه دی په څلورو پشتو ساعتونو کې ډېره زیاته وینه تصفیه کوي ترتولو ستره دنده یې دوینې تصفیه کول دي.

انسان د دغو ارقامو په معلومولو سره دالله جل جلاله دعظمت په وړاندې حیران پاتې کېږي قران عظیم الشان دغه مطلب ته داشارې په ټرخ کې ﴿صُنْعَ ٱللَّهِ ٱلَّذِىٓ أَتْقَنَ كُلَّ شَىْءٍ ۚ إِنَّهُۥ خَبِيرٌۢ بِمَا تَفْعَلُونَ ﴿٨٨﴾

﴿النمل ژباړه: دابه دالله د قدرت نښانه وي چې هر شی یې په حکمت سره برقرار کړیدی. هغه ښه خبر دي چې تاسې څه کوئ

په بل ځای کې ارشاددی﴿ هَٰذَا خَلْقُ ٱللَّهِ فَأَرُونِي مَاذَا خَلَقَ ٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦ ۚ بَلِ ٱلظَّٰلِمُونَ فِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿١١﴾ ﴾لقمان ژباړه: داخودي دالله پیداکول ،اوس ماته راوښایئ ،له هغه پرته دغونورو څه پیدا کړیدي ؟اصلي خبره داده چې دغه ظالمان په څرګنده ګمراهۍ کښې غور ځیدلي دی

په بل ځای کې ارشاددی﴿ سَنُرِيهِمْ ءَايَٰتِنَا فِي ٱلْءَافَاقِ وَفِيٓ أَنفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ ۗ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ﴿٥٣﴾ ﴾فصلت: ژباړه: ډېر ژر به مونږ دوی ته خپلی نښانې په آفاقو کښې هم وښیو اوددوی پخپلو نفسونوکښې هم تردې پورې چې دوی ته داخبره څرګنده شی چې دغه قرآن په ریښتیا سره برحق دی . ایا داخبره کافي نه ده چې ستارب پرهر څه شاهد دی ؟خبردار اوسئ،دوی دخپل رب په ملاقات کښې شک لري،واورئ هغه په یقینی توګه په هر څه چاپېر دئ

دبدن دغړیومتوازن وېش

مونږچې ګوروژوندی حیوان دوه اړخه لري ښی اوچپ ددې په خاطرچې متوازن خوځښت ولري داسې نه دی چې یوه برخه یې درنه اوبله برخه یې سپکه اوسي نوله همدې کبله الله جلت عظمته دانسان دجلاجلاظاهري اوباطني غړوترمینځ یوتوازن ټینګ کړی دی دبدن ځینې څرګندغړي لکه پوزه،خوله دمخ په مینځ کې قرارلري همدارنګه تناسلي غړي خیټې لاندې موقعیت لري همدارنګه دغړوجانبي توازن لکه سترګې،غوږونه،لاسونه،پښې اوتیونه اوهمدارنګه دداخلي غړولکه ګوردې اوسږي دهډوکواواعصابوجوړښت درواخله.په همدې توګه الله جل جلاله

انسان پیدا کړی اوپه ده کې یې داوبوتوازن اومقدارمعین کړی اودبدن دتودوبنې لپاره یې جلانظام تینګ کړی په همدې توګه په بدن کې دشکرې توازن اوهمدارنګه دمعدني موادوتوازن اودانساني حجراتودجوړښت اواستهلاک دنظام ببلابېلې انواع اوداسې نورقران عظیم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترځ کې فرمایي﴿ وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهُۥ تَقْدِيرًا ﴿٢﴾

﴿الفرقان. ژباړه:هغه چې هر شی پیدا کړ بیایې دهغه یو سرنوشت وټاکه په هډوکوپوري دټول بدن قیام دداخلي اوباندني غړودحرکت اوساتنې دارومدارورپوري اړه لري لکه زړه،معده،کولمې اوسرې دهډوکومثال دیوې ودانۍ دستنواودیوالونودی که چېرې دیوالونه اوستنې نه وي ودانۍ به په ځمکه ړنګه بنګه پرته وي که په بدن کې دهډوکونظام نه وای نودانسان غړي به په ځمکه خپاره واره پراته وای که چېرې دغاړې هډوکي نه وای نوسربه په سینه پروت وای په همدې توګه که چېرې دپښوهډوکي نه وای انسان به په ځمکه ناست اوخوځښت به یې نشوکولای دټول بدن استحکام هډوکوپوري اړیکه لري اوپه ببلابېلواشکالوپیداشوي دي ځینې کوچني،ځینې لوی،ځینې اوږده اوځینې لنډدی،ځینې منځنی اوځینې پلن دی اوځینې مجوف دي په همدې توګه په ښځینه اونارینه کې دهډوکوجوړښت فرق لري هرکله چې انسان خوځښت ته اړه لري نوانسان یې یوهډوکی ونه ګرځاؤ بلکې دهغې لپاره یې فنري سیستم وټاکه اودهډوکوترمینځ یې سرینښناکه ماده اوپلې پیدا کړې که چېرې بندونه دانسان په بدن کې ونه اوسي دبدن خوځښت به سخت وای دانسان دسرهډوکي پنځه پنځوس ډولونه لري داټول پردې دلالت کوي چې ددغوکاینناتوترشادیولوړذات تدبیرحاکم دی.

دانسان مقام:

۱: **کرامت اوعزت:**

په دې توګه چې الله تعالی ښایسته اوښکلی صورت ورپه برخه کړی دی هلته چې فرمایې

﴿ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّ وَصَوَّرَكُمۡ فَأَحۡسَنَ صُوَرَكُمۡۖ وَإِلَيۡهِ ٱلۡمَصِيرُ ﴿٣﴾ ﴾التغابن ژباړه: هغه اسمانونه اوځمکه برحق پیداکړي دي اوستاسې صورتونه یې جوړکړل ښه ښایسته یې جوړکړل، اودهمغه لوري ته په پای کښې ورګرځیدل دی

۲: **ایجاد:**

په داسې حال کې چې دانسان نوم اوننښان نه وونه چاپېژانده اونه ترې چامعلومات درلودپه ببلابیلونسبتونوله خاورینوموادواللہ تعالی رامینځته کړهلتــه چــې فرمــایې ﴿ هَلۡ أَتَىٰ عَلَى ٱلۡإِنسَٰنِ حِينٞ مِّنَ ٱلدَّهۡرِ لَمۡ يَكُن شَيۡـٔٗا مَّذۡكُورًا ﴿١﴾ ﴾الإنسان ژباړه: ایاپرانسان د زمانې یووخت داسې هم تېر شوی دی چې هغه کوم دیادونې وړشي نه وء؟

۳: **حریــت اوازادي:** دبشــري ستروارزښــتونوڅخه دازادۍ حق دی دازادۍ څخه زموږ موخه دانه ده چې خپل ځان تباه اوبربادکړي اویادنوروخلکوپه تباه کولولاس پورې کړي اویادهغوی شرف اوعزت ته صدمه ورسوي حقیقت دادی چې په دغې ازادۍ سره بــه دانسانیت، تصــرفات خونــدي کــړی شــي دادې هره لویه مرتبه ده چې انسان په خپلومعتقداتوکې ازادواوسي اسلام په هېڅ صورت کې په چاتجازنه کوي داسلامي جهادموخه دجبر، ظلم اودانسان دناولومنګولوڅخه دبشریت ازادي ده بیادازادتفکرپه نتیجه کې په خپله خوښه اوپراخه سینه دعقل اوبصیرت په رڼاکې خلکوتــه بلنــه ورکوي، دزورله لارې په چاخپله عقیده نه تحمیلوي، پردې اساس کــه چېرتــه یوڅوک دزورله

لاړې په ایمان راوړلو مجبور کړای شي ایمان یې مردود او غیر معقول دی له همدغه امله د مرګ په بستر کې د سلګیو وهلو پر مهال ایمان نه منل کېږي داځکه چې دغه وخت یو شخص داخرت بله نړۍ ګوري، د مصر د کتاتور واکمن فرعون هم دغږ قهد و پر مهال د ایمان څرګندونه کړې وه مګر هغه ته ویل شوي ؤ چې ایا اوس ایمان راوړې په داسې حال کې چې له دې نه مخکې په فساد اخته وې. پردې اساس ایمان میراثي شی نه دی بلکې الهي هدایت دازادې ارادې او اختیار په نتیجه کې انسان ته په برخه کېږي قران عظیم الشان فرمایي ﴿ ٱعۡمَلُواْ مَا شِئۡتُمۡ إِنَّهُۥ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ﴾ ﴿١٠﴾ فصلت ژباړه: کوئ څه چې غواړئ الله ستاسې ټول عملونه وینې.

۴: دځمکې خلافت اوابادي:

دځمکې پرمخ دخلافت دنده سمبالول د هرلوی ویاړ او شرف دی قران عظیم الشان فرمایي

﴿ وَإِذۡ قَالَ رَبُّكَ لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّي جَاعِلٞ فِي ٱلۡأَرۡضِ خَلِيفَةٗۖ قَالُوٓاْ أَتَجۡعَلُ فِيهَا مَن يُفۡسِدُ فِيهَا وَيَسۡفِكُ ٱلدِّمَآءَ وَنَحۡنُ نُسَبِّحُ بِحَمۡدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَۖ قَالَ إِنِّيٓ أَعۡلَمُ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٣٠﴾ ﴾ البقرة ژباړه: هغه وخت په زړه کړه چې کله ستا رب پرښتو ته ویلي وؤ چې" زه په ځمکه کښې دیو خلیفه پیدا کوونکی یم" هغو عرض وکړ:" ایاته په ځمکه کښې داسې یوڅوک ټاکې، چې دهغې نظم خراب کړی اووینې توی کړي؟ ستاله حمد وثنا سره تسبیح او ستاله پاره سپېځلي ستاینه خومونږ کوو" ویې ویل:" زه پرهغه څه پوهېږم چې تاسې پرې نه پوهېږئ"

انسان دځمکې په سر مطلق واکمن نه بلکې مقام یې دخلیفه ده دالهي لارښوونو په رڼا کې به ژوند سمبالوي.

۵: دکاینا تو تسخیر: پردې اساس اسمانونه ځمکه، لمر، سپوږمی او ستوري الله تعالی دانسان لپاره پیدا کړي دي قران عظیم الشان فرمایي ﴿ ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ

ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزْقًا
لَّكُمْ ۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلْفُلْكَ لِتَجْرِىَ فِى ٱلْبَحْرِ بِأَمْرِهِۦ ۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلْأَنْهَٰرَ ﴿٣٢﴾
﴿ابـــــراهيم﴾ ﴿ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ دَآئِبَيْنِ ۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ
وَٱلنَّهَارَ ﴿٣٣﴾ ﴿ابـــراهيم: ٣٣﴾ ﴿ وَءَاتَىٰكُم مِّن كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ ۚ وَإِن تَعُدُّوا
نِعْمَتَ ٱللَّهِ لَا تُحْصُوهَآ ۗ إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ ﴿٣٤﴾ ﴿ابـــــراهيم﴾

٣٤ژباړه: الله هماغه ذات دی چې هغه اسمانونه اوځمکه پیداکړل او له اسمانه یې اوبه وورولې، بیایې دهغوپه وسیله تاسې ته دروزی رسولو راز راز میوی پیداکړې. هغه ببړی ستاسې له پاره په کار واچوله چې په سمندر کښې د هغه په حکم روانه شي او سیندونه یې ستاسې له پاره په کارواچول. اوهغه لمراوسپوږمی ستاسې له پاره په کارواچول چې دقانون تابع چلېږي. اوشپه اوورځ یې ستاسې له پاره په کارواچوله. اوهغه ټول هغه څه تاسې ته درکړل چې تاسې وغوښتل. که تاسې وغواړئ چې دالله نعمتونه وشمیرئ؛ نوشمېرلی یې نه شئ. حقیقت دادی چې انسان ډېرې انصافه اوناشکره دی.

۶ پوهه وربخښل:

قران عظیم الشان فرمایې چې دانسانانوپلارادم ته الله تعالی په مستقیمه توګه تعلیم ورکړی ؤ

﴿ وَعَلَّمَ ءَادَمَ ٱلْأَسْمَآءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ فَقَالَ أَنۢبِـُٔونِى بِأَسْمَآءِ
هَٰٓؤُلَآءِ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٣١﴾ ﴿البقرة: ژباړه: له هغه وروسته الله ادم ته د ټولو شیانو نومونه وښودل، بیایې هغه پرښتوته وراندې کړل اوویې ویل که ستاسې داګومان صحیح وي(چې دخلیفه په ټاکنه کښې به نظم وران شي)نوددې شیانونومونه راوښایاست

دلته له نومونوڅخه دشیانوپه صفاتواوآثاروپوهه مقصده لکه داجناسو، حیواناتو، نباتاتو، کانو، ستورو، لمر، سپوږمی، ونواومیووجنت، ملک، ادم، حواء اوابلیس نومونه اوداسې نور

دغه تعليم اوپوهه خويا دتلقين اوزده کړي په بنه وه اوياخو دادم په ذهن کې په الهامي توګه وه ده ته يې دخبروکولوځواک ورپه برخه کړاوهمدارنګه يې دلغاتودوضعه کولوقوت وروبخښه قران عظيم الشان دغه مطلب ته داشاري په ترڅ کې داسې فرمايې ﴿ خَلَقَ ٱلْإِنسَٰنَ ۝٣ ﴾الرحمن: ٣ ﴿ عَلَّمَهُ ٱلْبَيَانَ ۝٤ ﴾

ژباړه:همغه انسان پيداکړاوده ته يې غږبدل ورزده کړل.

همدغه په نوروژويودانسان دفضيلت اوغوره والي لامل دی.

۷: **ددرک ، پوهې اوعلومود تبادلې ځواک**:

دعلومودتبادلې اوزده کړې ځواک الله تعالی انسان ته ورکړی دی انسان ته دمعرفت کليګانې دتفکر،نظر،عقل،بصر،قلب اولب په عنوان ورکړشوي دي چې همدغه شيان انسان دالله تعالی طاعت اومطلقې ځان سپارنې نه رابولي اوله رندې پيروی څخه يې ژغوري.

۸: **دبنده اورب ترمينځ مستقيمې اړيکې ټينګښت**: قران عظيم الشان فرمايې

﴿ وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِى عَنِّى فَإِنِّى قَرِيبٌ ۖ أُجِيبُ دَعْوَةَ ٱلدَّاعِ إِذَا دَعَانِ ۖ فَلْيَسْتَجِيبُوا۟ لِى وَلْيُؤْمِنُوا۟ بِى لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ ۝١٨٦ ﴾البقرة ژباړه:اوای پيغمبره !زمابندګان که له تانه زماپه باب پوښتنه وکړي؛نوهغوي ته ووايه چې زه ورته ډيرنژدې يم،بلونکی چې کله ماوبلي،زه دهغه بلنه اورم اوځواب ورکوم،نوهغوي ته ښايي چې زما بلنې ته لبيک ووايي اوپرماايمان راوړي ته داخبره هغوي ته واوروه،کيدای شي چې هغوی سمه لاره وموميږ.

۹:دبشرحقوق

حق په لغت کې دباطل ضد ته وايي اوپه اصطلاح کې هغه حقوقي ارزښتونه چې موخه يې په سياسي،اقتصادي،تولنيزواوکلتوري برخوکې دانساني حقوقودحمايې تضمين وي

دبشري حقونو سرچينه

په اسلام کې دبشري حقوقومصدراوسرچينه الهي وحی ده الله تعالی دانسانانو خالق دی دوی ته يې ژوند مسئوليتونه اوحقوق ورپه برخه کړي دي په لويديزنظام کې دبشري حقونوسرچينه بشری تجربې اوهغه ارزښتونه دي چې اروپايي انسان ورته په خپله ځان رسولی دی دبشردحقوقو دنړی والې اعلاميې زيات مواد له فرانسوي قانون نه اخيستل مګر زيات مواديې دمالکي فقهې اواسلامي شريعت څخه سرچينه نيسي

دبشري حقوقواعلاميه

دبشردحقوقواعلاميه په دېرشومادوکې په ۱۹۴۸ م کال دملګروملتونو له خوا تصويب شوه چې په ۱۴۱۱ هه ق کال اسلامي هېوادونودقاهرې په کانفرانس کې په رسمي ډول اعلان کړه البته دبشردحقوقواعلاميه په دوو مادوکې داسلام سره ټکر لري

لومړی ماده:اوهغه داچې هرڅوک کولی شي خپل دين ته بدلون وبخښي

اوبله شپاړلسمه ماده:هرڅوک حق لري له يوچاسره واده وکړي اګرکه له ده سره ديني اختلاف ولري

په اسلام کې دبشرحقونه

دژوندکولوحق:قران عظيم الشان دغه مطلب ته داشاري په ترڅ کې داسې فرمايي﴿ مِنْ أَجْلِ ذَٰلِكَ كَتَبْنَا عَلَىٰ بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ أَنَّهُۥ مَن قَتَلَ نَفْسًۢا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِى ٱلْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ ٱلنَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَآ أَحْيَا ٱلنَّاسَ جَمِيعًا ۚ وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُنَا بِٱلْبَيِّنَٰتِ ثُمَّ إِنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم بَعْدَ ذَٰلِكَ فِى ٱلْأَرْضِ لَمُسْرِفُونَ ﴿٣٢﴾ ﴾المائدة: ژباړه:له همدې امله مونږپربني اسرائيلودافرمان ليکلی وچې"چاچې يوانسان دوينې له بدلې يابه ځمکه کښې له فساد خورولوپرته(په ناحقه)وواژه داسې وګڼه لکه چې هغه ټول انسانان ووژل اوچاچې څوک له مرګه وژغوره داسې وګڼه لکه چې هغه ټولوانسانانوته ژوندوروبښه"خودهغوحال دادی چې هغوته زمونږ پېغمبران پرله

ښې له روښانه څرګندولا رښودنوسره راغلل سره له دې هم د هغوزياتره کسان
په خپله کښې زياتې کوونکي دي.
۲. **دحريت حق**: هېڅوک حق نه لري چې بل انسان وپلوري اويايې ازادي ورڅخه
سلب کړي
۳. **دامن حق**: څوک چې امنيت ته زيان رسوي او په لاړو شکولو لاس پورې کوي
اسلام دوی ته ډېره سخته سزاتاکلې ده
۴. **دابرو دساتنې حق**: دزنا تحريم او دانسان په شرف او عزت دهرتېرې سزايې
ژوندي مثالونه دي چې اسلامي شريعت ورته تاکلې دەپه همدې اساس اسلام
دنسلونوساتنه اوله هررنګه انحرافاتواورنځونوڅخه پاکه اوسپيځلې ټولنه غواړي
نوزنااوبربنډګرزيدل يې حرام ګرزولي اوپه ټولواخلاقي جرايمويې بنديزلګولی دی
ددغوجرايموپه ارتکاب سره اسلام هغوی ته ددرووهلواودمرګ سزاورکوي
۵. **دملکيت حق**: هرڅوک دملکيت حق لري او دغه حق ورڅخه څوک نه شي
سلبولی البته که چېرته څوک دغه حق ته زيان رسوي اسلامي شريعت يې دلاس
دغوڅولوفرمان صادرکړی دی.
۶. **دتعليم حق**: په اسلامي ټولنه کې نارينه اوښځينه دواړه په دولت دښوونې
اوروزنې حق لري
۷. **دمرفه ژوند حق**: دولت به هرچاته کور، کالي اودوړی برابروي
۸. **دمساوات حق**: په اسلام کې ټول وګړي دقانون پروړاندې برابردي دلتې
دژبې، رنګ، مال اومنصب په لحاظ لوړتياشتون نه لري
۹. **دعقيدې، تفکيراو تعبيرحق**: البته دغه داسلامي شريعت داصولو په چوکاټ کې
تنظيمولی شي
۱۰. **سياسي حقوق**: بل چاته درايې ورکولواوپه خپله دکانديدلوحق
۱۱. دعدل اوانصاف حق:
۱۲. دازدواج حق: هرڅوک حق لري په شرعي چوکاټ کې واده وکړي اويابنځه چاته
واده شي

دانسان دندې او مسئوليتونه

۱ـ دالله پروړاندې انسان ګڼ مسئوليتونه لري چې مونږ ورته په لاندې کتنه کوؤ

الف:معرفت ب:عبادت

۲ـ دځان پروړاندې الف:بدني ب:روحاني

۳ـ دټولنې پروړاندې ۴:دکور اوفاميل پروړاندې ۵: دنورو وګړو پروړاندې

دانسان د تخليق موخه

دانسان جوړښت اوبڼه دالله تعالی دقدرت دسترونښانو دجملې څخه ده هېڅکه نه شي کېدای چې دغه سترمخلوق دی بې هدفه اوعبث پيدا شوي اوسي الله تعالی دانسان تخليق مقصد په خپل سپېڅلي پيغام کې په ګوته کړی دی هلته چې فرمايي﴿ وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴿٥٦﴾ ﴾الذاريات:ژباړه:ماپيريان اوانسانان له دې پرته دبل څه کارلپاره ندي پيدا کړي چې هغوی زمابندګي وکړي.

په اسلام کې دبنده ګی حس يوازې دعبادت خانې په ګوټ کې ناسته نه بلکې په ټول ژوند کې له خپلې خپل سری نه لاس اخيستل اوبشپړه توګه خپل ځان الله جل جلاله ته سپارل دي دالهي لارښوونوپه رڼا کې دټول ژوند تنظيمولوته عبادت ويل کېږي.

دنيا دوسيلې په حيث

هرکله چې دنياداخرت اودالله تعالی درضادحصول ذريعه جوړه شي نوبهترين شی دی دنيا اواخرت کې بشريت ته سوکالي اوکاميابي راوړي مګر کله چې هدف جوړه شي فتنه ورته ويل شوي

دنيا دهدف په توګه

داسلامي شريعت په اصطلاح کې دنيا اندک،تيټ اوپست ته ويل کېږي هرکله چې دنيادهدف په توګه غوره شي انسان له ذلت او بدبختی سره مخامخ کېږي پرهمدغه اساس قراني څرګندو لارښوونو دنيادمحبت څخه منع فرمايلې ده

دنيا دهدف په توګه دانتخاب پايلې: دزرګونوانسانانوقتل،دښارونو ورانول دجګړواوربلول دانسانانواوملتونوخرڅول،چوراوچپاول دمخدراتوانتشارداخلاقي فسادادوبېلابېلورنځونوخپرېداددنيادمينې اومحبت له امله دي

دانسانانوډولونه

قران عظیم الشان یې مورته څرګندوي چې هرکله انسان درشد اوبلوغ پراؤته ورسېږي په خپل اختیار اوارادې سره په دوولوو بشل کېږي یوه ګمراه اوبله په سمه لارروانه اویاپه بل عبارت مؤمن اوکافرقران عظیم الشان دغه مطلب ته داشاري په ترڅ کې داسې فرمایي ﴿ إِنَّا هَدَيْنَٰهُ ٱلسَّبِيلَ إِمَّا شَاكِرًا وَإِمَّا كَفُورًا ﴿٣﴾

﴿الإنسان ژباړه: مونږ هغه ته لاره وښودله ، یابه شکرکوونکي شي اویاکفرکوونکی.

دښځینه اونارینه ترمینځ برابري:

هرکله چې په انساني نوعه کې د کفراوایمان له امله بیلتون شتون لري مګردنارینتوب اوښځینه توب له امله یوپربل څه امتیاز نه پیداکوي البته مسؤلیتونه اودندې یې سره جلادي اوددندوویش یې هم په فطري توګه الله تعالی کړی دی،جنت اودوزخ دواړوته دی اوپه دیني فرایضواومسؤلیتونودواړه مکلف دي البته ددیني فرایضوپرځای راوړل یې دنارینه ځخه لږ څه فرق لري.

داتم څپرکي دموضوعاتو لنډیز

انسان ژوندی موجوددښه قامت بنایسته مخ عقل اوفکربنایسته اخلاقو دځپانده احساساتو سلیم منطق اوفصیحې ژبې څښتن دی پیل یې له ختمې او بیایې نسلونوله منوي مادې څخه تکثر موندلی الله تعالی په ټولومخلوقاتوکې کرامت اوشرف وربخښلی دی حقوق یې دویني،مال،ابرو اواحساساتو درناوی دی

دانسان لفظ دانس څخه اخیستل شوی دملک اوپېري په خلاف دلیدلووړاویایې معنامینه او محبت اویاهېرول دي دانسان پېژندنه داسلامي نړۍ لیدپه رنا کې دادی چې په اسمان کې یې الله تعالی په مباشراو مستقل ډول له خاورینوموادوصورت اوشکل برابرکړی اوبیایې په کې روح ااچولی،ښوونه اوتعلیم ورته شوی ملایکې ورته په تعظیم وروستلې شوي،لومړی انسان مهذب اوپیغمبرؤالله تعالی ورسره مستقیمې خبرې کړې وې اوجنت ته یې بیولی ؤاودلاربنوونې لپاره یې ورته اسماني پیغامونه رالېږلي ووترڅوددنیااوخرت بري ته ورسېږي انسان دالحادي نړۍ لیدله نظره دادی چې لومړی انسان ځناوراوپه شادي بدل شوی اودمیلیونونو کلونوروسته یې تکامل کړی انسان په تیاره کې نړۍ ته

راغلی،وحشي اوغیرمهذب وو په داسې حال کې چې دغه نظریه مردوده اوهیڅ عملي ارزښت نه لري دطب دعلم په پرمختګ سره دانسان دنارینه اوښځینه کروموزمونوشمېر ۴۶ اودشادي ۴۸دي اوس وخت په دغې نظریي پورې تول پوهان خاندي

حقیقت دادی چې انسان دالله تعالی دقدرت دلویوښښانودجملې څخه ده دنفس،هضم،دوینې ددوران دعصبي سیستم جوړښت اودجسم اداره اونورسیستمونه یې لکه داورېدلو،ویلو،لیدلو ،بویولواولامسې حس یې ډېرعجیب اوحیرانونکی دی زړه،معده،ګردې اودبدن دغړیومتوازن وېش داوبومقداردتودوخې نظام دشکرې اومعدني موادو توازن دحجراتو جوړښت اواستهلاک دانسان دهډوکو نظام بندونه اوداسې نور تول پردې دلالت کوي چې ددغو کاینناتوترشادیولورذات تدبیرحاکم دی

دانسان مقامکرامت،شرف اوعزت ایجادحریت او ازادي دځمکې خلافت اوابادي دکاینناتوتسخیر ،پوهه وربخښل،دپوهې دتبادلې ځواک،له خپل رب سره مستقیمې اړیکې ټینګول اوبشري حقونه لکه دمساوات حق دژوند کولوحق دملکیت حق دازادۍ حق دابرواو عزت حق دی

دانسان دتخلیق موخه دالله تعالی بندګي اوعبادت اودالهي لارښوونو په رنړا کې دټول ژوند تنظیمول اوداخرت دلوی ژوند لپاره تیاری کول دي.

انسانان پردوو ډولونووېشل شوي یوېې په سمه لار روان او بل یې ګمراهان او ناشکره انسانان دي هرکله چې په انساني نوعه کې دکفراوایمان له املې بېلتون شتون لري مګردنارینتوب اوښځینه توب له املې یوپربل څه امتیاز نشته مګرمسئولیتونه اودندې یې سره جلادي

داتم څېرکي پوښتنې

۱: س: دانسان دلفظ ګڼ مفاهیم شرحه کړئ

۲:س: انسان داسلامي نړۍ لید اوالحادي نړۍ لید په رنړا کې راوپېژنئ

۳: س: ثابته یې کړئ چې انسان دالهي قدرت دسترونښانودجملې څخه دی

۴: س: په اسلام کې دانسان مقام اومرتبه شرحه کړئ

۵:س: په اسلام کې دبشرپه حقونو تفصیلي رنړاواچوئ

۶:س: دانسان دتخلیق موخه واضح کړئ

۷:س: دانسانانو ډولونه وښایاست

۸س: دښځینه اونارینه فرق واضح څرګند کړئ

دنهم څپرکي دموضوعاتو فهرست


لړليک

- په ملايکو اوپېريانو ايمان
- سريزه
- دعلم ډيدايښت لاز
- دعلم مفهوم
- دعلم سرچينې دقران کريم په رڼاکې
- په سمعي امورو دايمان وسايل
- ملايکې داسلام په رڼاکې
- دملايکو مفهوم
- په ملايکو دايمان دلايل
- دملايکو حقيقت او صفات يې
- په ملايکو دانسان فضيلت
- دملايکو دندې
- دومن پرژوند په ملايکو دايمان اغېزې
- پېريان او شيطانان
- دجن مفهوم
- دپېريانو حقيقت اوصفات
- ابليس او شيطان دقراني لارښوونو په رڼاکې
- دابليس او شيطان معنا
- دشيطان دتخليق ماده
- دشيطان اصل
- دشيطان نوډولونه
- دشيطانانو صفات
- دشيطان اهداف او مقاصد دشيطان زيانونه
- دانسان زړه ته دشيطان ننوت لارې له شيطان نه دژغورنې وسايل

دایمان داساساتو دویم اصل په ملا یکو ایمان

سریزه

ملایکې دالله تعالی فرمان منونکې لښکرې دي له نور څخه پیدا زمورږ له نظرنه پناه نه نارینه نه ښځینه دي نه څه خوري نه څه څښي په بېلابېلو چارو مقررې دي چې کوم کارورته سپارل شوی هغه سرته رسوي هروخت په تسبیح لګیا دي شپه اوورځ دالله تعالی پاکي بیانوي هروخت دالله تعالی څخه په وېره کې دي ،دملایکو صحیح حساب الله تعالی ته معلوم دی مشهورې مقربې ملایکې څلور دي دلته هرڅه دالله تعالی په امر دملایکو په وسیله ترسره کېږي په ملایکو ایمان دقران عظیم الشان اونبوي سنتو په لاربنوونو کې دایمان د امورو دجملې څخه دی دپېژندنې یواځینی لاریې وحی ده پردې اساس ترهرڅه دمخه دعلم سرچینې دقران عظیم الشان په رڼاکې ترڅېړنې لاندې نیسو



دعلم دپیدایښت لار

الله تعالی دانسان فطرت دتفکر پر اساس جوړ کړی ، علو مو او پوهنو ته درسېد لوړ تیا یې وربخښلې همد غه ځواک دی چې انسان له نورو حیو اناتو څخه جلا کوي . دتولد پر وخت انسان له هر رنګ تفکر او علم څخه خالي وي البته دعلو مو دتحصیل استعداد له ځان سره لري هر کله چې هغه وده وکړي شیان وینې او او داو رېدلو ځواک لري خپل چا پېر یال ګوري او له هغه نه اغیز من کېږي داهما غه حسي پوهه ده چې نور حیو انات هم ورڅخه بر خمن دي له دې نه وروسته انسان له حیوان څخه دعقل پر اساس امتیاز لري هغه حسي او خیالی ځواکونه په کار

اچوي سم او نا سم سره جلا کوي همدغه علم او پوهه ده چې انسانان يې بېلا بېلو مرحلو او مرتبو ته رسولی دی

دعلم مفهوم

هر کله چې انسان دحسي غړيو په وسيله دخارجی نړۍ سره اړيکه ټينګه کړي ده ته يو حالت په برخه کېږي چې مخکې يې نه درلود ددمثال په توګه موږ يو شخص وينو او مخکې مو ليد لی نه ؤ داسې احساس کوؤ چې په موږ کې يو نوی شی رامينځته شوی چې مخکې مو نه درلود هر کله چې دهغه شخص تصوير زموږ په ذهن کې نه ؤاوسدهغه تصوير په ذهن کې له ځان سره لرو دې ته علم ويل کېږي

دقران کريم په رڼا کې علم شپږ سر چينې لري

(۱) **حس او تجربه** :قران عظيم الشان حس او تجربه دعلم دلاسته راوړلو دوسيلې په عنوان يادوي هلته چې فرمايي ﴿ أَفَلَمْ يَنظُرُوٓاْ إِلَى ٱلسَّمَآءِ فَوْقَهُمْ كَيْفَ بَنَيْنَٰهَا وَزَيَّنَّٰهَا وَمَا لَهَا مِن فُرُوجٍ ﴿٦﴾ ﴾ ښه نو دوی هيڅکله دځان له پاسه اسمان ته ندي کتلي ؟ په څه ډول مونږ هغه جوړ او سينګار کړ ، اوپه هغه کښې هيڅ درز نشته .

دغه ايات دتوحيد په مساله بحث کوي همدغه دبرهان نظم ارزښتنا که دليل دی انسان ته وايي ستر ګې دې پرانيزه دکاينا تو په هره ذره کې به دالله جل جلاله دعجا يباتو ننبې په خپلو ستر ګو وويني پر دې اساس ټول ساينس په حس او تجربې بنا دی ساينس دکاينا تو پوهې ته وايي نو ټول کاينا ت دالله جل جلاله دمعرفت ډګر ګڼل کېږي

(۲) **عقل** : دقران عظيم الشان په رڼا کې عقل دعلم دلاسته راوړلو دويمه سر چينه ده هلته چې فرمايي ﴿ وَٱللَّهُ أَخْرَجَكُم مِّنۢ بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمْ لَا تَعْلَمُونَ شَيْـًٔا وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَٰرَ وَٱلْأَفْـِٔدَةَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٧٨﴾ ﴾ الله تاسې ستاسې د ميندو له ګيډو نه په داسې حالت کښې راوايستلئ چې تاسې په هيڅ نه پوهيدلئ. هغه تاسې ته

غوږونه درکړل، ستر ګي يې درکړې، او فکر من زړونه يې درکړل، ددې لپاره چې تاسې شکر ويستونکي شئ.

په دغه ايات کريمه کې دعلم دوسايلو يادونه شوې چې لو مړۍ يې سامعه قوه ده چې په هغې سره نقلي علو م اورو دويمه باصره ځواک ؛چې دهغې په وسيله حسي نړۍ گورو او په پای کې عاقله قوه چې په فئواد سره يې تعبير شوی په هغې سره له حس نه وراخوا نړۍ درک کولی شو

(۳) تاريخ او تاريخي اثار

قران کريم تاريخي مسايل دوه ډوله مطرح کوي

- الف : په مدون شکل هلته چې دتېر وملتونو حالات په ډېر دقيق صورت وړاندې شوي دهغو

ی دژوند رو ښا نه او تيا رې بر خې او دهغې نتا يج دعبرت ددرس په بڼه بيا نوي

- ب په تکو يني بڼه : قران عظيم الشان دتېر و قامو نو داثا رو يادونه کوي دهغو ی دعروج او

زوال اسباب ذکر کو ی تر څو راتلو نکي نسلو نه دهغې په رڼا کې خپله کړنلا ره

غوره کړي هلته چې فر مايي ﴿ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِكُمْ سُنَنٌ فَسِيرُوا فِي

الْأَرْضِ فَانظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ ﴿١٣٧﴾ ﴾ ال عمران له

ناسې نه مخکښې ډېرې دورې تېرې شويدي، په ځمکه کښې وگرځئ راوگرځئ و گورئ چې هغه خلک له څه عاقبت سره مخامخ شول چې هغو (د الله حکمونو او لارښودنو ته) ددروغو نسبتونه وکړل .

(۴) فطرت او پټ شعور : دعلم څلو رمه سر چينه قران عظيم الشان فطر ت او پټ احساس رابنې . قران عظيم الشان فرمايي ﴿ فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا ۚ فِطْرَتَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا ۚ لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٠﴾ ﴾

زیارہ: نو ((ای پیغمبره ص (خپلو پیروانو سره دې) په یولوری کیدوسره خپل مخ د دغه دین خواته برقرار وساته ، پرهغه فطرت محکم شه چې پرهغه باندې الله تعالی انسانان پیدا کړي دي . دالله جوړکړی فطري دین نشي بدلیدای، همدغه بیخی سم صحیح دین دی، خو زیاتره خلک نه پوهیږي .

انسان چې کله درشد تر پړ اوه ورسېږي یو لړ حقا یق له زده کړې پر ته پخپله ترلا سه کوي ، لکه مینه ، محبت ، جنسي غریزه خوراک ، څښاک ، یخني او ګرمي او په همدې تو ګه دالله جل جلاله وجود درواخله دین او دالله جل جلاله معرفت دانسان په فطرت کې ځای لري

(**۵ مکاشفه او شهود** :موجودات په دووبر خو وېشل شوي یو حسي نړۍ او بله دغیبو دنیا ځینې وخت الله تعالی خپلو خاصو بندګانو ته یو ځانګړی ځواک وربخښي چې په هغې سره دغیبو نړۍ ګوري لکه حضرت ابراهیم ته داسمانونو او ځمکو دملکو تو ښو دنه او همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دمعراج په شپه دجنتو او دوزخونو ، سدرة المنتهی او پورته غیبي نړۍ ددنده اړې ښو دنه شو ې ده

(**۶ : اسماني وحی**: دقرانکریم په رڼاکې دعلم وروستنۍ سرچینه دوحی اسماني پیغام دی قران عظیم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې فرمایي ﴿ ذَٰلِكَ مِمَّآ أَوْحَىٰٓ إِلَيْكَ رَبُّكَ مِنَ ٱلْحِكْمَةِ ۗ وَلَا تَجْعَلْ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَتُلْقَىٰ فِى جَهَنَّمَ مَلُومًا مَّدْحُورًا ﴿٣٩﴾ ﴾الاسراء: ژباړه:دا هغه د حکمت خبرې دي چې ستا رب تا ته وحی کړیدي. او ګوره ! له الله سره کوم بل معبود مه نیسه که نه نو په دوزخ کښې به پرې شوی او له هرې ښېګڼې نه محروم وغورځول شې. قران عظیم الشان په دغه آیات کریمه کې اسماني وحی دعلم او حکمت دسرچینې په تو ګه معرفي کوي

په سمعي امو رو دایمان وسایل :دسمعیاتو دپېژند نې او پر هغو دایمان لپاره ګڼ وسایل دي چې مهم یې قران عظیم الشان اونبوي سنت دي

ملا يکې داسلام په رښا کې

په ملا يکو ايمان داسلامي عقيد ې دارکانو او بنسټو دجملې څخه ده انکار ورڅخه څرګند کفر ګڼل کېږ ي

دملا يکو مفهوم

ملا يک دملک جمع ده دلام او ميم په فتحې سره دالو کة څخه اخيستل الو کة رسالت او استا زيتو ب ته ويل کېږ ي البته دعلم کلام دزياترو پوهانو په نېز د ملا يکې له يو لږ غيبي ، نا محسو سو نوراني مخلوقاتو څخه عبارت دي چې له حيواني تما يلا تو څخه پا کې دي په بېلا بېلو شکلو نو ځان بد لو لی شي داستو ګڼې ځای يې اسمانو نه دي دالله تعالی دسپېځلي ذات نه پر ته يې حقيقت هېچا ته معلو م نه دی

په ملا يکو دايمان دلا يل

دملا يکو وجو د يو ثا بت حقيقت دی او دلا يل يې له شمېر نه وتلي دي مو ږ ورته په لنډ ه تو ګه کتنه کوؤ

لومړ ی دليل : قران عظيم الشان، الله تعالی په خپل سپېځلي کلام کې دملا يکو دپيدا ينښت په هکله مو ږ ته خبر راکړی هلته چې فرمايي ﴿ وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي ٱلْأَرْضِ خَلِيفَةً ﴿٣٠﴾ ﴾ البقرة: ۳۰ هغه وخت په زړه کړه چې کله ستا رب پرښتو ته ويلي ووؤ چې " زه په ځمکه کښې د يو خليفه پيدا کوونکی يم

دويم دليل : نبو ي سنت : ټولو پيغمبر انو دملا يکوپه باره کې خبر ورکړی پيغمبر صلی الله عليه وسلم هم په ملا يکو ايمان دايمان رکن بللی دی پخپله دالله سپېځلی کلام(قران عظيم الشان) هم دملا يکو داثارو دجملې څخه دی دالله جل جلا له او نبی صلی الله عليه وسلم تر مينځ واسطه جبر يل ؤ قران عظيم الشان دغه مطلب ته داشاري په ترڅ کې فرمايي ﴿ وَإِنَّهُۥ لَتَنزِيلُ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٩٢﴾

نَزَلَ بِهِ ٱلرُّوحُ ٱلْأَمِينُ ﴿١٩٣﴾ دا درب العلمين نازل کړی شی دی ما تنکر روح له دې سره نازل شویدی.

دملا یکو حقیقت او صفات یې

مو ونه ګو کولی دملا یکو حقیقت معلو م کړو دعقید ې په مسا یلو کې لازمه ده چې مو به شر عي ثر ګند ودلا یلو اکتفاوکړو ددوی ځینی صفات په لاند ې دلا یلو کې راغلي دي

(۱) دوی له نو رڅخه پیداشوي دي.

(۲) لوی جسد او بدن الله تعالی ددوزخ دڅو کیدارو ملا یکو په هکله فرما یلي

ي﴿ عَلَيْهَا مَلَٰٓئِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا يَعْصُونَ ٱللَّهَ مَآ أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ ﴿٦﴾ چې پرهغه به غوسه ناکې سخت زړې پرښتې موظفې وي چې هیڅکله به دالله له حکم څخه سر نه غړوي او هرامر چې ورته کیږي هغه په ځای راوړی.

(۳) دوی دوز رونو څښتنانې دي قران عظیم الشان دغه مطلب ته داشا ري په ترڅ کې فر﴿ جَاعِلِ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ رُسُلًا أُو۟لِىٓ أَجْنِحَةٍ مَّثْنَىٰ وَثُلَٰثَ وَرُبَٰعَ ﴿١﴾ دپیغام رسوونکو پرښتو تها کونکی دی، (داسې پرښتې) چې دهغو دوه دوه او دري دري او څلور څلور وز رونه دي

(۴) دوی په ډیلا ډیلو اشکالو ځان څر ګند ولی شي قران عظیم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې فرمایي

(۵) دوی نا اشنا ځواک لر ي ددوی لږ شمیر هم الهی عرش پورته کوي قران عظیم الشان دغه مطلب داسې روښانه کوي﴿ وَٱلْمَلَكُ عَلَىٰٓ أَرْجَآئِهَا ۚ وَيَحْمِلُ عَرْشَ رَبِّكَ فَوْقَهُمْ يَوْمَئِذٍ ثَمَٰنِيَةٌ ﴿١٧﴾ پرښتې به دهغه په

څلور اوکنارو باندې وي او اتوپربښتوبه په هغه ورځ ستادرب عرش پرخپل ځان باندې بار کړی وي

(٦) په دوی کې ځینې مقربې ملایکې دي قران عظیم الشان دغه مطلب داسې بیا ښوي ﴿ لَّن يَسْتَنكِفَ ٱلْمَسِيحُ أَن يَكُونَ عَبْدًا لِّلَّهِ وَلَا ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ ٱلْمُقَرَّبُونَ ﴿١٧٢﴾ ﴾ النساء: ۱۷۲ ژباړه: مسیح هیڅکله دا خبره شرم نه ګڼي چې هغه د الله یو بنده اوسي، او نه مقربې پرښتې دا خبره دځان له پاره شرم ګڼي.

(٧) دوی دتولدا و تنا سل او همدارنګه له ښځینه تو ب او نارینتو ب څخه پا کې اوسپڅلې دي.

(٨) دالله تعالی پر وړاند ې ددوی بېلا بېلې مر تبې : الله تعالی فرمایلي دي ﴿ وَمَا مِنَّآ إِلَّا لَهُۥ مَقَامٌ مَّعْلُومٌ ﴿١٦٤﴾ ﴾ الصافات: ۱٦٤ ژباړه: او زمونږ حال خودادی چې له مونږنه دهر یوه یو مقام ټاکلی دی او مونږپه لیکه کې ولاړخدمتګاران یو

(٩) دوی په حسن او جما ل متصفې دي قران عظیم الشان دغه مطلب داسې بیا نو ي ﴿ عَلَّمَهُۥ شَدِيدُ ٱلْقُوَىٰ ﴿٥﴾ ﴾ النجم: ٥ ژباړه: هغه ته برلاسی ځواکمن ښوونه کوی

(١٠) دوی نه څه خوري اونه څه څښلې نه ستړي کېږي داستو ګنې ځای یې اسمان دی

(١١) دوی دحیا څښتنا نې دي

(١٢) دوی دنظام څښتنانې دی

(١٣) ملایکې ډ ېر ې زیاتې دی چې شمېر یې یواځې الله تعالی معلوم دی ﴿ وَمَا يَعْلَمُ جُنُودَ رَبِّكَ إِلَّا هُوَ ۚ وَمَا هِيَ إِلَّا ذِكْرَىٰ لِلْبَشَرِ ﴿٣١﴾ ﴾ المدثر:

ستا درب لښکري پخپله له هغه پرته بل څوک نه پيژني او د دوزخ يادونه له دي پرته دکوم بل غرض لپاره نه ده شوي چې خلکو ته پندوی

په ملا يکو دانسان فضيلت

انسان له ملا يکو غوره دی داځکه چې انسان حيواني غو بښتنې لري او هغوی له حيواني غو بښتنو سپېځلي دي له بل لوري په انسانانو کې پيغمبران هم دي هغوی لوړ منزلته شخصيتونه دي

دملا يکو دندې

لومړی : دالله جل جلاله پروړاندې ددوی دندې

ملا يکې کې کارونه چې الله تعالی پورې اړيکه نيسي سرته رسوي دهغو له جملې څخه :

(۱) په ټولو چاروکې دالله تعالی بندګي او طاعت . قران عظيم الشان دغه مطلب ته داشاري په ترڅکې فرمايي ﴿ لَّا يَعْصُونَ ٱللَّهَ مَآ أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ

﴿التحريم: ۶ ﴾ چې هېڅکله به دالله له حکم څخه سر نه غړوي او هرامر چې ورته کېږي هغه په ځای راوړی .

(۲) دالله تعالی بندګي او له هغه جلت عظمته څخه وېر بدل . قران عظيم الشان دغه مطلب داسې روښانه کړی ﴿ وَهُم مِّنْ خَشْيَتِهِۦ مُشْفِقُونَ

﴿الأنبياء: ۲۸ ﴾ اوهغوی د هغه له وېرې نه لرزيدونکي دي

دعبادتو دجملې څخه چې ملا يکې يې سرته رسوي الهی تسبيح ، لمونځ او دبيت المعمور طواف هم دی .

(۳) دعرش پورته کول قران عظیم الشان دغه مطلب داسې روښانه کوي ﴿ وَيَحْمِلُ عَرْشَ رَبِّكَ فَوْقَهُمْ يَوْمَئِذٍ ثَمَٰنِيَةٌ ﴿١٧﴾ ﴾ الحاقة: ژباړه: او اتو پربنتوبه په هغه ورځ ستادرب عرش پرخپل ځان باندې بار کړی وي

(۴) دکاینا تو دچا روتد بیر او دالهی او امرو اجراء او تنفیذ قران عظیم الشان دغه مطلب داسې روښانه کوي ﴿ فَالْمُدَبِّرَاتِ أَمْرًا ﴿٥﴾ ﴾ النازعات: ژباړه: بیا (دالهي حکمونو سره سم) د چا رو تنظیم کوي

(۵) دجنت او دوزخ دچا رو سمبا لښت

انسان پورې اړوند دندې

ملا یکې ځینې چارې سر ته رسو ي چې انسان پورې اړیکه نیسي دهغو دجملې څخه!

(۱) ادم علیه السلام ته تعظیم کول

(۲) ادم علیه السلام ته غسل ورکول

(۳) دانسان دخلقت او دبد ن دتکو ین په اړه دنده

(۴) دانسان څارنه او سا تنه

۵: پیغمبر انو ته دوحی راوړل قران عظیم الشان دغه مطلب ته داسې اشا ره کوي ﴿ نَزَلَ بِهِ ٱلرُّوحُ ٱلْأَمِينُ ﴿١٩٣﴾ ﴾ الشعراء: ۱۹۳ ژباړه: اما نتکر روح له دې سره نازل شویدی.

(۶) دانسان په زړه کې دخیر دچا رو اچول

(۷) دانسان دکړو وړو لیکنه او ثبتول

(۸) دخیر دچارو په کولو مئو منا نو ته دعا

(۹) دانسانانو دسا کا نو اخیستل قران عظیم الشان فرمایي ﴿ قُلْ يَتَوَفَّىٰكُم مَّلَكُ ٱلْمَوْتِ ٱلَّذِى وُكِّلَ بِكُمْ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمْ تُرْجَعُونَ ﴿١١﴾ ﴾ السجدة: ۱۱ ژباړه: دوی ته ووایه: دمرګ هغه پربښته چې پرتاسې موظفه کړای شوې ده

ستاسې روح به په پوره بشپړه توګه تر خپلې قبضې لاندې راولي . اويسا به
تاسې دخپل رب لوري ته وګرځول شئ
(۱۰) په قبر کې سوال او خواب

دمئو منانو په اړه ند دملا یکو اعمال

- دځنکدن په مهال مئو منا تو نه زېرې ورکول
- په همدې توګه لاندې تو لګیو ته هم درحمت دعا ګانې کوي

(۱) دخیر دچارو ښو ونکي ته
(۲) دجوماتو نو امامانو ته
(۳) دلومړي صف لمونځ کونکیو ته
(۴) هغه څوک چې تر لمانځه وروسته دلمانځه په ځای کې پاتې شي
(۵) هغه څوک چې په لمانځه کې خالې ځایونه ډک کړي
(۶) پښنمي کونکیو ته
(۷) په رسول الله صلی الله علیه وسلم درودویونکیو ته
(۸) درنځورانوعیادت کونکیوته

- مئو منانو ته داستغفار او بخښنې دعاکوي ﴿ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيَسْتَغْفِرُونَ لِمَن فِى ٱلْأَرْضِ ۗ أَلَآ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٥﴾ ﴾ پرښتې دخپل رب له ثنا ستاینې سره

دهغه تسبیح او دځمکې داوسیدونکو په حق کښې ښېنه غواړي . خبر دار اوسئ . په حقیقت کښې الله ښونکی مهربان دی .

- دعلم او ذکر په مجلسونو او غونډو کې ګډون
- دسهار دلمانځه دقران لوستلو ته حاضر ېدل
- مئو منانو سره دکافرانو پر خلاف په جګړو کې ګډون
- دصالحو مئو منانو په جنازوکې برخه اخیستل

د کافر انو اوفا سقا نو په اړه دملا یکو دند ې

(۱) په کافرانو عذابو نه او تباهي راوړل

(۲) په کافرانو لعنت ویل

دملا یکو دلعنت نور وجو هات

(۱) په هغه ښځه لعنت وایي چې دمېړه دشر عي غو ښتنو نا فرماني کوي

(۲) دپیغمبر صلی الله علیه وسلم داصحا بو بدو .ردوویو نکو ته

(۳) هغه څوک چې مئو من مسلمان ته په وسلې سره اشاره کوي اووسله ورته نېغه نېغه ګرزوي

(۴) په هغه چا لعنت ویل چې اسلامي شر یعت نه جاري کوي او په دین کې نوې خبر ې پیدا کوی

دمئو من په ژوند انه په ملا یکو دایمان اغیز ې

دمئو من مسلمان په ژوند انه په ملا یکو دایمان په نتیجه کې چې کومې اغیزې مر تبېړ ي په لاند ې ډول دي

(۱) دالله جل جلا له په عظمت او رحمت داحساس زیا ت والی

(۲) په جهاد کې مېړ انه او اتلو لي په دې فکر چې ملا یکې ورسره مل دي او ددښمن په مقا بل کې یې مرسته کوي

(۳) له خرافاتو او او هامو څخه لېر ې والی

(۴) دالله عزوجل په او امرو استقامت او ټینګ پاتې کېد ل هلته چې سړی په دې باور ې وي چې په خپلو افعالو اووینا ءو کې یې ملا یکي ځارنه کوي

(۵) دامن ، ډاډاو اطمینان احساس

پېر یان او شیطانان

دپېر یانو په وجود یقین هم داسلامي عقید ې بر خه ده پېر یان دغیبي شیانو دجملې څخه دي چې الله تعالی او پیغمبر صلی الله علیه وسلم مئو منان دهغو ی په باور ما مور کړي دي پر دې اساس د پېر یانو په وجو د یقین لازمي دی په دې برخه کې به په لاندې مو ضوعاتوپه ترتیب سره بحث وکړ و.

دجن مفهوم په لغت کې هغه شي ته یل کېږي چې له حواسو پټ وي په اصطلاح کې پېریان دالله تعالی داسی مخلوق دی چې دانسان او پېري په مینځ کې قرار لري دانسان په شان داختیار څښتنان دي غیر ما دي صورت یې نه لیدل کېږي ددې توان لري په بل قالب کې دښو او بدواشکا لو په بنه ځان څرګند کړي

د پېژ ندلو لا رې چارې یې

اسمانی وحی یواځینی سر چینه ده چې مو ږ ددغو مو جو داتو له عالم سره اشنا کو ي قرانکریم او نبو ي احادیث یې مو ږته څرګندوي چې پېریان له څه شکې پیداشوي دي ددوی دجلا اوبهلو قبهلوکړ نلا ره څنګه اوددوی مکلفیت نوعیت څرنګه ده

ددوی دوجود ددلیل

- **قران عظیم الشان**

په قران کریم کې دجن دلفظ یا دونه ۳۲ ځله په ګڼو سورتو نو کې شوې ده الله تعالی فرمایي

﴿ وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴿٥٦﴾ ﴾ الذاریات: ٥٦ زپاره

- **نبوی حدیث:**

پیغمبر صلی الله علیه وسلم په هډوکو او خر شنو داستنجاء څخه منعه فرمایلي ده او ویلي یې دي چې داستاسو د پېریانو وړونو خوراک دی شیخ الاسلام تقی الدین ابن تیمیه (رح) ویلي دي دمسلمانانو ټولې ډلې د پېر یانو په شتو ن اعتر اف کوي په همد ې تو ګه اکثر ه کا فران لکه عام اهل کتاب د پېر یانو په وجو د قایل دي

د پېر یانو حقیقت او صفات

د پېر یانو حقیقت په قران عظیم الشان کې بیا ن شوی مو ږ به دلته ځینې ایاتونه راو ړ و چې ددوی حقیقت او صفات روښانه کوي

(۱) د پېریانو دتخلیق ماده داور شعلې دي قران عظیم الشان فرمایي ﴿ خَلَقَ ٱلْإِنسَٰنَ مِن صَلْصَٰلٍ كَٱلْفَخَّارِ ﴿١٤﴾ ﴾ الرحمن: ۱۴ زپاره: انسان یې له

کودړي غوندې کړنګېدونکې وچې ورستې شوې خټې څخه پیدا کړ او پیرۍ یې داور له شغلې څخه پیدا کړ

(۲) پېریان له انسان نه مخکې پیداشوي دي قران عظیم الشان دغه مطلب داشارې په ترڅ کې فرمایي

(۳) پېر یان دلیدلو قا بل نه دي قران عظیم الشان دغه حقیقت داسې بیانو ي (اعراف ۲۷)

(۴) ددوی دانسانانو په شان مکلف مخلوق دي قران عظیم الشان دغه مطلب

داسې روښانه کو ي وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴿٥٦﴾

(۵) دوی دانسان او حیوان په شکل په ببلا ببلو بڼو ځان څر ګند ولی شي شیطان دبد ر دجګړې په ورځ دسرا قه بن مالک په څېر ه راغلی ؤ

(۶) پېر یان دانسان په شان ژوند ، مړ ینه او قیامت لري الله تعالی فرمایي ﴿قَالَ ادْخُلُوا فِي أُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِكُم مِّنَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ فِي النَّارِ ۖ كُلَّمَا دَخَلَتْ أُمَّةٌ لَّعَنَتْ أُخْتَهَا ۖ حَتَّىٰ إِذَا ادَّارَكُوا فِيهَا جَمِيعًا قَالَتْ أُخْرَاهُمْ لِأُولَاهُمْ رَبَّنَا هَٰؤُلَاءِ أَضَلُّونَا فَآتِهِمْ عَذَابًا ضِعْفًا مِّنَ النَّارِ ۖ قَالَ لِكُلٍّ ضِعْفٌ وَلَٰكِن لَّا تَعْلَمُونَ ﴿٣٨﴾﴾ (الاعراف ۳۸ ژباړه : الله به وفرمائي ځې تاسو هم همغه دوزخ ته لاړ شئ چې هغه ته له تاسې څخه مخکښې د پیریانو او انسانانو ټبرې شوې ډلې ورغلي دي. هره ډله چې کله دوزخ ته ننوځي نو پر خپله مخکینۍ ډله به لعنت ویونکی ننوځي. آن تر دې چې کله ټول هلته سره یو ځاي شي نو هره وروستۍ ډله به د مخکینۍ ډلې په باب وایي چې ای پروردګاره دا خلک وو چې مونږ یې بې لارې کړو، نو له دې املە دوی ته د اور دوه چنده سزا ورکړه ، په ځواب کښې به وویل شي، د هرې یوې له پاره دوه چنده سزا ده خو تاسې پوهېږئ نه.

(۷) دنو رو حیو اناتو په څېر نارینه او ښځینه ، تولد او تنا سل لري قران عظیم الشان فرمایي

﴿ كَانَ مِنَ ٱلْجِنِّ فَفَسَقَ عَنْ أَمْرِ رَبِّهِۦٓ ۚ أَفَتَتَّخِذُونَهُۥ وَذُرِّيَّتَهُۥٓ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِى وَهُمْ لَكُمْ عَدُوٌۢ ۚ بِئْسَ لِلظَّٰلِمِينَ بَدَلًا ﴿٥٠﴾

﴿الكهف: ۵۰ ژباړه هغه له پیریانو څخه وء څکه د خپل رب د حکم له منلونه ووت اوس ایا تاسي له ما څخه پرته هغه او د هغه څوځات خپل سرپرستان نیسئ پداسي حال کښې چې هغوی ستاسي دښمنان دي؟ ډېره ناوړه بدله ده چې ظالمان یې غوره کوي .

(۸) دوی دنورو مخلو قاتو په شان شعور ، اراده او له دې پرته ډېر چالاک او شاته چاري سر ته رسولی شي الله تعالی سلیمان علیه السلام ته تابع ګرزولي ؤ سلیمان علیه السلام ته یې دسبا دملکې تخت په ډېر سرعت له یمن نه شام ته راوړی ؤ قران عظیم الشان دغه مطلب داسې بیا نو ي قَالَ عِفْرِيتٌ مِّنَ ٱلْجِنِّ أَنَا۠ ءَاتِيكَ بِهِۦ قَبْلَ أَن تَقُومَ مِن مَّقَامِكَ ۖ وَإِنِّى عَلَيْهِ لَقَوِىٌّ أَمِينٌ ﴿٣٩﴾ ﴿النمل: ژباړه : له پیریانو څخه یوه د قوي جوسې خاوند عرض وکړ زه به یې درته راوړم مخکښې له دې نه چې ته له خپله ځایه پاڅېږې .زه د دې وس لرم او امانتداریم.

(۹) پېر یان خوراک ته اړتیا لري

(۱۰) پېر یان دانسانانو په شان مئو منان او کافران صالحان او فاسد افراد لري الله تعالی فرمایي

﴿ وَأَنَّا مِنَّا ٱلْمُسْلِمُونَ وَمِنَّا ٱلْقَٰسِطُونَ ۖ فَمَنْ أَسْلَمَ فَأُو۟لَٰٓئِكَ تَحَرَّوْا۟ رَشَدًا ﴿١٤﴾ وَأَمَّا ٱلْقَٰسِطُونَ فَكَانُوا۟ لِجَهَنَّمَ حَطَبًا ﴿١٥﴾ ﴿الجن: ژباړه : له مونږ څخه ځینې مسلمان (دالله امر منونکي) دی او ځینې له حق نه منحرف، نو چا چې اسلام (دامرمنلو چلند) غوره کړ هغوي د ژغورنې لاره

ولټولـه- او کـوم کسـان چې لـه حق نـه منحرف دی هغـوې د دوزخ د سـون مـواد
ګرځېدونکی دی
(۱۱) دپېر یانو یو ې ډلې لـه رسول الله صلی الله علیه وسلم نـه دقـران کـریم ایاتونـه
واورېدل
(۱۲) پېر یان د غیبوعلم نه لري
(۱۳) پېر یان دملا یکو په څېر پو رته نړۍ ته سفر کو لی شي هلته دملا یکـو وینا
وې او خبر ونه غلا کوي او بیا یې کا هنا نو ته راوړی درسو ل الله په رسالت سره

دغه لړۍ پای تـه ورسـېد ه قـران عظیم الشـان فرمـایي﴿ وَأَنَّا لَمَسْنَا ٱلسَّمَآءَ
فَوَجَدْنَٰهَا مُلِئَتْ حَرَسًا شَدِيدًا وَشُهُبًا ﴿٨﴾ وَأَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَٰعِدَ
لِلسَّمْعِ ۖ فَمَن يَسْتَمِعِ ٱلْـَٔانَ يَجِدْ لَهُۥ شِهَابًا رَّصَدًا ﴿٩﴾﴾الجن: ۸ – ۹ ژباړه:او دا
چې مونږ داسمان پلټنه وکړه نوو مولیدل چې هغه لـه پیـره دارانـو څخـه ډک دي او
داور غورځوونکو ستوروباران کېږي)) .او داچې پخوا مونږ دغوږ نیولـو لپـاره پـه
اسمان کښې د ناستې ځاي میندلو ، خواوس چې څوک په پټـه پـه غـلا داورېـدلو
هڅه کوی هغه د ځان لپاره په څاروڅی کښې یواورغورځوونکی ستوری موجـود
مومی
(۱۴) پېر یان او شیطانان خوراک او څښـاک کـو ی شـیطان پـه کـینې لاس خوراک
کوي مونږ دده په مخا لفت ما مو ریو
(۱۵) پېر یان انسان ته زیان رسوي دغه کار دستر ګو لید لی حال دې ځینې وخت
کېدا شي چې یو څوک ګر مې او به یه دې ، وغورزوي او پرهغوی قضا ی حاجت
وکړي اویا دهغوی داوسېدلو ځای ته ورشي نو پـه دغـه صورت کې دوی پـه انتقـام
اخیستلو لاس پورې کوي ځینې وخت کېدای شي پر ته لـه دې چې یـو څـوک ورسـره
غرض وکړي دانسان په رورولو او اذیت لاس پورې کړي
(۱۶) پېر یان پـه کنډوالـو غیـر مسکونې ځایونـو ، ډېرانونـو او چټلـو ځایونـو او
ښارونو کې اوسېږي لـه همدې امله پېریان زیاتره په کثیفو ،چټلو، نا ولـو ، ګنهګا
رو او مجرمو انسانانو کښېنې اوله پاکو انسانانو سره غرض نه لري

(۱۷) په پېريانو اوشيطانانو کې دقوت اړخ هم شته خو قران عظيم الشان دشيطان او دشيطان دپلو يانودسيسه اومکرکمزوری بولي قران عظيم الشان فرمايي په همدې توګه دوی په صالحواونېکو انسانانو تسلط اوواکمنی نه لری قران عظيم الشان دغه مطلب داسې بيانوي ﴿ إِنَّ عِبَادِي لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَانٌ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ وَكِيلًا ﴿٦٥﴾ ﴾ الإسراء: ژباړه: بېشکه زما پر بندګانو به ته کوم تسلط ونه لرې. او د توکل لپاره ستا رب کافي دی.

داؤ دپېر يانو حقيقت او صفات تر څو يې له ملا يکو سره په اسا نه سره مقا يسه کړی

ابليس او شيطان دقراني لا ربنوونو په رڼا کې

دشيطان په وجود باورهم داسلامي عقيد ې بر خه ده داځکه چې شيطان دغيبي امو رو دجملې څخه ده چې الله جلت عظمته او رسول الله صلى الله عليه وسلم مو ږ دهغه دپېر وی څخه منعه کړي يو په قران کريم کې دغه لفظ ۸۸ ځله راغلی دی دشيطان ، ابليس او طا غوت الفا ظ ۱۰۸ ځله راغلی دی پر دې اساس په شيطان باور لازمی شی دی په دې لړ کې به مو ږ لاندې مطا لب په تر تيب سره ذکر کړو

دابليس او شيطان معنا

- ابليس عربی کلمه ده له ابلا س څخه اخيستل شوې دابلا س معنا دالله جل جلا له له رحمة نا

اميد ه سره راغلی البته ابليس دشيطانانو پلا ر ګڼل کېږ ي

- دابليس اصطلا حي معنا : هغه پېر ې چې ادم عليه سلام ته دسجد ې څخه يې انکار وکړ او

دالله تعالى دلعنت مستحق وګرزيداو تر قيامته الله تعالى مهلت ورکړاودګمراهی تهول وسا يل ورپه برخه شوي چې بل هيچا ته نه دي ورکړشوي شيطان دپېر يانو او انسا نانو په هر سر کښ او نا فرمان باند ې اطلا ق کېږ ي

- شيطان په اصطلا ح کې له سر کښو پېر يانو څخه عبارت دی چې دانسان په بنه دځر ګند

ډلوتوان لري دانسان په شان مکلف مخلوق دی

دشیطان د تخلیق ماده

شیطان دپیر یانودنسل څخه ده له همدې املـه یې دپیدایښت ماده داورلمبه تشکیلوې قران عظیم الشان فرمایي ﴿ وَٱلْجَآنَّ خَلَقْنَٰهُ مِن قَبْلُ مِن نَّارِ ٱلسَّمُومِ ﴿٢٧﴾ ﴾ الحجر

دشیطان اصل :

دشیطان اصل دپیر یانو څخه ده شیخ الاسلام تقی الدین ابن تمیيه، فرمایي څرنګه چې دانسانانو اصل ادم علیه السلام دی په همدی تو ګه دشیطان اصل هم پیر ی دی قران عظیم الشان دغه مطلب ته داشاري په ترڅ کې فرمایي ﴿ كَانَ مِنَ ٱلْجِنِّ فَفَسَقَ عَنْ أَمْرِ رَبِّهِۦٓ ۚ أَفَتَتَّخِذُونَهُۥ وَذُرِّيَّتَهُۥٓ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِى وَهُمْ لَكُمْ عَدُوٌۢ ۚ بِئْسَ لِلظَّٰلِمِينَ بَدَلًا ﴿٥٠﴾ ﴾ الکهف: لکه څنګه چې پر بنې دالله تعالی منونکې لښکرې دي دخیر ، نېکۍ او صلاح لوري ته بلنه ورکوي په همدې تو ګه شیطان متمرد لښکر دی چې خلک دالله دښمنۍ ،شر ، فساد اوتباهۍ خواته دعوت کوي دشیطان کړه وړه دملا یکو دکړو وړو سره متضادي دملا یکو ماموریت عبارت دخلکو تر مینځ وحدت دوستي او محبت یووالی او هدایت دی دشیطان فعالیتونه سرکشي ، نا فرماني اختلاف ، فساد دتباهی او بې لارې ده همدغه شیاطین دي چې فاسد او ناکاره اعمال خلکو ته ښه ښکاره کوي

دشیطانانو ډولونه

لکه څرنګه چې په پیر یانو کې شیطان وي په همدې تو ګه په انسانانو کې هم شیطانان وي په یو روایت کې راغلي دي یو ځل ابوذر غفاري رضی الله عنه لمونځ کاؤ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وؤیل ابو ذره ! دانسي او جني شیطانانو څخه پناه غواړه ابو ذر رضی الله عنه عرض وکړ ای دالله رسوله ! په انسانانو کې هم شیطان نان وي رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل هو کې

همد غه مطلب ته په قران عظيم الشان کې اشاره شوې ﴿ وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا شَيَاطِينَ الْإِنسِ وَالْجِنِّ يُوحِي بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ زُخْرُفَ الْقَوْلِ غُرُورًا ﴿١١٢﴾ ﴾ الانعام:

دغه ډلې په لاندې نومونو هم نومول شوي

(۱) مردة الشياطين :

معنا داچې په کبر ، لويي او سرکښي کې او ږد اخته قران عظيم الشان فرمايي

﴿ وَحِفْظًا مِّن كُلِّ شَيْطَانٍ مَّارِدٍ ﴿٧﴾ ﴾ الصافات: نو پر دې اساس په ټولو کافرانو دانسي شيطان اطلاق صحت لري .

(۲) طاغوت :

زمونږ پوهانو دطاغوت معنا دګمراهۍ دسر لښکر کړې ده پخپله نه يوازې داچې ګمراه بلکې دګمراهۍ سرخيل نو پر دې اساس په ټوله نړۍ کې دکافرانو مشران او په اسلامي هېواد ونو کې ددوی تالې څټې دکفري او بې دينه ډلو قايدين .طو اغيت دي قران عظيم الشان فرمايي ﴿ فَمَن يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِن بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ لَا انفِصَامَ لَهَا ۗ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٥٦﴾ ﴾ البقرة:

دشيطانانو صفات

لومړی : خلقي صفات :

(۱) له اورنه پيدا ايښت قران عظيم الشان فرمايي ﴿ وَالْجَانَّ خَلَقْنَاهُ مِن قَبْلُ مِن نَّارِ السَّمُومِ ﴿٢٧﴾ ﴾ الحجر: ژباړه : او له هغه نه مخکښې مونږ پيريان د اورله شغلې نه پيدا کړي وو.

(۲) په ستر ګو نه ښکارېدل : قران عظیم الشان دغه مطلب داسې روښانه کوي

إِنَّهُۥ يَرَىٰكُمْ هُوَ وَقَبِيلُهُۥ مِنْ حَيْثُ لَا تَرَوْنَهُمْ ۗ إِنَّا جَعَلْنَا ٱلشَّيَٰطِينَ أَوْلِيَآءَ لِلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٢٧﴾ الأعراف: ۲۷ ژباړه: هغه او د هغه ملګرې تاسې له یو داسې ځای نه وینې چې له هغه ځایه تاسې هغوی نه شئ لیدلای. مونږ د شیطانان د هغو خلکو سرپرستان ګرځولي دي چې ایمان نه راوړي.

(۳) قبیح، بد شکل او ښکرونه :په مینځنیو پېړیو کې نصاری ؤ دشیطان انځور داسې وړاندې کا ؤ تک تور شخص لوړې وریځې ښکرونه او څېرونکې منګولې له خولې څخه وتونکې لمبه او شا ته لکی.

دویم معنوي صفات

(۱) استکبار او کفر : قران عظیم الشان فرمایي ﴿ أَبَىٰ وَٱسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٣٤﴾ البقرة: ٤ ژباړه خو ابلیس انکار وکړ ، هغه د خپلې ځانې په غرور کښې اخته اود کافرانو له ډلې څخه شو .

(۲) عصیان : قران عظیم الشان فرمایي ﴿ إِنَّ ٱلشَّيْطَٰنَ كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ عَصِيًّا ﴿٤٤﴾ مریم: ژباړه : ، شیطان خو له رحمن څخه سر غړوونکی دی.

(۳) لعن اورجم : قران عظیم الشان فرمایي ﴿ فَإِذَا قَرَأْتَ ٱلْقُرْءَانَ فَٱسْتَعِذْ بِٱللَّهِ مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ ٱلرَّجِيمِ ﴿٩٨﴾ النحل: ۹۸ ژباړه : نو کله چې ته په قران لوستلو پیل وکړې نو له رټل شوي شیطان نه د خدای پناه وغواړه .

(۴) طغیان او له حدنه تجاوز (۵) دحق پر وړاندې شکست او نابودي

دشيطان اهداف او مقا صد

شيطان دوه ډوله اهداف لري

- **لپر ې نهايي هدف**
- **نيژدې هدف**

دشيطان نهايي هدف دادی چې خلک له جنت څخه محر وم او دوزخ ته يې بو زي

قـران عظـيم الشـان دغـه مطلب تـه داشـارې پـه تـرځ کـې داسـې فرمـايي ﴿ إِنَّ ٱلشَّيْطَٰنَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَٱتَّخِذُوهُ عَدُوًّا ۚ إِنَّمَا يَدْعُواْ حِزْبَهُۥ لِيَكُونُواْ مِنْ أَصْحَٰبِ ٱلسَّعِيرِ ﴿٦﴾ ﴾فاطر: ۶

په حقيقت کښې شيطان ستاسې دښمن دی نوتاسې هم هغه خپل دښمن وګڼئ . هغه خپل پيروان خپلې لارې ته د دې لپاره رابولي چې هغوی د دوزخيانوله جملې نه شي .

دشيطان نيژ دې اهداف

(۱) دکفر او شرک په لو مه کې دخلکو راګير ول

۲ :دخلکو هڅو نه تر څو طاغوت ته پر ېکړې يو شي

(۳) په ګنا هو نو کې دخلکو غور زول قران عظيم الشان فرمايي

﴿ إِنَّمَا يَأْمُرُكُم بِٱلسُّوٓءِ وَٱلْفَحْشَآءِ وَأَن تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٦٩﴾ ﴾البقرة: ۱۶۹

(۴) په بد عاتو دخلکو اخته کول : دفسق او معصيت پر ځای بد عت شيطان ته ډېر محبو ب عمل دی دائکه چې دبد عت زيا ن دين ته رسېږ ي همد غه لامل دی چې سفيان ثو ری رحمة الله عليه وايي بد عت دمعصيت په نسبت ابليس ته زيات غوره عمل دی دائکه چې له معصيت نه لاس په سر کېدل کېد ی شي مګر له بدعت نه لا ساخيستل سخت کار دی .

(۵) دخلکو دعبا داتو او طا عاتو فاسد ول

(۶) دالله جل جلاله ددين په وړاندې خنډونه ايجاد دول

دشيطان فرعي هدفونه

(۱) په حرامو اونا رواء وکې دخلکو اخته کول

(۲) دټولنې توټه کول دقاموسونو ترمينځ دښمني ملتونه يو دبل وينو ته کښېنول مکر، فريب او دوکه، شخړې ايجاد دول او سنې ژبنې، مذهبي او نژادي شخړې يې ښې ببلګې دي

(۳) دسحر او جادوګرۍ ايجاد او ترويج

(۴) لاټري، قمار او دجواري ترويج

(۵) په ناحقه وژنې

(۶) په ناروا توګه دمال لاسته راوړل او په ناروا توګه يې لګول

(۷) بخل او اسراف

(۸) دشرابو څښل

(۹) بربنډ تيا

(۱۰) دزنااوفحشا ترويج

دشيطان زيانونه

- **دشيطان جسماني زيانونه:**

(۱) دخلکو کورونو ته او راچول: دځينو حيواناتو په وسيله شيطان کورونو ته اور اچوي له همدې امله رسول الله صل الله عليه وسلم دخوب پر مهال دځراغ دمړکو لو امر کړی دی دائکه چې شيطان موږ کا ن هڅوي تر څو په کور کې اوربل کړي.

(۲) دولا دت په مهال ماشوم ته ضررسول

(۳) په رنځونو کې دخلکو اخته کول

(۴) په خوراک او څښاک او داستو ګنې په ځای کې له انسان سره ګډون مکړ هغه ځوک چې اعوذ بالله ووايي اوالله ته پناه يوسي له هغه کوره کډه باروي او دورومي.

- **دشيطان روحاني زيانونه**

۱: وحشتنا که خوبونه

۲: دمرګ په مهال دانسان منحرف کول

۳: په جنون دانسان ا خته کول دتولو اهل سنتو په اتفاق شیطان کولای شي دانسان بدن ته داخل شي او په لیو نتو ب یې اخته کاند ی قران عظیم الشان فرمایي ﴿ ٱلَّذِينَ يَأْكُلُونَ ٱلرِّبَوٰا۟ لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ ٱلَّذِى يَتَخَبَّطُهُ ٱلشَّيْطَٰنُ مِنَ ٱلْمَسِّ ﴿٢٧٥﴾ ﴾ البقرة: ۲۷۵ ژباړه

(۴) انسان ته وسو سي اچول الله تعالی فرمایي ﴿١﴾ ٱلَّذِى يُوَسْوِسُ فِى صُدُورِ ٱلنَّاسِ ﴿٥﴾ مِنَ ٱلْجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ ﴿٦﴾ ﴾ الناس: ۱ - ۶

دانسان زړه ته دشیطان ننو تلاړ

(۱) تکبر او لو یي

(۲) په دنیا کې دتل تر تله او سبد و مینه

(۳) دمنصب اوحکومت مینه

په دنیا کې دشیطان او دهغه دپیروانو پا یله

- بد بختي او زیان
- حیر انتیا او لیو نتو ب

په اخر ت کې یې نتیجه

- له خپلو پیر وانو دابلیس بر اءة
- اورته دخپلو دو ستا نو ننو بستل

له شیطان نه د ژغو رنې وسا یل

(۱) استعاذه (اعوذ بالله) ویل دقران کریم دتلا وت پر مهال ، دغو سې پر وخت ، بیت الخلاء ته د ننو تلو پر وخت ، دکور والـه پرمهـال ، دخره دهنګبـد و پر وخت ، دخو ب پروخت ، له خوب نه دبیدارېد و پر مهال

(۲) دحق او خیر وینا کول

(۳) له ګناهو نو ځان ساتل

(۴) له بد و ملګرو لېر ې والی

له شيطان سره دجګړې وسايل

- له شيطان نه بېز ارتيا
- دشيطان له پيژانو سره وسله والې مبارزه
- دشيطاني پلان نو نو بر بنډول

داتم څپرکي دمطالبو لنډيز

(۱) مخلوقات په دوو برخو وېشل شوي يو څرګنده نړۍ او بله دغيبو نړۍ دغيبو عالم له هغو حقايقو څخه عبارت دی چې انسان دحس له دايرې څخه بهر ون دی غيبي شيان په مادي حواسو نه پېژندل کېږي دغه شيان سمعيات ګڼل کېږي معنا داچې پر دغو شيانو دپوهې يوائېنۍ لار اسماني وحی ده غيبي شيان لکه ملايکې ، پېريان او شيطان دبرزخ نړۍ ، قيامت جنت او دوزخ دتجربو ي اشياءو څخه نه دي چې په عقل سره يې درک سرته ورسېږي

(۲)الله تعالی دانسان فطرت دتفکر پراساس جوړ کړی علومو او پوهنو ته درسېدلو وړ تيا يې ورکړې دانسان لو ی امتيا ز له نورو ژويو څخه دعقل پر بنسټ دی علم او پوهه انسان لوړو مرتبو ته رسو ي

(۳) دقران عظيم الشان په رڼا کی علم شپږ سر چينې لري

(۱) حساو تجربه قران کريم انسان ته وايي ستر ګې دې پرانيزه دکاينا تو په هره ذره کې دالله تعالی دعجايباتو نښې په خپلو ستر ګو وګورې سا ينس دکاينا تو پوهې ته ويل کېږي نو پر دې اساس ټول کاينات دالله جلت عظمته دمعرفت ډګر ګڼل کېږي .

دوهم :عقل :په قران کريم کې عاقله قوه په مثوادسره تعبير شوې په هغې سره له حس نه وراخوا نړۍ درک کولی شو

دريم تاريخي اثار :قران کريم دتېرو ملتونو داثارويا دونه کوي دهغوی دعروج اوزوال اسباب ذکر کوي تر څو راتلونکي نسلونه ورڅخه عبرت واخلي څلورم فطرت او پټ شعور : کله چې انسان درشد تر پړاوه ورسېږي يو لړ حقايق له استاد او زده کړې پر ته پخپله تر لاس کوي دالله دوجود پوهه هم دانسان په فطرت کې ځای لري

پنځم مکاشفه او شهود : ځینې وخت الله تعالی خپلو خال صوبند ګانو ته یو ځانګړی ځواک وربخښی تر څو په هغې سره دغیبو نړۍ وګوري لکه حضرت ابر اهیم ته داسمانو نو او ځمکو دملکو تو ننداره ښو دل شوی.او هم رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دمعراج په شپه جنتو نه او دوز خونه او نور عجا یبات ښو دل شوي

شپږم اسماني وحی دحی اسماني پیغام دعلم ارزښتنا که سر چینه ده په قران کریم اسماني وحی دعلم او حکمت داسا سی منبع په تو ګه ښودل شوې

(۴) په سمعي امو رو دایمان وسا یل قران عظیم الشان ، نبو ي سنت او دامت اجماع تشکیلو ی

قران عظیم الشان دالله تعالی معجز کلا م دی چې دجبر یل په وسیله درسول الله صلی الله علیه وسلم سپځلي زړه ته راکفررشوی په فاتحه پیل او په سورة ناس پای ته رسېدلی مو ږ ته په متواتر نقل سره رسېدلی تلا وت یې عبادت او دمسلمانانو لپاره قانون دی او سنت په لغت کی طر یقې ته وایې په اصطلا ح کې درسول الله صلی علیه وسلم له اقوالو ، افعالو ، تقریر اتو وصف خلقی او خلقي څخه عبارت دی او اجماع درسول الله صلی الله علیه وسلم تر وفاته وروسته په یوه مسئله دامت دمجتهدینو اتفاق ته ویل کېږ ی داسلامي امت زیات پو هان په دې نظر دي چې چې له قران کریم او نبو ي سنت نه وروسته اجماع حجت او دلیل دی ټاکلی ځای اووخت پو ري اړه نه پیدا کوي

(۵) په ملا یکو ایمان داسلامي عقید ې دارکانو دویم رکن او انکار ورڅخه کفر ګڼل کېږ ي

ملا یک دملک جمعه ده له الو کة څخه اخیستل شوی الو کت ، رسالت او سفا رت ته ویل کېږ ي

البته دعلم کلام یو شمېر پو هان یې یو لړ عیبي او نا محسو س حقا یق بولي چې له حیواني تما یلا تو څخه پا کې دي په ببلا ببلو شکلو نو ځان بدلو لی شي داستو ګنې ځا ی یې اسمانو نه دي دالله تعالی دسپځلي ذات نه پرته یې چا ته حقیقت معلو م نه دی

په ملا يکو دايمان دلا يل له شمېر نه وتلي دی لو مړ ي دليل يې قران کريم او دويم يې نبو ي سنت پخپله قران کريم هم دملا يکو داڅا رو دجملې څخه ده ځکه چې جبر يل اسماني ملکې له ځان سره راوړی دی

(۷) دملا يکو حقيقت او صفا ت يوازې الله تعالی ته معلو م دی ددوی ځينې صفات په لا ند ې تو ګه دي دوی له نو رڅخه پيداشو ی لو ی جسد ونه لري دوز رونو ځښتنا نې دي نا اشنا ځواک لري په ېلا ېلو جسماني اشکا لو ځا ن څر ګند ولی شي په دوی کې ځينې مقر بې پر ښتې دي دتو ار او تنا سل نا رينتو ب او ښځينه تو ب څخه پا کې دي دالله تعالی پر وړاند ې جلا جلا مر تبې لري په حسن او جما ل متصفی دي ، نه څه خوري نه څه څښي نه ستړې کيږ ې داستو ګنې ځای يې اسمان دی

دوی حيا نا کې دي او دستر نظم څښتنانې دي دملا يکو شمېر ډير زيات او يو ازې الله تعالی ته معلو م دی

(۷) ملا يکې ګڼې دندې لري دالله تعالی پروړاند ې يې دنده په ټولو چارو کې دالله تعالی اطاعت کول – دالله تعالی څخه وېر ېدل الله ته تسبيح ويل دعرش پورته کول دکاينا تو دچا رو تد بير کول دجنت او دوز خ دچا روسمبا لو ل ملا يکې ځينې دند ې سر ته رسوي چې انسان پوړې اړيکه نيسي دهغو دجملې څخه ادم عليه السلام ته تعظيم کول او دهغه ته دمړ ينې غسل ورکول – دانسان څارنه او سا تنه دانسان دبدن تکوين ، پيغمبر انو ته وحی راوړل دانسان په زړه کې دخير دچارو اچو ل دانسا ني کړ ووړو ثبت اليکنه دخير په کولو مټو منا نو ته دعا دانسانانو دسا ګا نو اخيستل په قبر کې سوال او ځواب دمټو منا نو په اړوند يې مسئو ليتو نه

دځنکدن پروخت زېری ، مو منا نو ته دعا په همد ې تو ګه دخير دچا رو ښو ونکي ته دجو ماتو نو امامانو دلو مړ ي صف لمو نځ کونکيو په صفو نو کې دخالی ځای په ډکونکيو پيشنمي کونکيو په رسول الله درود يونکيو درنځو رانو په عبادت کونکيو دعلم او ذکر په مجلسو نو دګډ ونکيو ته درحمت دعا ګا نې کوي په همد ې تو ګه دسهار لما نځه ته حا ضر ي ورکوي مټو منانو سره دکافرانو پر خلا ف په جګړ و کې مر سته کوي

په همدې تو ګه دمثومنا نو په جنا زو کې ګډون کوي
دکافرانو او فا سقا نو په اړوند دملا يکو دندې
په کافرانو عذابو نه راوړل
په هغوی لعنت ويل
په هغه ښځه هم لعنت وايي چې دمېړ ه نا فر ماني کوي
پيغمبر صلی الله عليه وسلم په ملګر و په طعن لګو نکيو هم لعنت وايي
(۸) دمثو من په ژوند په ملا يکو ايمان زيا تې اغيز ې لري دهغو له جملې
څخه دالله جل جلا له په عظمت او رحمت داحساس زيات والی په جهاد کې
مېړانه او اتلو لي په دې فکر چې ملا يکې ورسره مل د ي له خرافاتو او ها مو
لېر ې والی
دالله تعالی په او امرو استقامت
دامن ډاډاو اطمينان احساس
دپېر يانو په وجو د باور داسلامي عقيد ې بر خه ده الله تعالی جل جلا له او رسول
صلی الله عليه وسلم يې په يقين مامور کړي يو
(۱) دجن مفهوم په لغت کې هغه شي ته ويل کېږ ي چې له ستر ګو پټ وی په
اصطلا ح کې دالله تعالی داسې مخلو ق دی چې انسان او پېر ي په مينځ کې قرارلري
دانسان په شان اراده او اختيار لري غير مادي صورتيې نه ليد ل کېږ – ددې توان
لري چې په بل قالب کې دښواو بد وشکلونو په بڼه ځان څر ګند کړي
(۲) دپېژندلو لا ر ه چاره يې اسمانی وحی ده دمسلمانانو ټولې ډلې او عام اهل کتاب
دپېر يانو په وجو د قايل دي
(۳) دپېر ۔۔ دتخليق ماده او ر او له انسان نه مخکې پيداشوی ، پېر يان دليد و
قابل نه دي دانسان په شان مکلف مخلو ق دی دانسان او حيوان په بڼه ځاز څر ګند
ولی شي دانسان په شان ژوند ، مړينه او قيامت لري نارينه او ښځينه تو لد او تنا
سل لري همد ارنګه شعور او اراده لري ډېر چالا ک او شا قه چارې سر ته رسولی شي
دوی خوراک ته اړتيا لري دانسانانو په څېر مو من او کا فر ، صا لح او فاسد افر
ادلري

(۴) دوی دغیبو علم نه لر ي دملا یکو په شان پو رته نړۍ ته خپژ ي البته درسول الله صلی الله علیه وسلم په رسالت دغه لړۍ پای ته ورسېد ه پېر یان انسان ته زبان رسولی شي دوی ته ددضر ر رسېد لو په صورت کې په انتقام لا س پور ې کوي ځینې وخت بې ځایه خلک زوروي .

دوی په کنډ والو ، ډېر انونو ، چټلو ځایو نو او ښارونو کې اوسېږ ي دوی په چټلو ، کثیفو ، نا ولو او ګنهګار و انسانانو کښېنې البته له پاکو انسانانو سّره غرض نه لري دوی په صالحو او نېکو کاره انسانانو واکمني او تسلط نه لري .

(۵) دشیطان په وجود باور هم داسلامي عقید ې برخه ده الله او رسول یې له پیر وۍ څخه منعه کړي یو په قران کریم کې دشیطان لفظ ۸۸ ځله راغلی

(٦) دابلیس معنا دالله له رحمة نا امید ه ډېر یانو دجملې څخه دشیطان نانو پلا ر

دی **دابلیس اصطلاحي معنا :**

هغه پېری چې ادم علیه السلام ته دسجد ې څخه انکار وکړ او دالله تعالی دلعنت مستحق وګر زېد او تر قیا مته الله تعالی مهلت ورکړ .

(۷) دشیطان معنا : تمرد اوسر کشي ده په اصطلا ح کې دسر کښو پېر یانو څخه دی چې دانسان او ملا یکو دعالم تر مینځ قرار لري دانسان له حو اسو پټ په ښو او بدو اشکالو ځان څر ګند ولی شي دانسان په شان مکلف مخلو ق دی دتخلیق ماده داورلمبه ډېر یانو دنسل څخه ده لکه څنګه چې دانسانانو اصل ادم علیه السلام دی په همدې تو ګه دشیطان اصل ډېر ي څخه دی پر ښتې دالله تعالی منو نکې لښکر دی چې دشر ، فساد او تباهۍ خواته خلک رابو لي

(۸) لکه څرنګه چې په پېر یانو کې شیطانان شتو ن لري په همدې تو ګه په انسانانو کې هم شیطان شته دي ټول کافران او منا فقان انسي شیطا نان دی طاغوت هم شیطان دی خو هغه په انسانانو کې دکفر او ګمراهۍ لیډرشپ وي دکافرانو لو ی مشران او په اسلامي هیو ادونو کې ددوی په تالي څټو رهبرانو دطاغوت اطلا ق سمو ن لري

(۹) دشیطانانو صفات

له اورنه پیدا ښت ، په ستر ګو نه ښکا ربدل قبیح او بد صورت معنوی صفات یې استکبار او کفر ، عصیان او نافرمانی لعن او رجم طغیان – شکست او دپیروانو رسوایي

(۱۰) دشیطان نهایي هدف خلک له جنت نه محر ومول او دوزخ ته یې بیول

(۱۱) نیژ دې اهداف یې

دکفر اوشرک په لومه کې دخلکو راګیر ول طاغوت ته دپر یکړه و په ویلو دخلکو هڅو نه په ګنا هونودخلکو غورزول په بد عاتو دخلکو اخته کول دخلکو دطاعاتواو عباداتو فاسد ول ، ددین پروړاند ې خنډ ونه ایجا دول

(۱۲) دشیطان فرعي اهداف :

په حرامو اونارواءو کې دخلکو اخته کول ، دټولنې ټو ټه کول دقامونو تر مینځ دښمني دشخړو ایجا د دسحر او جا دو ایجا داوتر ویج لا تړ ي ، قمار ، سود ، قتل بخل اسراف ، دشرابو ترویج ، بر بنډ تیا زنا او لو اطت ته بلنه

(۱۳) دشیطان جسماني زیانونه :

دخلکو کورونو ته اوراچول ، دولا دت پر مهال ماشوم ته ضرر رسو ل ، په رنځونو کې دخلکو اخته کول ، په خوراک او څښاک او جماع کې له خلکو سره ګډ ون مګر داعوذبالله په ویلو کډه باور ي

(۱۴) دشیطان روحا ني زیانونه :

دحشت نا که خو بو نه ، مر ګ په مهال دانسان انحراف په جنو ن دانسان اخته کول ، انسان ته وسو سه اچول

(۱۵) دانسان زړه ته دشیطان دننو تلو لا رې چارې

تکبر او لو یي ، په دنیا کې دهمېشه او سېد ومینه ، دمنصب او حکومت مینه

(۱۶) په دنیا کې دشیطان دپیر وانو انجام بد بختی او تاوان ، حیرانتیا او لیو نتوب

(۱۷) له شیطان نه دژغورنې وسایل

اعوذ با الله ویل دحق او خیر خو اته بلنه له ګنا هونو ځان سا تنه له بدو ملګر یو لېرې والی

(۱۸) له شیطان سره دجګړ ې وسا یل

له شیطان نه ببز اړتیا دشیطان له پیروانو سره وسله واله مبارزه دشیطانی پلا نونو بر بندول

(۱۹) په انسان دشیطان دتسلط او حا کمیت لا ر ګنا هو نه دي ، شیطان پر مثو منانو هیڅ تسلط نه لر ي

(۲۰) دشیطان مثال دمیکروب په څېر دی مېکرب تل دبدن کمز ورتیا ته منتظر وي

(۱۲) دابلیس دپید انښت حکمت دادی چې الله تعالی متفادشیان پیدا کړ ي دي لکه شپه ورځ ، علم ، جهل ، خیر اوشر او داسې نور ..

پوښتنې

(۱) مخلو قاتو په څو بر خو وېشل شوي سمعیات راوپېژ نې

(۲) دقران عظیم الشان په رڼا کې دعلم دسر چینو نو مو نه واخلې

(۳) په سمعي امو رو دایمان وسا سیل شر حه کړئ

(۴) دملک لغو ی او صطلاحي ولیکی

(۵) په ملا یکو دایمان دلا یل ولیکي

(۶) ملا یکې له څه شي څخه پیداشو ي دي ددوی ځینې صفات ولیکی

(۷) دالله تعالی پر وړاند ې دملا یکو دند ې ولیکي

(۸) دانسان پروړاند ې دملا یکو دندې عبارت دې له

(۹) دمثو منا نو په اړ وند ملکي اعمال ولیکی

(۱۰) دکافرانو په اړونددملا یکو دند ې عبارت دي له

(۱۱) دمثو من پرژوند په ملا یکو دایمان اغیز ې دلیکي

(۱) پېریان راوپېژنی

(۲) دپېریانو دپېژندلو لاره وښایاست

(۳) دپېر یانو دتخلیق ماده او ددوی په هکله بشپړ معلو مات ولیکی

(۴) پیر یان چیرته او سي او په کومو خلکو کښېنې

(۵) ابلیس راوپېژ نئ

(۶) شیطان راوپېژنی

(۷) دشیطان دتخلیق ماده او نسل واضح کړئ

(۸) ایاپه انسانانو کې هم شیطانان شتو ن لري

(۹) په اوس دخت کې دانسي شیطانانو او طاغو ت اطلا ق په چا کېږ ي ؟

(۱۰) دشیطان صفات ولیکی ؟

(۱۱) دشیطان معنو ی صفات واضح کړی ؟

(۱۲) دشیطان نهایی هدف واضح کړی ؟

(۱۳) دشیطان نیژ دې اهداف راپه ګو ته کړی ؟

(۱۴) دانسان زړه ته دشیطان دننو تلو لا رې چارې ولیکی

(۱۵) په دنیا کې دشیطان دپیر وانو انجام ولیکی

(۱۶) له شیطان نه دژغو رنې وسا یل ولیکی؟

(۱۷) له شیطان سره دجګړ ې او مخا لفت وسا یل

(۱۸) دشیطان مثال دځه شي په څېر دی.

(۱۹ دابلیس دپیدایښت حکمت ولیکی ؟

تمرین :

دمضمو ن استا د به ددرسي ساعت په پا ی کې دخبر و اتر و زمینه برابر ه کړي تر څو له دغې لار ې محصلین وکولی شي خپلو معلو ماتو ته پراختیا ورکړ ي په همد ې ډول دې استاد په دغه مو ضوع کې محصلینوته کورنۍ دندې وسپارې دقران ګڼ اياتونه چې دملا یکو او پېر یانو په هکله راغلي استا ددې په ګر وپی شکل محصلینو ته وظیفې ورکړیپه همد ې تو ګه دې دانټر نټ او کتا بتو ن لو ري ته ډهبر ي او بیا دې دهغو ی مطا لعه وار زوي .

دلسم څپر کي دمطالبوفهرست

لړليک

سريزه

- دکتاب لغوي اوصطلاحي معنا
- په اسماني کتابونودايمان حکم
- په اسماني کتابونودايمان دلايل
- په اسماني کتابونودايمان اهميت
- داسماني کتابونودنزول هدف
- داسماني کتابونواتفاقي ټکي
- په اسماني کتابونو دايمان ګټې
- دشريعتونوداختلاف قضيه
- په اسماني کتابونودايمان غوښتنې

هغه اسماني کتابونه چې په قران کريم کې يې يادونه شوې

- دابراهيم اوموسی عليه السلام صحيفې
- تورات
- دتورات لارښوونې اوسنی تورات
- زبور

- انجيل اودانجيل لارښوونې
- دعيسی عليه السلام ترپورته کېدووروسته اناجيل
- ديهودواوانصارؤدکتابونوپه هکله داسلامي عقيدې دريز
- قران عظيم الشان داسماني کتابونوروستی لړی
- دقران پېژندنه اونومونه او دايمان غوښتنې يې
- په نورواسماني پېغامونودقران امتيازات

اسماني کتابونه

سريزه

الله تعالی دبشريت دهدايت اولارښوونې لپاره د هرلوی اووارې کتابونه نازل کړي دي په دې کې الهي قانون اودژوند تهرولوصحيح طريقه بيان شوې وه الهي استازوپيغمبرانو، ددې کتابونومفهوم ولسونوته څرګندکړاوپخپله يې عملي نمونه وو

په ټولواسماني کتابونوايمان راوړل ضروري دي ځکه چې اصلي مرکزي اومحوري خبره يې يوه وه چې هغه دالله تعالی بندګي اوله کفراوشرک نه ځان ساتل دي ،په اسماني پېغامونوکې يوصحيفې اوبل څلورلوې کتابونه شامل دي ،اوس مهال نه صحيفې شته اونه يې ژبه شتون لري مګرپه اسماني لويوکتابونوکې نن يوازې قران عظيم الشان په خپل اصلي حالت کې لفظ په لفظ اوحرف په حرف محفوظ پاتې دی اوترقيامته به همداسې محفوظ وي داځکه چې دميليونونوانسانانوپه سينوکې محفوظ پاتې دی په نورودرې اسماني پېغامونوکې د هرځه بدل شوي ،اصلي ژبه يې نشته بې لارې خلکودهغې په تعليماتوکې د هرې هغه خبرې ورننوښتلې دي چې ددين له اصلي تعليماتوسره مخالف دي اود هرې هغه خبرې يې ورځخه وښتلي چې دهغوی دغوښتنوخلاف وې له همدې امله نن دالهي دين دپېژندلواوپرهغه دعمل کولويوازې محفوظه مستنده ذريعه قران عظيم الشان دی چې په انکارکولوسره يې يوشخص مسلمان نه پاتې کېږي ترقيامته پورې دټول بشريت لپاره لارښودپېغام اودنجات يوائينی وسيله ګڼلی شي په قران کريم کې دکمي اوزياتي صلاحيت له هېچاسره نشته تردې چې پېغمبرهم داصلاحيت نه لري دپېغمبرکاردغه سترپېغام پيروي اوپه هغه عمل کول دي، په دغه ستر کتاب کې ترقيامته پورې دټول بشريت لپاره دژوند دټولوستونزوحل موجوددی دژوندانه هېڅ انفرادي اوياټولنيزه داسې مسئله نشته چې په هکله يې په قران کريم کې څرګنده لارښوونه نه وي له همدې کبله دژوندانه هېڅ ځانګه کې هم له هغه نه بې پروايي اودهغه داصولو،قوانينواولارښوونوپرخلاف دنوراصولو اولارښوونوسره سم دژوندعياروول بې لارې توب اوله قران څخه بغاوت ، سرکشي اوکفرګڼلی شي، ددې څېرکي تر

لوستلو وروسته به لوستونکي وکولی شي په لاندې ټکيو پوهه تر لاسه کړي

لغوي پېژ ندنه

کتا ب دمصدر صيغه دمکتو ب په معنا سره ده دجمع او پيو ستو ن مفهوم افا در کوي ليکو ال ته کا تب ويل کېږي ځکه چې هغه توري رايو ځای کوي ،فو ځي لښکر ته کتيبه وايي ، خيا ط ته هم دکا تب نسبت کېږ ي ځکه هغه دجا مو څنډ ې يو له بل سره يو ځای کوي . په عربی ژ ب دودکې يو پو ستکی له بل سره دپيوستون او ګنډ لوپه معنا دی

اصطلاحي پېژ ندنهدتورو خپل مينځي پيو ستون ته ته کتاب ويل کېږي

دکتاب شرعي معنا :کتا ب دالهي کلا م څخه عبارت دی چې په هغه کې هدايت او روښنا يي وي چې دو حی په ترڅ کې دوخت پيغمبر ته لېږ ل کېږ ي تر څو ولسو نه رهبري کړي او ددنيا او اخرت بر ی حاصل کاندي

په شرعي اصطلاح کې دکتا ب اطلاق په صحيفو ، لو حو، دوحی په ټولو ډولونو کېږ ي چې په لفظي او کتابي بڼه الله تعالی په پيغمبر نازل کړي وي چې په هره ژبه وي لويې وي او که کو چنی په تد ويـن شو ې بڼه وي او که په غير مدون شکل

په اسماني کتابونو دايمان حکم :

دايمان دشپږ ګونوارکانو دجملې څخه په اسماني کتابونو ايمان دی چې الله جل جلاله په خپلوپيغمبرانو نازل کړي ؤ هغه ټول حق، رينبتيا ،شفا ،رحمت اوهدايت ؤ په هغوکې اوامر،نواهي،وعداووعيد ،لارښوونې اورنـاوه پـه اسـماني کتـابونو دايمان نه پرته يو شخص مومن نه ګڼل کېږي په اسماني کتابونو دايمان حکم په لاندې ټکيو کې راخلاصه کوو :

- په دې خبره ټينګ باورچې الله جل جلاله په خپلوپيغمبرانواسماني پيغامونه نازل کړي دي چې نومونه اوشميريې يوازې الله تعالی ته معلوم دی
- په هغواسماني پيغامونوچې په قران کريم کې يې يادونه شوې ده

لکه دابراهيم اوموسی عليه السلام صحيفې، تورات، انجيل اوزبورپه دې ټولو له تحريف اوتبديل نه دمخه اجمالي ايمان په ژبه اقراراوپرزړه تصديق لرو

• په قران عظیم الشان مفصل ایمان په ژبه اقراراوپه زړه تصدیق

اوپریکړوته یې ځان سپارل اپردې تینګ باوردرلودل چې قران کریم دالله تعالی کلام اړوینادە دساتنې ذمه یې الله تعالی کړې ده په محمد صلی الله علیه وسلم نازل شوی ترڅودمسلمانانولپاره دژوندانه قانون اوله تیاروڅخه درناپه لورویستونکی اوسي په ده کې داسمانونواوځمکودپیدایښت اودتېروملتونواوقامونودپرمختګ اوزوال کیسې دعقیدې، حلالواوحرامو، ادابواواخلاقو،عباداتواومعاملاتو،کورنۍ نظام، اقتصاد،سیاست اوحکومت،جناياتو،جنګ اوسولې اونړۍ والواړیکوپه هکله احکام اوقوانیز دي

په اسماني کتابونو دایمان دلایل

قران عظیم الشان اونبو ي سنت په اسماني کتابو نو ایمان ستر دلایل دي .

قران عظیم الشان دغه مطلب داسې روښانه کوي ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ ءَامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَٱلْكِتَٰبِ ٱلَّذِى نَزَّلَ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَٱلْكِتَٰبِ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ مِن قَبْلُ ۚ وَمَن يَكْفُرْ بِٱللَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَٰلًۢا بَعِيدًا ﴿١٣٦﴾ ﴾ النساء ترجمه : ای مؤمنانو ! پر الله او پر رسول او پر هغه کتاب ایمان راوړئ چې الله پر خپل پیغمبر نازل کړیدی. او پر هر هغه کتاب چې له دې نه مخکښې یې نازل کړیدی چاچې له الله ، د هغه له ملایکو ، د هغه له کتابونو ، د هغه له رسولانو او د اخرت له ورځې نه انکار وکړ هغه په ګمراهۍ کښې سرګردان ډېر لرې لاړ.

په همدې تو ګه دجبریل په مشهور حدیث کې هم دایمان اساسات بیان شوي دی

په اسماني کتابو نو دایمان اهمیت

په اسماني کتا بو نو ایمان داسلامي عقید ې داصولو او بنسټو نو دجملې څخه دی په اسماني کتابو نو دایمان نه پرته دهېڅاایمان صحت نه پیدا کوي ،په تېر تاریخ کې چې کوم ولسو نه تباه شو ي دي لا مل یې دپیغمبرانو تکذیب ؤ په همدې توګه چې یوڅوک داسماني پیغامونودیوجزء څخه انکار و کړي کافر ګڼل کېږ ي قران عظیم الشان دغه مطلب داسې بیا نو ي﴿ قُولُوٓاْ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡنَا وَمَآ أُنزِلَ إِلَىٰٓ إِبۡرَٰهِـۧمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ وَٱلۡأَسۡبَاطِ وَمَآ أُوتِيَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ وَمَآ أُوتِيَ ٱلنَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمۡ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّنۡهُمۡ وَنَحۡنُ لَهُۥ مُسۡلِمُونَ ١٣٦ ﴾ البقرة ترجمه مسلمانانو ! ووایی چې: مونږ ایمان راوړیدی په الله او پر هغه هدایت چې مونږ ته راغلی دی او هغه چې ابراهیم(ع)، اسمعیل (ع)، اسحق(ع) یعقوب او د یعقوب(ع) ځوځات ته راغلی ؤ او هغه چې موسی (ع) ، عیسی (ع) او نورو ټولو پېغمبرانو ته د هغو درب له لوري ورکړ شوی وو، مونږ د هغو په مینځ کښې هېڅ توپیر نه کوو او مونږ الله ته سرټیټوونکي یو".

داسماني کتابو نو دنز ول موخه

- دکاینناتودخښتن پیژندل
- دالله تعالی بند ګی اوغلامي
- دانسان دمقام اومرتبې پېژندل
- دښواوبدو ،مضراوګټورپېژندل
- په هغه څه پوهه ترلاسه کول چې په عقل او تجربه نه پېژندل کېږي
- دانسانانو له بند ګی ظلم او جهل څخه دبشریت خلاصون
- بشریت ته روح اورنا او له تیارو څخه د نجات وسیله
- په دنیااو اخرت کې د سوکاله ژوند لورته د رسېدلوذریعه
- بشریت ته ددیني عقایدو ،عباداتو ،اهدافو ، نصا یحو ، ادابو ،

ثواب اوعذاب د څرګندوونکي په حيث

- دخلکو دشخړواواختلا فونودحل لپاه دفيصله کونکي قانون په توګه
- تر څو ديني عقا يد اوالهي قوانين دګمراهانواو دين دښمنه ځواکونوله لاس وهنو څخه دخوندي ساتلووسيله وي ،
- داسماني کتاب دوام او تسلسل په يو ملت کې دنبوت دوخت دتسلسل سره شباهت لري .

دټولو اسماني کتابونو اتفا قي ټکي

- **د سر چينې يووالی**: په دې توګه چې ټول دالله تعالی له خوانازل شوي دي څوک چې قران عظيم الشان ولولي ورته څرګند به شي چې اسلام دټولو پيغمبرا نو دين دی دپيغمبرا نو تر وفا ته وروسته يې پير وانو قامي او ولسي رنګ ورکړی وو
- **دهدف وحدت** : دټولو اسماني کتابونو موخه دالله تعالی بندګي او دطاغوت څخه انکاردی
- **اعتقا دي وحدت** : داسلامي عقيد ې مضمون دحضرت ادم عليه السلام له وخته راواخله دمحمد صلی الله عليه وسلم تر نبو ته پورې يو ؤو چې هغه دالله جلت عظمته په يو والي او سپيڅلتيا په اخرت ، حسا ب ، جنت او دوزخ با ور ؤ
- **دفساد سره مقا بله** : برابره خبره ده چې اعتقادي فساد وي اوکه اخلا قي نېکي په وعده وفا ، صله رحمي ، ميلمه پالنه ، تواضع اوداسې نور هڅونه
- **بنو اخلا قو ته بلنه** : لکه عفو ه ، په کړ اوونو صبر ، له مورا و پلار سره
- **دعباداتو پر ځای کول** : لکه لمونځ ، روژه ، زکات او دنفس تزکيې ته
- **جهاد ته هڅونه** :ددين لپاره ځاني او مالي سر بښندنه وړاند ې کول
- **دعدل ټينګول** : ټول پيغمبران دځمکې پر مخ دعدل دټينګو لو او دظلم دله مينځه وړلو لپاره راغلي دي قران عظيم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې داسې فرمايلي دي

﴿ لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ ۖ وَأَنزَلْنَا الْحَدِيدَ فِيهِ بَأْسٌ شَدِيدٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ وَرُسُلَهُ بِالْغَيْبِ ۚ إِنَّ اللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ ﴿٢٥﴾ ﴾ الحدید ترجمه : مونږ خپل پیغمبران له روښانو څرګند و نښانوا وهدایاتو سره ولېږل ، اوله هغو سره موکتاب او تله نازل کړل ترڅوچې خلک پرعدل ولاړ وي او اوسپنه موراکوزه کړه چې په هغې کښې ډېر زور دی او دخلکو لپاره ګټې دي دا د دې لپاره کړای شويدي چې الله معلومه کړي چې . څوک دهغه له لیدلو پرته دهغه او دهغه د پیغمبرانو مرسته کوي . بېشکه الله ډېر قوی او برلاسی دی

په اسماني کتابونو دایمان ګټې

په اسماني کتابونو ایمان لاندې ګټې لري چې مونږ په لنډه توګه ورته کتنه کوو

- دالله تعالی په شفقت او رحمت باور چې هرملت ته يې لاربنود پیغام لېږلی
- دالله تعالی په حکمت پوهه په دې توګه چې دهرقام دحالاتو سره يې مناسب کتاب ور ته راولېږه
- داسماني روښانه ډیوې په وسیله داشتباهاتو اوغلطیو څخه دبشریت ساتنه
- په سمه او څرګنده لاردملتونوروانول په دې توګه چې نه په کې شک شته او نه پربشانتیا
- داسماني وحی په ستر نعمت خوشالي اوپه دغه ستر اوعظیم الشان نعمت شکر اوقدرداني
- له فکري او اعتقادي غلطیو څخه دبشریت خلاصون

په اسماني شریعتونو کې داختلاف قضیه

داچې اسلامي شریعت په دنیا او اخرت کې دقامونو او ملتونو دمصالحو او ګټو سا تندوی دی دغه مصالح دوخت او ځای په اعتبار سره بېلتون لري دتېر و

امتونو لمونځ دجومات نه پرته په بل ځای کې نه کېده په همدې تو ګه هغوی ته غنیمتونه روانه ؤ همدارنګه له او بو نه پرته تیمم ورته جواز نه درلود ګورو چې دبني اسرائیلو شریعت دعز یمتونو پر بنسټ استو ارؤ رخصتو نه په کې کم ؤ خو هر کله چې عیسی علیه السلام تشریف راوړ اسا نه شریعت یې له ځانه سره راؤړ قران عظیم الشان دعیسبی علیه السلام وینا ته چې بنی اسرائیل یې مخا طب ګرځو لي داسی اشاره کو ي

﴿ وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ وَلِأُحِلَّ لَكُم بَعْضَ ٱلَّذِى حُرِّمَ عَلَيْكُمْ ۚ وَجِئْتُكُم بِـَٔايَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿٥٠﴾ ﴾ ال عمران:ترجمه: او زه د هغې ښوونې او هدایت رینښتینوونکی راغلی یم چې له تورات نه اوس زما په زمانه کښې موجود دی- او ددې له پاره راغلی یم چې تاسې ته ځینې هغه شیان حلال کړم چې پر تاسې حرام کړای شویدي- ګورئ زه ستاسې دروزونکي پالونکي له لوري تاسې ته له نښانې سره راغلی یم ، نو له الله نه ووپرېږئ او زما اطاعت وکړئ.

همدارنګه په روژه کې به مابنام روژه ما تبدله تر سهاره خوراک او جماع رواوه ترخوبه چې سترګې پټې شوې نه وې په خوب سره به هرځه بند شول مګر زموږ په شریعت کې الله تعالی اساني وکړه همدارنګه دغسل پر مهال په بنی اسرائیلو دعورت پټول لازم نه وو خو موسی علیه السلام به جلا ځای کې غسل کاوو

نو پردې اساس دهر پیغمبر رسالت. عقید ې شریعت او قانو ن ته شامل ؤ دټو لو پیغمبر انو عقید ه یو ه وه خو د دین دتطبیق لار و یې سره بهلتون درلود

په کتا بو نو دایمان غوښتنې

- پردې باور چې دغه ټول دالله تعالی له خوا په حقه نازل شوي ؤ
- په هغو کتابونو تفصیلی ایمان چې په وحی سره نو مول شوي لکه تورات

زبور ، انجيل ، او قران عظيم الشان البته هغه پيغامونه چې مونږ ته پرې تفصيلي معلومات نه دی راکړی شوی په اجمالي توګه پرې ایمان لرو لکه صحيفې.

- دعدم نسخ په صورت کې په کتاب عمل او ورته تسليمېدل برابره خبره ده چې که په حکمت يې پوه شو او که نه ؟
- پخوانی ټول اسمانی کتابونه پر قران عظيم الشان سره منسوخ شوي دي په يوه حکم يې هم عمل جايز نه دی مګر په هغه صورت کې چې قرانکريم يې تائيد کړی وي

په قران عظيم الشان کې ذکر شوي کتابونه

هغه کتابونه چې ایمان پرې لازم او په قران کريم کې يې يا دونه شوې عبارت دي له

۱: **صحيفې** :په قران عظيم الشان کې دصحيفو يادونه شوې هلته چې فرمايي ﴿

إِنَّ هَٰذَا لَفِي ٱلصُّحُفِ ٱلْأُولَىٰ ﴿١٨﴾ صُحُفِ إِبْرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ ﴿١٩﴾ ﴾

الأعلى ترجمه - همداخبره په مخکښيوراغليو صحيفو کښې هم ويل شوې وه- دابراهيم او موسې په صحيفو کې.

په همدې توګه په نبوي مبارکو احاديثو کې هم دصحيفو يادونه شوې ده

۲: **تورات** :هغه الهی کتاب دی چې الله تعالی په سيد نا موسی عليه السلام نازل کړی دتورات لفظ عبراني دی دتعليم ، شريعت او قانون په معنا سره ده دقران عظيم الشان کې په ګڼو ځايونو کې دتورات يادونه شوې

د تورات پنځه سيپارې

- دتکوين: په دې کې دنړۍ پيدايښت ، دانسان پيدايښت ، دنوح عليه لسلام طوفان دابراهيم عليه السلام له زېږېدلو دیوسف عليه السلام ترمړينې پورې حالات بيان شوي دي
- دخروج :د مصر په هېوادکې دبني اسرائيلو دژوند دموسی عليه السلام اويو شع بن نون دکنعانځمکې ته تروتلو پورې
- دلاوي سيپاره : په دې کې داوداسه ، نجاست ، ذبايحو اونذرونو يادونه شوې ده
- دعدد سيپاره : په دې کې د اسرائيلی قبايلو تاريخ ته اشاره شوې

• دتثنيې سيپاره په دې کې داحکامو، عباداتو، سياست، تو
لنې، اقتصاداو دموسی علیه السلام دريې خطابو نه ذکر شوي دي.

دتورات لارښوونې

• دالهي احکامواوقوانينومجموعه، دعباداتو، اخلاقواوحدودواحکام چې
بنی اسرائيل پرې مامور شوي ؤ

• دمحمدصلی الله علیه وسلم دراتلو دزېري ذکراودهغه صلی الله علیه وسلم
دځينوصفاتويادونه

• درسول الله صلی علیه وسلم داصحابودصفاتوياونه

• دوسله والې مبا رزې اودځاني اومالي سرښندنې ذکر

اوسنی تورات:

• هريوعاقل پردې پوهېږي چې داهغه تورات نه دی چې پرموسی علیه
السلام نازل شوی داځکه چې سندي تسلسل نه لري ځکه چی دتورات اصلي نسخه
له مينځه تللې اواوه ځله ضايع شوې ده

• په ده کې باطل عقايددي چې دپيغمبرانودتعليماتوسره سمون نه خوري.

• په ده کې الله تعالی له مخلوق سره تشبيه شوی اوهغه داچې نعوذبالله
ديعقوب علیه السلام په وسيله دالله تعالی څملول

• پيغمبرانو ته دناوړه چاروپه نسبت کولومشتمل دی دمثال په توګه هارون
علیه السلام دخوسي دعبادت اولوط علیه السلام ته دشرابواولونوسره دکوروالە
اوسليمان علیه السلام ته دمرتد کېدلواوبت پالنې نسبتو نه کول

• له اوسنيو علمی حقايقو سره يې تکر او علمي خطا ګانې

درېيم : زبور: زبورله هغه الهی پيغام څخه عبارت دی چې په سيد نا داؤد علیه
السلام نازل شوی زبور، کتاب اوليکلی پيغام ته ويل کېږي دقران عظيم الشان په
ګنو اياتونوکې دزبور ذکر راغلی دی

حلورم: **انجيل**

له هغه الهي پيغام څخه عبارت دی چې په سيد نا عيسی علیه السلام نازل
شوی انجيل يوناني کلمه ده دزېري په معنا ده دقران عظيم الشان په ګنو اياتونو
کې دغه مطلب ته اشاره شوې دهغو له جملې څخه ﴿ وَلْيَحْكُمْ أَهْلُ ٱلْإِنجِيلِ

بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فِيهِۚ وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ

﴿٤٧﴾ المائدة.پاره زمونږ حکم ؤ چې دا نجيل خاوندان دې له هغه قانون سره سمه فيصله وکړي چې الله په هغه کښې نازل کړيدی او کوم خلک چې د الله له نازل کړي قانون سره سمه فيصله ونه کړي هماغوی فاسقان دي.

دانجيل قوانين او لا ر ښوونې

- دځينو احکامو او قوانينو مجموعه وه لکه عبادات او اخلاق
- انجيل نور او هدايت ؤ او دتورات تصديق په کې ؤ
- دمحمد صلی الله عليه وسلم دراتللو دزېر ي او دځينو صفا تو ذکر
- دنبی صل الله عليه وسلم دملګرو دصفا تو يادونه
- دغا ني او ما لي سر ښند نې په لوري تشويق او تر غيب

تر پورته کېد و وروسته

په ژوندی ښه اسمان ته دعيسی عليه السلام ترپورته کېدلووروسته په انجيل کې بدلون رامينځته شوی تورات ته عهد قديم انجيلونواودپيغمبرانوپيغامونواووياء وباندې دعهد جديد اطلاق کېږي دعهد جديد انجيلونه دنصاری ؤپه نېزد ځلوردي.

- انجيل متی
- انجيل لوقا
- انجيل يو حنا
- انجيل مر قس

هلته نورانجيلو نه هم شته لکه انجيل بر نابا او ګڼ له پا مه غورځېد لي انجيلو نه ،مو ږ به په اجمالي تو ګه ددغو انجيلو نو بطلا ن او عدم صحت بيان کړو

۱: دغه انجيلو نه چې دنصاری ؤ په لاس کې دي نه دعيسی عليه السلام په لاس ليکل شوي دي او نه يې دوحی په تو ګه يې پرې نزول موندلی دی.

۲:ددغو انجيلو نو تر منيځ سل ځايه تېکر او تنا قض ليد ل کېږي

۳:ددغو انجيلونو نسبت اشخا صوته کېږ ي نه اسماني وحی ته

۴: دالله تعالی دذات او پیغمبر انو په هکله په کې ناوړه ویناوې په ستر ګو نښکار ي

۵:عقل اونقل پرخلاف په باطلوافکارواوعقایدومشتمل دي

۶: له علمي حقایقو سره یې ټکراوتناقض چې ځینوعلماء وورته اشاره کړې ده

۷:داچې دغه انجیلونه محرف اوتغیر شوي دي له دې سره سره دسیاسي،اجتماعي اواقتصادي مسایلو په هکله په کې هیڅ په ستر ګو نه نښکاري

اوس وخت د تورات او انجیل پیروي

سره له دې چې او سني انا جیل په تغیر شوې بڼه شتون لري که تغیر شوي هم نه وای دقران تر نزوله وروسته یې دپیروی حکم له مینځته تللی دائکه چې دغه کتابونه دخاص وخت اوخاص ملت لپاره راغلي ؤ حیثیت یې داسې دی کله چې لمرراوخېژي نوبیادستورورنا نه وي، یهوداونصاری ګمراه ملتونه دي په هیڅ صورت ددوی پیروي جوازنه لري دقران عظیم الشان له پیروی نه پرته هیڅوک نجات نه شی پیداکولی

په تېرو اسماني کتابونو کي تحریف

۱:دپوهانو دخبرې او تحقیق په نتیجه کې څرګنده شوې ده چې دعهد قدیم او جدید دسیپاروهیڅ متصل سند نشته چې پیغمبرانو ته یې دسند لړی رسېدلې وي

۲: خبرې نوثابته کړې ده چې دعهد قدیم اوجدیدپه سیپاروکې ډېرې غلطی،اوتاریخي اشتباهات اود نصوصوترمینځ یې ټکرونه اوتناقضات دي

۳: دیهودوتاریخ لیکونکي پخپله پردې اعتراف کوي چې دتورات او زبوراودعهد قدیم نورکتابونه چې دبابلي بخت نصر،نه مخکې له دوی سره ؤدیهودودجلاوطن کېدواودفلسطین دتباهی نه وروسته چې په (۵۸۶) ق م کال کی رامینځته شو په بشپړ ډول له مینځه تللي دیهو دوداتکل له مخې عزراکاهن په الهامي توګه ددویم ځل لپاره په (۲۳۸ ق م کال ولیکل

۴: انجیل هغه الهي پیغام دی چې الله تعالی په عیسی علیه السلام نازل کړی ؤ په بشپړ ډول له مینځه تللی په انجیل متی او مرقس او دبولس په ځینو لیکلو شو یو پیغامونو کې همدې خبرې ته اشاره شوې

۵: په نصاری ؤ باند ې دکړ اؤ نو ډ هرې سړ ې تو د ې تهرې شو ې د ې په ځانګړې تو ګه دعیسی علیه السلام اسما ن ته تر ختلو وروسته دځلورمې میلا دي تر پیله پو ري

۶: هر کله چې رومي امپرا تور لو مړی قسطنطین په ۳۱۲ میلادي کال دنصر انیت دین قبو ل کړ دبېلا بېلو ښارونو (۲۰۴۸) مذهبی مشرانوځخه يې يوه لو يه غو نډه جوړه کړ ه اودحضرت عیسی علیه السلام په هکله يې په خپلومینځونوکې مبا حثه پیل کړه.په دوی کې ځینو وویل چې عیسی علیه السلام يواځې پیغمبراوالهي استازی ؤځینونورودغه نظر يه ردکړه اوځرګنده يې کړه چې عیسی علیه السلام اوموريې دواړه له الله جل جلا له نه پرته خد ایان دي، بلې ډلې عیسی علیه السلا م دالله جل جلاله زوی وباله بلې ډلې چې شمېريې (۳۱۸) تنوته رسېده عیسی علیه السلام يې مستقل خدای وباله پرهمدې اساس امپراتورپاخېداودوی يې يوه ځا نګړي مجلس ته وبلل اوپه همدغه فکريې ټینګاروکړدهغو ټولو کتابونودسوځولوامريې صادرکړ چې په هغوکې دعیسی علیه السلام دالو هیت قضیه نه وه مطرح شو ې .

۷: دنصاری ؤدعهد جدیدکتابو نه چې دوی پرې اعتماد لري دغه دعیسی علیه السلام نیمګړی تاریخ دی او په خپلو نصو صو کې يو له بل سره ټکرلري په همدې تو ګه يې اصل هم نامعلوم دی

۸: دانجیل دمحرفونسخو شتو ن يو بل ثا بت دلیل دی چې دالله تعالی او پیغمبرانو په باب په فا سد و عقایدواوافکارومشتمل دي

۹: په همدې توګه هغه اوسنی تورات چې له یهودیانوسره دی دنصاری ؤله تورات سره اختلاف لري په همدې توګه دیهودیانوداوسني تورات نسخې دعبرانیانواودسامریانوسره مطابقت نه لري

دټپروکتابو نو په هکله داسلام دریز

دعهد قدیم او جدید په هکله داسلامي عقیدې دریز مو ږ په لاند ې تو ګه وړاند ې کوو

- دعهدقدیم او جدیدپه یوه کتاب هم باورصحت نه لري چې دغه دالله عزوجل اسما ني پیغا مونه دي داځکه چې دواړوپه علمي معتمده تګلاره په عقلي او شرعي حیثیت الله جل جلا له ته دصحت نسبت له لاسه ورکړ ی

• داهل کتابوداوسنیوکتابونومضمون برابره خبره ده چې تاریخي خبرې وي اوکه علمي حقیقت اویاشرعي حکم او قانون که چېرې دقران عظیم الشان ا ونبو ي سنتو سره برابر ؤ بنه ترښه ا و که نه مردود ګڼل کېږي اوکه چېر ې قران اوسنت یې له تصدیق څخه ساکت ؤنومورې هم سکوت اختیارووونه یې دروغ بولواونه یې تصدیق کوو

پنځم : قران عظیم الشان

قرانکریم داسماني پیغامونوورو ستنی کتا ب دی چې دپیغمبرانودسالار محمد صلی الله علیه وسلم درسا لت ستره اوتلپاتې معجزه ده

پېژندنه

قران اعظیم الشان دالله تعالی جلت عظمته هغه معجز کلام دی چې دمحمد صلی الله علیه وسلم زړه ته دجبریل امین په وسیله راکوزشوی په پانوکې لیکل شوی اومورېته په تواترسره رسېدلی تلا وت یې عبادت اودرسول الله صلی علیه وسلم درسالت ستره تلپا تې معجز ه په عربی ژبه دمسلمانانو لپاره دژوند بشپړقانون دی نه نشردی اونه شعر بلکی څا نګړ ی شان لري اوپه نز ول سره یې داسماني پیغامونولړی پای ته رسېد لې ده

دقران عظیم الشان نومونه

دقرانکریم نو مونه قران ، فرقان تنزیل ذ کر او کتاب دی په همد ې تو ګه عزیز ، بشیر او نذیر یې صفتی نو مو نه دي چې الله عز وجل لفظاً او معنًا داسما نې پر بنټې جبر یل په وسیله دمحمد صلی الله علیه وسلم زړه ته راکو زکړ ی نبی صلی الله علیه وسلم له جبر یل څخه په شفاهي توګه زده کړ او پیغمبرصلی الله علیه وسلم دامانت په توګه په بشپړډول خپل امت ته په الفاظواومعنادواړوسره رسولی دی

دقران عظیم الشان امتیازات

قرانکریم درسول الله صلی الله علیه وسلم درسالت ستره اوتلپاتې معجزه ده په قران عظیم الشان کې ستراعجازي خصوصیات ځای پرځای شوي دي دغه په هراعتباربې مثله کلام دی څانګړي امتیازي صفات لري چې په نورواسماني کتابونوکې نشته نومورې خصوصیات په لاندې توګه دي

• الهي کلام Word of god قران کریم دالله تعالی وینا ده اوس په نړۍ کې داسې بله وینا له سره

شتون نه لري چې دالهي کلام اعزازورته حاصل وي دغه مقام يوازې اويوازې قران کريم ته په برخه ده

- داسماني پيغامونوخلاصه :قران عظيم الشان دټولو اسماني پيغامونودلارښـــو ونـــوخلاصـــه ده چـــې دټروشـــويوټولـــو اســـمانی کتابونودتعليماتوتصديق اوتائيدکوي لکه دالله جل جلاله توحيد ،بندګي اوعبادت

- دساتنې ذمه واري: قران عظيم الشان يوا ځينی الهي اسماني کتاب دی چې دساتنې او حفاظت ذمه واري يې الله تعالی کړې قران کريم دغه مطلب داسې بيانوي ﴿ إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا ٱلذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ﴿٩﴾ ﴾ الحجر: ۹-پاتې شو دا ذکر ، دا مونږ نازل کړيدی او مونږ په خپله ددې ساتندويان يو

- عموم :قران کريم دنړی دټولوملتونولارښوونې لپاره راغلی داترکوم ځانګړي قام پورې اختصاص نه لري بلکې دټول بشريت لارښود ،شامل اوکامل الهي پيغام دی،مثال يې دلمردی لمر نړی وال اوترقيامته دی قران عظيم الشان هم نړی وال او ترقيامته دی له هررنګ تحريف،تبديل او تغيرځخه مصئون دی

- معجزکلام :قران عظيم الشان يوه داسې معجزه ده چې اسلوب،نظم دفصاحت اوبلاغت اوقانون په اعتبارابدي معجزه ده قران عظيم الشان نړی وال چېلنج کړي دي

- وروستی لارښودپيغام:قران کريم دټول بشريت لپاره دهدايت وروستی پيغام دی چې له ده نه وروسته بل کتاب ځمکې ته نه راځي معناداچې پخواني کتابونه ديوخاص قام اوخاصې زمانې لپاره ؤلېکن قران کريم دټول بشريت لپاره دهدايت ابدي نسخه ده

- بشپړ لارښود :قران کريم دبشري ژوند مکمل قانون دی چې دژوندپه هره برخه کې لارښوونې لري

- اساتيا:دقران عظيم الشان په زده کړه اوحفظ کې اساني ده ځکه خو ګوروچې په مسلمانانوکې مختلفې طبقې لکه هلکان،جينکی،ځوانان،زاړه،شتمن اونيستمن هريوې يادولی شي.

- فصيح اوبليغ کلام:قران عظيم الشان يوفصيح اوبليغ کلام دی دقران کريم

• له تضاد اوټکر څخه سپېځلتيا: قران حکيم د الله تعالی کلام او د الله تعالی علم په هرشي محيط

او حاوي دی دهغه په وړاندې ماضي، حال او مستقبل يوشی دی د قران عظيم الشان دلارښوونو ترمينځ کوم اختلاف ،تضاد اوټکر په په ستر گونه ښکاري بلکې د مضامينو ترمينځ يې بشپړه هماهنگي موندلې کېږي د دې پرعکس په دنيا وي فلسفوکې د پوهانو د افکارو اونظريا تو ترمينځ تضاد موندل کېږي

• اغيزمن کلام: قران کريم يو اغيزناکه کلام دی چې د انسان په زړه او دماغ اغيزه پرې باسي کله چې قاري قران لولي نو اورېدونکی شخص که پرې پوهېږي او که نه ورځخه متاثر کېږي د قران عظيم الشان همدغه اعجاز د کافرانو او مشرکينو خوب حرام کړی ؤ او دغه اغيزې په جادوسره تعبير کاؤ او صاحب قران (رسول الله صلی الله عليه وسلم)ته يې د جادوګر نسبت کاؤ د اصحابو کراموګن شمېر د قران عظيم الشان په اورېدلو مسلمان شوي دي د عمر فاروق (رض)واقعه مشهوره ده هغه د خپلې خور ځخه د قران په اورېدلو اسلام ومانه همدارنګه د عربو نامتو شاعر لبيد هم د قران په اورېدلو د اسلام دايرې ته داخل شوی دی

• رينښتينې وړاندوينې: قران کريم د خپل نزول پر مهال د ډېرو پېښو په هکله وړاندوينه کړې ده چې په نتيجه کې ټکي په ټکي صحيح ختلي دي اوس هم د اتلونکي وخت لپاره د قران وړاندوينې شتون لري هغه به په راتلونکي وخت کې پوره کېږي قران عظيم الشان ويلي ؤچې که چېرې د مکې مشرکان د رسول الله د وطن پرېښودلو ته اړکاندي نو د وی به هم ډېر ژر له نړۍ ستر ګې پټې کړي د غه د بدر له جګړې او د مکې له فتحې وروسته پوره شوي دي قران کريم په رومیانو د ايرانيانو د فتحې پر مهال وړاندوينه کړې وه چې د څو کالو په دننه کې به په ايرانيانو فتحه ترلاسه کوي د غه پېشګويي په بشپړه توګه پوره شوه

• له ساينس نه ټکر: قران کريم په يو داسې معجزاندازسره نازل شوی چې د دنياوي قضايا و او واقعيتو نوسره يې که هرڅومره هم بشريت په ساينس اوټکنالوژۍ کې ترقي وکړي ټکر نه رازي دا ځکه چې قران کريم د الله تعالی ويناا وکاينات د هغه عمل دی نو د الله تعالی دوينا او عمل ترمينځ ټکرنه وي

په قران کريم دايمان غوښتنې

• **ايمان**: په قران کريم دايمان لو مړۍ غوښتنه دادی چې د هغه په باب به شک او شبهه نه کوي د هغه د پرېکړو او احکامو قضا وتو نو وعد اووعيد په هکله به بشپړ ايمان لري

- **تدبر**: يو از ې لو ستل نه بلکې په هغه کې به تدبر او تفکر کوې ،پيغمبر ان راغلي دهغو ی کار دکتا ب تلا وت دخلکو روزنه او خلکو ته دکتا ب او حکمت ښودل دي
- **فيصله**: دشخړو دحل او فصل لپاره به کتاب ته مراجعه کوې داکتاب حاکميت او واکمني غو اړي دحکميت ، قضا وت اودهر ې پر بکړې اوفيصلې لپاره وروستۍ مرجع ده .
- **تطبيق**: ټول کتاب په ټو ل ژوند کې تطبيقول داکتاب تجز يه نه مني په ټو ل ژوند کې به يې لار ښو دبو لې ،نن چې مسلمان قام ذليل او خوار دی اصلي لامل يې په بشپړ کتاب باند ې عمل پر ښودل دي .
- **تبليغ** په کتاب دايمان بله غو ښتنه دادی چې دابه نو رو خلکو ته رسوې

ددرېيم څپرکې دمطالبولنډيز

- په اسماني کتابونوايمان دايمان دشپږګونه اساساتودجملې څخه ده
- کتاب دجمعي اوپيوستون معناافاده کوي اسماني کتابونوته ځکه

کتاب ويلی کيږي چې دالهي احکاموفرمانونوقوانينواولاړښوونومجموعه وه

- په اصطلاح کې دتوروخپل منځي پيوستون ته کتاب ويل کيږي
- په شرعي اصطلاح کې کتاب دالهي کلام څخه عبارت دی چې په

هغه کې هدايت اوروښنايې وي چې دوحي په ترڅ کې دوخت په پېغمبرنازلېږي ترڅوملتونه رهبري کړي

- په اسماني کتابونودايمان نه پرته هېڅکله يوشخص مؤمن کېدای نه

شي په ټروا سماني کتابونواجمالي ايمان مګرپه قران عظيم الشان تفصيلي ايمان لروچې دالله تعالی کلام اودساتنې ذمه يې الله تعالی کړې ده په محمدصلی الله عليه وسلم نازل شوی ترڅوبشريت له تيارو څخه درناخواته راوباسي په ده کې داسمان اوځمکودپيدا ايښـــــت دټرولملتونودپرمختـــــګ اوزوال کيســـــې

دعقيدې، حلالواوحراموادابواواخلاقو عباداتواومعاملاتودکورني نظام، اقتصاد سياست، جنايياتوجګړې اوسولې اودنړۍ والواړيکواحکام اوقوانين دي

- په اسماني کتابونودايمان ستردليل قران عظيم الشان اونبوي

سپېخلي سنت دي

- په اسماني کتابونودايمان اهميت څرګندې دا څکه چې په اسماني

کتابونودايمان نه پرته دهېڅاايمان صحت نه پيداکوي دتېرتاريخ دملتونودتباهۍ عمده لامل دپېغمبرانواوالهي پېغامونوتکذيب ؤ داسماني پېغامونودپوې کوچنۍ برخې څخه انکارکفرګڼل کېږي

- داسماني کتابونودنزول هدف دکاياناتودځښتن معرفت اودهغه

بندګي دانسان دمقام دښواوبدودمضراوګټورله ظلم، جهل اودانسان له بندګۍ څخه دانسانانوخلاصون اوداچې اسماني پېغام دولسونومرجع وي اوددوی اختلافات اوشخړې ورحل کاندي اوهم الهي پېغام دوخت دپېغمبرترووفات وروسته دګمراهانوله لاسه ددديني عقايدواوالهي قوانينودساتنې وسيله وي

- دټولواسماني کتابونواتفاقي ټکي دمصدراوسرچينې يووالی

هدف وحدت اعتقادي وحدت دعدل اوانصاف ټينګول دفساداوانحراف مقابله ښواخلاقوته بلنه دعباداتوپرځای کول ددين لپاره ځاني اومالي سرښندنه دمحمدصلی الله عليه وسلم په رسالت ګواهي

- په اسماني کتابونودايمان ګټې دادي: دالله تعالی په رحمت

اوشفقت باورچې هرملت ته يې لارښودپېغام لېږلی بشريت يې په تياروکې نه دی پرېښی دالله تعالی په حکمت پوهه چې هرملت ته يې مناسبې لارښوونې لېږلې دي

داسماني روښانه ډيوې په وسيله داشتباهاتواوغلطيوڅخه دبشري افکاروساتنه په سمه اوسيخه لارد ملتونوروانول ،له فکري اواعتقادي غلطيوڅخه نجات

- په اسماني کتابونوکې دشريعتونوداختلاف قضيه: داچې داسلامي

شريعت د بشريت دګټولپاره راغلی دی دغه مصالح دوخت اوځای په اعتبارسره بېلتون لري دتېروامتونولمونځ له جوماته پرته بل ځای نه کېده اوهم تيمم اوغنيمتونه ورته روانه ؤ ګوروچې دبني اسرائيلوشريعت په عزيمتونواستوارؤ مګرعيسی عليه السلام ته رخصتونه زيات ؤ

- په اسماني کتابونودايمان غوښتنې: په حقانيت ېې يقين په اجمالي

اوتفصيلي توګه پرې باور ،په کتاب عمل اوورته ځان تسليمول پخواني ټول کتابونه منسوخ دي دقرآن مثال دلمراودنوروکتابونودستورودی چې لمرراوخيژ دستورورښانه وي

- هغه اسماني کتابونه چې په قران عظيم الشان کې يې يادونه شوې

عبارت دي له دابراهيم اوموسی عليه السلام صحيفې تورات ،زبور،انجيل ،تورات قانون اوشريعت ته وايې چې په حضرت موسی عليه السلام نازل شوی اوسنی تورات دتکوين،خروج،لاوي ،عدداوتثنيې په سپارومشتمل دی

- دتورات احکام: عبادات ،اخلاق،حدود ،درسول الله صلی الله عليه

وسلم دراتلوزېری دهغه داصحابودصفاتويادونه ،جهاداومالي سربښندنه

- مګراوسنی تورات تاريخي تسلسل نه لري په ده کې باطل عقايددي

الله تعالی په کې له مخلوق سره تشبيه شوی پېغمبرانوته دناوړه چارونسبت شوی له علمي حقايقوسره ټکرلري.

- زبور: ليکلي پېغام ته ويل کېږي چې په سيدنا داود عليه السلام

نازل شوی زبور ټول نصيحتونه اوامثال اودعبرت خبرې وې

- انجيل: دزيرې معناورکوي اوپه حضرت عيسی عليه السلام نازل

شوی ،دانجيل لارښوونې اواحکام عبادات ،اخلاق دتورات تصديق دمحمدصلی الله عليه وسلم دراتلوزېری درسول الله دملګروصفات اودځاني اومالي قربانۍ لورته هڅونه

- اسمان ته دعيسی عليه السلام ترپورته کېدووروسته انجيل له

مېنځه تللی تاريخي تسلسل نه لري اوسني اناجيل ډيروروسته ليکل شوي چې مشهوريې انجيل متي،انجيل لوقا ،انجيل يوحنا ،انجيل مرقس،انجيل برنابا ،دغه اناجيل وحی نه ده بلکې نسبت يې اشخاصوته کېږي دالله تعالی دذات اوپېغمبرانوپه هکله ګستاخانه الفاظ لري دعقل اونقل سره سمون نه لري له علمي حقايقوسره ټکرلري له دې سره سره دسياسي،اقتصادي اواجتماعي مسايلوپه هکله هېڅ په کې نشته

- دقران ترنزوله وروسته که دغوکتابونوتاريخي تسلسل هم درلودی

اوتغيرهم په کې رامينځته شوی نه وای پيروي يې جوازنه درلود

- قران عظيم الشان داسماني کتابونودپای لرې: قران عظيم الشان

دالله تعالی معجزکلام دی چې دمحمد صلی الله عليه وسلم زړه ته دجبريل په وسيله راکوزشوی په پاڼوکې ليکل شوی اومورېته په تواترسره رسېدلی تلاوت يې عبادت درسول الله صلی الله عليه وسلم ستره تلپاتې معجزه اودمسلمانانوقانون دی

- دقران نومونه کتاب، قران،فرقان،ذکراوتنزيل دي اوصفتي نومونه يې

عزیز ،بشیر نذیر رحمت اوشفادي

- په نورواسماني پیغامونو قران امتیازات اوځانګړتیا: ۱- الهي کلام دی ۲- دتولواسماني پیغامونوخلاصه ده ۳- دساتنې ذمه یې الله تعالی کړیده ۴- دتولې نړۍ دملتونوترقیامته پورې دژوندلارښوونه دی ۵- لوست یې عبادت ۶- دمحمد صلی الله علیه وسلم درسالت معجزه ۷- وروستی الهي پیغام دی ۸- فصیح اوبلیغ کلام ،نه شعراونه نثردی بلکې قران دی ۹- له تضادڅخه پاک دی ۱۰- اغیزمن پیغام دی ۱۱- ریښتینې وړاندوینې لري ۱۲- له ساینس سره ټکرنه لري
- په قران عظیم الشان دایمان غوښتنې: ۱- له شک اوشبهې پرته پرې ایمان ۲- تدبر ۳- دحکمت اوپرېکړولپاره ورته رجوع ۴- دتول کتاب تطبیق ۵- تبلیغ اونوروته یې

رسو ي **لاندې پوښتنوته تشریحي ځوابونه ووایاست**

۱- دکتاب لغوي اوشرعي معناولیکئ
۲- په قران کریم کې څه شی بیان شوي دي
۳- په اسماني کتابونودایمان سترلیل ولیکئ
۴- په اسماني کتابونواهمیت ولیکئ
۵- داسماني کتابونودنزول هدف ولیکئ
۶- داسماني کتابونواتفاقي ټکي ولیکئ
۷- په اسماني کتابونودایمان ګټې عبارت دي له ------
۸- په اسماني کتابونودایمان غوښتنې
۹- هغه اسماني پیغامونه چې په قران کریم کې یې یادونه شوې عبارت دي له
۱۰- دتورات لغوي اواصطلاحي معناولیکئ
۱۱- دزبورلغوي اوصطلاحي معناولیکئ دانجیل لغوي اواصطلاحي معناولیکئ
۱۲- داوسنیوانا جیلواوتورات په هکله خپل معلومات ولیکئ
۱۳- دقران ترنزوله وروسته ددې کتابونوپیروي جوازلري ؟
۱۴- قران عظیم الشان راوپېژنی اونومونه یې ولیکئ
۱۵ په قران کریم دایمان غوښتنې ولیکئ اوهم په نورواسماني کتابونودقران متیازات

ديوولسم څپرکي دمطالبوفهرست

لړليک

په پيغمبرانو ايمان

سريزه

- درسالت اونبوت شرعي حيثيت
- په پيغمبرانو دايمان راوړلو اهميت
- پيغمبرته دبشرضرورت اواهميت
- دنبوت اورسالت ضرورت داسلامی پوهانو له نظره
- پيغمبر بشپړلاښود
- دپيغمبرانوخصوصيات
- دپيغمبر دپېژندلودلايل
- دپيغمبرانو شمېر
- دپيغمبرانوخصوصيات
- دپيغمبرانوصفات
- دنبوت اهداف اومقاصد
- دپيغمبرانو مسئوليتونه او دندې
- دپيغمبرانوددعوت اوبلنې ځانګړتياوې
- اولوالعزمه پيغمبران دپيغمبر دپېژندلو دلايل
- دانبياء اورسولانو شمېر، په قران عظيم الشان کې ذکر شوي پيغمبران

دایمان دار کانو څلورم اصل په پیغمبرانوایمان

سریزه

دپیغمبرانوتاریخ دعظمت ،جلال اوله باطل سره دډغرواومقابلې تاریخ دی دهغوی نفسي لوړتیا ،کاملواخلاقواوله دنیاڅخه زاهدانه ژوندادالله جل جلاله په لارکې سرښندنې ته رسېدل شونې چاره نه ده دهغوی دژوندپراوونه دالله جلت عظمته اودبشریت ددښمنانوپروړاندې تلپاتې مبارزه ده دهغوی ژوند داتلولیو ،صبرشجاعت اومهرانې شاهددی چې په تاریخ کې یې سازی نه لیدل کېږي .

دتاریخ نورړهبران هېڅ یوهم داسې شانداره تاریخ نه لري مګر پیغمبران علیهم السلام هریوڅلانده تاریخ لري ،ځکه چې دهغوی پالنه په مستقیمه توګه الله جل جلاله سرته رسولې وه ،لوړهمت ،مېرانه اوشجاعت ورکړشوی وو ترڅوراروانونسلونوته دتاریخ افتخاراودملتونواوقامونودمقتدارول ترسره کړي هغوی بشریت ته دخیراونېکبختۍ لاره وښودله اودظلم اوجهل تیارې یې له مینځه وې وړلې.

الله تعالی دکایناتوخالق ، مالک ،حاکم، توانا ،دعلم پوهې اوحکمت څښتن دی ،انسان یې دخپلې بندګۍ اوازمینبت په خاطرپه ځمکه کې مېشت کړی ،له مئوقت ژوندنه وروسته به له نړۍ څخه سترګې پټوي ،له مرګه وروسته په دویم ژوند کې به ورته دخپلواعمالومجازات اومکافات ورکوي مګرصحیح امتحان هغه وي چې په هغه کې دازموینې موادپه ګوته شوي اوسي نو پردې اساس بشریت ته دالهي تعلیماتواولاربنوونودرسېدلوڅواحتماله دي

۱:داچې له هرشخص سره الله تعالی خبرې وکړي بنه اوبدورته په ګوته کړي ،خودغه احتمال دازموینې له حکمت سره منافي ؤ بیادازموینې حیثیت نه پاتې کېده

۲: داچې الله جل شانه هرشخص ته ملکه لږلې وای دغه احتمال هم غوره نه ؤ ځکه چې دملایکواوانسان طبیعت سره جلادی دملکې په اصلي بنه لیدل دانسان له وسې وتلی کارؤ ،که په انساني بنه راتلی نوبیابه هم خلکوپه شکونواوشبهاتولاس پوري کولی چې داخوملایکه نه ده بلکې انسان دی

۳ ـ داچې دانسانانودجملې څخه ځینې وګړي غوره شي ترڅوملتونه رهبري کړي دځمکې پرمخ عدل قایم اوتولوبې لاریوته دپای تکی کښېږدي نودحاکم حقیقي داحکاموا ولارښوونودمعلوملویواځینی اومستنده وسیله وحی ده اوبس

حقیقت دادی چې بندګانو ته دالهي احکامو او لارښوونو درسولو یواځینی لار نبوت اورسالت دی هغوی الهي پیغامونه په بشپړه توګه رسوي په همدې توګه رسالت اونبوت کسبي شی نه بلکې الهي ورکړه ده ،رسول انسان او بنده وي چې کومې لارښوونې ولسونوته وړاندې کوي پخپله یې مجسمه نمونه وي دتولو پیغمبرانو یوه بلنه وه دیونبي څخه انکار له تولو څخه انکار ګڼل کېږي په پیغمبر دایمان مطلب دهغه بشپړ اطاعت اوفرمان برادري ده دنبوت لړۍ په محمد (ص) پای ته رسېدلې هغه دتولې نړۍ دملتونو لپاره ترقیامته پیغمبر اودژوند په تولوچارو کې غوره نمونه اواطاعت یې په حقیقت کې دالله تعالی اطاعت، عزت، عظمت ادب او احترام یې دایمان نښه ده ،دپیغمبرانودلږلوموخه دانسان دنیوي اواخروي سعادت ته رسېدل اوتولنه له مفاسدواومظالمو څخه پاکول دي ،انسان ناپوه اوجاهل ؤ نه یې خپل ځان پېژانده اونه کاینات دنړۍ هرڅه ورته مجهول ؤهغه نوراورناته اړؤدپیامبرانوپه دعوت اوپیام کې هم اهداف بنودل شوي اوهم اهدافوته درسېدولاړ چاري ورپه ګوته شوي دي ددې څېړکې له لوستلو وروسته به لوستونکي وکولی شي په لاندې موضوعاتو وپوهېږي

درسالت اونبوت لغوي معنا

درسالت معناپیغام دی دارسال معناپیغام رسول اومراسله دپیغاماتوتبادلې ته ویل کېږي رسالت په اصل کې دسفارت اونمایندګی مترادف لفظ دی اورسول دپیغام رسولواونمایندګی په معنادی .

دنبوت لفظ ن ،ب ،و ،ت نبوة په عربي ژبه کې عظمت اولوړځای ته ویل کېږي نودنبي معنا دلوړې اوسترې مرتبې څښتن ، چې بشریت ددوی په وسیله ددنیا او اخرت د سمون لار مومي ،همدارنګه په بل اعتبار دنباءخخه اخیستل شوی چې دخبرپه معناسره راځي پیغمبران هم دوحی له پیغام سره بشریت ته را درومي نوپردې اساس دنبي معناستر او لوړ مقام شخصیت دی له همدې امله هغه عظیم الشان انسان ته نبي ویل کېږي چې دالله تعالی له خوادشرعي احکاموپه تبلیغ اوتعلیم ماموروي

دنبوت شرعي حیثیت اسلامي پوهانودنبوت حقیقت اوشرعي حیثیت داسې بیان کړی دی (نبوت دالله تعالی اوبندګانوترمینځ سفارت اونمایندګي ده ترڅودهغوی داخروي اودنیوي چارونقصان اونیمګړتیاوې لېرې کړي) دپورتني تعریف څخه دنبوت څلورخاصیتونه معلومېږي

- نبوت اورسالت نه الوهیت اونه دالله تعالی خوی توب اونه کوم

فلسفیانه علم دی بلکې دالله تعالی له خواسفارت ،نمایندګي اوپیغام رسول دي دفلسفې بنسټ عقل اوفکردی لیکن دپیغمبر دعلوموا ومعارفوسرچینه الهي وحی ده چې په حقایقوبناء وي مګردفلسفې دبنسټ ډبره په اتکلونواوګومانونواینبودل شوې وي

- دپیغمبرتعلیمات دعقل دځښتنانودلارښوونې لپاره وي برابره خبره ده چې انسان وي اوکه پېری

• نبوت دراهبانواوجوګيانودتګلاري نوم نه دی چې خلکوته دنفس

دوژنـــې اوددنيـــادترک کولوښـــوونه وکـــړي بلکـــې پيغمبرخلکوتـــه ددنيادتعميراودژوندانه داصلاح لارښوونه کوي خلکوته يواځې داخروي فلاح اوکاميابي درس نه ورکوي بلکې ددنيااواخرت دبري لاره ورښيي يعنې انبياء عليهم السلام تدين اوتمدن ،دنيااواخرت روح اومادہ يوځای پرمخ وړي خوترجيح يې اخرت ته پردنياروح ته په مادې تدين ته پرتمدن زياته وي

• نبوت اورسالت کسبي شی نه دی بلکې الهي ورکړه اوانتخاب دی چې په رياضت ،مجاهدې
قابليت اولياقت سره نه حاصلېږي بلکې الهي انتخاب اوتاکنه ده قران عظيم الشان دغه مطلب داسې روښانه کوي ﴿ ٱللَّهُ أَعۡلَمُ حَيۡثُ يَجۡعَلُ رِسَالَتَهُۥۗ ﴿١٢٤﴾ ﴾ الأنعام: " الله ډېر ښه پوهېږي چې د خپلې پېغمبرۍ کار له چا نه واخلي او په څه شان يې واخلي..

دنبي اورسول فرق

رسول هغه الهي استازي ته ويل کېږي چې په ځنوي شريعت اوکتاب سره استول شوی وي او نبي هغه چې دپخواني شريعت اوکتاب په رسولواوتبليغ ماموروي

په پيغمبرانو دايمان راوړلو اهميت

په پيغمبرانوايمان دايمان دښستونو څخه ده څوک چې په پيغمبرانو ايمان ونه لري مؤمن نه ګڼل کېږي بلکې تباه او برباد انسان دی په همدې توګه په ځينو ايمان او د ځينو، نه منل کفر ګڼل کېږي داځکه چې ټول په يو دين او يو پيغام سره استول شوي وو قران عظيم الشان دغه مطلب داسې روښانه کوي

﴿ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْهُمْ وَنَحْنُ لَهُۥ مُسْلِمُونَ ﴿٨٤﴾ ﴾ ال عمران: ٨٤ ژباړه:مونږ د هغودهيڅ يو تر مينځ توپيرنه کوو او مونږ د الله د فرمان تابع (مسلمانان) يو "

په پيغمبرانو دايمان اهميت په لاندې ټکيو کې خلا صه کوو

- دخالق پېژندنه :ترڅو چې انسان دخپل ځښتن لارښوونې ونه پېژني

اريان به وي چې څه وکړي نه به خير پېژني اونه شر

- له مرګه وروسته دانسان دحالت پېژندنه: انسان مري او دغه

دسترګو ليدلی حالت دی چې يو شخص ماشوم وي بيا ځوان شي اوبيا زوړ اوبيا په مړينه محکوم او له خپل او لاد ،دوستانو او مال څخه جلا شي انسان تېر تاريخ ته هم ګوري چې هغوی سل کاله مخکې ؤ مګر اوس نشته نو مرګ يو منل شوی حقيقت دی چې هېڅوک ورڅخه انکار نه شي کولی.نوله مړينې وروسته به له انسان سره څه کېږي داخبره نامعلومه ده دادخالق نه پرته څوک نه شي معلومولی چې تر مرګ وروسته به دانسان راتلونکی څنګه وي.

- دخلکو دژوند اصلاح:دخلکو ژوند به څنګه سمون او له فساده به

خلاصون وموميِ؟دخلکو بېلابېل افکاراو نظريات دي هر څوک دعوه لري چې زه په حق يم انسان به هېڅکله دخپل خالق دلارښوونو او هدایاتو نه پرته سمه لاره په سترګو ونه ګوري دخپل رب دلارښوونو په وسيله به يې دنيا او اخرت دواړه سم شي دالهي استازو دلارښوونو نه پرته انسان دځناورو ګډو او بيزو په څېر ژوند کولی شي چې نه به يې دژوند هدف معلوم وي اونه له مړينې وروسته حالت.

پیغمبرانو ته دبشراړ تیا

هغوی روښانه ډیوې اودځمکې پرمخ دهدایت چینې اودملتونو لارښوونه ددوی په وسیله سرته رسیدله ددې په خاطر الله تعالی لېږلي ؤچې الهي کتاب حاکم کړي او دیو الله بندګي اوعبادت وکړی شی اود ځمکې پرمخ یوازې دالله تعالی دین حاکم او جاري وګرزوي.

دایوځرګند حقیقت دی چې دوحی اورسالت نه پرته بله یقیني اومعتبره وسیله له سره شتون نه لري چې دهغې په وسیله دالله تعالی درضااوخوشالی پوهه ترلاسه کړای شي انساني عقل په دې هکله کفایت نه کوي اوله هېڅ انسان سره دغه قابلیت اوځواک نشته چې هغه په مستقیم ډول له الله تعالی سره خبرې وکړي دنبوت دضرورت په هکله په سورة النساء کې ددولسوپیغمبرانودنومونویادونه شوې ده اوورپسې یې داسې فرمایلي ﴿

رُّسُلًا مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى ٱللَّهِ حُجَّةٌۢ بَعْدَ ٱلرُّسُلِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿١٦٥﴾ ﴾ النساء

ژباړه: دا ټول پیغمبران زیری ورکوونکي او وېروونکي لېږل شوي وو چې د هغو له پیغمبر کولو نه وروسته له خلکو سره د الله په مقابله کښې څه سند پاتې نه شي او الله په هر حال غالب او حکیم دی.

ددغه قراني دلیل په شرحه کې ګڼ نبوي احادیث راغلي دي پیغمبرصلی الله علیه وسلم وحی له باران سره تشبیه کړې ده څرنګه چې دځمکې ښه رازتیاباران پورې موقوفه ده په همدې توګه دبشرتولنېزاوانفرادي ژوندهم الهي وحی اودپیغمبرد تعلیماتوڅخه پرته نه شي ښایسته کېدای په هرحال دانسان دخیراوشر، ګټې اوزیان دبهلتون لپاره وحی اورسالت ضروري دی پیغمبرانوته دبشراړتیاپه لاندې ټکیوکې راخلاصه کېږي

- که چېرې الله تعالی بندګان خپلوغرایزوته پرېښې وای نوپه

تیارواوفاسدواخلاقوکې به پر اته وای اوسنی متمدن انسان زمونږددغې ادعا
ښکاره ثبوت دی

- که چېرې الله پاک پیغمبران نه وای لېږلي خلکوته به دقیامت په ورځ

بهانه پاتې وی چې مونږته به دې خپل استازي اوپیغامونه رالېږلي وای
مونږولې په عذاب اخته کوې

- خلک نه شي کولای چې ټولوانساني فضایلواوکمالاتوته ورسېږي

داځکه چې انسان حیواني غرایزلري له بلې خواپه انسان کې کبر،غرور،ځان
غوښتنه اودشرخواته مېلان دی په طبیعي ډول به ځمکه دشراوفساده ځخه
ډکه وای

- ډیرحقایق داسې دي چې بشري عقل ورته نه رسېږي لکه دالله تعالی

ذات ،صفات ،اخرت ،جنت ،دوزخ دښواوبدوبېلتون اوداسې نور.....

- له اشتباهاتواوخطاء ځخه دانساني عقل دخلاصون لپاره پیغمبرته

اړتیاوه

- ولسونواوقامونویومثالي قایدته ضرورت درلودچې له هرې اشتباه

اوګناه ځخه پاک ،سوتره اودلوړوانساني کمالاتوځښتن اوپه معجزوسره یې
تائیدشوی وي.

دنبوت ضرورت داسلامي فلاسفه ؤله نظره

۱:پيغمبرانوته دخلکواحتياج اوړتيادډاکترانواوطبيبانوپه شان ده ددې اکترصداقت اوريښتينولي په تجربې اودپيغمبرپېژندنه په معجزې سره معلومېږي۔

۲:انسان دجسم اوروح نوم دی دانساني جسم شرافت اوکرامت دروح له املـه دی جسماني ډاکتران دجسم معالجه کوي اوپيغمبران دروحاني رنځونوپه علاج لاس پوري کوي هغه شخص ته اريانتياپه کارده چې دجسماني علاج اندينښنه ورسره وي مګردروحاني علاج پروا ورسره نه وي

۳:رسالت دنړۍ روح ،روښنايې اوژوندون دی ددې نړۍ اصلاح به څنګه وشي چې نه يې روح اوروښنايې اونه يې ژوندوي ترڅوپورې چې درسالت اونبوت لمرپرې نه وي راختلی دغه نړۍ تياره اوملعونه ده ترټولولويه تياره شرک اوناپوهي ده چې دنبوت اورسالت په علم روښانه کېږي

۴:دانسان سليم عقل اګرکه دښواوبدوترمينځ دبيلتون استعدادلري البته ځينې وخت په نفسي خواهشاتواوغفلت کې راګيرشي نوبيادګټوراوزيانمن،خيراوشرپه بيلتون نه پوهېږي۔

۵:هرکله چې دصنعت چارې ديوماهرلاربښودځخه پرته نه شي ترسره کېدای په همدې توګه دانساني لوړوارزښتونو،عدل ،انصاف اودامن دلوړنظام دټينګت لپاره دغوره بندګانواوپېغمبرانونه پرته بله چاره نشته

۶:دانساني جسم ژوندله روح نه پرته امکان نه لري دټولنېزژوندروح نبوت اوفلسفه ده البته ددواړوترمينځ فرق دادی چې نبوت دالله تعالی په رحمت اومهربانۍ سره حاصلېږي مګرفلسفه دغوراوفکرپه نتيجه کې ترلاسه کېدای شي دويم فرق يې دادی چې پيغمبرله غلطيواواشتباهاتوڅخه محفوظ وي مګرفلسفې په غلطيواواشتباهاتواخته کېږي دختيځ نامتوشاعراوفيلسوف علامه اقبال رحمه الله عليه په خپلوفلسفيانه مګرله

ایمان نه ډ کوشعرونو کې رسالت دملي وحدت اویووالي اودتولنې روح بللی دی .هلته چې وایې

حق تعالی پیکرماافرید ازرسالت درتن ماجان دمید
ازرسالت درجهان تکوین ازرسالت دین ماائین ما
ازرسالت صدهزارمایک است جزمااز جزمالانیفک است
ازرسالت هم نواگشتیم ما هم نفس هم مدعا گشتیم ما

دعلامه اقبال مطلب دادی چې رسالت اونبوت دملي ژوندروح جوړوي کوم ولسونه چې دپیغمبري لارښوونوپهرودي هغوی په حقیقي توګه ژوندي دي دملي ژوندانه اساس په رسالت ایمان دی دپیغمبرمنونکي یوقام دی چې مسلمان قام بللای شي درسالت اونبوت له امله دنړۍ ګڼ ملتونه ګڼ رنګونه اودګنوڅبوخاوندان دیوشعاراویوهدف درلودونکي ګرځي .په پای کې نبوت اورسالت ته دارتیاپه هکله دعلامه ابن القیم ویناته دلوستونکیوپام راګرځوو (لولاالنبوات لم یکن فی العالم علم نافع البتة ولاعمل صالح ولاصلاح فی معیشة ولاقوام للمملکة ولکان الناس بمنزلة البهائم والسباع العادیة والکلاب الضاریة اللتي یعدوابعضها علی بعض وکل خیرفی العالم فمن اثارالنبوة وکل شروقع فی العالم اوسیقع فبسبب خفاء اثارالنبوة ودروسها فاالعالم جسدروحه النبوة ولاقیام للجسدبدون روحه ولهذاذانکسفت شمس النبوة من العالم ولم یُبق شیء من اثارهاالبتة انشقت سماء ه وانتثرت کواکبه وکورت شمسه وخسف قمره ونُسفت جباله وزلزلت ارضه واهلک من علیهافلاقیام للعالم الاباثارالنبوة .یعنې : که چېرې انسانانوته پیغمبران نه وای لېږل شوي په نړۍ کې به ګټورعلم نه وای اونه به نیک عمل اودژوندپه ډګراصلاح اوسمون وای اونه به دمملکتونونظم اوانتظام وای بشریت به دوحشي ژوواوخپرونکوحیواناتواوسپیوپه څېروای چې یوپربل حملې کوي اوخپلې دارې پرې ښخوي نوپه نړۍ کې دهرخیراوښیګنې شتون دپیغمبري ښوونوداغېزوتنیجه ده په همدې توګه

هریوشراوطغیان چې په نړۍ کې موجوددی اویابه رامینځ ته کېږي لامل اوسبب یې دنبوي لارښوونودرسونوکموالی دی .نوپردې اساس نړۍ دیواسکلیټ حیثیت لري روح یې نبوي لارښوونې دي دبدن قیام اوتینګښت له روح څخه پرته امکان نه لري له همدې امله هرکله چې دنړۍ څخه دنبوت لمرپریوځي اوهېڅ ننبې ننبانې یې پاتې نه شي اسمان به وچوي ستوري به یوځای بل ځای ته خپاره شي دلمروړانګې به پای ته ورسېږي اوسپوږمۍ به تکه توره شي غرونه به والوزي اوځمکه به سخت تکانونه وخوري اودځمکې ټول مخلوقات به په فناء محکوم شي نودنړۍ دنظام شتون دنبوت دتعلیماتوڅخه پرته نه شي رامینځته کېدای .

پیغمبربشپړلارښود

په قران عظیم الشان کې دپیغمبرانومنصبي فریضه ددین تعلیم ،ددین تبلیغ اوددین قایمول اوتینګول ښودل شوي دي،دایوڅرګند حقیقت دی چې اسلام دژوندانه دبشپړنظام نوم دی چې په هغه کې عقاید ،ایمانیات ،اعمال ،خالص عبادات اومعاملات اودبندګانوحقونه ټول شامل دي داسلام دسپیڅلي دین ددغه جامع اوهراړخیزتصورڅخه په خپله دنبوت جامع تصورمخې ته راځي دالله تعالی استازي اوپیغمبران ددنیادپرېښودلواورهبانیت درس خلکوته نه ورکوي بلکې ددنیادودانولواودخلکوداصلاح پیغام له ځانه سره لري

البته ددې خبرې یادونه ډېره ضروري ده چې داسلام دسپیڅلی دین اودټولوپیغمبري تعلیماتواصلي اوحقیقي مقصداوترټولولوړهدف دالله تعالی رضااوداخروي ژوندانه کامیابی ده په دنیوي ګټواخروي ګټوته ترجیح ورکول زهدبللی شي اوددنیادترک کولونوم رهبانیت دی دالله تعالی هرپیغمبرزاهدانسان وي مګرراهب نه وي که چېرته پیغمبرته داسلام دتبلیغ ،تعلیم اوددین دحاکمیت دهلوڅلواوکوښښ دپرېښودلوپرڅای دټولې نړۍ حکومت ،سلطنت ،مال اودولت وړاندې کړای شي دحقارت په سترګه ورته

وګوري مګر که چېرې حکومت ،مال اودولت داسلام دواکمنۍ اوحاکمیت
اودالهي پیغامونو درسولواوښوونې په موخه وي نوبیایې دحاصلولوکوښښ
اوغوښتنه کوي، دبشري ژوندانه دتعمیرلپاره چې
دکوموصلاحیتونواولیاقت ته ضرورت شته هغه ټول په فطري ډول
دپیغمبرپه ذات کې دنورو انسانانوپه نسبت زیات موجودوي نوپه لنډ ډول
درې اوصاف دنبوت لپاره لازم دي چې د نبوت دارکانو په نوم یادیږي
۱.رشداوهدایت ۲.علم اوحکمت ۳.حکومت اوسیاست
۱: پیغمبریوکامل مرشداومربي هم وي دنفس اوروح دتزکیې په
ټولواذکارو،عباداتواوطاعاتوپوه وي
پته دې نه وي چې دپیغمبردغه ټول کمالات فطري اوالهي ورکړه ده هغه
دکوم انسان په لاس په کومه مدرسه اوکوم تربیت ځای کې نه وي روزل شوی
بلکې دهغه ښوونه اوروزنه داسماني وحی له لارې دملکې په وسیله سرته
رسیږي
۲: پیغمبرحکیم ،داخلاقودعلم ،کورني نظام اوتمدني سیاست
داصولوماهر وي هغه یواځې دالفاظوحکیم نه بلکې داسې پوه شخص وي
چې حکمت یې دژوندانه هرحرکت ګرځېدلی وي.
۳: پیغمبردتمدني چاروماهرهم وي چې دخپل عملي ځواک په سیوري
کې دعلم ځښتنان اوپوهان ،جنرالان ،سیاستوال ،سوداګرلنډه داچې
دژوندډهرې ځانګې دافرادومناسبه روزنه سرته رسوي.
په دغودرې واړوصفاتوپورې دبشریت اصلاح ترلې شوې ده له سیاست
سره چې حکمت اوعقل مندي نه وي له هغه څخه جاهلانه غیرحکیمانه
داصلاح پرځای دفساد سیاست جوړیږي په دې توګه چې له چاسره دعلم
اوحکمت پانګه موجوده وي مګردرشداوهدایت دتهذیب نفس اودنفس
دتزکیې نظام ورسره نه وي نویواځې په سیاست اوحکمت اصلاحي پروګرام
نه شي نافذیدای دبشردتربیت لپاره کامل مربي اودبشري اصلاح لپاره

کامل مصلح ته اړتیاده په پیغمبر کې دغه دري واړه صفات په بشپړه توګه موجودوي

د پیغمبرانو خصوصیات

- په وحی ،نبوت اورسالت اوښو اخلاقو سره له نورو خلکو جلا

شخصیتونه ؤ

- غوره خلک وو دښو اخلاقو،تواضع،ترحم او عاطفې په لحاظ لوړ

شخصیتونه وو

- پاک زړي اوپه عبادت کې پیاوړي،عقل اوذهانت یې لوړ دکامل

دین ،صبر،ستړي عاطفې اوښه خوی خاوندان ؤ

- تر مرګه وروسته ورځخه میراث نه شي وړلای
- سترګې یې پټې مګر زړونه یې بیدار وي
- دمړینې اختیار
- له ښځو سره یې نکاح روا نه ده
- خالص اوسوچه توحید اودیوالله بندګی ته یې خلک رابلل خلکوته

به یې څرګندوله چې موږ خپل ځان ته هم دګټې اوبل چاته دزیان رسولو مالکان نه یواونه دغیبو پوهه لرو

- دمرګ پرمهال اختیار ورپه برخه کېدل

- په هغه ځای کې ښخېدل چې چېرته وفات شوي اوسي
- جسدونه يې روغ رمټ او نه خاورې کېږي
- وهبيت:معناداچې نبوت کوم کسبي شی نه بلکې دالله تعالی

خصوصي انتخاب اوورکړه ده

- :الهي تعليمات: ښوونې يې دالله له لورې وي ددين اوشريعت په نوم

چې انسانانوته څه شی وړاندې کوي هغه ټول دالله تعالی له خواوي هغه دالهي هدایاتوتابع وي.

- عصمت: له نبوت نه مخکې اووروسته له

کوچنیواولویوګناهونوڅخه پاک اوسېښځلی وي دپیغمبرفکر،بصیرت اواخلاقي ځواک لوړاوکامل وي له بلې خواپه خپل نفس اوځان دپوره کنټرول ځښتن وي په همدې توګه دهغوی اخلاقي حس اودالله تعالی څخه وېره اوداخرت تصوردومره پیاوړی وي چې له هغوی نه دګناه چارې هېڅکله سر نه شي پورته کولای دالله تعالی ترڅانګړې څارنې لاندې وي

د پیغمبرانو صفات

پیغمبران علیهم السلام انسانان ؤ ،وحی پرې راتلله مګرله دې سره سره په ځینوستروصفاتومتصف ؤچې په لاندې کربنوکې وړاندې کېږي.

جسماني صفات

- بشریت :دالهي حکمت غو ښتنه همدغه وه چې پیغمبران دې

انسانان وي دولسونو په مینځ کې دې ژوندوکړي ترڅو يې وروزي او ستونزې يې ورحل کاندي هغوی ته مثالي شخصیتونه او نمونه واوسي

- خوراک ، څښاک
- صحت اورنغورتیا
- کمزورتیا ،بوډاتوب اومړینه
- نکاح کول او او لادونه درلودل
- تجارت کول او په بازارونوکې ګرځېدل ،رمه پیسول او نورې دنیوې چارې ترسره کول
- په هغوی کې دالوهیت هیڅ اثار نه ؤ
- هغوی دملایکو په صفاتو سمبال نه ؤ
- دظاهري خلقت کمال ،په جسماني لحاظ ښایسته او بشپړ شخصیت درلودل
- دنسب لوړوالی
- ازادي او سرلوړي
- لوړ عقل او پوهه
- په عبادت کې قوت
- نارینتوب :د اخکه چې ښځینه ددومره لوی بار دتحمل وړتیا نه لري

نارینه له خلکو سره یوځای ژوند کوي مزلونه او ستونزې ګالي دلښکرو قیادت کوي دقاضي او حاکم په توګه رول لوبوي مګر ښځینه له دغو صلاحیتونوڅخه برخمنې نه دي

معنوي صفات

۱:**صدق اوریښتینولي**:دغه صفت باید په هریو مسلمان کې موجودوي ګرد پیغمبرانولپاره لازمي صفت ګڼل کېږي هیڅکله امکان نه لري چې

بوځوک دي پيغمبروي اوبيادي ورځخه دروغ، خيانت اونورناوړه صفات ځرګندشي داځکه چې دغه صفات له يوه عادي انسان سره نه ښائې په چې چېرې پيغمبران دروغژن واى نوبيابه دوحى په اسماني پيغام کې شک رامينځته کېده پرهمدې اساس رسول الله صلى الله عليه وسلم په مکه کې دنبوت نه مخکې اووروسته په امين سره شهرت درلودهغه مهال چې دروم امپراتورهرقل دمکې دسردارابوسفيان نه دهغه له اسلامه دمخه درسول الله په هکله پوښتلي ؤچې ايا کله يې دروغ ويلي دي هغه ورته ويلي ؤ نه هېڅکله.

۲: **امانت**: پيغمبرانوعليهم السلامودوحى اوالهي پيغامونوپه رسولوکې له بشپړامانت ځخه کاراخيستى دى داځکه چې امانت له خيانت سره منافي اوضدعمل دى له پيغمبرسره هېڅکله مناسبه نه بربښي چې امانت کې خيانت وکړي په دې توګه چې نه دخپل امت خيروغواړي اونه الهي رسالت په بشپړه توګه ترسره کاندي تولوپيغمبرانوالهي امانت په بشپړه توګه سرته

رسولى اوهرپيغبرخپل قام ته ويلي ﴿ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٠٧﴾ ﴾ الشعراء: ﴿ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٠٨﴾ ﴾ الشعراء: زه تاسې ته دالله له لوري امين استازى يم نو تاسې له الله وويريږئ او زما اطاعت وکړئ.

۳: **تبليغ**: دغه دپيغمبرانوځانګړى صفت دى په دې توګه چې هغوى به الهي پيغامونه ولسونوته رسول اګرکه په دې تبليغ کې به دوى ته سترزيان هم رسېده په قران عظيم الشان کې موږدتولوپيغمبرانوواقعات ګوروچې په داګه يې اعلان کړى دى چې دوى الهي رسالت بشپړرسولى اودخپلوولسونوخيريې غوښتى دى رسول الله صلى الله عليه وسلم ته هم الله تعالى دالهي پيغامونودبشپړرسولوامرکوي هلته چې فرمايي ﴿ يَا أَيُّهَا

ٱلرَّسُولُ بَلِّغْ مَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ ۖ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ
رِسَالَتَهُۥ ۚ وَٱللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ ٱلنَّاسِ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ
ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٦٧﴾ المائدة ژباړه: ای پیغمبره ! څه چې ستا د رب له لورې پر تا نازل کړی شویدي هغه خلکو ته ورسوه. که داسې دې ونه کړل؛ نو د هغه د پیغمبرۍ حق دې ادا نه کړ . الله د خلکو له شر څخه ستا ژغورونکی دی . باور ولره چې الله به هېڅکله (ستا په مقابله کښې) کافرانو ته د بري لاره ونه ښيي.

۴: **ذکاوت اوزیرکتیا**: ټول پیغمبران دعقلي کمال، ذکاوت اورشد څښتنان ؤالله تعالی درسالت اونبوت ددرانده مسئولیت لپاره دپاخه عقل ،بصیرت اوذکاوت شخصیتونه تاکلي ؤترڅوخپلوقامونوته په بشپړ استدلال سره الهي پیغامونه ورکړي داچې ځینې وګړي په عقلي لحاظ دخپل عمرپه وروستیوکې کمزوري کېږي خوپیغمبران دالهي پیرزوینې پرېنسټ له دې کارڅخه استثنایي حیثیت لري حواس اوعقلي خواک یې په خپل ځای ثابت وي.

۵: **له جسماني عیوبوڅخه** سلامتیا: دغه د پیغمبرانودخواصوڅخه دی هېڅکله امکان نه لري چې په دوی کې دې جسماني اواخلاقي نیمګړتیاوې رامینځته شي چې خلک ورڅخه نفرت وکړي لکه دبرګي رنځ اودسرطان ناروغي اوداسې نور، که څه هم پیغمبرانوته دعاموخلکوپه ځېرناروغتیارسېدله اوپه مړینه محکومېدل مګرداسې نه چې خلک ورڅخه کرکه اونفرت وکړي.

دنبوت اهداف او مقاصد

نبوت اهداف او مقاصد په لاندې ټکیو کې وړاندې کولی شي.

- بندګانو ته دالله تعالی وړپېژندنه او دهغه په وحدانیت ایمان

- انسانانوته دښو او بدو چاروښوونه
- خلکو ته ددنيا او اخرت دبري زېرې او مجرمانو ته تهديد
- ولسونو ته نېکه نمونه اودمثالي شخصيت په توګه څرګند ېدل
- ددين اقامه ،واکمني اودليل تر څو دقيامت په ورځ خلکو ته بهانه پاتې نه شي

د پيغمبرانو مسئوليتونه او دندې

پيغمبران دالله تعالى اوبندګانوترمينځ سفيران اواستازي دى مهمې دندې يې په لاندې توګه دي

- داسمانى ملکې په وسيله وحى زده کول اوخلکوته يې رسول
- خلکوته دالهي کتاب تشريح اوبيان
- دولسونو رهبرى اوقيادت
- ولسونو ته دالهي احکامو دتطبيق په نتيجه کې په دنيا او اخرت کې

دهوسا ژوند زېرى او دخلاف په صورت کې ددنيااواخرت دتباهۍ ويره

- دخپلو ملګرووزنه ،فکري او اخلاقي پالنه يې
- ددين تطبيق اوتنفيذ اودسياسي چارو سمبالښت
- له ولسونوسره مباحثه اوهغوى ته قناعت ورکول او

ددښمنانودشبهاتو ځوابول

د پیغمبرانو د دعوت اوبلنې ځانګړتیاوې

پیغمبران علیهم السلام په خپل دعوت اوبلنه کې دلاندې ځانګړنواومزایا، وځښتنان ؤ.

۱_ دهغوی دعوت اوبلنه رباني اوالهي وه معناداچې دغه کارددوی دزړونواوافکاروځخه نمایندګي نه کوله اونه دتولنیزوظروفواوشرایطوزېرنده وه پردې اساس هغوی دالهي پیغامونوپه رسولومامورېت درلودهغوی چې کوم علم خپراوه اوکومې عقیدې ته یې خلک رابلل هغه ددوی دذکاوت اوملي غیرت نتیجه نه وه بلکې دوحي اورسالت مصدرؤچې دوی پرې مامورشوي ؤدوی دوخت دمشرانو،پوهانواواصلاح غوښتونکیواشخاصوځخه جلاخلک ؤهغوی هېڅکله هم دخپل دعوت اوبلنې ځخه یوانچ انحراف ته تیارنه ؤاونه مال ،منصب اوجاه ددوی سترګې برېښولای شوې هلته چې دمکې بت پالومشرکینودالله سپېځلي پیغمبرمحمدصلی الله علیه وسلم ته دهمدغوشیانووړاندیزکړی ؤ هغه ورته په ځواب کې ویلي وو (په الله جلت عظمته سوګند که چېرې کافران لمرپه ښي لاس اوسپوږمی په کین لاس راته کښېږدي چې زه دغه کارپرېږدم زه به یې هېڅکله په پرېښودلولاس پورې نه کړم تردې چې الله تعالی دغه دین غالب کړي اویایې زه پرورااندې په شهادت ورسېږم)

۲_له چانه داجرنه غوښتل دوی په خپل دعوت اوبلنې کې له هېچانه اجراوبدله نه غوښتله هغوی تولوخلکوته په ډاګه اعلان کاؤچې ددوی دعوت اوبلنه ددنیااومال دطلبولوپه خاطرنه ده نه له چاستاینه غواړي بلکې سترهدف یې دالله رضااودځمکې پرمخ دهغه جلت عظمته ددین قیام اونفاذ دی.

۳_دالله جل جلاله ریښتینې بندګي:په هرعصراووخت کې دپیغمبرانودرسالت سترهدف دالله بندګي وه هغوی غوښتل چې

انسانان دبندګانولـه بنـدګی ځخـه وژغـوري اويـوازې دالله بنـدګان يـې جوړکړي.

۴_اسانتیاپه دعـوت کـې نـه پېچلتیـا:همدغـه دټولوپیغمبرانودعـوت ځانګړنه ده هغـوی لـه بشـري فطرت سره سم تلل اوخلـک يـې دهغـوی دعقلي استعدادسره سم مخاطب ګرزول په دعـوت اوبلنـه کـې يـې لـه حکمت ځخه کاراخیسـت اوخلکوتـه يـې دتوحیداسانه دلایـل بیـانول لـه فلسفیانه،پېچلووینـاء وځخه يې ځان ژغوره.

۵_دهـدف ځرګنـدتیا:هغـوی خلکوتـه دیوځرګندهـدف پـه لـوري بلنـه ورکولـه دهغـوی رسالت ربـاني اوالهـي ؤځرګندهدف اوسـتره غایـه يـې درلـوده لاره يـې ځرګنـده بلنـه يـې دلمرغونـدې روښـانه وه قـران عظـیم الشـان دغـه مطلـب داسـې روښـانه کـوي.پیغمبرصـلی الله علیـه وسـلم فرمـایي(لقـدترکتکم علـی المحجـة البیضـاء،لیلهاکنهارهالایزیغ عنهابعدی الاهالـک)په یقیني توګـه مې تاسوپه روښـانه دلیـل پریښـي یاسـت شـپه يـې دوړځـې پـه ځېرروښـانه ده زمـانه وروسـته بـه هېڅکلـه ورځخه ځوک کاږه اوبله خوانه شي مګرهغه ځوک چې پخپله دخپل ځان تبـاه کـوونکی اوبربـادوونکی وي.)د هرسیاسـي مشـران خلکوتـه خپـل اصلي مقصدنه ځرګندوي بلکې دهرمرموزاوپېچلي خلک وي.

۶_لـه دنیـوي ژوندنـه بـې رغبتـي اواخرت تـه ترجیح:همدغـه خاصـیت دټولوپیغمبرانولـه دعـوت اوبلنـې سـره تړلـی دی دهغـوی سـتره موخـه ددنیـوي لذتونواوخوندونوحاصـلول نـه بلکـې اصـلي هـدف يـې اخرت اودنیاتـه يـې دوسـیلې پـه سـتر ګه کتـل هغـوی کـولی شـول چـې دشاهانواونورواملي شخصیتونواومشرانوپه ځېريې ژوندسرته رسولی وای لـهکن هغـوی تلپـاتې ژوندتـه پـه فـاني ژونـدترجیح ورکـړه حقیقـت دادی چې داخرت لورته دپیغمبرانوترجیح اودنیوي خوندونه بې ارزښـته ګڼل یوازې په ژبه دهغـوی وینانه وه بلکـې داقتـداراوفتحې پرمهـال يې

هم همدغه تګلاره وه درسول الله صلی الله علیه وسلم اودده دسپېځلي کورنۍ ژوندپه تاریخ کې دلمرپه څېر ځلانده مقام لري سړی اریان شي اوزړه یې له هیبته ودرزېږي دالله دپیغمبرسترشعارهمداؤ(اللهم لاعیش الاعیش الاخرة)ای الله نه دی ژوندمګرژوندخوداخرت دی.

۷_هرپیغمبردتوحیدلورته خلک رابللي اودبت پالنې اوشرک څخه یې خلک ژغورلي خپلوقامونوته یې همدغه پیغام درلودپه دې لارکې یې کړاوونه ګاللي دي اورته غورزېدلي دي په پای کې حق غلبه موندلې اوباطل نابودشوی اوپلویان یې په ذلت خواری اوبربادی محکوم شوي دي.

درسولانو او انبیاؤ یو پربل غوره والی

الله جل شانه په خپل سپېځلي اسماني پیغام کې موږ ته خبرراکړی چې ځینې پیغمبران په ځینو نورو

فضیلت لري قران عظیم الشان دغه مطلب ته داشاري په ترڅ کې داسې فرمایي ﴿ وَرَبُّكَ أَعْلَمُ بِمَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۗ وَلَقَدْ فَضَّلْنَا بَعْضَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ عَلَىٰ بَعْضٍ ۖ وَءَاتَيْنَا دَاوُۥدَ زَبُورًا ﴿٥٥﴾ الاسراء/زیاره

ستا رب په اسمانونو او ځمکه کښې مخلوق ډېر ښه پیژني، مونږ ځینو پېغمبرانوته په ځینو نورور زیاتې

مرتبې ورکړي اومونږ داوؤدته زبور ورکړی وؤ.

دټول امت درایو په یووالي رسولان دانبیاؤ څخه غوره دي او بیا رسولان په خپل مینځ کې درجې لري

هلته چې فرمایي (بقره﴿ تِلْكَ ٱلرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ۘ مِّنْهُم مَّن كَلَّمَ ٱللَّهُ ۖ وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجَٰتٍ ۚ وَءَاتَيْنَا عِيسَى ٱبْنَ مَرْيَمَ ٱلْبَيِّنَٰتِ وَأَيَّدْنَٰهُ بِرُوحِ ٱلْقُدُسِ ۗ ﴿٢٥٣﴾ ﴾ البقره/زیاره دې پېغمبرانو ته (چې زمونږ له لوري د انسانانو د هدایت وظیفه ورسپارله شوېده) مونږ یو پر بل لوړتیا

او فضیلت وربښلی دی له هغو څخه ځینې داسې وو چې خدای په خپله ورسره خبرې کړیدي، چاته یې له نورو خواؤ لورې درجې ورکړیدي ، او په پای کښې مو عیسی بن مریم (ع) ته روښانه نښانې وربښلی او په سپېځلي روح سره مو دهغه مرسته کړېده که د خدای خوښه وای نو دا نشوه کیدای چې له دې پېغمبرانو وروسته خلکو چې څرګندې نښې نښانې ورته راغلې په خپلو مینځو کښې جګړه کړې وای ، خو (خدای دانه غوښتل چې خلک په زوره له شخړونه منع کړي، له دې املهٰ)هغوې یوله بل سره شخړې وکړې ، نو چا ایمان راوړ او چا د کفر لاره غوره کړه ، هو ، که الله غوښتلای نو هغوی به هېڅکله نه جنګېدل خو الله چې څه غواړي هغه کوي

اولوالعزمه پیغمبران

په ټولو پیغمبرانو کې پنځه لوړ منزلته شخصیتونه دي او هغه عبارت دي له محمد(ص) نوح ، ابراهیم ، موسی او عیسی علیه السلام څخه قران عظیم الشان دغه مطلب ته داشاري په ترڅ کې داسې فرمایي

﴿ فَٱصۡبِرۡ كَمَا صَبَرَ أُوْلُواْ ٱلۡعَزۡمِ مِنَ ٱلرُّسُلِ وَلَا تَسۡتَعۡجِل لَّهُمۡۚ كَأَنَّهُمۡ يَوۡمَ يَرَوۡنَ مَا يُوعَدُونَ لَمۡ يَلۡبَثُوٓاْ إِلَّا سَاعَةً مِّن نَّهَارِۭۚ بَلَٰغٞۚ فَهَلۡ يُهۡلَكُ إِلَّا ٱلۡقَوۡمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ٣٥ ﴾ الأحقاف: ٣٥ ای پېغمبره صبر وکړه لکه چې اولو العزمو پیغمبرانو صبر کړی دی ، او د دوی په باب بیړه مه کوه . په کومه ورځ چې دوی هغه څه ووینې چې دوی ترېنه وېرول کیږی نو دوی ته به داسې ښکاره شي لکه چې په دنیا کښې ئې دورځې له یوه ساعت نه زیاته استوګنه نه ده کړې . خبره و رسول شوه نو آیاله نافرمانو کسانو څخه پرته به بل څوک هلاک شي ؟ په بل ځای کې داسې ارشاددی ﴿ وَإِذۡ أَخَذۡنَا مِنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مِيثَٰقَهُمۡ وَمِنكَ وَمِن نُّوحٖ وَإِبۡرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَى ٱبۡنِ مَرۡيَمَۖ وَأَخَذۡنَا مِنۡهُم مِّيثَٰقًا غَلِيظٗا ٧ ﴾ الأحزاب: ٧ زباړه:او (اي پېغمبره) هغه

ژمنه او پېمان په یاد ولره چې مونږله ټولو پېغمبرانو څخه اخېستی دی ، له تا څخه هم اوله نوح ، ابراهیم ، موسي او عیسی ابن مریم څخه هم . له ټولو نه مونږپخه ژمنه اخېستې ده .

البته ددوی یو پربل فضیلت دالله تعالی په عبادت ، دعوت ، جهاد مبارزې کړاوونو او ستونزوګاللو او دماموریت په لوی والي کې دی .

د پیغمبر د پېژندلودلایل

داسې نه ده چې هر څوک دنبوت دعوه وکړی دده دعوت او بلنه به منلی شي حقیقت دادی چې نبوت ځینې شرطونه لري چې دهغې په رڼا کې مونږ د پیغمبر شخصیت پېژندلی شو

- دنبوت دمدعي رونې ، شفاف اومثالي شخصیت
- دهغه پیغام او بلنه
- دپخوانیو پیغمبرانو تصدیق او په تېرو اسماني پیغامونو کې یې ذکر
- معجزې

مونږ به په دغو څلورو ټکیو لندې رڼا واچوو

لومړی:دپیغمبر رونې ، شفاف او مثالي شخصیت :دتاریخ په ډېلا ډېلو پړاوونو کې پیغمبران عادي اشخاص نه ؤ بلکې معصوم او سپېڅلی شخصیتونه ؤ جسماني ښکلا او اخلاقي ښایست به یې دستوري په څېر خلیده دهغه سخاوت ، شجاعت ، درک او پوهه به له ورایه ښکاره وه په داسې حال کې چې به را لوی شول له خلکو سره یې تعامل درلود خلکو ته یې ټول ژوند څرګند ؤ دمثال په توګه محمد صلی الله علیه وسلم په ټوله مکه کې په امین شهرت درلود دهغه شخصیت ، ژوند ، اخلاق دده دریښتنولی ستر دلیل ؤ هر کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ابو بکر صدیق ته

دعوت ورکړ له شک نه پرته يې ايمان راوړ دا ځکه چې دهغه شخصيت يې له پخوا پېژنده په همدې تو ګه يهو دي عالم عبدالله بن سلام په مدينه کې درسول الله مخ ته په کتلو سره وويل دغه دروغژن مخ نه دی دشها دت کلمه يې وويله

دويم : دهغه پيغام او بلنې ته کتل :پيغمبرانو له ځان سره دانسان او ټولنې دله سره جوړ ونې يو پشپړ پروګرام راوړ چې له هر عيب نه به خالي اوله عقل سره به برابراودبشرله فطرت سره به يې سمون درلود ،دمثال په توګه زموږپيغمبردتوحيد پيغام وړاند ې کړپه همدې تو ګه يې دعبا داتو،معاملا تواخلاقو ، سياست ،جنګ اوسو لې ، نړی والو اړيکو او دټولنيزِ عدالت بشپړ نظام له ځان سره اوړ چې هېڅ رنګ کمزورتيا ،نيمګړ تيااوناپوهی په کې نه ليدل کېد ه،له يو عرب باندې چې نه پو ښتنه شو ې وه چې ته په څه پوه شوې محمد صلی الله عليه وسلم دالله تعالی پيغمبردی ؟ هغه ورته په ځواب کې وويل په هېڅ شي يې امرنه دی کړ ی چې عقل ويلي وي کا شکې چې امر يې پرې نه واى کړی اوله هيڅ شي نه يې منعه نه ده کړې چې عقل ويلي وي کاشکې چې امر يې پرې کړی واى

دريم :دپخوانيو پيغمبرانو تصديق اوپه تېرواسماني پيغامونوکې يادونه يهو داو نصاری درسول الله صلی الله عليه وسلم راتلو ته منتظر ؤ کله چې دحبشې پاچا نجا شي ته درسول الله ليک ورسېد هغه يې ښکل کړاوغا يبانه ايمان يې پرې راوړدروم امپراتور هم درسول الله په رسالت يقين درلو ځکه چې رسول الله يې پېژ انده هغه يواځې سياسي نه بلکې مذ هبي شخصيت هم ؤ په تورات او انجيل کې هم درسول الله يادونه شوې وه

څلورم معجزات :معجز ې دپيغمبر دصداقت او رينبتينو لی دليل دی دتا ريخ په ببلا ببلو پړ اؤنو کې الله تعالی پيغمبر انو ته ورکړ ي دي

دمعجز ې پېژ ندنه

په لغت کې ننبې او علامې ته ویل کېږي

- په اصطلاح کې : هغه خارق العاده کار چې له ګوانښ سره مل او

له مقابلې څخه یې خلک ناتوانه وی او دپیغمبر په لاس څرګندشي

دمعجز ې شرطو نه

- دپیغمبر دتایید لپاره دالله تعالی له خوا وي
- خارق العا ده دکوني سنتو(دطبیعي نظام) خلا ف وي
- خلک یې له مقا بلې څخه عاجز وي .

د معجز ې اوجادو فرق

دپیغمبر انو معجز ې دنورو خارق العا ده چارو سره بېلتون لري هغه چې دجادوګر و په لاس څر ګند ېږ ي .

(۱) داچې دمعجز ې مقا بله نه کېږي مګر دجادوګر په څېر نور ډېر سا حران وي

(۲)معجزې ته دبشرپه کسب کې دخل نشته هغه دالله تعالی له خواوی دنبوت دمدعی په لاس څر ګند ېږ ي

(۳) معجز ې دداسې شخصیتونو په لاس څر ګند ېږي چې دتقوی ، سپېځلتیا ، شرافت او دانسانیت لوړ ې نمو نې وي مګر سحراو جادو دچتلو،بې شخصیته ، دروغژ نو او ټګا نو په و سیله وړاند ې کېږ ي .

د پیغمبرانو دمعجزاتو لنډې نمو نې

دثمودقام دغو ښتنې پراساس دصالح علیه السلام په دعا سر ه له لو یې تیګې داوښې راوتل له اورنه دابر هیم علیه السلام روغ رمټ راوتل ،موسی علیه السلام ته نهه معجز ې ورکړ شوی وي چې ډېر ې سترې یې له امسا ښا

مار جوړ ېدل او يد بيضا ءؤ دعيسى عليه السلام په وخت کې طب او طبابت ډېر پر مختګ کړی ؤ له ختمې نه دمارغه صورت جوړول او په پو کې سره الو زول درانده او بر ګي رنځ جوړول له قبر ونو دمړو راپاڅول خلکو ته ددوی په کورونوکې دذخيره شويو خوراکی تو کو خبر ورکول له اسما ن نه ددستر خوان نزول ورکړشوی ؤ

دمحمد صلى الله عليه وسلم معجزې

الله تعالى درسول الله صلى الله عليه وسلم په لاس ډېر ې معجز ې څر ګند ې کړي دي ځينو اسلامي پو هانو زر معجز ې شمېر لي دي خو درسو ل الله صلى الله عليه وسلم درسالت ستره تلپاتې معجز ه قران کريم دی دنورو پيغمبر انو معجز ې دهغو ی په وفات سره پای ته ورسېد لې مګر زمو ږ دپيغمبر ستر ه معجز ه تر قيا مته دامت په لاسونو کې ده .عرب قام په شعر ، فصاحت او بلا غت کې نو م وتی ولس ؤ قرانکريم په داسې بليغ او فصيح شکل نازل شوچې نه شعردی نه نثر بلکې قران دی بشر يت يې تر قيامته له مقا بلې څخه عاجز دی په قرانکريم کې دپيغمبر صلى الله عليه وسلم دځينو معجزاتو لکه داسراء او معراج پېښه په فارسيانو درومیانو دغلبې وړاند وينه ، دشق القمر معجز ه ذکر شوې ده . په نبوی احاديثو کې دطعام دډېر والي دجامداتو دخبرو دده مبارک له ګو تو داو بو دجاري کېد لو او دځينو نا روغانو درو غېد لو ذکر راغلی دی .البته دهغه دنبوت ستره معجزه قرانکريم په احکامو ، قوانينو ، اخلا قو ، عقايدو او علو مو کې معجز ه ده په همدې تو ګه په فصا حت او بلا غت کو ني او انساني علو مو کې ستره معجزه ګڼل کېږ ي

د انبياء اورسولانو شمېر

دالهي حکمت غوښتنه همدغه وه چې په هرقام کې پيغمبر ولېږي مګر يوازې محمد صلى الله عليه وسلم نړۍ وال نبي او خاتم النبين دی (دسورة النساء په ۱۶۳ ايات کې پيغمبرصلى الله عليه وسلم ته الله خطاب کوي

اوفرمايي ((دځينوپيغمبرانوحال موتاته بيان کړی دی اودځينومودرته نه دی بيان کړی.

دنحل سورة په ۳۶ ايات کې الهي ارشاددی ﴿ وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ ﴿٣٦﴾ ﴾ النحل: مونږ په هر امت کښې يو پيغمبر ولېږه، او د هغه په وسيله مو ټول خبر کړل چې "د الله بندګي وکړئ او د طاغوت له بندګۍ نه ځان وژغورئ"

﴿ إِنَّمَا أَنتَ مُنذِرٌ وَلِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ ﴿٧﴾ ﴾ الرعد ته خو صرف خبر داروونکی يې ، او د هر قام له پاره يو لارښوددی.

دحضرت قتاده اومجاهدرحمة الله عليه وينادە چې (هاد)څخه نبي اوپيغمبرمقصددی په منځني ختېځ په ځانګړي ډول دشام په ځمکه کې ګڼ پيغمبران تېرشوي دهغوی دحالاتوپه اړه زيات تفصيلات موندل کېږي ليکن دنړۍ په نوروقامونوکې دنبوت دلړۍ شتون په عقل اونقل ((وحی

په همدې توګه ﴿ إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ بِالْحَقِّ بَشِيرًا وَنَذِيرًا ۚ وَإِن مِّنْ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا نَذِيرٌ ﴿٢٤﴾ ﴾ فاطر. ربارە

مونږته له حق سره لېږلی يې زيری ورکوونکی او وېروونکی. او هېڅ کوم امت داسې ندی تېر شوی چی هغه ته کوم تنبيه کوونکی نه وي راغلی

له دغوایاتونوڅخه ثابتيږي چې دتاريخ په هرپړاؤکې الله تعالی پيغمبران لېږلي دي اګرکه تفصيلات يې موږته معلوم نه دی دحديثوپه شپږګونوصحيحوکتابونوکې اوموطاء امام مالک کې دپيغمبرانودشمېرپه هکله کوم يوروايت نشته ليکن مسنداحمد ،مستدرک حاکم ،مجمع الزوايد ،صحيح ابن حبان ،کنزل العمال او دحديثو په نوروکتابونوکې دحضرت ابوذرغفاري اوابوامامه باهلي مرفوع روايت نقل شوي دي چې

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي (انبیاؤشمیریولک اوځلېرویشت زره اورسولانوشمېر ۳۱۳ اویا ۳۱۵ ښودل شوی دی

په قران عظیم الشان کې ذکر شوي پیغمبران

په قران کریم کې د ۲۵ پیغمبرانودنوم سره یادونه شوې ده هغه مبارک نومونه په لاندې ډول دي .

۱.ابوالبشرادم علیه السلام :

دده مبارک نوم په ۱۱ سورتونواو ۲۵ ایاتونوکې ذکرشوی دادم لفظ له ادیم څخه ماخوذدی دځمکې سطحې ته ویل کېږي ـ امام نووي دده عمر ۱۰۰۰ کاله ښودلی ابن الاثیرلیکلي دي چې پرده ۲۱ صحیفې نازل شوې وې هغه یې دجبریل دلارښوونومطابق په خپل لاس لیکلې وې .

۲.نوح علیه السلام :

دده مبارک نوم په ۲۸ سورتونواو ۴۳ ځایونوکې ذکرشوی په مستدرک حاکم کې یوروایت دی چې دده اوادم علیه السلام ترمینځ لس پېړۍ فاصله وه .

۳.ادریس علیه السلام :

دده مبارک نوم دقران کریم په دووسورتونواودوواياتونوکې ذکرشوی ځینومئورخینولیکلي دي چې دده زمانه دحضرت نوح علیه السلام نه مخکې وه .

۴.هودعلیه السلام :

دهودعلیه السلام ذکردقران کریم په دري سورتونواووایاتونوکې شوی نومورې دعاد داولاد څخه دی اوعاددسام بن نوح دنسل څخه دی په مستدرک دحاکم کې یوروایت دی چې دابراهیم اونوح علیه السلام ترمینځ دحضرت هوداوصالح نه پرته بل پیغمبرنه ؤتېرشوی .

۵.صالح علیه السلام :

دده مبارک نوم دقران کریم په دري سورتونواو ۸ ځایونوکې ذکرشوی نومورې دثمود اولاداوهغه دسام بن نوح دنسل څخه ؤ .

۶.ابراهیم علیه السلام :دده مبارک نوم په ۲۵ سورتونواو ۶۳ ایاتونوکې ذکرشوی دهغه دنسب لړۍ هم سام بن نوح ته رسېږي ابراهیم سرياني لفظ دی معنايې مهربان پلاردی په یوروایت کې دده اونوح علیه السلام ترمینځ فاصله ۱۱۴۳ کاله ښودل شوې ده

۷.اسماعیل بن ابراهیم علیه السلام :

دده مبارک نوم دقران عظیم الشان په ۸ سورتونواو ۱۲ ایاتونوکې ذکرشوی اسماعیل عبراني لفظ معنايې

(الله اوربدونکی دی) نومورې دحضرت ابراهیم مشرزوی دحضرت هاجرې له ګېډې څخه دی دنبي کریم علیه السلام دنسب لړۍ همده ته رسېږي

۸.اسحاق علیه السلام :

دده مبارک نوم دقران کریم په ۱۲ سورتونواو ۱۷ ایاتونوکې ذکرشوی په عبراني ژبه کې خندیدونکي ته ویل کېږي نومورې داسماعیل علیه السلام دپیدایښت نه ۱۴ کاله وروسته دحضرت ساره له بطن څخه پیداشوی دبني اسرائیلوټول پیغمبران دده دځوځات څخه دي .

۹.لوط بن هاران علیه السلام :نومورې دابراهیم علیه السلام وراره کېږي

۱۰.یعقوب علیه السلام :دده مبارک نوم دقران کریم په ۷ سورتونوکې ۱۰ ځایه راغلی.

۱۱.یوسف علیه السلام :دده مبارک نوم دقران کریم په ۳ سورتونوکې ۲۶ ځایه راغلی دی .

۱۲ـ شعیب علیه السلام :دده مبارک نوم په ۴ سورتونوکې ۱۰ ځایه راغلی دی نومورې دمدین بن ابراهیم له اولاد څخه اوهغه دده ددریمې مېرمن قطوراله بطن څخه دی .

۱۳.موسی علیه السلام :دده مبارک نوم دقران کریم په ۲۶ سورتونوکې ۱۰۷ ځایه راغلی دی نومورې دلاوي بن یعقوب دنسل څخه دی موسی سرياني لفظ دی اوبواوونې ته وایې.

۱۴.هارون علیه السلام :

دده مبارک نوم دقران عظیم الشان په ۱۱ سورتونو۱۴ ځایونوکې ذکرشوی نومورې ،موسی علیه السلام څخه یوکال کشروعبراني لفظ دی معنایې محبوب دی

۱۵.الیاس علیه السلام :

دده مبارک نوم په دووسورتونوشپږوځایوکې راغلی دی نومورې دهارون علیه السلام دځوځات څخه دبني اسرائیلوسره تعلق لري

.داودعلیه السلام :

دده مبارک نوم په ۹ سورتونو۲۷ ایاتونوکې راغلی دی لیکن نوم یې ۱۶ ځایه ذکرشوی نومورې دیهوذابن یعقوب داولاد څخه دی ولس مشرپاتې شوی په شام فلسطین ،داردن په ختیځه غاړه دمشق اودحجازپه ځینوبرخوپې ۴۰ کاله حکومت کړی دی

۱۷.سلیمان علیه السلام :

دده مبارک نوم په ۷ سورتونوکې ۱۶ ځایه ذکرشوی نومورې دداودعلیه السلام زوی دامام سیوطي اوابن اثردوینالە مخې یې ۴۰ کاله حکومت کړی دی

۱۸.ایوب علیه السلام :

دده مبارک نوم په ۴ سورتونوکې ذکرشوی دابن اسحاق دخبرنې مطابق نومورې دبني اسرائیلوڅخه دی دابن جریردوینا پراساس دشعیب علیه السلام نه وروسته مبعوث شوی

۱۹.الیسع علیه السلام :

دده مبارک نوم په دووسورتونواودووایاتونوکې راغلی دځینوځېړونکودوینامطابق نوموړی دالیاس علیه السلام نایب ؤ

۲۰.یونس علیه السلام :

دده مبارک نوم په شپږوسورتونواو۱۸ ایاتونوکې ذکرشوی عراق ته نېژدې دنینواخلکوته لېږل شوی ؤ دمئورخینودوینا پراساس دنوموړي زمانه دسکندریوناني نه وروسته وه

۲۱.ذوالکفل علیه السلام :

دده مبارک نوم دقران عظیم الشان په دووسورتونوکې ذکرشوی دعلامه الوسي دوینامطابق نوموړی حزقیل دی ۵۹۴ ق م کې په تل ابیب کې تېرشوی

۲۲.ذکریاعلیه السلام :

دده مبارک نوم په څلوروسورتونوکې ۱۸ ځایه ذکرشوی

۲۳.یحي علیه السلام :

دده مبارک نوم څلوروسورتونوکې راغلی دی دذکریاعلیه السلام زوی دی دپلارعمر۹۹ اویا ۱۲۰ کاله ؤ چې الله تعالی ورکړ یهودوپه شهادت رسولې اودعیسی علیه السلام نه شپږمیاشتې مشرؤ

۲۴.عیسی علیه السلام :

نوموړي دمعجزې په توګه بې پلاره پیداشوی یهودیانودده دترورارادہ کړې وه په ژوندی بڼه له جسم اوروح سره الله اسمان ته اوچت کړی دی دمشهورورواياتومطابق دقیامت نه مخکې به ددمشق دجومات په ختیځه مناره لپاسه راپریوځي دامهال به مسلمانان دامام مهدي ترقیادت لاندې دیهودوسره په جګړه اخته وي

۲۵ محمد صلی الله علیه وسلم

هغه پیغمبر ان چې دنومونو ذکر نه پرته ورته په قران عظیم الشان کې اشاره شوې

(۱) یوشع بن نون علیه السلام :

دکهف په سورة کې دحضرت موسی د دیو ځوان ذکرراغلی په بخاري کتاب الانبیاء کې ددې ځوان نوم یوشع بن نون ذکر شوی اهل کتاب هم دده په پیغمبرۍ متفق دي په تورات کې دیشوع دکتاب مستقله صحیفه موجو ده ده .

(۲) شمویل علیه السلام

﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلْمَلَإِ مِنۢ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ مِنۢ بَعْدِ مُوسَىٰٓ إِذْ قَالُوا۟ لِنَبِىٍّ لَّهُمُ ٱبْعَثْ لَنَا مَلِكًا نُّقَٰتِلْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ۖ قَالَ هَلْ عَسَيْتُمْ إِن كُتِبَ عَلَيْكُمُ ٱلْقِتَالُ أَلَّا تُقَٰتِلُوا۟ ۖ قَالُوا۟ وَمَا لَنَآ أَلَّا نُقَٰتِلَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَقَدْ أُخْرِجْنَا مِن دِيَٰرِنَا وَأَبْنَآئِنَا ۖ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ ٱلْقِتَالُ تَوَلَّوْا۟ إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢٤٦﴾ ﴾ البقرة: د هغو پیغمبر هغو ته ووېل چې الله طالوت ستاسې باچا تاکلی دی ددې خبرې په اورېدو هغوی ووېل: " هغه څنګه پر مونږ د باچا کېدو استحقاق وموند؟ د هغه په پرتله مونږ د باچاهۍ زیات وړیو هغه کوم زیات شتمن سړی نه دی" پیغمبر ځواب ورکړ:" الله پر تاسې هغه غوره کړیدی او هغه ته یې روحي او جسمي دواړه ډوله پراخ اهلیت وربښلی دی او الله واکمن دی چا ته یې چې خوښه شي خپل ملک ورکوي ، له خدای سره ډېره پراخي ده او پر هر څه عالم دی"

په ایات کې چې دکوم پیغمبر ذکر شوی هغه شمویل علیه السلام دی دمفسرینو دنقل کړی شویو روایاتو نه ثابت دی

(۳) حزقیل علیه السلام :

دسورة بقرې ۲۴۳ ایات کې یې ذکر شوی امام رازی ، ابن کثیر او علامه الوسی دسلف صالحینو ګڼ روایات نقل کړي دي له هغې نه معلومېږي چې داحزقیل علیه السلام دی په عبراني ژبه کې دحزقي معنا قدرت دی او دایل معنا الله دی یعنې قدرت الله

(۴) عزیر علیه السلام :

په قرانکریم کې دعزیرذکر راغلی اګر دلته خو دده دنبوت تصریح نه دی شوی خو جمهورمفسرین یې پیغمبر بولي .

(۵) خضر علیه السلام

دکهف په سورة کې چې دموسی علیه السلام دالله تعالی له بنده سره دملاقات ذکر راغلی په صحیح بخاري کې دهغه نوم خضر دی داکثر و حدیث پوهانو په نېز ددالله تعالی پیغمبر دی په دې اعتبار په قران کریم کې د ۳۰ پیغمبر انو ذکر راغلی دی دپنځه ویشتو دنامه په یادولو او پنځه دنوم نه پرته راغلي دي ..

دلسم څپرکي دمطالبو لنډیز

- درسالت لغوي معنا پیغام رسولوته وایي دسفارت اونمایندګۍ مترادف لفظ دی او نبی دنبوة څخه دی لوړ ځای ته ویل کېږي انبیاء هم لوړ مقامه شخصیتونه دي په همدې توګه نبی دنبأ څخه ده اونبأ خبر ته ویل کېږي پیغمبران هم دوحی له پیغام سره ولسونوته راځي.
- په شرعي اصطلاح کې نبوت اورسالت دالله تعالی اوبندګانو ترمینځ سفارت اونمایندګي

ده ترڅو دهغوی داخروي اودنیوي چارو نیمګړتیاوې له مینځه یوسي .

- درسول او نبی ترمینځ فرق دادی چې رسول په نوي شریعت او نوي کتاب

سره استول کېږي اونبی دپخواني شریعت اوکتاب په رسولو او تبلیغ مامور وي.

- پیغمبرانو ته دبشر اړتیا دادی چې ددوی په وسیله دخپل ځان دحکمت

څخه خبر ہږو دخپل خالق

پېژندل له مرګه وروسته دانسان دمنزل معرفت او دخلکو دژوندون سمون اواصلاح دپیغمبرانو په وسیله صورت نیسي.

- په پیغمبرانو دایمان اهمیت دادی چې څوک په پیغمبرانو ایمان ونه لري مؤمن یې نه شو ګڼلی بله

داچې دقیامت په ورځ خلکو ته بهانه پاتې نه شي او هغه داچې موږ ته به دې خپل استازي او لارښوونې لېږلې وای دوحی اورسالت نه پرته بله معتبره وسیله چې دهغې په ذریعه په دنیا کې ارام او هوسا ژوند او په اخرت کې دالله تعالی رضا او خوشالي حاصله کړو له سره شتون نه لري.

- اسلامي پوهان دنبوت اورسالت ته دخلکو اړتیا دډاکترانو په شان بولي داځکه چې انبیاء علیهم

السلام روحاني طبیبان دي چې د روحاني رنځونو علاج کوي همدارنګه رسالت دعقل رښا ده ستر ګې له رښا نه پرته لیدل نه شي کولی دانسان عقل دوحی له رښا نه پرته ښه او بد خیر او شر نه شي پېژندلی.

- دانسان جسم له روح نه پرته ژوندی نه شي پاتې کېدای دټولنیز ژوندروح

نبوت اورسالت دی

دنبوت سرچینه وحی اودفسفې سرچینه عقل ده دعلامه اقبال له نظره نبوت او رسالت دملي ژوندون روح دی درسالت اونبوت له امله دنړۍ ګڼ ملتونه او رنګونه دیو شعار اوهدف درلودونکي ګرزي

- په پای کې علامه ابن القیم دنبوت اورسالت دضرورت په هکله داسې

لیکلي دي: که بشریت ته پیغمبران لېږل شوي نه وای په نړۍ کې به نه ګټور علم وای اونه به نېک عمل اونه دژوند په ډګر اصلاح اوسمون نه به دمملکتونو نظم اوانتظام وای بشریت به دوحشي ځناورو په څېر وای چې یو پر بل داړې ښخوي په نړۍ کې دهر یو خپر اوسمون شتون دپیغمبري لارښوونو نتیجه ده او دهر یوشر او طغیان وجود دپیغمبري لارښوونو ددرسونو کموالی دی نو پردې اساس نړۍ داسکلیټ حیثیت لري او روح یې پیغمبري لارښوونې دي هر کله چې دنړۍ څخه دنبوت دلارښوونو لمر پرېوزي الله تعالی به قیامت قایم کړي اودځمکې ټول مخلوقات به په فناء محکوم شي نو دنړۍ دنظام قیام دنبوت دتعلیماتو نتیجه ده.

- پیغمبر دژوند بشپړ لارښود وي او دري چارې سرته رسوي.

۱ـ حکومت او سیاست ۲ـ علم اوحکمت ۳ـ رشد او هدایت

- پیغمبران په نورو انسانانو لاندې خصوصیات لري وحی راتلل، ستر ګې یې په خوب پټې مګر

زړونه یې بیدار وي ،دمرګ په مهال اختیار ور په برخه کېږي ،چېرته چې وفات شي هماغه ښخېږي ،جسدونه یې په قبرونو کې روغ رمټ وي،نبوت کسبي شی نه دی بلکې الهي ورکړه ده.ددوی ښوونې الهي دي.له نبوت نه مخکې او وروسته له ګناهونو پاک دي.

- پیغمبران سره له دې چې انسانان ؤ مګر وحی ورته راتلله او په ځینو صفاتو

سمبال ؤ چې عبارت دي له ۱- جسماني صفات:هغوی انسانان ؤ ترڅو دولسونو ترمسۍ ژوند وکړي هغوی ته دمثالي اونمونه شخصیتونو په توګه اوسي خوراک اوخساک یې کاؤ صحت او رنځورتیا ،کمزورتیا ،بوډاتوب اومرینه پرې راتله،نکاح یې کوله او اولادونه یې درلودل تجارت او کاروبار یې کولو هغوی نه معبودان ؤ اونه دالله تعالی زامن اونه ملایکې وې په جسماني لحاظ ښایسته اوبشپړ شخصیتونه

ول،همدارنګه يې نسب لوړ ازاد او دستر عقل ځښتنان ؤ په عبادت کې دقوت ځښتنان او نارينه ول داځکه چې ښځينه ددومره لوی اودرانه مسؤليت داوچتولو صلاحيت نه لري.

۲ـ معنوي صفات يې:ت صدق اوريښتينولي ،امانت ،تبليغ اودعوت،ذکاوت اوهوښيارتيا ،عقلي کمال اوله جسماني عيبونو ځخه سلامتيا ګڼل کېږي.

- دنبوت اهداف اومقاصد بندګانوته دالله تعالی ورپېژندنه انسانانوته دښو

اوبدو چارو ښوونه خلکوته دنيا او اخرت زېری او مجرمانو ته اخطار ،ولسونوته نېکه نمونه اوددين اقامه او واکمني.

- دپيغمبرانو مسؤليتونه او دندې:خلکوته دالهي پيغامونورسول،دالله جل جلاله لورته بلنه،زېری اووېره ،روحاني تزکيه اودسياسي چارو سمبالښت شامل دي:

- دپيغمبرانو دبلنې ځانګړنې دادي:دهغوی دعوت اوبلنه ربانی او الهي وه له چانه داجر او مکافاتو غوښتنه نه کوله ،دالله ريښتيني بندګی ته يې خلک رابلل اودبندګانو له بندګی نه يې ژغورل په دعوت او بلنه کې يې اساتيا وه اوهدف يې واضح اوڅرګند ؤ له دنيوي ژوند او خوندونو ځخه بې مينې ؤ عشق اوعلاقه يې اخرت سره وه دنياته يې دهدف په ستر ګه نه بلکې دوسيلې په توګه کتل او توحيد ته يې خلک رابلل.

- دټول امت په اتفاق رسولان دانبياء و ځخه غوره دي اوبيا رسولان هم په خپل ميـنځ کې درجې لري ددوی يو پربل فضيلت دالله تعالی په عبادت،دعوت ،جهاد اومبارزې،ګړاونو اوستونزو ګاللواودماموريت په لوی والي کې دی.

- اولوالعزمه پيغمبران محمدص ،نوح،ابراهيم،موسی اوعيسی عليهم السلام دي

- دپيغمبر دپېژندنې دلايل:دنبوت دمدعی روڼ ،شفاف اومثالي شخصيت ،دهغه پيغام اوبلنه دپخوانيو پيغمبرانو تصديق اوپه تېرو اسماني پيغامونو کې يې ذکر اويادونه او معجزې دي.

- دانبیاءو اورسولانو شمېر په یو مرفوع روایت کې انبیاء یولک

اوځلېرویشت زره او درسولانو شمېر ۳۱۳ ښودل شوی دی والله اعلم

- په قران کریم کې ذکر شوي پیغمبران

ادم،نوح،ادریس،هود ،صالح،ابراهیم،اسماعیل،اسحاق،لوط،یعقوب،یوسف،شعیب،مو سهارون،الیاس،داود ،سلیمان،یسع،یونس،ذالکفل،ذکریا ،یحی،عیسی او محمد صلی الله علیهم السلام دي مګر په قران کریم کې پنځه پیغمبران دنومونونه پرته ذکر شوی هغه دادي یوشع،شمویل،خرقیل،عزیر او خضر علیه السلام.

پوښتنې

دنبوت اورسالت لغوي اوشرعي معنا ولیکئ

2.پیغمبرته دبشر دارتیا دلایل ولیکئ

۳.په پیغمبرانو دایمان اهمیت ولیکئ
۴.نبوت اورسالت ته دخلکو دارتیا په هکله داسلامي فلاسفه وینا ولیکئ
۵.نبوت اورسالت ته دبشر دارتیا په هکله دامام ابن قیم وینا تفصیلي ولیکئ
۶.علامه اقبال رسالت اونبوت دځه شي روح بولي
۷.پیغمبر دژوند بشپړ لارښود وي او کومې چارې سرته رسوي
۸.پیغمبران په نورو انسانانو کوم خصوصیات لري
۹.دپیغمبرانو جسماني صفات عبارت دي له
۱۰.دپیغمبرانو معنوی صفات عبارت دي له
۱۱.دنبوت اهداف اومقاصد په ګوته کړئ
۱۲.دپیغمبرانو دبلنې ځانګړنې ولیکئ
۱۳.اوالعزمه پیغمبران څوک دي دقراني ایات په رڼاکې یې شرحه کړئ
۱۴.دپیغمبر دپېژندنې ځلور دلایل ولیکئ.
۱۶.دګومره پیغمبرانو نومونه قران کریم کې ذکر دي دلسو نومونه ولیکئ
۱.دهغو ځو پیغمبرانونومونه ولیکئ چې دنوم دذکر نه پرته په قران کې راغلي دي

ددولسم څپرکي دمطالبوفهرست

لړليک

- دنړۍ والو سردار او لارښود محمدصلي الله عليه وسلم
- دده مبارک نومونه
- دمحمدي رسالت عقلی ثبوت
- دنبوت ختم
- دنبوت دختم دلايل
- دمحمد(ص) په هکله دختيځ او لويديځ پوهانو ويناوې
- دمحمدصلی الله عليه وسلم دنبوت څوخصوصيات
- په امت باندې دمحمدصلی الله عليه وسلم حقونه
- دمحمدصلی الله عليه وسلم کارناموته لنډه کتنه

ددولسم څپرکی

دنړی والو سردار او لارښود محمدصلي الله عليه وسلم

سریزه

دمحمد (ص) ژوند دیو فرد ژوند نه بلکې دهغه سپېځلي بدلون کیسه ده چې په تاریخ کې یې ساری نه لیدل کېږي .هغه نه یوتارک الدنیا راهب او نه دیو څواخلاقي فضایلودترویج په خاطر لېرې شوی وو له هغه سره له لومړۍ ورځې دیو نړۍ وال اوښتون اودانسان دهراړخیزبدلون اودټول بشریت دنجات اوخلاصون قضیه مطرح وه عرب قام چې نه یې علم اوپوهه درلوده نه په کې نظم اوډسپلین ؤ بلکې یووحشی غیرمهذب ملت ؤ سروکال به جګړې وې وینې څښل،قما ،زنا ،بې حیایي،بربنډتوب،چوراوچپاول،لوټ اوتالان ددوی دود ؤ په لمرپالنې،اورپالنې اوانسان پالنې اخته ملت څخه یې یو مهذب ولس جوړکړ ډېروقامونودوحشي ځناوروپه بڼه ژوند کاؤ قبېلوي تبعیض په رنګ اوژبه ویاړجګړې،اولاد وژنه اودلونوژوندي ښخول .دغه سخت زړي ملت خوی او خصلت ګرزېدلی ؤ دنړۍ دنورومللتونوحال له دوی څخه بترووسول الله صلی الله علیه وسلم ددغه جاهل اوناپوه قام په روزنې لاس پورې کړله چوپان نه قاید له غله او داړه مارنه امین او له زنا کارواوچتلو خلکو نه یې دپاکۍ،عفت اوشرف لوړې منارې جوړې کړې جزیرة العرب دامن اوسولې کورجوړشو په اقتصادي لحاظ پرې پراخې راغله دزکات په تطبیق سره غربت پای ته ورسېد په سیاسي لحاظ دحکومت یو مضبوط له امن نه ډک نظام ورپه برخه شو له مدینې نه داطلس ترسمندره خوره وره سیمه دامن،عدل او سولې زانګو چوړه شوه بېسواده قام دنړۍ والومعلم اولارښودجوړشواونړۍ ته یې دنظام نمونه وړاندې کړه دده مبارک رسالت فرد ،ټولنې،روح اوجسد ،دنیااواخرت،سیاست اواقتصاداود ژوند ټولوبرخوته شامل دی.

اوس مهال بشريت دظالمانه مادي توپان سره مخامخ داخلاقي بربادۍ، روحاني خلا، ټولنيز ظلم او دنسلي، قامي او ژبني امتيازاتو په خوساړنه کي پروت دی متمدن انسان دومره لوی جنايت کاردی چې په ځنګله کې يې وحشي ځناورپه خپل ظلم او وحشت سره وشرمول دانسانانودوژنې لپاره اتومي بټۍ اولېرې واټن ويشتونکي توغندي او توپونه جوړېږي دملتونو لويه پانګه دبشريت په وژلواودبنارونو په ورانولو لګول کېږي

اوسنی بشريت يو ناجي ته اړتيا لري چې نړۍ له امن نه ډکه کړي اوبشريت الهي تګلارې ته راوګرزوي اوانسانيت ته دمينې، محبت شفقت اوعدالت درس ورکړي حقيقت دادی چې هغه يوازې درحمة للعالمين وروستني نړی وال نبي محمد صلي الله عليه وسلم لاربښوونې دي چې لالهانده بشريت به يې په غيږ کي دارامۍ اوسوکالۍ ساه اخيستلی شي

دنړی وال لاربښود صفات

موږ مسلمانان پردی ټينګ باور لرو چې محمدصلی الله عليه وسلم دنړی والو سرداردی دنړۍ دملتونو دمشرتابه لپاره

- لومړی صفت دادی چې هغه دکوم خاص نسل اوځانګړې طبقې

دسوکالۍ لپاره کار، ونه کړي بلکې دټولې نړۍ دانسانانو سوکالي اوکاميابي يې هدف وي.پر همدې اساس نړۍ وال لاربښودهغه څوک کېدای شی چې دهغه پروړاندې ټول ملتونه يوشان وي دغه معيار دپيغمبر(ص)په سپېځلي ژوند کې تر ستر ګو کېده دهغه ژوند دکوم قام پرست اووطن پرست ژوند نه وبلکې دبشريت سره دمحبت کونکي ژوندۇ دهغه پر وړاندې حبشي، ايراني ،رومي، مصري، عرب اوعجم ټول سره وروڼه اود برابرو حقوقوځښتنان وو.

- دنړی والا لارښود دویم صفت داوی چې دهغه وړاندې کړي اصول

اوقواعد نړی والـه بنـه ولـري دټولې نړی انسانان یوشان رهبري کړي او په هغوکې دبشري ژوند دټولوستونزو حل موجوډ وی قران عظیم الشان هم دنړی ټول ملتونه مخاطب ګرزوي او ټولوستونزواو مشکلاتوته دپای ټکی ږدي.

- دنړی وال لارښود درېیم صفت داوي چې دهغه لارښوونې خاصې

زماني اووخت پورې ارتباط ونه نیسي بلکې په هروخت کې صحیح اودعمل وړتیاولري قران کریم هم ترقیامته وروستنی الهي پیغام دی

- دنړی والا لارښود څلوم صفت داوي چې هغه اصول اوقوانین نړی

والو ته وړاندې کړي وي هغه تش فلسفي اصول نه وي بلکې عملي بنه یي هم ورکړي وي.دغه یو تاریخي حقیقت دی چې محمدص یوازې خیالي نقشه نه دی وړاندې کړې بلکې د درویشتو کلونو په موده کې په لکونو خلکو ورته غاړه ایښې دجزیرة العرب په لکونو مربع میله ځمکه باندې اسلام غالب شوی اوبت پال جاهلیت په ګونډو شوی او تاریخ کندې ته سپارل شوی او بیادهغه دریښتینو ملګرواوشاګردانو په وسیله اسلام هغه مهال په درې لویو وچو اسیا،افریقا او اروپا دغالب نظام رول تر سره کړی دی داهغه ستره تاریخي کارنامه ده چې دهغې پربنسټ مورږ رسول الله ص ته د تل لپاره دنړی والو دلارښود لقب ورکولی شودهغه لارښوونې دکوم ځانګړي ملت ملکیت نه بلکې دټول بشریت شریک میراث دی څوک چې غواړي له دغه میراثه څخه دې ګټه واخلي اوچې څوک تري ګټه نه اخلي په ابدي محرومیت کې به خپل ځان شامل ګرزوي.

دمحمد صلی الله علیه وسلم مبارک نومونه:

دده مبارک نوم محمد دقران عظیم الشان په څلوروسورتونو ال عمران،محمد،احزاب،الفتح کې ذکرشوی هلته چې فرمایي﴿ وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ ﴿١٤٤﴾ ﴾ال عمران: ١٤٤ زپاره محمد(ص) نور څه نه دی مګر صرف یو پیغمبر دی.

دهغه دویم نوم احمد دی چې دصف په سورت کې یې یادونه شوې ده ،ابن حجر عسقلاني رحمة الله علیه لیکلي دي چې له دې نو مونو پرته دهغه ۱۴ صفتی نو مونه هم دي او هغه دادي(الشاهد ،المبشر ، النذیر، الرحمة ، السراج المنیر ،المذکر، الشهید ،الهادی ، الامین،المزمل ، المدثر)په صحیح البخاری کتاب الانبیاء کې درسول الله مبارک ارشاد دی چې زما پنځه نو مونه مشهور دی (۱) محمد : یعني هغه پیغمبر چې بیابیا زښت ډېریې تعریف کېږي (۲) احمد : یعني هغه پیغمبر چې دخپل رب یې ډېر تعریفونه کړي دی (۳)الماحی : یعني دکفر دطاغوتي نظام نابود وونکی (۴) الحاشر : یعني جمعه کوونکی جنت ته به تر ټولو مخکې هم دی داخلېږي (۵) العاقب : معنا داچې وروستنی پیغمبر او خاتم النبین ،دهغه په مبارکو نومونو کې دغه څلور نومونه هم شامل دي(المصطفی ، المختار ، الشفیع ،الصادق، المصدوق)

دمحمدصلی الله علیه وسلم دنبوت عقلي ثبوت

لږ شان څوارلس سوه کاله مخکې تاریخ ته وګورئ په نړۍ کې نه برقي تارؤ نه تیلیفون،نه اورګاډی،نه چاپ اونه چاپ ځای اونه اخبار اورسالې نه چاپ شوي کتابونه اونه د سفراوسیاحت آسانتیا وې چې نن ورځ موجودې دي له یو هېواده تربله پورې دمیاشتو میاشتو مزلونه کېدل

موقعیت

په دغسې حالاتو کې د عربو هېوادله ټولو جلاپروت ؤ چارچاپېره يې دايران، روم او مصر هېوادونه ؤ چې په هغوکې څه ناڅه د علوموا وفنونو زوراوشور ؤ خو دشګوستروډګرونو عربې نړۍ له نورو جلا کړې وه

اقتصادي وضعیت

عرب قام سوداګرؤپه اوښانو به يې دمياشتومياشتو سفرکاؤاوهغو هېوادونوته به دسوداګرۍ لپاره تلل له دغوهېوادونو سره ددوی اړيکې يواځې او يواځې دسوداګرۍ په خاطروي

تعلیمي وضعیت

پخپله په عربوکې نه کوم لوړتمدن ؤنه کومه مدرسه اونه کوم کتابتون اونه په خلکو کې دتعليم اوښوونې څه شوق اوذوق په ټول هېوادکې دګوتوپه شمارځوتنه په ليک اولوست پوهېدل خوهغوی په دومره اندازه نه ؤ چې دهغه وخت دعلوموا وفنونوسره اشناشي

سیاسي وضعه

هلته نه يو مرکزي حکومت ؤاونه قانون هره قبيله خپلواکه وه له دې سره سره به سروکال لوټ تالان او وينې بيونکې جګړې تر سره کېدلې دانسان روح هېڅ ارزښت نه درلود،

اخلاقي حالت

بدکارونه شراب ځښل او د جواری اوقماربازارتودؤخلک به ديوبل پروړاندې بلاتکلفه بريندېدل اوشرم ځايونه به يې ښکارېدل تردې پورې چې ښځينه ؤ به په بربنډه توګه دبيت الله شريف څخه طوافونه کول دروااو ناروا بېلتون نه ؤ په عربو کې د آزادی احساس دومره پياوړی ؤ چې دهېڅ چا او هېڅ قانون منلوته تيارنه ؤاونه يې دکوم

واکمن امرمنلو ته سربښکته کاؤ

ديني وضعه

دجهالت اوناپوهۍ دغه اندازه وه چې ټول قام دکانو بتانوته سجدې کولې په لاره کې به يې چې کوم يو کانې خوښ شو هغه به يې راواخيست اوپه عبادت به يې ورته لاس پورې کړهغه سرونه چې هيڅاته به نه ټيټېدل هغه به يې کانو ته ښکته کول اوسجدې به يې ورته لګولې

درونې سهار څرک

په دغسې حالاتوکې يوشخص پيدا کېږي له کوچنيوالي څخه دموراوپلارله سيوري محروم شوی هرکله چې لوئېږي نودعربو له هلکانوسره بيزې څروي هرکله چې دځوانۍ منګ ته رسېږي په سوداګرۍ لاس پورې کوي ټوله ناسته پاسته يې له هغو عربي وګړو سره ده چې مخکې مودهغوی په حالاتو رڼا واچوله د ښوونې روزنې نوم او نښان نشته تردې پورې چې په لوست نه پوهېږي مګرله دې سره سره د هغه خويونه اخلاق اوافکارله ټولوخلکوڅخه جلاشان لري هغه هيڅکله دروغ نه دي ويلي له هيڅا سره يې په بدو خبرو اترو لاس نه دې پورې کړی دهغه په ژبه کې دسختۍ پرځای خوږوالی دی هغه هيڅکله دهيڅايوه روپۍ هم په ناروا لارونه ده ترلاسه کړې دهغه د ايمان اوامانت داری حالت دادی چې خلک ورسره خپلې ارزښتناکه شتمنۍ او مالونه دامانت په توګه ږدي او هغه دهر چا دمال ساتنه دخپل ځان دساتنې په شان ترسره کوي،ټول قام دده په ديانت اوامانت اعتمادکوي اودامين په نوم سره يې ستاينه کوي دهغه دحيااوپاک لمنۍ خودا حالت دی چې دماشومتوب دتميز دمرحلې نه هيڅا برېنډ نه دی ليدلی دهغه دښائسته خوی داحال دی چې دجاهلواو ناپاکه

خلکوترمنځ له استوګنې سره سره له هرې ناپوهۍ اوناپاکۍ څخه کرکه
کوي دهغه په هرکارکې صفايې اوستره والی لیدل کېږي .هغه ددومره
پاکوافکاروخښتن دی چې دخپل قام لوټ،تالان او وینې بیول وینې
زړه یې له غمه ډک دی دجګړوپرمهال دسولې هلې ځلې کوي ددومره
نرم زړه څښتن دی چې دهرچاپه غم او درد کې شریک وي
دیتیمانواوکونډومرستندوی دی وږیو خلکوته ډوډۍ ورکوي
دمسافرو مېلمه پال دی هېڅوک دده سره په غم اودردکې شرکت نه
کوي خو هغه دنورو خلکو په غم اودرد کې شریک دی بیاد دومره
صحیح عقل څښتن دی چې په دغه بت پرست قام کې له بتانو څخه
کرکه کوي هېڅکله یې دمخلوق په وړاندې خپل سرنه دی ټیټ کړی
دهغه له زړه څخه پخپله دغه آوازراوځي چې په ځمکه او اسمان کې
هېڅ شی دعبادت اوبندګۍ وړنه دي د هغه زړه هغه ته پخپله وایې
چې الله یواو واحداو لاشریک دی په دې جاهل قام کې دغه شخص
دومره ممتازله ورایه په سترګو ښکارې لکه د شګو په ډېرۍ کې
یوروښانه غمی او یاپه توره تیاره کې روښانه څراغ ،نژدې
ترڅلوېښتوکلونوپورې ددا سې پاک صاف روښانه اوډېرلوړ شریفانه
ژوند تر سره کولو څخه وروسته دتورو تیارو په چاپېریال کې
رااوچتېږي دناپوهۍ بداخلاقۍ بدعملۍ بې نظمۍ دشرک اوبت
پالنې له وېرونکي څپانده سیند څخه چې په ټوله سیمه راتاؤ شوی د
بشریت دوتلو هلې ځلې کوي ځکه چې دلته یې هېڅ شی له طبیعت
سره سم نه دی په پای کې هغه اباده سیمه او کلی پرېږدي په ډېرلرې
واټن کې دیوه غره غارته ورځي دیوائې توب اوسکون په نړۍ کې هلته
څوځو ورځې په لوړه تېروي خپل روح اوفکر ته زیاته پاکي او

سپېښلتیاورپه برخه کوي سوچ غوراو فکرکوي دیوې رښا په هیله ده چې دشاوخواتیارې پرې له منځه یوسې دداسې ځواک لاس ته راوړل غواړې چې دغه رنګه بنګه نړۍ له سره ودانه کړي

دنبوت پیل

په یوځل دده په حالت کې یو ستر بدلون رامنځته شوناڅاپه یې په زړه کې هغه رښا یې وځلیده چې دده فطرت یې غوښتنه کوله ناڅاپه په ده کې هغه ځواک راپیداکړای شو چې دهغې څرګندونه ور څخه مخکې هېڅکله نه وه شوې هغه له غاره راوؤت او خپل قام ته ورغی ویې ویل چې دابوتان هېڅ نه شي کولی دهغو پالنه اوبندګي پرېږدئ داځمکه لمر،ستوري اود ځمکې اواسمان ټول ځواکونه دیو الله عزوجل مخلوق دي هغه ستاسې پیداکوونکی اوتاسې ته روزي رسوونکی دی دټولو شیانو بندګي پرېږدئ دهغه عزوجل بندګي وکړئ له هغه څخه خپل حاجتونه وغواړئ،داغلا،لوټ اوتالان،شراب څښل قماراوجواري اوټول بدکارونه چې تاسو یې سرته رسوئ ګناهونه دي دغه ټول پرېږدئ الله عزوجل یې نه خوښوي ریښتیا وایاست نه دچا ځان ته زیان رسوئ او نه د چا مال اخلئ چې کوم شی تر لاسه کوئ په حق سره یې واخلئ او چې کوم شی ورکوئ په حق سره یې ورکړئ ، تاسو ټول انسانان یاست اوټول انسانان سره برابردي دبشرکرامت او شرافت په نسل مال او نسب کې نه دی بلکې په نیکۍ اوسپېښلتیا کې ده کوم یو شخص چې له الله عزوجل څخه وېرېږي اوپه نېکواوسپېښلو چارو لاس پورې کوي هغه دلوړې مرتبې شخصیت دی او څوک چې په دغو نېکو صفاتو سمبال نه وي هغه هېڅ هم نه دی له مړینې وروسته تاسو ټول دالله جل جلاله په وړاندې حاضرېږئ ددغه حقیقي عادل ذات په وړاندې نه کوم سپارښت په کاررائي او نه هلته رشوت چلېږي اونه د

چادنسب پوښتنه کېږي، هلته يواځې دايمان اونېک عمل پوښتنه کېدلای شي، له چاسره چې دغه پورتنی پانګه وي هغه به جنت ته درومي اوله چاسره چې دغه پانګه نه وي هغه ناکام دی اوپه دوزخ کې به غورځول کېږي

دناپوه قام چلند

ناپوه قام ددغه نېک انسان يواځې له دې امله په مخالفت لاس پورې کړچې هغه هغوکارونوته څنګه دانتقادګوته نيسي چې دپلاراو نيکه له وخته چلندلري او دهغو خبروپه نښوونه ولې لاس پورې کوي چې دپخوانيومشرانودتګلارې خلاف دي ددې له امله هغوی هغه ته په بدوردوويلو لاس پورې کړ هغه يې په کانړو وويشت دهغه ژوند يې سخت کړاودهغه دوژلو پلانونه يې جوړکړل يوه ورځ اودوه ورځې کړاؤنه ؤبلکې ديارلس کاله دظلم اوزياتي لړې پاېښت وکړ تردې پورې چې هغه يې دخپل خواږه تاتوبې مکې مکرمې څخه په پرېښودلواومدينې ته په هجرت کولو مجبورکړيايې په هغه پنا ګاه دارالهجرة کې هم په آرام پرې نه ښوده

دهغه هدف

داټول کړاؤنه دغه نېک انسان دځۀ لپاره تېرکړل ؟ يواځې ددې هدف لپاره چې هغه خپل قام په سمه لارروانول غوښتل دهغه قام دهغه په قيادت او هغه ته په بادشاهۍ سپارلو قايل ؤدپيسو سرواوسپينو په ورکولو هم هغه ته چمتو ؤپه دې شرط چې هغه له خپل کارڅخه لاس واخلي خو هغه دهغوی ټولې خبرې ونه منلې او په خپله وينا ټينګ ؤ ايااله ده څخه دپاک سپېځلي ريښتيني او نېک زړه خاوند ستاسو په فکراو خيال کې راتلای شي چې يوشخص دخپلې ځانګړې ګټې په خاطر نه بلکې دنورو خلکود سوکالۍ په موخه دومره کړاؤنه

وزغمي؟هغه څوک چې ددوی دګټې او نېکمرغۍ په خاطر په کوښښونو لاس پورې کوي هغه یې په کانو وویشت خوهغه ددوی لپاره دهدایت دعاکوله انسان څه چې فرښتې دې په داسې نېکو اخلاقو ورځارشي.

نوی ارمان

بیا وګورئ کله چې هماغه شخص له نویو ښوونو اوارمانونو سره دحراء له غاره راؤوت په هغه کې څومره لوی بدلون رامنځته شواوس یې چې کوم کلام خلکو ته اورولو هغه دومره فصیح او له بلاغته ډک ؤ چې تردې دمخه هیچاداسې کلام نه ؤاوربدلای اونه به یې واوري دعربو خلک په خپلې شاعرۍ خطابت فصاحت اوبلاغت سخت نازېدل الله عزوجل تولوعربواو تولونړۍ والوته چیلنج ورکړ چې ددې کتاب په شان یو سورت جوړکړئ خو تولو دعاجزۍ سرونه ټیټ کړل په باوري توګه ویلای شوچې درسول صلی الله علیه وسلم دوینا اوالله عزوجل دکلام (قران کریم)دخطاب اندازې سره توپیردرلودالله تعالی دکلام بلاغت اوفصاحت ډېرلوړدی.هغه دجزیرةالعرب پونده دصحرااوبیابان اوسیدونکوته دحکمت او پوهې ویناوې پیل کړې چې نه مخکې چا اوربدلې وې اونه به یې ترقیامته څوک واوري اونه له نبوت څخه مخکې چا دهغه له ژبې څخه داسې وینا وې ترغوږو شوې وې.

بشپړ لارښود

هغه امی شخصیت چې له هیچا څخه یې زده کړه نه وه کړې داخلاقو،تولنیزژوند،اقتصاداوسیاست اودانساني ژوندانه دتولو معاملاتوپه اړه یې داسې قانون نړۍ والوته وړاندې کړ چې لوی لوی علماء اوپوهان یې دکلونوکلونو څېړنواودتول ژوندد تجربوڅخه

وروسته به يې په ډيرې سختۍ سره دهغه په حکمتونو پوهه حاصله کړي په نړۍ کې چې څومره تجربې زياتوالی مومي دهغه حکمتونه نورهم راسپړل کېږي اوس هم څوارلس پېړۍ تېرې شوي خودهغه په راوړي قانون کې دترميم ځای په ستر ګونه ښکاري دانسان په لاس جوړ شوي قوانين په زرګونه واړې جوړښت او بدلون مومي هر ځل په کې ترميم صورت نيسي خوددغې صحراامي شخصيت په يواځې ځان د بل چاله مرستې پرته چې کوم قانون نړۍ ته راوړې يوځل هم داسې ونه شول چې په کې ترميم صورت ونيسي داځکه چې دغه نظام کامل اوله هرې نيمګړتياځخه سپېځلی دی هغه دخپلې درويشت کلنې مبارزې په دوران کې دخپلوټبکو اخلاقو،شرافت اودخپلولوړوښووونوپه وسيله خپل دښمنان دوستان او خپل مخالفين يې له ځان سره موافق وګرځول،لوی لوی ځواکونه يې مقابلې ته ودربدل خوپه پای کې له ستر شکست اوماتې سره مخامخ شول اوپه پښوکې يې ولوبدل

تربري وروسته

هغه چې کله په خپلودښمنانوبری ترلاسه کړ نوله هېڅ يودښمن څخه يې انتقام وانه اخيست له هېچا سره يې سختي ونکړه تردې پورې چې چا دده ګران او خوږ تره په قتل رسولی دهغه سينه يې ورځيرې کړې وه په هم دې ډول چاچې په کانو ويشتلی اوله هيواده يې شړلی ؤدفتح پروخت يې هغوته هم معافي اوبخښنه وکړه

مثالي شخصيت

هغه هېڅکله له چا سره خيانت اودوکه نه ده کړې اونه يې له چاسره دتړون په ماتولو لاس پورې کړی په جګړه کې يې له هېچاسره زياتی نه دی کړی تردې پورې چې دهغه سرسختو دښمنانو هم کله په هغه دګناه اوياتېرې الزام نه دی لګولی داهغه ښېګڼې اوستراخلاق ؤ چې په پای

کې يې دتهولو عربو زړونه لاس ته راوړل

ستر بدلون

بيا يې دخپلو ښوونواولارښوونوپه وسيله له هغوعربوڅخه چې دهغوی حال تاسې ولوست له وحشت اوناپوهۍ څخه ووښتل اوله هغوی څخه يې دلوړې مرتبې يو مهذب قام جوړکړهغه عرب قام چې هېڅ قانون منلوته تيارنه ؤله دوی څخه يې دقانون داسې پابندۍ شخصيتونه جوړکړل چې په تاريخ کې يې سارې نه ليدل کېږي هغه قام چې دهېچاپه وړاندې يې داطاعت سرنه تيټولوهغوی يې ديوعظيم الشان ستراسلامي دولت تابع وګرځول دهغو خلکو څخه يې چې پر هغوی داخلاقوهوانه وه لګېدلې هغوی يې دداسې سپېڅلوخويونوڅښتنان وګرځول چې دهغوی دحالاتوپه لوستلو سره نړۍ وال دحيرانتيا ګوتې په غاښ کوي هغه عرب قام چې په هغه وخت کې دنړۍ دټولوقامونوترټولو پرېوتی اووروسته پاتې قام ؤدغه يواځې شخصيت په درويشتو کلونوکې دخلکو په ژوندانه اوافکارو کې يو ستر بدلون رامنځته کړاوبيا يې د هغوی په وسيله دايران روم اومصرعظيم الشانه سلطنتونه پربل مخ واړول نړۍ ته يې دتمدن تهذيب اخلاقواو بشردوستۍ درس ورکړاوداسلام لارښوونې يې د اسيااافريقا اواروپا لرې لرې څنډو ته ورسولې .

داهغه اغيزې دي چې پرعرب قام پرېوتې له دې څخه زياتې اريانوونکې اغيزې ددې امي پيغمبردلارښوونو په وسيله پر ټولې نړۍ پريوتلې هغه دټولې نړۍ په افکاروعاداتواوقوانينوکې يوستربدلون رامنځته کړخو ډېره داريانتيا خبره داده چې کومو خلکو دده له پيروی څخه انکاراوده په مخالفت لاس پورې کړ دده ترټولو سترسخت دښمن هم دده د لارښوونو له اغېزو څخه بچ شوی نه دی

نړۍ والوچې دتوحيدلوست هېرکړی ؤ هغه لوست يې بيا له سره تازه کړاوپه دومره زوراو شورسره يې دتوحيد نماره پورته کړه چې بت پال او مشرکين يې دتوحيد په رنګ کې رنګ کړل هغه داخلاقو داسې پياوړې ښوونې وړاندې کړې چې په ټوله نړۍ کې خپرې شوې هغه چې د قانون سياست،تهذيب اوتمدن اواقتصاد کوم بنسټونه وښودل هغه پاخه اوسپېځلي اصول اوقوانين ؤ چې داسلام دښمنانوهم ورځخه ګټه واخيسته اوتر ننه پورې دغه لړۍ دوام لري لکه چې مخکې مو څرګنده کړه چې نوموړی شخص په يو ناپوه قام اوپه يوه تياره بېديا کې خپلې سترګې نړۍ ته پرانستې ترڅلوېښتو کلونو پورې يې له شپون توب او سوداګرۍ څخه پرته بل کارنه ؤله هېڅاڅخه يې ښوونه اوروزنه ترلاسه نکړه

مثالي قايد

اوس د فکراوغورخبره داده چې دڅلوېښتو کالوڅخه وروسته په دغه شخصيت کې څنګه دومره کمالات رايوځای شوه ؟ له کومې خوا په ده کې دومره علوم راټول اوله کوم لوري په ده کې دومره ځواک پيداشو چې په يوه وخت کې بې مثاله دلښکرو جنګي سپه سالارهم دی اويو بهترين قاضي هم دی يوسترقانون پوه هم دی يولامثاله پوهاند هم دی داخلاقو اوتمدن يوائنی مصلح هم دی يواريانوونکی سياست پوه هم دی بيا له دومره ډېرو مصروفيتونوسره سره دخپل الله عزوجل عبادت هم کوي دخپلو مېرمنو،اولادونو اوکورنۍ حقونه هم پوره کوي دبې وزلانواوغم ځپلو وګړوخدمت هم کوي ديوه سترهېواد ترقبضې او نيولو وروسته دواک په دوران کې دفقيرۍ اوغريبۍ ژوند ترسره کوي پرپسوزي باندې څملي سخت اوکلک لباس اغوندي له بې وزلو خلکوسره يوځای ډوډۍ خوري کله کله دلوړې نوبت پرې راځي دغسې

اریانوونکي کمالات که چاښودلي وای او بیا یې ویلي وای چې زه له بشر څخه دپورته هستۍ څښتن یم په باوري توګه ویلای شو چې هېڅاب یې تردید نه وای کړی، تاسو پوهېږئ چې هغه څه وویل؟ هغه هېڅکله داونه ویل چې داټول زما خپل کمالات دي هغه به تل داسې ویل چې له ماسره هېڅ شی زما ،نه دي دا ټول دالله تعالی ورکړه ده ما چې کوم کلام اووینا وړاندې کړې هغه چې ټوله نړۍ یې له مقابلې څخه ناتوانه ده دغه زما وینا نه اونه زما دفکري لیاقت نتیجه ده دادالله عزوجل وینااوټولې ستاینې الله تعالی لره دي زما چې څومره کاردی دازما قابلیت او لیاقت نه بلکې یوائې اویوائې هدایت اولاړښوونه ده دهغه جلت عظمته له خواچې څه امرکېږي هغه عملي کوم اوهغه څه وایم چې هغه یې راته وایي اوس ووایاست چې دغسې سپېڅلی او ریښتینی انسان دې څنګه دپیغمبر په توګه ونه منل شي ؟هغه دداسې کمالاتو څښتن دی چې دنړۍ له پیله اوترپایه پورې یې هېڅ انسان مثال او نمونه نه شي وړاندې کولی

خوهغه ددومره سپېڅلي شخصیت خاوند دی چې په خپلو ټولو کمالاتوویار،نه کوي بلکې چې کوم ذات ورکړي په څرګنده توګه یې هغه ته منسوبوي اودهغه په هکله په ډاګه وایي چې داټول دالله عزوجل ورکړه ده مونږ به څنګه وایو چې نه ! دغه ټول ستاسې دفکرزېږندنه اوستاسې خپل دي حقیقت دادی چې دروغژن انسان خپل خولاڅه کوې د نوروخلکو کمالات هم خپل ځان ته منسوبوي خودالله عزوجل دغه ریښتینی او سپېڅلی بنده داټولې ښېګڼې د خپل ځان نه بولي هغه چې په ډېرې اسانتیا سره یې خپل ځانته منسوبولای شوې پردې اساس کچېرته یې له بشریته لوړه دعوه کړې وای هم چایې تردید نه

شوکولای اوس ووایاست چې له ده څخه نورسپېځلی او پاک انسان څوک کېدای شي ؟ وګورئ دغه زمونږ سرداراودتولې نړۍ پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دی دهغه دپیغمبرۍ ستردلیل پخپله دهغه سپېځلتوب اوریښتنولي ده دهغه سترې کارنامې دهغه خوی او اخلاق دهغه دسپېځلي ژوندانه پېښې او واقعیتونه ټول دتاریخ په ټنډه په زرینو کرښو ثبت دي کوم یو شخص یې چې په پاک زړه دحق له غوښتنې اوانصاف سره سم ولولي دهغه زړه به پخپله ګواهي ورکړي چې هغه خامخا دالله عزوجل پیغمبردی هغه وینا چې هغه وړاندې کړې هغه قرآن الهی وروستنی نړۍ وال پیغام دی دغه لامثاله کتاب چې څوک په سوچه زړه قرآت کړي پخپله به اقراروکړي چې ارومرودا د الله عزوجل کتاب دی هېڅ یوانسان داسې کتاب نه شي جوړولای او نه به یې جوړ کړی شي

- **دنبوت پای**

اوس به تاسوته معلومه شوې وي چې په دې وخت کې دریښتینې او سمې لارې دمعلومولولپاره دمحمد صلی الله علیه وسلم دښوونواودقرآنکریم نه پرته بله وسیله نشته محمد صلی الله علیه وسلم دټول بشریت لپاره دالله عزوجل استازی دی په هغه باندې د نبوت لړۍ پای ته رسېدلې الله عزوجل چې بشریت ته څومره اندازه هدایت اولارښوونه غوښتله هغه ټولې یې دخپل وروستنې پیغمبرحضرت محمد صلی الله علیه وسلم په واسطه ولېږلې اوس چې یوڅوک دحق پلټونکی او سې اوغواړي چې دمسلمان په حیثیت ژوند سرته ورسوي هغه ته لازمه ده چې دالله عزوجل په وروستني پیغمبرحضرت محمد صلی الله علیه وسلم ایمان راوړي چې کومې ښوونې هغه وړاندې کړې دي هغه ومني او کومه لاره چې هغه بشریت ته ورښودلې ده دهغې پیروي وکړي

• دنبوت د پای دلایل

دپیغمبری حقیقت مومخکې تاسې ته بیان کړ، په هغې د پوهېدلواوغور کولوڅخه وروسته به تاسوته معلومه شوې وي چې نړۍ ته هره ورځ پیغمبر نه راځي اودیوقام لپاره ضروري هم نه دی چې په دوی کې دې پیغمبرراامنځته شي دپیغمبرژوندپه حقیقت کې دهغه د ښوونواولارښوونوژوندوي ترڅو چې دهغه ښوونې په یو قام کې ژوندۍ وې داسې ده ګواکې هغه پخپله ژوندی دی دمخکینې پیغمبرد مړینې څخه مقصددادی چې کومې ښوونې هغه وړاندې کړې وي هغوبدلون ومونږ کوم اسماني پیغام چې پرې نازل شوی ؤ په خپل اصلي شکل پاتې نه شو پخپله دهغه پیروان هم ددې خبرې دعوی نه شي کولی چې له مونږ سره دخپل پیغمبرهغه اصلي کتاب موجود دی هغوی دخپلوپیغمبرانواخلاق هېرکړل دپخوانیو پیغمبرانوڅخه دهېڅ یوپیغمبرصحیح روایت اوحالت چاته معلوم نه دی په پوره باورسره سړی نه شي ویلای چې هغوی په کوم وخت کې پیداشوي ؟ چېرته پیداشوي ؟ هغوی کوم یوکارسرته رسولی دی ؟ څنګه ژوندیې کړی؟ د کومو ویناؤ ښوونه یې کړې او له کوموشیانو څخه یې خلک منعه کړي دي او په کوم وخت کې وفات شوی؟

خومحمد صلی الله علیه وسلم ژوندی دی ځکه چې ښوونې او لارښوونې یې ژوندۍ دي، کوم کتاب یې چې خلکوته وړاندې کړی ؤ هغه په اصلي الفاظوکې موجوددی په هغه کې دیو ټکي یوه زبراوزیرتغیرنه دی رامنځ ته شوی دهغه دژوندانه ټول حالات دهغه وینا وې اوکړه وړه ټول محفوظ اوساتل شوي دي ددیارلس نیم سوه کلونو څخه دزیات وخت له تېرېدلو یې وروسته هم دژوند نقشه صافه اورنه ترسته ګو کېږي داسې یې وبوله چې ګواکې پخپله دالله رسول پخپلو سترګوویندنړۍ دهېڅ یوشخصیت ژوندبه دومره محفوظ نه وي ساتل شوی څومره چې درسول الله صلی الله علیه وسلم

ژوند محفوظ دی موږ دخپل ژوند په هره یوه معامله کې هروخت د محمد صلی الله علیه وسلم له ژوند څخه درس اخیستلای شوداددې خبرې دلیل دی چې له رسول اکرم صلی الله علیه وسلم نه وروسته دبل پیغمبر دراتلو اړتیا نشته

له یوپیغمبره وروسته دبل دراتلو لاملونه

- داچې دلومړي پیغمبرښوونې اولاړښوونې له منځه تللې وي

اودهغې دوړاندې کولوبیاضرورت وی

- داچې دپخواني پیغمبر ښوونې پوره نه وي په هغو کې دترمیم او

اضافې کولو اړتیا وي.

- داچې د پخواني پیغمبر ښوونې تر یوه ځانګړي قام پورې محدودې

وي بل قام اویا نوروقامونوته دپیغمبرضرورت وي

- داهم کیدی شي چې یو پیغمبردبل په موجودیت کې دمرستې

لپاره لېږل شوی وي دغه درې واړه لاملونه اوس پاتې نه دي دائکه چې:

۱:دحضرت محمد صلی الله علیه وسلم ښوونې اولاړښوونې ژوندی دي او هغه وسایل ټول محفوظ دي چې له هغې څخه هروخت معلومېدلای شي چې دحضرت محمد صلی الله علیه وسلم دین څه ؤ ؟ کومې لاړښوونې یې له ځان سره راوړې وې ؟ څنګه ژوند یې تېرکړی اودکومولاروچارودبندولوکوښښ یې کړی ؤهرکله چې دهغه ښوونې اولاړښوونې له منځه تللې نه دي نوله سره بیادبل پیغمبردراتللو ضرورت نشته.

۲: درسول الله صلی الله علیه وسلم په وسیله نړۍ ته داسلام پوره ښوونې وړاندې شوې اوس په کې نه داضافه کولو څه اړتیاشته او نه دکمولولهم دې کبله دبل پیغمبر دراتلوضرورت نه پېښیږي.

۳:رسول الله صلی الله علیه وسلم دکوم خاص اوځانګړي قام لپاره نه دی استول شوی بلکې د ټولې نړۍ دخلکو لپاره لېږل شوی دټولو انسانانو دلارښوونې لپاره دهغه ښوونې کافي دي له هم دې امله اوس په ځانګړې قام کې دپیغمبر دراتللواړتیانشته په هم دې اساس رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دخاتم النبیین لقب ورکړی شو، یعنې دنبوت دلړۍ دپای ته رسولوپیغمبراوس نړۍ ته دبل یو پیغمبر دراتلوضرورت نشته بلکې یواځې اویواځې دداسې خلکواړتیا ده چې درسول الله صلی الله علیه وسلم لاره پخپله تعقیب کړي او نورو خلکو ته په دې لارد تللوبلنه ورکړي دهغه په ښوونوپه خپله ځان پوه کړي او عمل پرې وکړي په نړۍ کې دهغه قانون واکمني ټینګه کړي چې هغه صلی الله علیه وسلم له ځان سره راوړی.

دمحمد(ص) په هکله دختیځ او لویدیځ پوهانو ویناوې

دختیځ اولویدیځ نامتو پوهانو دمحمد(ص) په هکله ځینوحقایقوته اشاره کړې ده چې موږ ددرنولوستونکیو پام ورته را اړوو!

۱: بک خوري چې صلیبي پوه او نامتو شخصیت دی ددمشق په یوه لویه رسمي غونډه کې یې دخپلې وینا په ترڅ کې دمحمد(ص) په هکله داسې وویل: محمد دتاریخ ستر شخصیت دی چې بشریت به دتل لپاره بیا داسې شخصیت په سترګو ونه ویني دهغه دین دنړۍ بشپړ دین دی چې په زرګونو ټولنیزو،سیاسي، اقتصادي اوبین المللي قوانینومشتمل دی هغه دالله بندګۍ ته خلک رابللي دي ددغه سترشخصیت دشریعت قوانین داسې دي چې هریو عاقل او پوه انسان یې باید ومني چې دغه دین له ساینس سره اوږه په اوږه یوځای درومي او له لوړوعلمي حقایقوسره سمون لري.

همدارنګه محمد دځمکې دمخ دټولو راروان تاریخ ستر شخصیت دی هغه
په لږ وخت کې وتوانېد چې دوحشي پوښتنه قام نه دتاریخ سترشخصیتونه
جوړ کړي چې ساری یې په بشري تاریخ کې په ستر ګونه لیدل کېږي.

۲.داکتر ګوستاولوبون فرانسوي ختیځ پوه او داروپا نامتو علمي شخصیت
چې په طب ، طبیعي علومو او اجتماعیاتو کې یې ګڼ کتابونه لیکلي دي په
خپل نامتو کتاب دعربو او داسلام دتمدن تاریخ کې یې داسلام او
پېغمبرص په هکله ډېر حقایق لیکلي دي چې داروپا یانو دتعصب او کینې
پردې ځیروي

۳. دتوماس کارلایل اعتراف : نومورې انګلیسي پوه په خپل دتاریخ اتلان
نومي کتاب کې دپېغمبر او اسلام په اړه ګټورې لیکنې کړې په یوه برخه کې
یې داسې راغلي دي قران عظیم الشان بلیغ او فصیح کتاب دی هرڅوک
چې دقرانکریم په لوستلو لاس پورې کړي ستر حقایق به یې ترسترګو شي
دغه یو څرګند حقیقت دی چې هریو حقیقي کلام پرزړونو اغېزه پرې باسي
ټول اسماني او غیراسماني کتابونه دقران عظیم الشان پر وړاندې واړه دي
دغه ستر کتاب له هررنګه نیمګړتیاؤڅخه پاک او سپېڅلی دی

۴:لئون تولستوي :نومورې دروسي پوهانو دجملې څخه ده په خپل علمي
اثر چې دحکم محمدپه نوم لیکل شوی داسې ویلي : که چېرې څوک غواړي
چې داسلام سادګي وپېژني قران کریم دې مطالعه کړي دغه ستر کتاب په
روښانه احکامو او قوانینو مشتمل دی چې ټول بشریت ورڅخه ګټه
اخیستلی شي همدارنګه په دغه عظیم الشان پیغام کې داسې ایاتونه هم
شته چې دمحمد(ص) په مقام او مرتبې دلالت کوي

۵:مسیو ساواري : نومورې فرانسوي مستشرق دی قران عظیم الشان
یې فرانسوي ژبې ته ترجمه کړی دی دخپلې ژباړې په سریزه کې یې دقران
کریم او محمد(ص) ډېر صفتونه کړي دي

۶:مسیو سدیو: فرانسوي تاریخ پوه دی په خپل تاریخ کې داسلام او قران عظیم الشان په هکله وایي: قران کریم داسې یو قانون اودژوند نظام دی چې ټول ژوند یې دخپلو لارښوونو ترپوښښ لاندې نیولی چې بشري ټولنه دانساني فضایلو کمال ته رسوي ددغه عظیم الشان کتاب او پیغمبر په هکله دومره بس ده چې ووایو دغو دواړو له پوندې اووحشي قام نه دملتونو لارښوونکي او رهبران جوړ کړل او په ستروا خلاقي فضایلو یې سمبال کړل

۷:دجان دیون پورت وینا: نوموړی انګلیسي پوهاند په خپل کتاب (دمحمد اوقران پروړاندې دتقصیرعذر) کې داسې لیکلي: داطلس له سمندره بیا دچین تردیوالې په خوره وره نړۍ کې قران نه یوازې داچې فقهي قانون دی بلکې دمسلمانانو لپاره په خاص ډول او دټولې نړۍ دملتونو لپاره په عمومي توګه دژوند لارښود اواساسي قانون هم دی چې په عقیدې ،عباداتو،اخلاقو،معاملاتومالي چارودسولې او جنګ په امورومشتمل دی دمحمد(ص) عقیده او ایمان له ابهام ، شک او تردد نه پاک او سپېځلی ؤ

۸:دلردبېدلي وینا: نوموړی پوه په خپل کتاب په لویدیځ کې داسلام نارې کې داسې لیکلي محمد(ص) باوقاره شخصیت ؤدټولوخرافاتواو وهمونو څخه یې دین سپېځلی ؤدین سرچینه یې قران عظیم الشان ؤ چې په ټولنیزواودژوند دټولوبرخودلارښوونې په خاطرپه بشپړقانون مشتمل ؤموخه یې دبشردنیوي او اخروي کامیابي وه هغه مهال دنړۍ ملتونویوناجي ته اړتیادرلوده اوهغه په جزیرة العرب کې راڅرګند شو او بشریت ته یې نجات ورکړدمسیحیت څلورګونه انجیلونه دبشردنجات دنده نه شي ترسره کولی مګر قران کریم دغه ستر کارمخکې هم سرته رسولی ؤ اوس یې هم سرته رسولی شي

۹:دبرناردشووینا: دانګلستان نامتو علمي شخصیت او فیلسوف برناردشو دنړۍ وال جنګ پروخت داسې ویلي ؤ :محمد دټولو پیغمبرانو ستر پیغمبر دی کاشکې چې ژوندی وای ترڅویې نړۍ له امن نه ډکه کړې

وای زه باور لرم چې د محمد دین یواځې دین دی چې د ټولې نړۍ، د ټولو ملتونو او د ټولو وختونو دلارښوونې صلاحیت په ځان کې لري زه باور لرم چې اروپایان به په راتلونکي کې دده دین ته غاړه ږدي او ننني یې اوس هم له ورایه څرګندې دي مور باید محمد (ص) د بشریت د ناجي په توګه وپېژنو، د اسلام دستر پېغمبر محمد په هکله دلوید یځ پوهانو وینا وې دومره ډېرې دي چې لوی لوی پر ېږ کتابونه پرې ډک دي مور په دغه لنډو وینا ؤ اکتفا کوؤ.

د محمد (ص) د نبوت څو خصوصیات

محمد صلی الله علیه وسلم په نورو پیغمبر انو ځینې ځانګړې نې لري چې مو ږ ورته په لاندې توګه کتنه کوؤ.

(۱) دهغه درسالت مثال دلمر په څېر دی لمر د ځمکې کره روښانه کوي دهغه رسالت هم د ځمکې ټولو ولسو نو ته شامل دی قران عظیم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترځ کې فرمایي ﴿ قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنِّى رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا ﴿١٥٨﴾ ﴾ الاعراف ژباړه: ای محمده ! ووایه چې " ای انسانانو ! زه ستاسو ټولو لوري ته د الله استازی یم

(۲) دقراني تلپاتې معجزې درلو دل : په هغه داسې معجز کلام نازل شوی چې د ژوند د ټولو بر خو په هر وخت او هر ځای او دهر ملت درهبرې صلاحیت لري او دسا تنې ذمه واري یې الله جلت عظمته اخیستې

(۳) هغه ته د کوثر د حوض زېر ی ورکړ ی شوی قران عظیم الشان په دې هکله داسې فرمایي ﴿ إِنَّآ أَعْطَيْنَٰكَ ٱلْكَوْثَرَ ﴿١﴾ ﴾ الکوثر (اي پېغمبره !) بېشکه مور ږ تاته کوثر درکړی دی

(۴) هغه ته د غنیمت مالو نه رواشوی په داسې حال کې چې نورو امتو نو ته روانه ؤ

(۵) هغه ته ټوله ځمکه مسجد جوړه شوې په داسې حال کې چې دتېر و امتو نو لمونځ له جوماته پرته بل ځای نه کېده

(۶) دهغه داو داسه قایم مقام تیمم رواشوی په داسې حال کې چې دتېرو امتونو لپاره له اوبو نه پرته تیمم جایز نه ؤ

(۷) هغه ته په قیامت کې دلوی شفاعت مقام ورکړ شوی مګر نور پیغمبران به نفسي نفسي ناري وهي

(۸) تر قیامته دهغه نوم لوړ شوی په اذان او کلمه طیبه کې به یې مسلمانان یادوی قران عظیم الشان دغه مطلب ته داشاري په ترڅ کې فرمایي ﴿وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ ﴿٤﴾﴾ او ستاپه خاطر موستا دیادبدو اوازه لوړه کړه

(۹) هغه یې ټولو نړۍ والو ته درحمت په توګه انتخاب کړی

(۱۰) هغه ته ستر اولوی امت ورکړشوی

(۱۱) دهغه امت دګنا هو نو له امله ټول په عذاب نه اخته کېږي چې ټول له مینځه ولاړ شي.

(۱۲) دنبوت او پیغمبرۍ لړۍ پرې پای ته رسېدلی ترده وروسته بل پیغمبر نه رازي او نه بل پیغام ځمکې ته راتلونکی شته ځوک چې درسول الله صلی الله علیه وسلم درسالت په ختم باورې نه وي داسلام له دایرې بهرون ګڼل کېږي قران عظیم الشان فرمایي ﴿مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ ٱللَّهِ وَخَاتَمَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمًا ﴿٤٠﴾﴾ الاحزاب: ژباړه: (ای خلکو!) محمد (ص) ستاسې له نارینه وځخه د هیچا پلارنه دی مګر هغه د الله رسول او خاتم النبیین دی، او الله دهر شی علم لرونکی دی.

په يو روايت کې راغلي دي (انا العا قب) ژباړه : زه عاقب يم او عا قب وروستی نبي وي چې وروسته ورځخه بل پيغمبر نه وي

په امت باندې درسول الله حقونه

رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل امت ځينې حقوق لري چې مو ږ ورته په لاندې توګه کتنه کوؤ .

(۱) **په هغه ايمان** درلودل قران عظيم الشان فرمايي ﴿ ءَامِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَأَنفِقُوا مِمَّا جَعَلَكُم مُّسْتَخْلَفِينَ فِيهِ ۖ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا مِنكُمْ وَأَنفَقُوا لَهُمْ أَجْرٌ كَبِيرٌ ﴿٧﴾ ﴾ الحديد: ۷ ژباړه: ايمان راوړئ پرالله او دهغه پر پيغمبر باندې او لګښت وکړئ له هغو شيانو څخه چې پر هغو باندې يې تاسې واکمن ګرځولي يئ له تاسې نه چې کوم کسان ايمان راوړي او مال ولګوي دهغو لپاره لوی اجر دی .

(۲) **دهغه اطاعت**: او پيروی کول چې په قراان عظيم الشان کې دد ې ګڼ دلايل دي يو څو دلته رانقلوؤ قران عظيم الشان فرمايي ﴿ وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمْ عَنْهُ فَٱنتَهُوا۟ ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴿٧﴾ ﴾ الحشر: ۷ ژباړه: الله چې هرڅه (مالونه) ددغو کليو دخلکو نه دخپل پيغمبر خواته وګرځوي هغه دالله او رسول او خپلوانو او يتيمانو او مسکينانو او پرديسانو لپاره دي تر څو چې هغه يوازي ستاسې دبډايانو تر منځه ګردش کوونکي نه وي . څه چې پيغمبر ص تاسې ته درکوي هغه واخلئ اوله څه شي نه چې هغه تاسې منع کوي له هغه نه منع شئ . له الله نه وويريږئ ، الله سخت سزا ورکوونکی دی.

په بل ځای کې داسې ارشاد دی ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَطِيعُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُوا۟ ٱلرَّسُولَ وَلَا تُبْطِلُوٓا۟ أَعْمَٰلَكُمْ ﴿٣٣﴾ ﴾ محمد: ۳۳ ژباړه: ای موءمنانو! دالله اطاعت وکړئ او دپيغمبر اطاعت وکړئ او خپل عملونه مه بربادوئ .

له هغه سره محبت کول له رسول الله صلی الله علیه وسلم سر محبت دایمان بر خه ده پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي (لا یوء من احد کم بخاری)ژباړه :تاسې به تر هغه کا مل مئومنان نه شئ ترڅو زه تا سو ته له پلا ر زوی او له ټولو خلکو محبو ب ونه اوسم

۴ : **هغه ته نوم نه اخیستل** :الله تعالی مسلمانان له دې څخه منعه کړي دي چې پیغبر صلی الله علیه وسلم په خپل نو م سره راو بولي

۵: **په هغه باند ې درودویل**: هر مسلمان ته لا زمه ده چې په رسول الله صلی الله علیه وسلم باند ې درود ووایي

۶ : **دهغه تعظیم او ادب کول** :هر یو مسلمان ته لا زمه ده چې هغه درسو ل الله صلی الله علیه وسلم تعظیم ، ادب او احترام وساتي.

درسول الله صلی الله علیه وسلم کارنامې

په بشري تاریخ کې دهغه کارنامې اریانوونکي دي په لږ وخت دروښت کلونو کې یو لوی هر اړخیز اعتقادي،اخلاقي،اجتماعي،سیاسي او اقتصادي نړۍ وال بدلون رامینځته کول دتاریخ ستره حادثه اومعجزه ده مورږ به په لنډه توګه دهغه سترو کارنامو ته په لاندې توګه ګوته ونیسو.

۱- داسلام دسپېڅلي دین په وړانګو یې دنړۍ توري تیارې روښانه اوبشریت یې دغیرالله له بندګۍ څخه ازاد کړ،دشرک ،بت پالنې اودبې دینۍ کمپله یې له نړۍورټوله کړه.

۲- دلومړي ځل لپاره یې داعتقادي اوسیاسي وحدت بدلون نړۍ ته راوړ دیو نړۍ وال نظام داساس ډبره یې کېښوده نژادي،مذهبي اوقامي امتیازات یې لغوه اعلان کړه او ټول بشریت ته یې څرګنده کړه چې دبشر دامتیاز معیارتقوی ده.

۳- دحکومت اوسیاست اساس یې دشوری پراساس کېښود دحکومتي چارو سمبالول یې ملي امانت وباله اوبیعت یې ورته لازمي وګرځاواودمیراثي شاهي ورستونظامونو جړې یې ووښتې.

۴۔ قانون یې د اسماني لارښوونو پربنسټ سمبال کړ دبشر د حاکمیت اختیارات یې لغوه او نړۍ والو ته یې اعلان وکړ چې حاکمیت یوازې د الله تعالی حق دی.

۵۔ د جزیرة العرب ښارونه شام، عراق، مصر، تر شمالي افریقا پورې هېوادونه یې د رومي اوفارسي امپراتورۍ د استعمار له منګولو څخه خلاص کړل.

۶۔ د اسلامي هېواد په حدودو کې یې امن ټینګ اودسولې، امن او خوشالۍ زانګو یې ورځخه جوړه کړه.

۷۔ په اقتصادي چاروکې په سوداو احتکاربندیز ولګول شو په زکات سره اقتصادي توازن رامینځته اوغربت ته دپای ټکی کېښودل شو.

۸۔ په خپله یې د کفر ي طواغیتو اوسرکښانو پرخلاف په ۲۷ لویو جګړوکې دلښکرو قیادت وکړ په جګړو کې یې انساني طریقې رواج کړې او هغه داچې دښځو، بوډاګانو، ماشومانواو په درمسالونواوکلیساګانو کې په ناستوګړودقتل اوپه همدې توګه دباغونو په غوڅولواودتعمیرونوپه ړنګولوبندیزولګول شو.

۹۔ بېلابېلوسیمو ته یې والیان ولېږل دتقررلپاره یې ښه شخصیت، لیاقت اوامانت معیارونګرځاوټولو انسانانو ته یې دعلم اومدنیت داسې پانګه پرېښوده چې دتاریخ پاڼې پرې ښایسته دي.

ددولسم څپرکي دمطالبولنډیز

دپیغمبرانو دلړۍ وروستی نبي محمد (ص) دی دقران عظیم الشان په څلورو سورتونو کې دده مبارک نوم محمد ذکر شوی ۱- ال عمران ۲- دمحمد سورة ۳- داحزاب سورة او ۴- دفتح سورة

دویم نوم یې احمد دی چې دصف په سورة کې یې ذکر راغلی دی دریم نوم یې ماحی، څلورم یې حاشر او پنځم یې عاقب دی او څوارلس صفتي نومونه یې شاهد، مبشر، نذیر، رحمة، سراج، منیر، مذکر، شهید، هادی، امین، مزمل او مدثر دي دهغه په مبارکو نومونو کې مصطفی، مختار، شفیع، صادق اومصدوق هم شامل دي.

دمحمدي رسلت عقلي ثبوت: څوارلس سوه کاله مخکې تاریخ ته وګورئ دعربو دهبواد موقعیت، اقتصادي وضعیت، تعلیمي وضعیت، سیاسي وضعیت، اخلاقي وضعیت، ديني وضعیت ته نظر واچوئ او بیا درونې سهار څرک وګورئ.

دنبوت پیل، دنا پوه قام چلند، دهغه هدف، نوی ارمان، رسول الله بشپړ رهبر اوقاید، تربري وروسته، مثالي شخصیت، ستر بدلون، په بشریت یې اغیزې، رسول الله مثالي قاید وو.

دمحمد ص دنبوت څوخصوصیات دادي ۱- نبوت یې دلمر په څیر نړی وال ۲. قرانی تلپاتی علمي معجزه ورکړی شوې ۳. هغه ته دکوثر حوض زېرى ورکړ شوی ۴. هغه ته دغنیمت مالونه روا شوي ۵. هغه ته ټوله ځمکه مسجد جوړه شوې ۶. هغه ته په قیامت کې دشفاعت لوی مقام په برخه شوی ۷. تر قیامته یې نوم لوړ شوی په اذان او کلمه طیبه کې یې نوم اخیستل کیږي ۸. هغه نړی والو ته رحمت ۹. هغه ته ستر امت ورکړ شو ۱۰. دهغه امت دګناهونو له کبله ټول په عذاب نه اخته کیږي ۱۱. دنبوت لړۍ پرې پای ته رسېدلې

په اسلامي امت درسول الله حقونه

۱. په هغه ایمان درلودل ۲. دهغه اطاعت کول ۳. له هغه سره محبت کول ۴. هغه ته نوم نه اخیستل ۵. په هغه درودویل ۶. دهغه ادب اوتعظیم کول

پوښتنې

۱. دمحمد او احمد دنوم معنا ولیکئ او هم دغه نومونه په کومو سورتونو کې ذکر شوي دي

۲. درسول الله درېیم نوم، څلورم نوم او پنځم نوم له معنا سره ولیکئ

۳. په څوارلس صفتي نومونو کې یې لس نومونه ولیکئ

۴. دمحمدي رسالت عقلي ثبوت دعربو دهبواد په وضعه رنا واچوئ اوهم رسول الله دبشپړ قید اومثالي شخصیت په حیث راوپېژنئ

۵. دنبوت دپای قرانی دلیل ولیکئ

۶. دنبوت دپای څلور عقلي دلایل ولیکئ

۷. دمحمد ص دنبوت دخصوصیاتو څخه اوه ولیکئ

۸. په اسلامی امت درسول الله په حقوقو کې دهغه اطاعت اوله هغه سره محبت دقراني ایاتونو په رنا کې شرحه کړئ

ددیارلسم څپرکي دموضوعاتو فهرست

لړلیک

دایمان داساساتو شپږم رکن په قضا اوقدر ایمان

سریزه

- دتقدیر معنا
- په تقدیر دایمان راوړواهمیت
- دتقدیر مراتب
- دتقدیر ډولونه
- دقضا معنا
- دقضا او قدر ترمینځ فرق
- دقضاډولونه
- دالله تعالی اراده
- دانسان ازادي
- دالله تعالی اراده اورضا او دبنده اراده
- ایا انسان خپلواک دی او که بې واکه
- په انسان دالهي نعمتونو او مصیبتونو حکمت
- دارادي اعمالو په هکله دانسان مسئولیت
- په الله توکل او بروسه
- دمؤمن پرژوند دقضا او قدر اغېزې

دایمان داساساتو شپږم رکن په قضا او قدر ایمان

سریزه

په قضا او قدر ایمان داسلامي عقیدې شپږم رکن ګڼل کېږي څوک چې په قضا اوقدر باوري نه وي هغه کافر دی، پردې اساس هر مسلمان ته لازمه ده چې په تقدیر ایمان ولري حقیقت دادی په تقدیرایمان دعقیدې اساس اوتقدیر دالله جل جلاله ازلي علم دی چې دهرشي اندازه یې برابره کړې ده دهرشي دمقداراواندازې لپاره یې حد ټاکلی دټولومخلوقاتوداندازې اومقدارترمینځ یې دقیق تناسب غوره کړی نه پرېږدي داتعادل اوتناسب ختم شي اوداشیاء ومقدارلرواوزیات شي هرڅه ته یې دخو ځېدولپاره مسیرټاکلی دپیدایښت، ددوام اوفنا لپاره یې معینه نېټه اواجل انتخاب کړی هرشی په خپل معین او ټاکلي وخت ترسره کېږي

نن ساینس پردې اعتراف کوي چې دکایناتوهرڅه معین اوثابت مقدارلري که په دې مقدارکې بدلون رامنځته شي ددنیاپه سربه دژوندامکانات پای ته ورسېږي اودهستۍ داموجوده تنظیم به متلا شي شي همدارازساینس په دې خبرې اعتراف کوي چې هرڅه له پیدایښت نه واخله بیاتر زړېنت اوتجزیې پورې ثابت مدارلې کوي اوټاکلی عمرلري اوهرڅه دټاکلیوظوابطواوقواعدوسره سم ترسره کېږي، حرکت، سرعت، انداخت، سقوط، دعناصرو ترمینځ ترکیب دموادواو مرکباتو پیدایښت، اوبېرته تجزیه ټول دثابتواوبدلون نه منونکیوقواعدوسره سم سرته رسېږي نن ساینس دغه ثابت قواعددفورمولونوپه بڼه توضیح کوي الله تعالی دکایناتوټول ظوابط دځمکې له پیدایښت نه ترقیامته په بشپړډول په لوح محفوظ کې ثبت کړي دي

الله جل شانه چې دکایناتوداداري لپاره کوم ظوابط اوقوانین مقررکړي دي له اتوم نه راواخله ترکهکشانونوپوري اوبیاله حجرې نه ترلویولویوحیواناتوپورې ټول دیونظام اوقانون ترسیوري لاندې حرکت کوي دځمکې له پیدایښت نه ترقیامته پورې چې کومې پېښې ترسره کېږي ټول یې په کامل اومفصل ډول په لوح محفوظ

کې ثبت کړي دي که تکويني قضاء ده اوکه تشريعي ټول دالله تعالی په علم کې دي هغه عالم الغيب دی هغه ته حاضرغايب، ماضي اومستقبل نېژدې اولېرې ټول يوشی دی په خپل غيبي علم سره پوهېږي په لوح محفوظ کې دراتلونکيوپېښواودانسان دکړوورپوه هکله ليکنه دانسان اختيارات نه سلبوي اوهغه په يوه مجبورمحکوم اوبې واکه موجودنه بدلوي اونه دهغه په اراده کومه اغيزه پرې باسي دغه علم اوپوهه دانکشاف صفت دی نه داغېزې غورځولو

موږ بايددقضااوقدرپه مفهوم ځان پوه کړوداځکه چې موږ ددغو الفاظوپه معنااومفاهيموباندې په ايمان اوباور درلودلومکلف يوکه ددغوالفاظو په مفهوم اومعناپوه نه شواوحقيقت يې موږته څرګند نه شي نويواځې په الفاظوبه دايمان معناځه وي په قضااوقدرباندې ايمان داايجابوي چې په همدې موضوع پورې مربوط مفاهيم توضيح کړو.

قدر

قدر په عربي ژب دودکې اند ازې توان اوحدته ويل کېږي په قران عظيم الشان کې زياتره داندازې په معنااستعمال شوی هلته چې فرمايي ﴿ إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَٰهُ بِقَدَرٍ ﴿٤٩﴾ ﴾ القمر په بل ځاې کې ارشاددی ﴿ وَٱلشَّمْسُ تَجْرِى لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا ۚ ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ ٱلْعَزِيزِ ٱلْعَلِيمِ ﴿٣٨﴾

له دې ايات نه څرګنده شوه چې هم لمرلره دتلوراتلومستقراوتم ځای تاکل شوی چې په همدې ثابت مسيرکې درومي اوهم دسپوږمۍ لپاره له بېلابېلو مراحلواومنازلونه دتېرېدومدارتاکل شوی اوهرڅه يې ديوې ثابتې اوتاکلې اندازې سره سم پيداکړي دي

دقدر اصطلاحي معنا

قدرله هغه ټينګ، پاخه اومحکم نظام څخه عبارت دی چې الله تعالی جل جلاله دکاينناتودتنظيم لپاره وضعه کړی دی ځينې علماء قضاء اوقدر يوشان ګڼي مګرځينې بياتقديرالهي ازلي پربکړې ته وايي چې تراوسه لاعملي شوې نه ده او قضا ديوکارواقع کېدوته ويل کېږي

دقدر مفهوم دالهي كلام په رنا كې

همدغه پورتني مفاهيم دقران عظيم الشان په كنو ځايونو كې راغلي دي هلته چې

فرمايي ﴿ وَكُلُّ شَيْءٍ عِندَهُۥ بِمِقْدَارٍ ﴿٨﴾ ﴾ الرعد په بل ځاى كې

داسى فرمايي ﴿ وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهُۥ تَقْدِيرًا ﴿٢﴾ ﴾ الفرقان:

دقدر مفهوم دنبوي احاديثو په رناكې

دايوځركند حقيقت دى چې دپيغمبرصلى الله عليه وسلم دملگرو په زړونو كې ددغې عقيدې ستره اغېزه پرته وه په ځمكه كې خپاره شول خوله ځان سره يې په تقديردايمان عقيده درلوده ابن عباس ته پيغمبرصلى الله عليه وسلم داسې ويلي ؤ

عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كُنْتُ خَلْفَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا فَقَالَ يَا غُلَامُ إِنِّي أُعَلِّمُكَ كَلِمَاتٍ احْفَظْ اللَّهَ يَحْفَظْكَ احْفَظْ اللَّهَ تَجِدْهُ تجاهك إِذَا سَأَلْتَ فَاسْأَلْ اللَّهَ وَإِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللَّهِ وَاعْلَمْ أَنَّ الْأُمَّةَ لَوْ اجْتَمَعَتْ عَلَى أَنْ يَنْفَعُوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَنْفَعُوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللَّهُ لَكَ وَلَوْ اجْتَمَعُوا عَلَى أَنْ يَضُرُّوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَضُرُّوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللَّهُ عَلَيْكَ رُفِعَتْ الْأَقْلَامُ وَجَفَّتْ الصُّحُفُ)ژباړه له ابن عباس نه روايت دى وايي يوه ورځ په يوې سورلۍ رسول الله پسې سپوروم راته ويې ويل اى زلميه دالله جل شانه ددين ساتندوى اوسه الله تعالى به ستاساتنه وكړي دالله تعالى ددين ساتندوى اوسه دالله مرسته اوتائيدبه په خپل مخكې وګورې كله چې څه غواړې دالله تعالى څخه يې غوښتنه كوه اوچې مرسته غواړې دالله تعالى څخه يې غواړه پردې پوه شه چې كه چېرې ټوله نړۍ ستا پرخلاف سره يوځاى شي چې تاته څه ګټه ورسوي تاته ګټه نه شي رسولاى مګرهغه چې الله جل شانه تاته ليكلي وى اوكه دوى ټول ستاپرخلاف سره يوځاى شي چې تاته دځه شي زيان ورسوي تاته زيان نه شي رسولاى مګرهغه چې تاته الله تعالى مقرر كړى وي قلمونه پورته كړى شوى اوپاڼې وچې شوي دي

په تقدير دايمان اهميت

تقدير داسلامي عقيدې دارکانو دجملې څخه ده دغه باور دسړي په زړه کې په الله توکل،ډاډ اوسکون زياتوي

په تقدير دايمان معنا

هرمسلمان ته لازمه ده چې په تقدير ايمان ولري په تقدير دايمان مفهوم دالله جل شانه په قديم علم او په الهي شامل ځواک ايمان درلودل دي

دتقدير مراتب

دامام ابن تيميه رحمة الله عليه له نظره په تقدير ايمان څلورمراتب لري ۱ـ علم ۲ـ ليکل ۳ـ مشيت ۴ـ پيداکول موږ به هريو تربشپړې څېړنې ونيسو

۱ـ **دعلم مرتبه** : پردې ټينګ باور چې الله جل جلاله په ټولو کايناتوازلي اوابدي علم لري په ټولو شيانو دالله تعالى علم محيط دى هېڅ شى ورڅخه پټ نه دي قران عظيم الشان فرمايي ﴿ عَٰلِمِ ٱلْغَيْبِ ۖ لَا يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِى ٱلْأَرْضِ وَلَآ أَصْغَرُ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكْبَرُ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ مُّبِينٍ ﴿٣﴾ ﴾ سبأ: ژباړه: ووايه قسم دى زماپه عالم الغيب پروردګار،هغه به پرتاسې راشي.له هغه نه ديوه بڅري په اندازه کوم شى نه په اسمانونوکښې پټ دى اونه په ځمکه کې نه له بڅري نه غټ اونه له هغه نه کوچنى،هرڅه په يوڅرګند دفترکښې درج دي .

په بل ځاى کې ارشاددى ﴿ قَالَ عِلْمُهَا عِندَ رَبِّى فِى كِتَٰبٍ ۖ لَّا يَضِلُّ رَبِّى وَلَا يَنسَى ﴿٥٢﴾ ﴾ طه: ژباړه: موسى (ع) وويل((دهغې علم زما له رب سره په يوه ليکنه کښې ساتل شويدى زمارب نه غلطى کوي نه کوم شى هيروي.

۲: **دليکلو مرحله** : معنادادى چې الله تعالى دټولو شيانواندازه ترقيامته په لوح محفوظ کې ليکلې ده قران عظيم الشان همدغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې فرمايي ﴿ قُل لَّن يُصِيبَنَآ إِلَّا مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَنَا هُوَ مَوْلَىٰنَا ۚ

وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ﴿٥١﴾ ژباړه: دوی ته
روایه "مونږ ته هېڅکله څه(ضرر یانښېګنه)نه رسیږي مګرهغه چې الله راته لیکلي دي
هماغه الله زمونږ مولادی،اومؤمنان باید په هماغه توکل وکړي."
له دغه ایات څخه څرګند ږي چې په ځمکه کې که مصیبتونه،زلزلې،توپانونه او
رنځونه،غم او خوشالي ټولې دالهي تقدیر نتیجه ده
۳: **دمشیت مرتبه** :معنا داچې الهي اراده اوتصمیم په هرشي کې جاري ده
هېڅوک یې دمخنیوي صلاحیت نه لري داسمان اوځمکې کوچنی اولوی شی
دالهي فعل نتیجه او ټول یې مخلوق دي قران عظیم الشان دغه مطلب ته داشاري
په ترڅ کې داسې فرمایي ﴿ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُعۡجِزَهُۥ مِن شَيۡءٖ فِي
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَلِيمٗا قَدِيرٗا ﴿٤٤﴾ ﴾
فاطر:ژباړه: هېڅ شی دالله ببوسې کوونکی ندی،نه په اسمانونواو نه په ځمکه
کښې . هغه په هر څه باندې پوهږی او په هرڅه باندې قدرت لري .
په بل ځای کې ارشاددی ﴿ وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ
عَلِيمًا حَكِيمٗا ﴿٣٠﴾ ﴾ الإنسان: ژباړه:اوستاسې په خوښې سره څه نه کېږی
ترڅو پورې چې دالله خوښه نه وی په باوری توګه الله د علم او حکمت خاوند دي
دالله تعالی مشیت اواراده په دوه ډوله ده یوه کوني اوبله شرعي په کوني اراده کې
انسان اختیارنه لري البته په شرعي اراده کې انسان دواک او اختیار څښتن دی
۴: **دتخلیق مرتبه** : ددې مرتبې مطلب دادی چې الله تعالی دهرشي خالق دی له
الله تعالی نه پرته ټول شیان مخلوق دي همدغه دټولو اسماني پیغامونو
اودپیغمبرانو اتفاقي مسئله ده قران عظیم الشان دغه مطلب داسې روښانه کوي
﴿ ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٞ ﴿٦٢﴾ ﴾

الزمر: ژباړه:په بل ځای کې ارشاددی ﴿ وَٱللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ

﴿٩٦﴾ ﴾ الصافات: ژباړه: پداسې حال کې چې الله تاسې هم پیداکړي یئ

اوهغه شیان هم چې تاسې یې جوړوئ

پردې اساس دانسان فعل هم دالله تعالی مخلوق دی

د تقدیر ډولونه

۱ـ عام تقدیر : معناداچې دټولو کایناتو اندازه اوپلان دالهي ارادې پربنسټ رامینځته کېږي ﴿ أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ ۗ إِنَّ ذَٰلِكَ فِي كِتَٰبٍ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ ﴿٧٠﴾ ﴾ الحج: ژباړه:ایاته نه پوهېږې چې داسمان اوزمکې هرشی الله ته معلوم دي؟هرڅه په یوکتاب کښې ثبت دي دالله لپاره داهېڅ ګرانه نده .

۲ـ دانسان دعمر تقدیر:

۳ـ کلنی تقدیر : قران عظیم الشان دغه مطلب داسې روښانه ﴿ إِنَّآ أَنزَلْنَٰهُ فِي لَيْلَةِ ٱلْقَدْرِ ﴿١﴾ ﴾ القدر: مونږ دا (قران) د قدر په شپه کښې نازل کړیدي

ابن عباس رضی الله عنه ددغه ایات په تفسیرکې ویلي دي چې په همدغه شپه ترراروان کال پورې دچاروپلان دمرګ او ژوندد خیراوشر پربکړه صادرېږي اوملایکوته حواله کېږي

۴ـ ورځینی تقدیر :قران عظیم الشان دغه مطلب ته داسې اشاره کوي ﴿

يَسْـَٔلُهُۥ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِي شَأْنٍ ﴿٢٩﴾ ﴾

ژباړه: په اسمانونو او ځمکه کښې چې هر څوک دې ته ول خپلې ارتیاوې له همغه نه غواړي، هره شېبه هغه په نوي شان کښې دی.

معنا دادی چې دهرې ورځې د عزت او ذلت د غنا او فقر، خوشالی او غم د مرګ او ژوند پرېکړې په خپله صادروي

قضاء

قضا په لغت کې پرېکړې او فیصلې صادرولو ته وایي او په اصطلاح کې په ازل کې د الهي تقدیر په برابر د کایناتو ایجاد ته ویل کېږي

قضاء د قرانکریم په رڼا کې

په قران عظیم الشان کې قضاء زیاتره وخت د فیصلې کولو امر صادرولو او پای ته رسولو په معنا راځي هلته چې فرمایي ﴿ بَدِيعُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ وَإِذَا قَضَىٰٓ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿١١٧﴾ ﴾ البقرة:

د پرېکړو او فیصلو صادرو لو اختیارات اوواګي تولې د الله جل جلاله سره دي او په دې کې هېڅوک له هغه سره شریک نه دي

د قضاء او قدر ترمینځ فرق

د اباد یو او تعمیراتو د جوړښت لپاره تر هر څه دمخه یو انجنیر نقشه او پلان ترتیبوي ضروري مواد دروازې کړکۍ، د تعمیر اندازه هر څه دده په لاس کې وي او معماریې تطبیقوي انجنیر حق لري او کولای شي چې په نقشه او خپل تصمیم کې بدلون راولي له همدې کبله د الهي رحمت له جملې څخه په خپلو بندګانو باندې داهم دی چې د صالحو اونېکو اعمالو په وسیله په تقدیر کې بدلون راځي له همدې امله موږ ته د دعا اهمیت اوګټه څرګند ېږي د اځکه که چېرې په چاروکی بدلون نه وای نو د دعاء به هېڅ ګټه نه وای.

د قضاء ډولونه

قضاء دوه ارخه لري تکویني او تشریعي قضاء

- **تکویني قضاء**

کوم ظلوابط او مقرارت چې په کاینات او عالم کې وضعه شوي تول کاینات دهغه مطابق عیار شوي او هر څه دهغه مطابق ترسره کېږي د هته تکویني قضا وایي د اثابت

سنن اوتګلاري دي چې بدلون نه مومي اوالله جل شانه دهغه دبدلون اوتغيروای هېڅاته نه دی ورکړی، له اتوم نه واخله ترلويو کهکشانونوبياله حجرې نه ترلويوحيواني اونباتي اجساموپورې ټول ديودقيق نظام، قوانينواويوسيستم لاندې دي مثلاً داتوم جوړښت اوچارچونه يې دعناصروجوړښت اودهرعنصرجلامداروند اوله نوروعناصروسره يې ترکيب داتوم بڼه، دنورسرعت اودصوت سرعت دوړانګوبېلابيل ډولونه دځمکې قطردلمراوځمکې ترمينځ واټن دځمکې محوري حرکت فی ساعت(۱۶۷۰) کيلومتره انتقالي حرکت يې في ثانيه ۳۰ کيلومتره دشمسي منظومې حرکت دکهکشان چارپېره في ساعت نهه لکه کيلومتره دځمکې طبقات دفضاطبقات په هواکې داکسيجن فيصدي داوبودقيق جوړښت H2o په همدې توګه په ځمکه کې يې اندازه داوبوسايکل دتسخين، انجماد، مايع اوګازدرجې داوسپنې دتسخين اومايع حالت درجه له ځمکې دسپوږمۍ فاصله ۳۸۴۴۰۰ کيلومتره ،په فضاکې يې دسرعت اندازه في ساعت ۳۶۵۹ کيلومتره په فضاکې داوزون طبقه اودنده يې دلمردنده په يوه ثانيه کې دلمردشعاعواندازه ځمکې ته دراروانوشعاعوتخمين په همدې توګه حجره اودحجرې ساختمان او فعاليت يې حيواني حجره اونباتي حجره دهرحيوان کروموزمونه دانسان دعصبي حجراتوتشکيل چې شمېريې ۱۴ مليارد وته رسېږي جنسي حجرې دسپرم ساختمان داوم جوړښت دبدن دسروکروياتوشمېراودندې دسپينوکروياتوشمېراودندې يې دانسان ساختمان دقلب، ځيګر، دماغ، باصرې سامعې اودانسان اوحيوان دهډوکوفنري سيستم دهرحيوان جلاجوړښت دنباتاتوبېلابېل صنفونه، دندې، ترکيب، تنفس، زوجي تکثراوداسې نوردانسان ژوند، مړينه رنځ، صحت صورت اوشکل طول، عرض بنايست اوبدرنګي توروالی اوسوروالی، ذکاوت اوپوهه نارينتوب اوښځينه توب موراوپلارشپه اوورځ، ګرمي اويخني بربښناواوباران اوداسې نورټول دتکويني تقديربرخه ده دانسان ارادې ته په کې دخل نشته لنډه داچې تکويني تقديريومنظم پلان دی چې هېڅکله بدلون نه مومي اوانسان ته په کې دخل په برخه نده پر دې لحاظ دځمکې اواسمان هرڅه دالله عزوجل په وړاندې منقاد دي

• تشريعي قضاء

هغه احكام چې دانسان په ارادي بر خه کې وضعه شوي او انسان وربانديې مکلف شوی چې هغه مراعات کړي اوخپل ژوند دهغې مطابق عيار کړي دې ته تشريعي قضاء وايي دتشريعي قضا احکام اوقوانين دانسان دژوند دهغوبرخودتنظيم لپاره وضعه شوی چې هلته انسان ازادي اواختيارلري هلته انسان کولاشي له دوو لارونه يوه په خپله خوښه انتخاب کړي، په تشريعي قضاکې دانسان اراده او عزم دخل لري انسان دواک او اختيار څښتن دی پخپله خوښه اواراده ښه اوبدپخپله انتخابوي، تشريعي تقديرانسان ته خيراوشر ښه اوبدوربښئي دده عقيده به څرنګه وي دعقيدې اساسات يې کوم دي ښه عقيده کومه اوباطله عقيده کومه يوه ده، کوم اخلاق ښه اورزيله اخلاق کوم شيان دي دده د ځان اودده دخالق حقونه کوم دي؟په کومه بڼه دخپل خالق عبادت وکړي، بدني عبادات کوم اومالي عبادات کوم دي له خلکو سره به دده اړيکه څرنګه وي مال اوشتمني به له کومې لارې په لاس راوړي حلال او حرام کوم شيان دي رواوناروا خواړه کوم شيان دي کوم شی وڅښي اوکوم شی ونه څښي ،شتمني له کومې لارې په لاس راوړي اوڅرنګه يې په لګښت ورسوي، جنسي غريزه څرنګه اشباع کړي له چاسره يې اشباع کړي موخه يې څه، ده ژوند کې ده ته څه په کاردي حکومتي سيستم يې بايد څرنګه وي جرايم کوم شيان دي دسزا نوعيت يې بايد څرنګه وي حکومتي مسئولين بايدپه کومو صفاتوسنبال واوسي ددوی مسئوليت څه ده دمسلمانانوخپل منځي اړيکې بايدڅنګه تنظيم شي، ملت په حکومت کوم حقوق لري اوحکومت په ملت کوم حقونه لري، دولتي وظايف څنګه ووېشل شي دحکومت دجوړېدو موخه څه ده دبهرونيو لرکيوحقوق څه دي له نورو ملتونو اودولتونو سره ددولت اړيکې بايدڅرنګه وي دجګړې اصول کوم دي اودسولې شرايط څه شی دي، لنډه داچې له زانګو نه ترلحده اوله سرنه ترنوکه دټول ژوند دمادي اوروحاني ددنيوي اواخروي ژوند دسمون لپاره اصولو او قوانينو ته تشريعي تقديروايي

اوس مهال يوازې قران عظيم الشان او نبوي سنت تشريعي تقديرګڼل کېږي ،دتشريعي تقديرلپاره الله تعالى پيغمبران لېږي هغوی ولسونو ته دعوت ورکوي اوپه روزلويې لاس پورې کوي بيا ددغوروزل شويوافرادو ه وسيله په ټولنه کې

یوسرتاسري هراړخیزبدلونه راولي دپیغمبري انقلاب او بدلون موخه دبشرله اسارته دانسان ازادي اودجبراواستبداد ،جهل اوناپوهی دنظام ړنګول دي،پاتې شوه اسلام راوړل دغه دزوراو جبر کارنه دی او نه دجبراو زوراسلام دمنلو وړکنیل کېږي اسلام او کفر دښواو بدو انتخاب دانسان داختیارنتیجه ده جنت اودوزخ هم ددغه انتخاب له امله دی په اختیاري برخه کې الله تعالی انسان ته دوه لارې ښودلې دي چې یوه دهدایت اوبله دضلالت اوګمراهی لاره ده قران عظیم الشان همدغه

مطلب ته داشارې په ترڅ کې فرمایي ﴿ وَهَدَيْنَٰهُ ٱلنَّجْدَيْنِ ﴿١٠﴾ ﴾ البلد ﴿ إِنَّا هَدَيْنَٰهُ ٱلسَّبِيلَ إِمَّا شَاكِرًا وَإِمَّا كَفُورًا ﴿٣﴾ ﴾ الإنسان:

الله تعالی انسان ته دسمې لارې دښودنې لپاره پیغمبران رالېږلي دي دهغوی په وسیله یې خلکو ته امر کړی ترڅو په سمه لاره ولاړشي په نتیجه کې به ثواب ورپه برخه کړي په همدې توګه یې له کفر او ګمراهی نه خلک وېرولي دي او په سخت عذاب سره یې تهدید کړي دي

مئومن مسلمان پردې پوهېږي چې تقدیر دالهي اسرارو او پټو رازونو دجملې څخه ده پردې یې باوروي چې الله تعالی په هرشي دعلم څښتن له ظلم څخه پاک او سپېځلی دی عادل دی او په هر کار کې یې حکمت پروت دی اګرکه حکمت یې زمونږ له سترګوپټ دی په هرحالت کې مئومن مسلمان ځان الهي پرېکړې ته سپاري ،انسان دژوند تېرولو لپاره نظام او قانون ته اړتیالري دژوند تېرولو لپاره لاندې صورتونه دي

1. دپلار او نېکه رسم اورواج دود اوکلتور منل
2. دخپل نفس هوی او هوس او غوښتنې منل
3. دنورملتونوڅخه دنظام او قانون واردول
4. دکاپناتو درب لارښوونو ته غاړه ایښودل اوورته ځان تسلیمول

دبشریت دخلاصون یواځینی لار الهي اسماني پیغام ته ځان سپارل اوتسلیمول دي،په دې سره به نړۍ واله سوله دعدل اوانصاف نظام یقیني شي انسان به له ځناورتوبه راووزي اوځمکه به دامن زانګوجوړه شي

دالله تعالی اراده

دارادې معنا قصداودیوه کاردسرته رسولوعزم اوتصمیم دی دالله تعالی اراده په دوه ډوله ده تکویني اراده اوتشریعي اراده په تکویني اراده کې تغیراوبدلون نه رامینځته کېږي ددې موجوداتوهرکاردقضااوقدرسره سم دالله تعالی په اراده ترسره کېږي داسې نه ده چې دکائناتوترپېداکولواوهغوته دظوابطواومقرراتودتاکلونه وروسته يې خپل سرته پرېښي اوچارې په خپل سرپه تسلسل سره جریان لري بلکې هرکاردالله تعالی په اراده پیلېږي اودهغه په اراده

پای ته رسېږي اوهغه وربانديې نتایج مرتب کوي قران عظیم الشان فرمایي ﴿

إِنَّمَآ أَمۡرُهُۥٓ إِذَآ أَرَادَ شَيۡـًٔا أَن يَقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿٨٢﴾ ﴾

یس: ژباړه:هغه خوچې کله دیوشی اراده کوي،نودهغه کار همدومره دی چې ورته حکم وکړي چې شه اوهغه کېږي

البته شرعي اراده دامراوالهي فرمان په معناده الله تعالی جلت عظمته شرعي اراده دزوراوجبرله لارې نه جاري کوي بلکې انسان دخپلې خوښې پراساس يې عمل ته اقدام کوي اويايې نه کوي

دانسان ازادي:

قران عظیم الشان په بشپړصراحت سره دامطلب څرګندوي چې انسان دیوې تاکلې دایرې په دننه کې دښواوبدودانتخاب واک اوازادي ورکړشوي دهمدغه اختیارپه نتیجه کې هغه دخپلواعمالوبدله ګوري.قران عظیم الشان دغه مطلب ته داشارې پسه ترڅ کې داسې فرمایي ﴿ وَقُلِ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكُمۡۖ فَمَن شَآءَ فَلۡيُؤۡمِن وَمَن شَآءَ فَلۡيَكۡفُرۡۚ ﴿٢٩﴾ ﴾ الکهف:

له دې ايات نه په ډاګه معلومېږي چې انسان ته ددې اختيار اوازادي ورکړشوی چې په خپله خوښه دايمان اوصالح عمل لاره غوره کړي اودکفراوظلم لوری غوره کړي دهمدغه واک اواختيارله امله هغه دکفراوظلم سخته بدله اودايمان اوصالح عمل غوره اجرترلاسه کوي.

دالله تعالی اراده اورضااودبنده اراده

دانسان اراده، عزم، غوښتنه اوتصميم دالله تعالی دارادې اومشيت تابع ده قران عظيم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترځ کې داسې فرمايې ﴿ وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٢٩﴾ التکوير ژباړه: اوستاسې په غوښتنه هيڅ نه کېږي ترڅو پورې چې دالله ربّ العالمين خوښه نه وي.

دې سورتني ايات څخه څرګنديږي چې دالله جل جلاله اراده دانسان په اختيار اوارادې مقدمه ده ځکه وايو هرانسان چې څه کوي دالله تعالی په اراده يې کوي هغه ورته دپرېکړې عزم اوبياداقدام صلاحيت ورکوي دغه مطلب ديومثال په ترځ کې توضيح کوؤ ته دباغ څښتن يې چې سترستر ديوالونه لري پوره حفاظت يې شوی ستاداجازې نه پرته هيڅوک نه شي ورننوتلی ته خپل دوست ته اجازه ورکوې اوباغ ته يې داخلوې ورته وايې هره مېوه خوړلی شې خودباغ کين لوري ته ونې داسې دي چې رنګ اوخوند يې ښه نه بربښي دګټې پرځای تاوان لري که ته ورڅخه خوراک ونه کړې تاته به هم ښه وي اوزه به هم خوشحاله شم. ستادوست باغ ته ځي هغه چې په باغ کې هرڅه کوي ستاپه اجازه يې کوي تاواک ورکړی دخرابې مېوې دخوراک په نتيجه کې مسئوليت ده ته راجع دی دباغ خاوندبه ناراضه وي مګرکه اطاعت يې وکړښه مېوه يې وخوړه دباغ څښتن به خوشاله شي. کله چې ستادوست له تانه کيلي واخلي باغ ته ننوزي نورنوستاله کنترولې وځي مګردالله تعالی معامله دانسان سره داسې نه ده الله جل شانه هره شيبه انسان څاري اوپالنه يې کوي دښو اوبددواړوتوفيق ورکوي. الله تعالی په ښوکارونوراضي کېږي په بدوچارو، نه قران عظيم الشان فرمايې ﴿ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلْفَسَادَ ﴿٢٠٥﴾ ﴾ البقرة: ژباړه:

په بل ځای کې ارشاددی ﴿ إِن تَكْفُرُوا۟ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِىٌّ عَنكُمْ ۖ وَلَا يَرْضَىٰ لِعِبَادِهِ ٱلْكُفْرَ ۖ وَإِن تَشْكُرُوا۟ يَرْضَهُ لَكُمْ ۗ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ۗ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُم مَّرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ۚ إِنَّهُۥ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿٧﴾ ﴾ الزمر: ژباړه: که تاسې کافر شئ نو الله له تاسې نه بې نیازه دی، خوهغه دخپلو بندګانولپاره کفرنه خوښوي، اوکه تاسې شکر وباسئ نوهغه داشکر ستاسې لپاره خوښوي. هیڅ پېټی اخیستونکی به دکوم بل چاپېټی وانخلي. په پای کښې ستاسې ټولو دخپل رب خواته ورګرځیدل دي، بیابه هغه تاسې ته دروښیي چې تاسې څه کول، یقیناهغه د سینو پرپټو رازونو عالم دی.

دالله عز وجل اراده

دارادې معناقصداویوکاردسر ته رسولو عزم اوتصمیم دی ددې موجوداتو هرکارد قضااوقدرسره سم دالله جل شانه په اراده ترسره کېږي داسې هیڅکله نه ده چې الله جل شانه دکاینناتوله پیداکولووروسته دغه کاینات خپل سرته پرېښي اوپېښې په خپل سر دیوطبیعي بهیر جریان اوتسلسل په شکل ترسره شي حقیقت دادی چې دهرکار سرته رسېدل که څه هم دالهي ثابتو مقراتو سره سم دي خو دالله عزوجل په اراده شروع کېږي اودهغه په اراده پای ته رسېږي او هغه ورباندې نتایج مرتب کوي قران عظیم الشان په دې اړه فرمایي ﴿ مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا فِىٓ أَنفُسِكُمْ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ مِّن قَبْلِ أَن نَّبْرَأَهَآ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ ﴿٢٢﴾ لِّكَيْلَا تَأْسَوْا۟ عَلَىٰ مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُوا۟ بِمَآ ءَاتَىٰكُمْ ۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ ﴿٢٣﴾ ﴾ الحدید: ژباړه: هیڅ مصیبت نشته چې په ځمکه یاستاسې پرنفسونوراپرېوځي چې هغه له پیدا ایښت نه وړاندې په لوح محفوظ کې موجود نه وي لیکلی ببشکه چې داکارالله ته ډېراسان دی، اولیکنه

موخکه کړي چې ترڅوتاسوپرهغه څه خفه نشئ چې لاس ته درنه غلل اودلیونتوب خوښي په هغه ونه کړئ چې الله پاک درکړي دي الله پاک هېڅ متکبرفخرکوونکی نه خوښوي

له دې ایات کریمه څخه معلومېږي چې دهرې پېښې وقوع اودهرمصیبت نزول دالهي سنتوسره سم دمخکې لیکل شوې پرېکړې مطابق او دالله جل شانه په اراده اواذن ترسره کېږي دالله تعالی اراده دبنده په ښو او بدو دواړو چاروکی شته خو رضااوخوښي یې یوازې په ښو چاروکې شته په بدوکې نه لکه څرنګه چې الهې اراده دووبرخو ته شامله ده تکو یني اراده او تشریعي اراده تکویني قضا او تکویني امردانسان دواک له دایرې څخه بهرون دی په ثواب، اوعذاب او جزاپورې اړیکه نه لري البته دتشریعي قضااوشرعي امرپه اړه انسان ته الله تعالی واک اواختیار ورکړی دی او پردې یې حساب، ثواب اوعذاب مرتب ګرځولی دی

ایانسان خپلواک دی که بې واکه ؟

په انسان دالله تعالی دوه ډوله قوانین حاکم دی چې یویې تکویني او بل یې تشریعي په تکویني بر خه کې انسان نه خپواکی لري او نه اراده او ختیار لکه ژوند او مړ ینه روغتیااورنځ دبدن دزړه، کو لمو اودماغ دوینې جریان دهاضمې سیستم او داسې نورالبته دانسان ارادي بر خه چې څه وخوري څه وڅښي څه واوري څه ووایي او څه وکړي دادده په واک کې دي په ده کو م جبر اوزر نه دی شوی په خپله خوښه ښه او بد انتخابوي مګر انسان دښو او بدوچارو په پېژندنه کې خطاء کېږي له همدې امله الله تعالی ښه اوبد داسما ني وحی په ترڅ کی دپیغمبرانو په وسیله انسان ته ښودلي دښواوبدوپه انتخاب کې یې انسان ته ازادي ورکړې اوددواړوپه انتخاب کې یې پرې زورنه دی کړی سره له دې یې انسان مکلف اومسؤل هم ګرزولی اوپه ازمېښت کې یې اچولی البته پرده یې زور او جبر نه دی کړی که داسې نه وای که چېرې یې په زور هدایت پرې منلی وای نو بیابه کفر او شرک له سره شتون نه درلود ،حقیقت دادی چې دالله تعالی تشریعي احکام دپیغمبرانو په وسیله انسان ته رسېدلي دي دغه دالله تعالی دتکویني احکاموپه شان نه دي تشریعی قوانین الزامي اوجبري بڼه نه لري بلکې انسان په ابتلاء او ازمېښت کې قرار لري

الله تعالی کاینات پیداکړي اودکایناتوله پیدایښت نه مخکې یې ددوی دتنظیم اوترتیب لپاره یو پلان اوتنظیم جوړکړی الله تعالی یې په ټولو حوادثو پوه ؤ

انسان هم دکاياناتو کوچنی برخه ده چې ازادي او خپلواکي لري الله تعالی پرې عالم
ؤ چې دغه شخص به څه شی انتخابوي پورتنی مطلب موږ دیو مثال په ترڅ کې
روښانه کوؤ

که چېرې یو ښوونکی او یادماشوم پلار پردې خبره پوه شي چې شاګرداو یازوی
یې دلیاقت او استعداد څښتن دی هغه یې له ځا ن سره نوټ کړي چې له ازموینې
وروسته به دغه مقام ترل سه کوي او یا به دومره نمرې ګټي اوبیاداټکل سره سم
هماغه شان شي نوایاد استاد او پلار دغه پوهه دخپل شاګرد او اولاد په پوهه
اولیاقت څه اغېزه پرې باسي؟نه هېڅکله نه کله چې انسان سمه لاره انتخابوي
نوالهي توفیق ورپه برخه کېږي

قران عظیم الشان دغه مطلب داسې روښانه کو ﴿ وَٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ فِينَا
لَنَهۡدِيَنَّهُمۡ سُبُلَنَاۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَمَعَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٦٩ ﴾ العنکبوت

دانسان ارادي کړه وړه په ځینو قیو داتو پورې تړلې دي چې له هغې نه وتلی
نه شي کله چې یو څوک لیکل کوي اویاددښمن په وژلو لاس پورې کوي داټول په
داسې لاسونو ترسره کېږي چې نه یې په تخلیق کې دده رول ؤاونه دقتل اولیکلوپه
الاتواواسبابوکې ده دغه صفات رامینځته کړي دي دحوادثو اوپېښو په کوچنی
حلقه کې چې هغه دده دکسب اواختیارڅخه عبارت دی له دې نه پرته نورنه دده
صنع اونه تخلیق دی له همدې کبله ده ته دکاردکسب نسبت کېږي نه دکارتخلیق له
همدې کبله داخبر ه سمه نه ده چې یوڅوک ووایي انسان دخپلواعمالوخالق دی
داځکه چې تخلیق خوله نشت نه دیوشي رامینځته کول دي حقیقت دادی چې
انسان دیو مو جودشي رابطه له یو بل موجو دسره ټینګوي چې په هغه کې هم دده
دتخلیق څه رول له سره شتون نه پیداکوي له همدې امله الهي اراده دبنده په ارادې
او مشیت باندې احاطه لري هلته چې فرمایي ﴿ وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ
ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٢٩ ﴾ پرهمدې اساس موږوایو چې یومقتول په
خپل هغه مرګ مري چې الله تعالی ورته تاکلی البته دقتل عملیه دقاتل په کسب

سره ده او په همدغه کسب سره دغه شخص نیول کېږي هغه څه چې دانسان دکسب اودالهي قضا اوقدر ترمینځ يې تنسیق رامینځته کړی هغه دالله تعالی پخوانی علم دی مونږ به دغه مسئله دیومثال په توګه نوره هم روښانه کړوتادخپلې کوتې دبرښنايي ګروپ سوچ په یو پټ ځای کې ځای پرځای کړی چې ستاکوچني ځوی ته تري معلومات نشته دغه سوچ په داسې پټ ځای کې قرار لري چې ته کولی شې ګروپ پرې رنا اویا تیاره کړې تاوغوښتل چې دخپل ماشوم ځوی اراده او تصمیم ځان ته معلو م کړې چې ایاستاخبره مني اوکنه تاورته وویل پام کوه چې داګروپ ګل نه کړې چې تیاره به شي که زماخبره دې و منله دومره انعام به درکړم اوکه سرغړونه دې وکړه سزابه درکړم ،له دې نه وروسته تادخپل ماشوم څارنه کو له چې په څه کړنه لاس پوري کوي لېکن دغه ماشوم په خپلې ازادې ارادې سره دنافرمانۍ اوسرغړونې لاره انتخاب کړه دګروپ په لوري يې ورمنډه کړه ترڅو يې ګل کړي په دغه مهال تاپه پټه توګه دګروپ په بټن فشار واردکړ او ګروپ تیاره شه

ماشوم اورومرو احساسوي چې ګروپ يې په خپل پوکي سره په تیاره بدل کړ لېکن دګروپ دتیاره کېدواصلي اوحقیقي سبب خوته پخپله وې دغه تقریبي مثال په ظلم اوتېري سره دیوانسان دقتل اووژنې له جر یمې سره مشابه دی قاتل خودقتل په عملیه کې هغه شکلي سبب برابر کړلېکن مقتول خو په خپل اجل او تاکلې نېټې سره دالله تعالی دقضاء اوقدر پراساس په مړینه محکوم شوی دی البته قاتل خودالله تعالی جلت عظمته هغه دامرپه مخالفت لاس پوري کړی چې هغه يې حرام اوناروا ګرزولی وو

انسان ددوو دایرو په ضمن کې قرار لري یوه لو یه دایره چې دده کسب اواختیار ته په کې دخل نشته او بله کو چنۍ دایره چې دده داختیار اوواک سا حه ده دده مثال هغه قفس ته ورته ده چې دننه په کې مر غان ایسار شوي مارغه دننه ازادي لري چې څه وخوري اویا يې وڅښي اویاله خپلې جوړې سره یو ځای شي البته که مارغه دخوراک او څښاک دلو ښو په ماتولو لاس پوري کړاویا يې خپلې بنکې ووېستلې او یا يې نورو مارغانو ته اذیت ورسولواوله هغوی سره په شخړه اومنګولو لګولواخته شونوپه دغه صورت کی دقفس څښتن به دغه مارغه ته سزاورکوي اوله قفس څخه به يې راوباسي البته که ددې پر عکس دقفس څښتن يې يخې هواته

کښېږدي اويايې قفس په اوبو کې غوپه کړ،په دغه صورت کې مارغان مسئولیت نه لري د قفس خاوند پوهېږي چې مارغان يې ملامت نه دي

په انسان دالهي نعمتونو او مصيبتونو حکمت

حقيقت دادی چې ګڼ شمېر نعمتونه او مصيبتونه چې دانسان په ارادې پورې اړه نه لري په دې هر يوه کې الهي حکمت او مصلحت پروت دی هېڅ يو الهي مصيبت په خپل ذات کې شرنه دی اګر که خلک يې شر بولي تاسوګورئ يو جراح ډاکتر چې دجراحي عمليات سرته رسوي خلک يې ښکاره شر ګڼي مګر په هغه کې ډېر لوی خيرپروت وي په همدې توګه يو پلار چې اولاددتاديب په خاطروهي او متوجه کوي يې همدارنګه دازموينې هغه څارونکي چې په سختي لاس پورې کوي موږ يې په ښکاره ډول شربولومګردغه ټول په حقيقت کې دخير لارې چارې دي هغه نعمتونه اوغمونه چې دالهی پر بڼې پراساس رامينځته کېږي موږ ته لاندې ګټې راپه ګوته کوي

- **ابتلاء او ازمېښت**

ځينې وخت ازمېښت په نعمتونو سره وي اوځينې مهال په مصيبتونو سره ځينې وخت دکيميادلابراتوار محصلين په ډېر بدبوی کې خپله ازموينه سرته رسوي اوځينې وخت بيا لابراتواري ازموينې په ښه حالت کې تېرې شي چې په دواړو کې خيردی اومحصلين په کې خپل روښانه راتلونکې ګوري

- **دروزنې په خاطر**

ځينې وخت روزنه دکړ اؤو نو په تحمل سره وي او کله کله په جوايز و او ډالیو سره داحد او حنين په جګړو کې چې کوم مصيبت په مسلمانانو نازل شو هغه دروزنې اوتربيې په خاطر ؤ تر څو په راتلونکي کې دخپل قايد امرله پامه ونه غورزوي

- **ژرتر ژره سزا**

دالهي حکمت غوښتنه همدغسې ده چې الله تعالی خپلو بندګانوته دځينو اعمالو دخيراوشر سزاژرتر ژره ورکوي دخيردځښتنانو همتونه به نورپياوړي شي اودشرځښتنان به له شر څخه لاسونه اخلي.

په دنياکې دژر تر ژره مادي اومعنوي ثواب ډولونه زښت زيات دي لکه نصرت،تائيد،عزت سيادت،نيکمرغي،ډاډاوسکون اودالهي معرفت دفيوضاتوخوندا ولذت بل لورته د مادي اومعنوي عذاب ډولونه هم بې شمېره دي

لکه تنګ ژوند ،ناکامي،بې زړه توب،ذلت،نفسي اوفکري اضطراب،تنګه سینه درلودل اوداسې نور...ځینې وخت ژرتر ژره سزا دګناهونو دمحوه کېدو اوپاکوالي وسیله وګرزي

د ارادي اعمالو په هکله دانسان مسؤ لیت

څه وخت چې مئومن مسلمان دقضاء اوقدر صحیح مفهوم دصالحواونېکوسلفواواهل سنت والجماعة دمسلک په برابر ترلاسه کړي نو دتکويني اوتشريعي قضاء ترمینځ ببلتون پېژني په تکويني قضاء کې ځان غیرمسؤل بولي دالله عز وجل پرېکړې ته ځان سپاري البته تشريعي قضاء چې دانسان ارادي بر خه تنظیموي په دې کې خپل ځان مسؤل ګڼي اوخپل ځان په خپله دبربادۍ کندې ته نه غور زوي بلکې اسبابو او وسایلوته لاس اچوي اوددښمن مکرونه اودسیسې شنډوي داځکه چې دخپلې وسې سره سم دځواک برابرول دمسلمانانودمسئولیتونو په حدودو کې دي

دالله جل جلا له سپېځلي پیغمبراوملګرویې ګولی شول دپستواوذلیلوخلکو په څېر ژوندسرته ورسوي خودخپل مسئولیت پرېنسټ يې ځان ذلت ته ونه سپارلو دالهي تشريعي تقدير له ستر ځواک څخه يې

دخپل ماموریت اورسالت په چاروکې مرسته حاصله کړه دفقر مقابله يې په کار دجهل يې په لوست درنځ يې په دوا دکفر او شرک يې په جهاد سره وکړه له غم،سستۍ،فقر،ناتوانۍ اوبخل څخه يې الله ته پناه ورله په جهادونو اوخونړيوجګړوکې يې ويده دسترې ارادې او عزم ښکاره ثبوت ؤدهغوخلکو پر ضد يې دجهاد اومبارزې

په الله جلت عظمته توکل او بر وسه

وروسته له هغه چې مئومن مسلمان دالهي امرسره سم مادي وسایل په لاس کې واخلي ترڅومطلو بونتایجو ته ورسېږي ګوري چې وسایل دومره دډاډ ورنه دي اودشتوګوابنونومقابله نه شي کولی ددښمن وسایل ډېر لوړ او دده وسایل ډېر لږ دي نو په دغه صورت کې له هرلوري خطر احساسوي چې وسایل اواسباب به يې ورته په کار رانه شي دغه شخص به دالهي تګلارې سره سم دخپلې وسې په برابر وسایل برابروي الله جل جلا له ته به دزاريو لاسونه اوچتوي دالله تعالی په مرسته به يې باوروي له هغه څخه به غواړي چې له لارې څخه يې خنډ ونه لږي کړي اوپه دې

به يې ټينګ يقين وي چې يوازې اسباب په درد نه خوري ترڅو الهي مرسته نه وي په الله تعالى توكل اوبروسه اوله هغه مرسته غوښتل دزړه كاردى كله چې دمئومن مسلمان زړه دالله جل جلا له په مرسته ډاډه وي اودخپل وس په برابرما دي وسايل هم برابركړي نومعنوي ځواک يې پياورتياپيداكوي د الله تعالى په ژمنويې ټينګ باوروي

البته هركله چې دوسې سره سم تيارشوي اسباب اووسايل مطلوبه نتيجه ترلاسه نه كړي شي نومئو من مسلمان دالله تعالى په پريكړه راضي وي اوهمدغه كاردخپل ځان په خيربولي بياهم ډاډه اودالله جل جلا له په تكويني قضاخوښ اومطمئن وي په دې توګه مئومن مسلمان په خپلو كړو وړوكې مادي اسباب برابر وي خو ډاډ اواطمينان يې دالله تعالى په مرسته وي دالله تعالى په تكويني قضاء ښه وي او كه بد راضي اوخوښ اوالله جلت عظمته ته په بشپړه توګه ځان سپاري

دمئومن پرژوند دقضااوقدردعقيدې اغيزې:

دقضااوقدرپه اړه مهمه خبره دادى چې بايددې موضوع په مفهوم اومطلب بايدپوه شوپه قضااوقدرايمان ددغومفاهيموپه حقيقت پوهه ايجابوي كه ددغوالفاظوپه مفهوم اومعناپوه نه شواوحقيقت يې مورته واضح نه وي چې دهر شک اوتذبذب احتمال پاى ته ورسوي نويواځې په الفاظوبه يې د ايمان معناځه وي؟دمسلمان پرژوندد قضااوقدردعقيدې اغيزې په لاندې تكيوكې خلاصه كوؤ

۱ـ هلې ځلې اوكوښښ:هركله چې مئومن مسلمان په تقديرايمان راوړي په هلوځلواوكوښښ لاس پورې كوي اوخپل توان ځواک به د الله تعالى دتكويني نظام په پېژندنه كې په لګښت رسوي په اختراعاتواودځمكې په ودانولو به لاس پورې كوي دكاياناتوپه هره ذره كې دالله تعالى دعظمت اولويې نښې په خپلوستركوګوري

۲-شجاعت اومېړانه :دقضااوقدرعقيده مئومن مسلمان ته شجاعت اومېړانه په برخه كوي هغه عمل ته هڅوي اودلوړاوسترمورال څښتن يې ګرزوي.له زړه څخه دوېرې اوجبن توليې نښې نښانې له مينځه وړي دطواغيتواوسركښانومقابلې ته يې تياروي هغه په وسايلواواسبابواتكاءنه كوي بلكې دناچيزه وسايلوسره سره يې دالله تعالى په مرسته اوكومک باوروي چې كوم شى ورته مقررروي هغه به ورته اورمرورسېږي اوچې ورته مقررنه وي نويووينته يې هم څوک نه شي كنډوكولى

۳- صبر اوزغم څوک چې په قضااوقدرایمان لري دکړاؤونواوستونزوپروراندې به صابروي اوداسې ګومان به کوي چې دغه کړاؤونه تصادفي پېښې نه دي بلکې دالهی مقدراتوسره سم واقع شوي دي اړومړوله ده داسې خطااواشتباه شوې چې په نتیجه کې له دې کړاؤونواوستونزوسره مخامخ شوی.هغه دغمونواومصیبتونوپروخت دبې صبرۍ اوشکایت پرځای پرخپلې رویې اوکړووړوکې تجدیدنظر کوي له کړاؤسره دمخامخ کېدواسباب لټوي اودخپل عمل داصلاح هڅه کوي .مصیبتونه یې دغفلت له خوبه راویښوي قران عظیم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترځ کې داسې فرمـــایي ﴿ وَمَآ أَصَٰبَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُواْ عَن كَثِيرٍ ﴿٣٠﴾ ﴾ الشوری: ژباړه: پرتاسې چې هر مصیبت راغلی دی ، ستاسې دخپلو لاسونو له عملونو نه راغلی دی ، اوله ډیروګناهونو څخه هغه همداسې تیریږي ، په بل ځای کې داسې ارشاددی ﴿ قُل لَّن يُصِيبَنَآ إِلَّا مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَنَا هُوَ مَوْلَىٰنَا ۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴿٥١﴾ ﴾ التوبة: ژباړه: دوی ته ووایه "مونږ ته هېڅکله څه (ضرر یاښېګنه) نه رسیږي مګر هغه چې الله راته لیکلي دي هماغه الله زمونږ مولادی ، او مؤمنان باید په هماغه توکل وکړي."

۴- الله جل شانه چې هره فیصله کوي دهرچاپه عمل چې کومه نتیجه مرتب کوي خیرپه هماغه کې دې که کوم مجرم رانیسي اویاکوم ظالم دتېري په وجه تعذیبوي اوکه کوم مسلمان په کوم مصیبت اوکړاؤسره ازمویې په هریوه کې حکمت اومصلحت پروت دی لکه پلارخپل ځوې داشتباه اوغلطۍ له امله تنبیه کوي اویا استادخپل شاګرد ته سزاورکوي خواحمق شاګرداوبې عقله ځوی په دې نه پوهېږي چې په دې تنبیه کې ده لره کوم خیراوښېګنه پټه ده .

۵۔ ازادي:په قضااوقدرايمان انسان دبندګانوله بنده ګي څخه ژغوري هغه به څنګه له الله جل شانه نه پرته بل چاته سرورتيت کړي؟ په داسې حال کې چې هغه پردې تينګ باورلري چې ټولې چارې داسمانونواوځمکودځښتن په واک کې دي

۶۔ سکون اوداد:دغه عقيده انسان ته ډاډاوسکون په برخه کوي اعصاب اوارواپې ارامه اوله ټولوغمونواوعصبي ناارامتياووڅخه خوندي وي.

ددياولسم څپرکي دموضوعاتو لنډيز

په قضا اوقدر ايمان داسلامي عقيدې شپږم رکن ګڼل کېږي څوک چې پرې باوري نه وي کافر بللى شي تقدير دالله تعالى ازلي علم دى چې دهرشي لپاره يې اندازه ټاکلې ،ساينس په خپله پردې اعتراف کوي چې دکاياناتو هرڅه معين اوثابت مقدارلري،حرکت،سرعت،انداخت،سقوط او دعناصرو جوړښت اويوتربله ترکيب يومنظم نظام دى ترقيامته چې څه پېښې واقع کېږي په لوح محفوظ کې ثبت دي

۱۔قدر په لغت کې اندازې ته وايي او په اصطلاح ې له هغه ټينګ او پاخه نظام څخه عبارت دى چې الله تعالى دکاياناتو نظام پرې استوارکړى

۲: دتقدير مراتب

۱۔دعلم مرحله ۲۔دکتابت مرحله ۳۔دمشيت مرحله ۴۔دتخليق مرحله

دتقدير ډولونه : ۱۔عام تقدير ۲۔دانسان عمر ۳۔کلنى تقدير ۴۔ورځپنى تقدير

۳: دقضا پېژندنه : په لغت کې الهي پرېکړې او فيصلې صادرولوته وايي اوپه اصطلاح کې دالهي ارادې او علم پر بنسټ دکاياناتو ايجاد ته ويل کېږي

دقضا اوقدر ترمينځ فرق دادى چې دقدر مثال دتعمير دنقشې اوپلان دى او دقضاء مثال دنقشې مطابق دپلان سره سم دتعمير رامينځته کول دي

۳: دقضا او قدر ډولونه : قضا اوقدر په دوه ډوله دى يو يې تکويني اوبل يې تشريعي

په تکويني قضاکې دانسان اراده دخل نه لري اما په تشريعي قضاء کې دانسان اراده او اختيار دخل لري

۵: دالله تعالى اراده : اراده ديوکار دسرته رسولو تصميم او قصد ته ويل کېږي او په دوه ډوله ده تکويني اراده اوتشريعي اراده په تکويني اراده کې تغير نه رادرومي البته تشريعي اراده کې دانسان اختيار دخالت لري انسان دښو او بدو په انتخاب کې مستقل دى

البته دالله اراده او رضا دانسان په ښو اعمالو کې شته په بدو کې يې اراده شته مګر رضا او خوښي يې نشته

۶: په انسان دمصيبتونو او نعمتونو مصلحت : حقيقت دادی چې دغه دواړه دانسان په ارادې پورې اړيکه نه لري په هريوه کې الهي مصلحت پروت دی ځينې وخت ابتلاء په نعمتونو سره وي او ځينې وخت بيا يه مصيبتونو سره

۷ : په الله تعالی توکل او بروسه : مؤمن مسلمان به دالهي امر سره سم وسايل په کار راولي مګر توکل به يې دالله تعالی په سپېځلي ذات وي دالله تعالی په مرستې به يې بشپړ ډاډ وي

۸: دمؤمن پرژوند دقضا او قدر اغېزې : مؤمن ته مېړانه په کړاوونو صبر دالله تعالی هرې پرېکړې ته تسليمي دبندګانو له بندګۍ ازادي له زړه څخه وېره او بزدلي لېرې کوي ډاډه او ارامو اعصابو څښتن يې ګرزوي

ددولسم څپرکي پوښتنې

۱:س: تقدير راوپېژنئ

۲:س: دتقديرمراتب شرحه کړئ

۳: س: قضاء راوپېژنئ

۴: س: دقضا اوقدر ترمينځ فرق وليکئ

۵:س: دقضا اوقدر ډولونه بشپړ شرحه کړئ

۶:س: دالله تعالی دارادې اورضا په هکله خپل معلومات وليکئ

۷: س: دمؤمن پرژوند دقضا اوقدر اغېزې شرحه کړئ

کورنۍ دنده : دمضمون استاددې محصلينو ته دنده وسپاري ترڅو دموضوع اړوند اياتونه او احاديث په کتابچو کې وليکي او حفظ يې کړي

روح

- سریزه
- دروح اونفس معنا
- روح دقران عظیم الشان په رنا کې
- انساني اوحیواني روح
- دنفس ډولونه
- دمخلوقاتوډولونه
- دروح مرتبه
- دروح مړینه
- دمړه اوژوندي فرق
- دمرګ سبب
- مرګ ناڅاپه راځي
- ملک الموت اوداروا حواخیستل
- له مرګه وروسته دانسان حالت
- له بدن څخه ترجلاوالي وروسته دروح حالت
- دقبرسوال اوځواب اودقبرعذاب
- دقبرعذاب دنجات اسباب
- دقبردعذاب دمنکرینودردلایل یې
- دبرزخ نړۍ برزخي ژونداوجنت
- دارواګانوځایونه دانسان دژوندپراوونه
- په بشري ژوند دمرګ دیادولواغیزې

څوارلسم څپرکی

روح

سریزه

روح دالله جلت عظمته په مخلوق کې دپتو اسرارودجملې څخه ده چې دالله عزوجل نه پرته ،پرې هېڅوک نه پوهېږي دانسان پوهه دالله عزوجل دلایتناهي علم په وړاندې ډېره لږه، کوچنۍ اومحدوده ده انسان تراوسه پورې دخپل چاپېریال په مادي حقایقو بشپړه پوهه نه دی حاصله کړې نوبیاځنګه کولای شي چې دروح په جوړښت چې دالهي مغیباتو اوپټورازونودجملې څخه ده پوهه لاسته راوړي.

دروح په هکله باید دومره پوه شوچې په ټول بدن کې ځای لري اوهغه ته خوځښت،پوهه،فکر،ذکاوت،اراده،اختیار،محبت اوکینه ورپه برخه کوي چې کله هم له بدن څخه ووځي انساني بدن په هماغه جامدې اومړې مادې بدلون مومي پردې اساس روح دانسان دغوره والي یوائینۍ نښه ده ،دجسم اصل حقیقت له خاورینو موادوڅخه دی انسان چې کله په مړینه محکوم شي بدن یې تجزیه کېږي اوپه هماغولومړنیوتوکوبدلون مومي چې بدن ورڅخه جوړښت موندلی ؤ

دروح لغوي معنا

دلغت په اعتبار دروح لفظ ګڼې معناوې لري په قران عظیم الشان کې وحی ته روح ویل شوی همدارنګه جبریل ته روح ویل شوی البته ددغه لفظ اطلاق په زیاته اندازه په انساني روح کېږي

دنفس دلفظ معنا

دنفس لفظ په عربي ژبه کې په ډېرومعناؤسره راغلی وینې ته هم نفس ویل کېږي بد نظر ته هم نفس ویل کېږي همدارنګه نفس دذات په معنا سره راغلی دی البته په هغه صورت کې چې روح له جسم سره یوځای وي دنفس اطلاق په انساني روح کېږي

دروح اجمالي پېژندنه

دغه يونوراني اسماني (علوي) لطيف ژوندی او خوځنده غيرمادي جسم دی چې په خاورين جسد کې نفوذ کوي او په بدن کې داسې جريان پيدا کوي لکه ګلاب ګل او يا دزيتون دانې چې غوړيې په هره برخه کې شتون لري ترڅو چې انساني جسم اوغړي دروحاني لطيف غير مادي شي اغيزې منلوته تياروي تر همدغه وخته لطيف جسم په کثيف مادي جسم کې اوسېږي. لېکن هرکله چې خاورين جسم مخ په خرابېدو شي مړينه واقع کېږي نو روح له بدن څخه وځي او عالم ارواح ته وړل کېږي همدغه خبره دقران کريم نبوي سنتو، داصحابو کرامو داجماع عقل اوبشري فطرت سره برابره ده [1]

روح دمسلمانو پوهانوله نظره

مسلمانو فلاسفه ؤاوپوهانوروح داسې تعريف کړی دی: روح له مادي اجسامو څخه جلاژوندی نوراني مخلوق دی چې دلوړعالم سره اړيکه اودمادي جسم سره بشپړمغايرت لريد اوبودذراتوپه څيرچې دتازه ونې په شاخونوکې جريان لري په انساني بدن کې شتون لري تجزيه اوويش نه مني ترڅوچې جسم ژوندې وي هغه ته ژوند ،تازه ګي اواستحکام ورپه برخه کوي.

روح دقرانکريم په رڼا کې

په قران عظيم الشان کې دانساني روح په هکله لاندې الهي فرمان دغور وړدی هلته چې فرمايي ﴿ وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلرُّوحِ ۖ قُلِ ٱلرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّى وَمَآ أُوتِيتُم مِّنَ ٱلْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٨٥﴾ دوی له تانه د روح په باب پوښتنه کوي،ووايه"دا روح زما درب په حکم راځي،خو تاسې له علم نه لږه برخه موندلې ده" دپورتني ايات دشان نزول په هکله دعبدالله بن مسعود نه روايت دی چې زه پېغمبر صلی الله عليه وسلم سره دمدينې منورې په يوه شاړه لاره کې روان ؤم زه او هغه مبارک ديهوديانو ديو ټولګي ترڅنګ تېرېدلو په هغوی کې يو تن وويل دهغه څخه دروح په اړه پوښتنه وکړئ يو بل تن وويل پوښتنه ورڅخه مه کوئ

دپوښتنې په صورت کې کېدای شي داسې ځواب درکړي چې تاسو به يې نه خوښوئ لېکن نورو وويل چې مور به ورځخه ارومرو پوښتنه کوو په هغوی کې يوتن پاڅېد ويې ويل ابو القاسمه ! روح څه شی دی ؟ پيغمبر صلی الله عليه وسلم چوپ شه ما فکروکړ چې پرهغه وحی نازلېږي زه پاڅېدلم هرکله چې دهغه مبارک ځخه دوحی دنزول کيفيت لېږې شو پورتنی ايات يې ولوست

دانسانيت اساس په روحانيت دی

په قران عظيم الشان کې دجسم او روح مجموعې ته انسان ويل کېږي البته دبشر دانسانيت ، عقل ، پوهې او دنورو فضايلو او خصوصياتو دارومدار په انساني روح دی دقران عظيم الشان په اتو اياتونو کې دانساني روح ذکر راغلی دی دمور په خېټه کې دماشوم جسم دهغه دغږيو تناسب او توازن صورت مومي له هغه نه وروسته دالله جل جلاله په امردهغه په بدن کې روح اچول کېږي او انسان ورته ويلی شي بې روحه ځان انساني مجسمه وي مګر انسان نه وي دانسان دروح نسبت دالله تعالی سپېځلي ذات ته ورکړای شوی دائکه چې دغه دمادي عناصرو دجملې ځخه نه دی بلکې دلوړې نړۍ ځخه راغلې ده دويمه وجه يې دادی چې انساني جسم مادي او ځمکنی موجوددی له همدې امله يې پايښت په ځمکنيو موجوداتو پورې اړه لري لېکن انساني روح اسماني مخلوق دی دهغې دپرمختګ او قوت چورليز دوحی په اسماني غذا ګانو پورې موقوف ده الله جلت عظمته ته دروح دمنسوب کېدو لامل دادی چې دروح په فطرت کې دالله تعالی دملاقات شوق موجوددی څلورمه وجه يې داده چې دمادي اجسامو په شان روح هم مخلوق دی کوم ازلي قديم او غير مخلوق شی نه دی دغه دخپل خالق په لوري دمخلوق نسبت دی لکه ارض الله، ناقة الله يعنې دالله تعالی ځمکه او دالله تعالی اوښه

انساني اوحيواني روح

په انسان کې دوه ډوله روحونه موجوددي يو حيواني روح (دوينې جريان) او بل انساني، په حيواناتو کې انساني روح شتون نه لري اونه يې دروح دقبض لپاره ملک الموت راځي ټول پيغمبران، پخواني اونوي فلسفه دروح په وجود قايل دي چې دانسان په بدن واکمني چلوي لېکن دخپل حقيقت په اعتبار له جسم نه

ممتاز او منفرد مقام لري ژوند دروح او جسم دا يې کې نوم دی او مړينه د دغې
اړيکې د پای ته رسېدلو ،له جسم نه تر وتلو وروسته روح باقي پاتې کېږي او جسم
په عضوي مواد وبدلېږي.
ارواح نه يوازې داچې موجوددي بلکې د مړيو ارواګانې د ژوندیو زيارت
کونکيو سلام اوري او هغوی پېژني ددې خبرې په ثبوت کې امام ابن قيم ګڼ
روايات نقل کړي چې دده په نېزد دمنلو وړ دي [2] نومورې امام په مضبوتو دلايلو
سره ثابته کړې ده چې په عالم ارواح کې دايمان د څښتنانو روحونه يو له بل سره
يوځای کېږي او يو بل پېژني دقرانکريم او نبوي سنتو له دلا يلو څخه ثابته کړی
شوې ده چې دخوب په حالت کې د ژوندیو روحونه د مړيو دارواحو سره يو ځای
کېږي او له هغوی نه داسې معلومات ترلاسه کوي چې زياتره صحيح ثابت شوي
دي ،ابن قيم (رح) دخوب په حالت کې د ژوندیو او مړو دروحونو دملاقات
دثابتولو لپاره دقران عظيم الشان په لاندې ايات استدلال کوي. ﴿ ٱللَّهُ يَتَوَفَّى
ٱلْأَنفُسَ حِينَ مَوْتِهَا وَٱلَّتِي لَمْ تَمُتْ فِي مَنَامِهَا ۖ فَيُمْسِكُ ٱلَّتِي قَضَىٰ
عَلَيْهَا ٱلْمَوْتَ وَيُرْسِلُ ٱلْأُخْرَىٰٓ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَٰتٍ
لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٤٢﴾ ﴾الزمر: ٤٢هغه همدغه الله دی چې دمرګ په
وخت کښې ساګانې اخلي اوڅوک چې لاتراوسه بوري نه دی مړشوي دهغه روح په
خوب کښې قبض کوي،بياچې هغه دمرګ فيصله پر چاباندې نافذوي،هغه ساتي
اودنوروساګانې تريوتاکلي وخت پورې بېرته(جسدونوته)لېږي.په دی کښې غټې
نښانې دي دهغوکسانولپاره چې غوراوفکرکوونکي دي
شيخ الاسلام ابن تيميه اوزياتره مفسرين ددې ايات مطلب داسې بيانوي چې
دخوب په حالت کې دانسان انساني روح له بدن څخه وزي اوحيواني روح چې
دوينې له جريان څخه عبارت دی ادامه لري په کوم شخص چې دمړينې پربکره
شوي وي دهغه روح ايسارېږي مګرپه هغه چاچې دمړينې فيصله نه دی شوې روح

يې بدن ته دوينبـهدلوپه مهال بهرته ستنهږي البته امام ابن قيم له دې ايات نه دمړيو او ژوندیو دارواګانو ترمنځ ملاقات اخلي چې دوينبـهدل پروخت دمړيو روح ايسارولی اودژوندیو ارواګانې خپلوجسدونو ته ستنولی شي هغوی ددغه مفهوم لپاره دحافظ ابن منده له سند سره دابن عباس يوه ويناهم رانقل کړې ده

دروح ثبوت دحسي دلايلو په رڼاکې

دارواپوهنې نامتوماهرين دارواګانوشتون نه يوازې په عقلي دلايلوثابتوي بلکې دمقناطيسي خوب په ذريعه يې څرګندوي په اروپاکې داسې انجمنونه او ټولنې جوړې شوي چې دارواګانودليـدلوتجربې کـوي پـه ۱۶۹ م کـال يـو انجمـن جوړشوچې دانګلستان،فرانسې،امريکا،المان اودايتاليې اوه څلوېښت نامتو متخصصـينوپه کـې ګـډون کړی ؤ دغـه انجمـن تراتلسومياشـتو پـورې خپلـو تجربوته ادامـه ورکړه اوداوړده بحث نه وروسـته يې پـه خپـل راپور کې پردې اعتراف وکړ چې ارواګانې شتون لري

دنفس ډولونه

داهل سنت والجماعة دخپړونکيوتحقيق دادی چې انساني نفس يودی صفات يې ګڼ دي هرګله چې په نفس ځناورتوب اوحيواني غوښتنې غلبه پيداکړي هغه ته اماره نفس وايي قران عظيم الشان فرمايي

﴿ وَمَآ أُبَرِّئُ نَفۡسِيٓۚ إِنَّ ٱلنَّفۡسَ لَأَمَّارَةُۢ بِٱلسُّوٓءِ إِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّيٓۚ إِنَّ رَبِّي غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٥٣﴾ ﴾يوسف: ۵۳ زه د خپل نفس ښه نه وايم،نفس خوپربدی هڅوونکی دی مګرداچې پرچازما درب رحمت وي، بيشکه زما رب ډير ښښونکی اورحم کوونکی دی.

مګر کله چې دروحانيت دغلبې له امله حيواني ځواک ترفشارلاندې وي دېته لوامه نفس وايي قران کريم دغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې داسې فرمايي ﴿

وَلَآ أُقۡسِمُ بِٱلنَّفۡسِ ٱللَّوَّامَةِ ﴿٢﴾ ﴾القيامة او نـه،زه قسـم خـورم پـه ملامتوونکي نفس باندې

البته په هغه صورت کې چې روحاني ځواک په بشپړه توګه قوي وي عبادت اطاعت اونېک اخلاق دهغه غذا جوړه شي يعنې په هغه صورت کې چې انسان دسيرت او صورت په لحاظ پرښته صفته جوړه شي دالله جلت عظمته په اطاعت او تابعداری کې سکون اوډاډ محسوس کړي دې ته مطمئنه نفس وايي قران

عظيم الشان دغه مطلب داسې بيانوي ﴿ يَٰٓأَيَّتُهَا ٱلنَّفْسُ ٱلْمُطْمَئِنَّةُ ﴿٢٧﴾

﴿ ٱرْجِعِىٓ إِلَىٰ رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً ﴿٢٨﴾ ﴾الفجر: اې ډاډه نفسه! ځه دخپل رب لوري ته په داسې حال کښې چې ته(له خپل غوره عاقبت نه)خوشحاله (اودخپل رب په وړاندې غوره يې

دغه درې واړه صفتي نومونه دي دالله تعالی دخاصو مقربو بندګانو روح مطمنة دعامو نېکوبندګانو لوامه اودفاجرانو اوفاسقانو نفس ته اماره ويل کېږي

دمخلوقاتو ډولونه

مخلوقات په څلور ډوله دي

۱- چې عقل اوپوهه لري مګر شهوت نه لري لکه ملايکې ۲- چې له عقل او حکمت نه محروم دي مګر اراده اوشهوت لري لکه حيوانات ۳- چې له عقل، حکمت، ارادې اوشهوت نه خالي دي لکه جامدات اونباتات ۴- چې عقل، حکمت، اراده اوشهوت لري لکه انسان

دروح مرتبه

په يومثال کې دجسم اوروح ډېر ښه انځور داسې وړاندې شوی جسم اوبادې دمملکت او روح دحکمران، حواس او عقل يې فوځ، اندامونه اوغړي يې رعيت شهوت يې ددښمن حيثيت لري که چېرې حکمران اوواکمن په دواړو دښمنانو قابواوغلبه حاصله کړي نودمملکت نظم به سم وي اوکه نه بربادي او تباهي يقيني برېښي دپورته مثال په رنړا کې دخاورين جسد اهميت او ارزښت په خپل ځای کې يو منلی شوی حقيقت دی مګر دانسانيت اصل جوهر روح دی که چېرې مادي جسم هر څومره پياوړی روغ او جوړ وي خو چې روحاني ځواک يې کمزوری اوسي نو دانسان امتيازي حيثيت پای ته رسېږي او انسان دعامو ځناورو په څېر يو ځناور شمېرل کېږي

ايا روح په مړينه محکومېږي؟ښکه روح مري مګر په فنانه محکومېږي په همدې توګه بشري جسدمري مګرپه بشپړدول له مينځه نه ځي قران عظيم الشان دغه مطلب داسي بيا نو ي ﴿ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ ٱلْمَوْتِ ۖ وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُورَكُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ ۖ فَمَن زُحْزِحَ عَنِ ٱلنَّارِ وَأُدْخِلَ ٱلْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ ۗ وَمَا ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَآ إِلَّا مَتَـٰعُ ٱلْغُرُورِ ﴿١٨٥﴾ ﴾العمران: ۱۸۵ په پای کښې هرڅوک دمرګ خوندڅکونکی دی او تاسې ټول دقیامت په ورځ دخپلوخپلوپوره اجرونومیندونکي ئي،بریالی اصلاً هغه څوک دی چې هلته ددوزخ له اوره وژغورل شي اوجنت ته ننویستل شي، پاتې شوه دادنیا،داخوصرف یو غولوونکی شی دی

داروا‌حو مرګ له اجسا دو څخه په وتلو سره سرته رسېږي چې دغه دمرګ په څکلوسر ه تعبیرشوی اوکه داسې مطلب ورڅخه واخلوچې روح په بشپړه توګه فنا کېږي اوله مینځه ځي داسې هېڅکله نه ده بلکې له مرګه وروسته هم په عذاب اویا نعمتونوکې وي

دمړه اوژوندي فرق

س: دمرګ اوژوند ترمنځ ببلتون په څه کې ده؟

ج: مړی نه څه خوري نه څه څښي نه څه اوري نه پوهه اودرک لري اونه څه حس کولای شي نه وده اونه تنفس کوي نه ازدواج او اولاد زېږوي ژوندي شیان ددې پرعکس حیثیت لریمرګ دژوند ضددی کله چې انسان په مړینه محکوم شي روح يې له بدن څخه ووزي له يوه ژوند څخه بل ژوندته اوله يوه کوره بل کورته انتقال مومي مړینه يومحسوس حقیقت اودسترحقیقت کیسه ده هغه حقیقت چې دجابرانو،ظالمانو،سرکښانو،باغیانو اوملحدینوڅټونه ماتوی،له وربښمینو پالنګونيې دلحدتوروخاوروته نقلوي مړینه ورک کېدل اوبشپړه نابودي نه ده بلکې دیوې نړۍ نه بلې ته دانسان انتقال دی يووخت انسان دمور په خیټه کې ژوندکاؤ دمور نس ورته لویه نړۍ اوخپل ځان يې ډېرلوی پهلوان ګانه کچېرې يې خبرې کولای شوې نړۍ ته راتلل به يې مرګ اودفن ګانه په داسې حال کې چې

دمورله محدودې کوچنۍ خبټې نه يې ارتې اوپراخې نړۍ ته ستر ګې وغړولې همدارنګه انسان په مړينې سره له فاني کوچنۍ نړۍ نه دبرزخ ارتې اوپراخه نړۍ ته انتقال مومي چې هلته په ورتللوسره به انسان پر ې پوه شي يوشاعرڅومره ښه ويلي دي:خلک ټول ويده دي چې کله په مړينه محکوم شي نو پوه به شي

دمرګ سبب

دټولو مخلو قاتو په نسبت دمرګ يواځينی سبب دژوند دنبټې پای ته رسېدل دي نه بل څه الله جل جلاله دمخلوقاتولپاره اجل ا دمړينې نبټه ټاکلې ده چې له هغې نه نه وروسته کېږ ي اونه مخکې کېږي قران عظيم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې فرمايي ﴿ فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَـْٔخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴿٦١﴾ ﴾النحل: بياکله چې هغه وخت راځي نوله هغه څخه پوره يوساعت هم وړاندې وروسته نه شي کيدای.

نوپردې اساس دمقتول مړينه دده داجل په پای ته رسېدلوسره ده همدارنګه سوزول شوی اوپه اوبو کې غرق شوی اورنځورهم درواخله ددې ټولومړينه داجل په رارسېدوسره سرته رسېدلې الله تعالی دژوندا ومرګ دواړو خالق دی

مرګ ناڅاپه راځي

ځينې خلک داسې وايي زه به وروسته توبه وباسم داسمه خبره نه ده ځکه مرګ ناڅاپه ميلمه دی هېڅوک دسترګې درپولوپه اندازه دژوندمالکان نه دي نو پردې اساس مرګ دالله جل جلاله په واک کې ده هېڅوک نه پوهېږي چې ده ته به مرګ کله راځي نوعاقل اوهوښيارانسان ته لازمه ده چې دمړينې نه مخکې نېکواوصالحواعمالوته مخه کړي.

ملک الموة اوداروا‌حو اخيستل

دمرګ اوژوند دواړو څښتن يوازې الله تعالی دی يواځې هماغه سپيڅلی ذات دمرګ پربکړه صادروي قران عظيم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې داسې فرمايي الله جل شانه دغه ماموريت يوې ملايکې ته سپارلې چې په ملک الموت سره شهرت لري قران عظيم الشان فرمايي ﴿ قُلْ يَتَوَفَّىٰكُم مَّلَكُ

ٱلْمَوْتِ ٱلَّذِى وُكِّلَ بِكُمْ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمْ تُرْجَعُونَ ﴿١١﴾ السجدة دوي

ته ووايه: دمرګ هغه پرښته چې پرتاسې موظفه کړای شوې ده ستاسې روح به په پوره بشپړه توګه ترخپلې قبضې لاندې راولي. اوبیابه تاسې دخپل رب لوري ته وګرځول شئ.

له ملک الموة سره دملایکو یو ټیم وی چې دده دلارښوونې سره سم له بدن څخه روح راوباسې

له مرګه روسته دانسان حالت

داسلام دسپېڅلي دین په رڼاکې له مړینې وروسته روح دوه پراؤونه وهي چې یوه ته یې دبرزخ نړۍ وایې چې په مرګ سره پیل اوترقیامته دوام پیداکوي اودویم پراؤیې داخرت نړۍ ده چې په اخرت سره پیلېږي اوترابده دوام مومي پردې اساس دانسان روح ترمړینې وروسته دبرزخ نړۍ ته انتقالېږي اوترقیامته هلته پاتې کېږي.

له بدن څخه ترجلاوالي وروسته دروح حالت

هرکله چې روح له بدن څخه جلاشي مړینه واقع کېږي په دغه حالت کې یې هوښ اوادراک باقي وي دهغوخلکواوازهم اوري چې دده دمړي لیدنې ته راغلي دي دهغوی اوازپېژني دهغوی سلام ته ځواب ورکوي دجنت دنعمتونوخوندا ویاددوزخ درداحساس کوي.

دقبرسوال اوځواب

اهل سنت والجماعة ټول په دې نظردي چې هرڅوک له مړینې وروسته اګرکه په قبراویاهرځای کې چې وي ترپوښتنې لاندې نیول کېږي تردې پورې که چېرې ځناوروخوړلی اویایې بدن سوځول شوی اوپه هواکې دګردونوپه څېرالوزول شوی اویاپه اوبوکې غرق اودکبانودخوراک وړګرځېدلی وي خوشالي اوعذاب روح اوبدن دواړوته شاملېږي.

ځینې اسلامی پوهان په دې باوردي چې سوال اوځواب یواځې روح پورې اړه لري پرته له دې نه چې بدن ته وروګرځول شي خونورعلماءددې مخالف دي هغوی وایي څرنګه چې له حدیث څخه ثابته ده روح، بدن اویادبدن ځینوبرخوته

ورگرځولاشي که چېرې سوال اوځواب يواځې له روح څخه وای نوبيايې بدن ته کوم اختصاص نه پيداکولوپه همدې توګه دبدن داجزاءولـه مينځه تلل هم دقبردسوال اوځواب خنډنه ګرځي داځکه چې الله جل جلاله دقدرت اوواک څښتن دی چې ژوندون دده دبدن ځينوبرخوته بېرته ورګرځوي اوله ده څخه سوال اوځواب صورت نيسي په همدې توګه الله تعالی کولای شي دانسان دبدن ټول اجزاءسره رايوځای کړي که چېرته يوځوک ووايي چې سوال اوځواب له روح څخه صورت نيسي داځکه چې دسوال اوځواب نه وروسته په قبرکې هېڅ رنګه بدلون اويا غبرګون نه په سترګوکېږي لکه دربدل، کښېناستل دقبر تنګوالی اوپراخوالی په سترګونه ښکاري ددوی پوښتنې ته داسې ځواب ورکول کېږي دغه مسايل دالله تعالی دقدرت څخه بېرون نه دي بلکې په عادي حالت کې هم موږددې مثال وړاندې کولای شو ،ويده انسان په خوب کې دردا ولذت احساسوي په داسې حال کې چې د څنګ ملګری يې ورڅخه خبرنه وي حقيقت دادی چې وينې انسان هم چې کله څه واوري اويادځه فکرکوي دخوندا ويادردا حساس کوي پرته له دې چې دځنګ لاس يې پرې پوه شي پردې اساس داسمه خبره نه ده چې دحاضرحال په غائب اويادژوند حالت لـه مرګ سره مقايسه کړوپه څرګنده توګه الله تعالی دبندګانوسترګې اوغوږونه دهغې دليدنې څخه ژغورلي دي دانسان دظاهري بدن غړي دملکوتي چارودپوهې اودرک څخه عاجزدي مګرهغه چې الله تعالی يې وغواړي .هغه څه چې داسلامي امت داکثريت مسلک دی دپيغمبرصلی الله عليه وسلم په مبارکواحاديثوسره ثابت شوی دی لکه په يوروايت کې راغلي دي چې مړی ترښخېدلووروسته دژوندیودپښوخرپهاراوري اويادا چې مړی چيغې وهي اويادا چې مړی ملايکې يې کښينوي داټول په نبوي احاديثوثابت اودجسم صفات دي

دقبرپه عذاب اوثواب له کيفيته پرته ايمان

موږ دګنودلايلوپه اعتباردقبرپه ثواب اوعذاب باور لرواودکيفيت په هکله يې خبرې نه کوؤداځکه چې هغهجلاڑونددی حقيقت دادی چې اسلامي شريعت غيرمعقول شيان نه بيانوي البته داسې شيان څرګندوي چې عقل ورته حيران وي داځکه چې هلته دروح اوجسدارېکه ددنيادژوندپه څېرنه بلکې هغه جلاڑونددی چې هلته په ورتللوسره پرې يوشخص پوهېږي

دقبر دعذاب شمول

بنـــخ شويواونابنـــــخ شـــــويوتولووکړيوته دقبرعـــذاب شـــمولیت لـــري
کځناورواويادسمندرکبانوخوړلی اویاسوځول شوی اویاپه ایروبدل شوی وي عذاب
اوراحـت ورتـه دقبرپـه شـان رسـېږي کـه ديوشـخص مـړی هواتـه پـه ونـه کـې
خوړنداويايونېک انسـان داورپـه کنـده کـې بنـخ کـړی شـي نـو دواړوتـه بـه دعـذاب
اوراحت څخه رسېږي حقیقت دادی چې خاورين موادالله تعالی پیداکړي دي اوالله
تعالی ته تابع دي ځکه چې الله تعالی يې خالق د

په روح اوبدن د قبرعذاب اوراحت

داهل سنت والجماعت دټولوپوهانوپه اتفاق عذاب اوراحت روح اوبدن دواړوته په
برخـه کېـږي پـه همـــدې توګـــه دقبرعـــذاب دايمـــي اومؤقـــت هـــم وي پـــه
کافرانواومنافقانوبه ترقیامته وي البته ددې امت په ګناه ګاروچې ګناه اوجرم يې
لږوي دمؤقت وخت لپاره به وي همدارنګه په دعاګانواوخیراتونوسره هم اسانېږي
اوله مینځه دورمي

دقبردعذاب اسباب اونجات

دقبردعـــذاب اســـباب نـــاپوهي دالهـــي اوامروضـــياع دګناهونواوجرايموســـرته
رسول،چغلي اودتشومتیازوځخه ځان نه ساتل ديدنجات اسباب يې له خوب نه
دمخه له ځان سره محاسبه اوتوبه ده

دقبردعذاب دمنکرينوشبهات

ځينې بې دينـه زنادقـه اوملحـدين دقبرلـه عـذاب څخـه انکـارکوي اووايـي چې
مورقبرپرانسـت نـه موهلتـه ملايکـې وليـدلې اونـه موهلتـه مـاران اولړمـان اونـه
مودارلمبې وليدلې اونه مودقبرپراختیااوتنګستیاوليدله په کوم حالت کې موچې
مړی اینبی ؤپه هماغه بڼه موومونددخودارپه تخته زورندانسان ګوروچې ډېره موده
زورنـدوي نـه مورڅخـه سـوال اوځـواب وليـده اونـه بـل څـه.همدارنګـه
دځناورو،کبانواومرغانوله خواخوړل شوی انسان څخه به څنګه پوښتنې صورت
مومي اوهم يې قبرچېرته دی چې ددوزخ کنده اويادجنت باغچه شي؟

درد دلايل يې

داسلام دښمنوځواکونودغه بې ځایـه پوښتنې اوشـبهات دشـريعت،حس اوعقـل
پربنسټ مـردودې دي داځکـه چـې دقبرعـذاب پـه قرانـي څرګنـدوايـاتونواونبوي

صحیحو متواترو احادیثوسره ثابت دی څرنګه چې دبرزخ نړۍ له غیبوسره اړیکه لري دحسي مادي عالم سره ارتباط نه پیداکوي الله تعالی خوله مؤمنانوڅخه په غیبودایمان غوښتنه کویحقیقت دادی چې دبرزخ احکام په ارواحو دي بدنونه دارواحوتابع وي

دبرزخ نړۍ له دنیاسره فرق لري اوددنیاڅوند دبرزخ له ژوندسره په بشپړه توګه مغایرت لري دقبرعذاب له عقل سره مخالف نه دی تاسوګورئ چې یوشخص دخوب په حال کې څومره لالهانده،ستړی ستومانه اوبه کړاوڅنواخته ده مګربل لورته بیابل شخص هوسا،ارام اوخوشاله وي په یوبستردوه تنه ویده وي مګریوبه کړاڅاوبل په راحت کې وي.دقبرعذاب اونعمتونه ،پراختیااوتنګي یوازې مړۍ احساسولی شي نه نورڅوک همدارنګه دقبراوردنیا داورپه شان نه ده بلکې هغه جلااوردی دانسان دادراک ساحه ډېره محدوده اولږه ده انسان نه هرشی لیدلی شي اونه هر څه اورېدلی شي رسول الله ته وحی کېدله رسول الله صلی الله علیه وسلم اورېدله اواصحابوکرامونه اورېدله(۱)واقعیت دادی چې له زنادقه څاوملحدینوسره له تکذیب اوانکارنه پرته بل څه نشته.

دبرزخ نړۍ

دبرزخ مفهوم: برزخ دحایل اوفاصلې په معناسره دی دبرزخ دنړۍ په هکله ګڼ دلایل موجود دي قران عظیم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې فرمایې

﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ أَحَدَهُمُ ٱلْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ٱرْجِعُونِ ﴿٩٩﴾ ﴾ المؤمنون:

داخلک به له خپلو کړو وړونه لاس وانخلي) تردې پورې چې کله له دوې نه کوم یوه ته مرګ راشي نووبه وائي چې ای زماربه:ماهمغې دنیاته بېرته ولېږه چې زه ورنه راغلی یم،

له پورتني ایات څخه لاندې ټکي څرګندېږي:

الف: دانسان روح یومجردموجود دی پردې اساس له مړینې وروسته له مینځه نه ځي بلکې موجودیت یې دوام پیداکوي.

ب: داچې تراوسه پورې دقیامت لویې علامې نه دي رامینځته شوي پردې اساس داخرت نړۍ لاتراوسه نه دی پیل شوې له دې دواړوټکیوڅخه داخبره معلومېږي

چې انسان روح باید ترمړینې وروسته اوله قیامته مخکې باید په بله دنیاکې وي چې دې ته دبرزخ نړۍ وایي.

برزخي ژونداوجنت

الله جلت عظمته دهغه شخص هیله چې خپلوان یې بایدله وضعیت نه خبرشي داسې اعلانوي هغه ته دجنت دننوتلوامروشودقیامت دورځې دراتلودمخه ددې څخه برزخي جنت مراددی دلته ډیرزیات دلایل موجوددي دهغودجملې څخه قران عظیم الشان فرمایي ﴿ قِيلَ ٱدۡخُلِ ٱلۡجَنَّةَۖ قَالَ يَٰلَيۡتَ قَوۡمِي يَعۡلَمُونَ ٢٦ بِمَا غَفَرَ لِي رَبِّي وَجَعَلَنِي مِنَ ٱلۡمُكۡرَمِينَ ٢٧ ﴾یس: په پای کښې هغو خلکو هغه و واژه او هغه ته وویل شول چې ننوځه جنت ته هغه وویل ((کاشکې زماقوم ته معلومه وای چې زمارب دڅه شي له امله ماته ببښنه وکړه او زه یې په عزتمندو خلکوکښې داخل کړم))

په همدې توګه په بل ځای کې الهي ارشاددی ﴿ ٱلنَّارُ يُعۡرَضُونَ عَلَيۡهَا غُدُوّٗا وَعَشِيّٗاۚ وَيَوۡمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ أَدۡخِلُوٓاْ ءَالَ فِرۡعَوۡنَ أَشَدَّ ٱلۡعَذَابِ ٤٦ ﴾غافر:

د دوزخ اور دی چې هغه ته سهاراومابنام (په عالم برزخ کې) هغوی ته وړاندې کولی شي،اوکله چې دقیامت ساعت راشي نو امربه وشي چې آل فرعون ډېر سخت عذاب ته ورننباسئ.

الله تعالی په دغوایاتونوکې دغه مطلب څرګندوي چې دفرعونیانوتعذیب به دقیامت له راتلونه مخکې سرته رسېږي دلته برزخي دوزخ مراد دی په همدې توګه ګڼ ایاتونه اونبوي احادیث دبرزخي عذاب په واقع کېدودلالت کوي دقبرعذاب هماغه برزخي عذاب یومنل شوی قطعي اوغوڅ حقیقت دی چې هېڅ تردید شک اوشبهه په کې شتون نه لري

دارواګانوځایونه

دپیغمبرانوارواګاني په اعلی علیین دجنت په لوړمقام کې دي لکه دمعراج په شپه چې پیغمبرعلیه السلام له هغوی سره ملاقات کړی وٗځینې ارواګاني لکه دٗځینوشهیدانودشنومرغانوپه جوجوروکې په جنت کې الوتنې کویٗځینې نورې ارواګاني به دجنت په دروازه کې زنداني وي په یوبل حدیث کې راغلي دي(رایتُ صاحبکم محبوساًعلی باب الجنة)یعنې ستاسې ملګری مې دجنت په دروازه کې بندکړی شوی ولیدٗځینې نورې ارواګاني دي چې هغوی په خپلوقبرونوکې زنداني وي لکه دهغه

اصحابي پېښه چې دغنيمتونو دوېش څخه مخکې يې يوځاى درپټ کړى ؤاوبيا په شهادت
ورسېد خلکو وويل چې جنت دې ورته مبارک وي پيغمبر عليه السلام وفرمايل زمادې په
هغه ذات سوګند وي چې زما ځان دهغه په واک کې دى هغه دغنيمت څادر چې له وېش نه
مخکې يې پټ کړى ؤاوس يې په قبر کې داورد پارچې په شان کلک نيولى دى
دشهيد انوار واګانې په نوراني قفسونو کې دجنت دد روازو دشنو ګمبزو لپاسه اوسېږي
سبا اوبېګاه هغوى ته روزي له جنت څخه رسېږي البته دحضرت جعفر بن ابى طالب حالت
په جنت کې بل شان دى الله تعالى ورته دد وو لاسونو پرځاى دوه وزرونه ورکړي دي چې
دجنت کومې برخې ته وغواړي هغه ځاى ته الوتنه کولاى شي. ځينې نورې ارواګانې په
ځمکه کې زنداني وي اوپورته نړۍ ته نه شي تللاى هغه دځمکې ذليلې اوخوارې
ارواګانې دي ذليله اوخوارې ارواګانې اوسېښلې پاکې ارواګانې په يوځاى کې نه شي
اوسېدلاى ځکه چې دوى په دنيا کې هم سره جلاوې هغه په غفلت اوناپوهۍ کې اخته
ارواګانې چې له الله تعالى سره يې دمحبت، دوستۍ مينې اومحبت اړيکه نه درلوده په
همدې توګه په ځمکه کې په ذلت اوخوارۍ کې پاتې شوې له بدن څخه دجلاتوب نه
وروسته همدلته په ځمکه کې تم پاتې کېږي اسماني سېښلې ارواګانې لکه څنګه چې په
نړۍ کې دالله په محبت اومينه مستې وې تل به يې دالله ذکر کاؤله بدن څخه دجلاوالي
وروسته له اسماني پاکو اوسېښلو ارواګانو سره يوځاى شوې انسان به په قيامت اوبرزخ
کې له هغه چاسره يوځاى وي چې مينه ورسره لري الله تعالى پاکې اوسېښلې ارواګانې
يوتربله سره يوځاى کوي اوهلته يوځاى په خپله اصلي بڼه په پاکه فضاکې له
خپلوملګروسره يوځاى اوسېږي

ځينې نورې ارواګانې لکه دزناکارو خلکو داورپه تنورونو کې سوځېږي اوځينې نورې
بيا دد وزخيانو دوينو په ويالو کې لامبو وهي پاکې اونېکمرغه ارواګانې اوناپاکه خبيثې
بدبخته ارواګانې يوځاى سره نه شي اوسېدلاى.

کله هم چې په دغه موضوع کې پلټنه اودلايل يې ولټول شي دلايل به يې ومومې دلته
دصحيحو احاديثو په مينځ کې دتکرپوښتنه نه راولاړېږي دغه روايات يوبل تائيدوي
البته زيات اهتمام بايد دروح پېژندنې اودهغې احکاموته وشي اوپردې بايد سړى پوه شي
چې دروح شان اومقام له جسم سره تفاوت لري روح په عين شکل چې په جنت کې ده په
اسمان کې هم ده اوله خپل قبرسره تړاؤ هم لري دانتقال تېزوالى دپورته اوښکته
تللو خوښت اوځاى پرځاى کېدل يې له هرشي څخه زيات تيزدي اوپه
دوو ډولونو زاداوزنداني اويا په اسماني اوځمکنې روح وېشل کېږي له بدن څخه
دجلاتوب نه وروسته دسلامتيا، رنځ، خوند، نازاونعمت اودردسره تردې پورې چې

ددنیادژوندانه څخه زیات مخامخ کېږي هلته هم زندان دردتکلیف،رنځ اوافسوس وجودلري اوهم خوند ،لذت،اسانتیا،رفاه اوازادي.
په بدن کې روح زیات شباهت له هغه ماشوم سره ده چې دمورپه خیټه کې وي اودغې نړۍ ته راتلونکی وي دغه اروا ګاني څلورګونې درجې لري اوهره یوه یې له مخکینې پړاؤ څخه لویه وي.

دانسان دژوند پړاوونه

لومړی پړاؤ:دجنین په بڼه دمورخیټه ده چې ډیره تنګه اوپه درې تیارو کې نغښتی دی

دویم پړاؤیې:دځمکې پراخه اوارته نړۍ ده چې دلته رشد کوي اوپالنه مومي اودلته دخیراوشردنیکمرغۍ اوبدمرغۍ اسباب په خپله انتخابوي.

درییم پړاؤ:دبرزخ نړۍ ده چې له دغې مادي نړۍ څخه ډېره پراخه اولویه ده مادي نړۍ ته یې دحجم نسبت داسې مثال لري لکه دمورخیټه اوارته نړۍ.

څلورم پړاؤ:قیامت دی چې هغه له جنت اودوزخ څخه عبادت دی چې له هغه وروسته بیا بل پړاؤوجودنه لري الله تعالی جل شانه اروا ګانې له دغو پړاؤنو څخه یوبل ته انتقالوي دغه پړاؤنه هریو ځانګړی شان اوحکم لري چې په بل پړاؤ کې متصورنه دی

په بشری ژونددمرګ یادولواغېزې

څوک چې مرګ ډېریادوي الله تعالی به درې شیان ورپه برخه کړي(۱) ژرتوبه (۲) دزړه قناعت (۳) په عبادت کې نشاط اوفعالیت ددې پرعکس چې څوک مرګ هېرکړي په درې بدمرغیو به اخته کړی شي ۱ – دتوبې ځنډبدل ۲ :په کفاف(سراوبر ژوندم نه خوښي ۳ : په عبادت کې تکاسل اوسستي

له عبدالله بن عمررضی الله عنه څخه روایت دی وایي چې زه درسول الله صلی الله علیه وسلم سره ناست وم چې دانصارو یوتن راغی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې سلام وکړویې ویل ای دالله رسوله!

په مئومنانوکې څوک ډېرغوره دی؟رسول الله صلی الله علیه وسلم ځواب ورکړ هغه څوک چې دښواخلاقوڅښتن وي بیایې ورڅخه پوښتنه وکړه کوم یو مسلمان ډېر هوښیاردی؟په ځواب کې یې ورته وویل څوک چې مرګ ډېر یادوي اودمرګ نه وروسته ژوند لپاره ښه تیاری کوي همدغه خلک هوښیار وګړي دي.په همدې توګه په بل روایت کې راغلي دي ابی هریره رضی الله عنه دحدیث راوي دي پیغمبرصلی الله علیه وسلم فرمایي:هغه شی چې ژوندخوند ونه تو ته کوي هغه ډېر یادوئ چې له مرګ څخه عبارت دی

پردې اساس مئومن مسلمان له مرګ نه عبرت اخلي دالهي احکاموپه تطبیق التزام کوي په هره وړه اولویه خبره کې الله جل شانه خپل مراقب اخارونکی بولي

روح دالهي مخلوق پټ رازدی له الله تعالی نه پرته پري هېڅوک نه پوهېږي دروح په هکله باید دومره ووایوچې په ټول بدن کې ځای لري دروح له امله بدن خوځښت لري په همدې توګه پوهه،ذکاوت،اراده اختیارمینه اومحبت بغض اوعداوت دروح له امله دی له بدن په وتلوبدن په حابدې مادې بدلون مومي مسلمان پوهان روح داسې راپېژني:روح له مادي اجساموڅخه جلاژوندی نورانی مخلوق دلوړعالم سره اړیکه لري وېش اوتجربه نه مني په نبات کې داوبودذراتوپه شان په ټول بدن کې شتون هغه ته تازه ګي اواستحکام په برخه کوي

- په قران کریم کې دجسم اوروح مجموعې ته انسان ویل کېږي دمورپه

خېټه کې ترڅلورومیاشتووروسته دملایکې په وسیله په ماشوم کې اچول کېږي انساني جسم مادي دی پایښت یې ترڅمکنیواشیاؤپورې مربوط دی لیکن روح اسماني مخلوق دی پالنه یې په سماني وحی سره صورت نیسي انساني اوحیواني روح سره فرق لري حیواني روح دوینې جریان دی چې په ټول ژندکې شتون لري مګرانساني روح جلاشی دی یوازې په انسانانوکې وي اودقبض لپاره ملایکې رادرومي دحیواناتوداروا حوداخیستلولپاره ملایکې نه راځي۔

- دروح اوجسدمجموعې ته انسان ویل کېږي دنفس اطلاق په روح هم

کېږي دنفس ډولونه:داهل سنت دعلماؤ دڅېړنې پربنسټ انساني نفس یودی صفات یې جلادي اوپه دري ډولونووېشل کېږي

۱- اماره نفس ۲- لوامه نفس ۳- مطمئنه نفس

- مخلوق په څلورډوله دی چې عقل اوپوهه لري مګرشهوت نه لکه

ملایکې،له عقل اوپوهې نه محروم مګرشهوت لري لکه څاروي چې نه عقل لري اونه پوهه اوشهوت اوزوجي تکثرلکه جامدات اومایعات چې هم عقل لري اوهم شهوت لکه انسان دروح دمرتبې حیثیت داسې بیان شوی دجسم مثال دمملکت

اودروح مثال دحکمران دی چې حکمران سم نومملکت به پر مختللی وي

دروح مړینه: روح له جسم نه په وتلومرګ څکي مرګ په بشپړه فنانه محکومېږي دارواحوله جسدونوڅخه په وتلوسره سرته رسېږي چې دغه دمرګ په څکلوسره تعبیرشوی روح له مرګه وروسته هم په عذاب اویانعمتونوکې وي

- دمرګ سبب دژوندد نېټې پای ته رسېدل دي نوپردې اساس دمعتول

مرګ داجل پراساس دی قاتل یې یوازې سبب وګرزېد

- مرګ ناڅاپه راځي هېڅوک په مرګ نه پوهېږي ددې علم الله نه بل

چاته په برخه نه دی

- روح ملک الموت اخلي اودبرزخ نړۍ ته یې انتقالوي
- له مرګه وروسته روح دوه پړاوه وهي چې لومړي ته یې دبرزخ اودویم

ته داخرت نړۍ وایې په برزخ کې روح اوجسدسره جلاوي مګرپه اخرت کې روح اوجسددواړه سره یوځای کېږي

- په قبرکې دمړي ترا ېښودلووروسته روح ببرته جسدته راګرزي اوپه

قبرکې دملایکوسوال اوځواب صورت نیسي اوهغه داچې ستارب څوک ستادین څه ؤاوستاپېغمبرڅوک دی؟

- دقبرعذاب اوبووړي، اودسوزولي کبانواوځناورخوړلي تولوته شامل

دی دټولوعلماؤپه اتفاق عذاب اوراحت روح اوبدن دواړوته شامل دی

- برزخ په لغت کې حایل ته وایې ددنیااواخرت دژوندترمینځ

جلاژوندد ی برزخي جنت اودوزخ دواړه په قران ثابت دي

- دپېغمبرانوارواګانې دجنت په اعلی علیین

اودشهیدانودشنومرغانوپه جوجوروکې په جنت کې الوتنې کوي ځینې ارواګانې دې چې دلته په قبرکې زنداني وي ځینې خواري ارواګانې له بدن نه ترجلاتوب وروسته همدلته په ځمکه کې تم پاتې کېږي دالله تعالی په مینه مست اودسپېځلوخلکوارواګانې به له اسماني سپېځلوارواګانوسره یوځای وي ځینې نورې ارواګانې لکه دزناکاروخلکوبه داورپه تنوروکې سوځېږي اوځینې نورې به ددوزخیانودوینوپه ویالوکې لامبووهي

- دانسان دژوندیوپراؤ دمورپه خېټه کې ده دویم یې دنیا کې دریم یې

برزخ کې څلورم یې په قیامت کې چې هلته بیامرګ نشته په بشري ژوددمرګ یادول ستري اغیزې لري لکه ژرتوبه دزړه قناعت په عبادت کې نشاط ددې پرعکس چې څوک مرګ هېرکړي په دې بدبختیوبه اخته شي لکه دتوبې ځنډېدل په کفاف ژوندناخوښي په عبادت کې تکاسل اوسستي

دڅوارلسم څپرکي پوښتنې

۱- روح راوپېژنئ اوهم یې په هکله قراني ایات ولیکئ
۲- دنفس ډولونه شرحه کړئ
۳- دمخلوقاتوډولونه وڅېړئ
۴- دروح مرتبه وښایاست ؟
۵- دمرګ سبب ولیکئ
۶- دقبرسوال اوځواب شرح کړئ
۷- دقبردعذاب په هکله تفصیلي معلومات ولیکئ
۸- دقبردعذاب دمنکرینودشهادت اودردلایل یې ولیکئ
۹- دبرزخ نړۍ شرحه اوهم برزخي جنت اودوزخ په قران کریم ثابت کړئ
۱۰- دارواګانوځایونه شرحه کړئ
۱۱- دانسان دژوندپراؤنه ولیکئ ۱۲ په بشري ژوند دمرګ یادولواغیزې ولیکئ

د پنځلسم څپرکي دموضوعاتو فهرست

لړليک

- **په اخرت ایمان**
- سریزه
- داخرت دورځې پېژندنه
- داخرت په ورځې دایمان مفهوم
- اخرت په ورځ دایمان اهمیت ،
- داخرت دورځې نومونه
- دقیامت درامینځته کېدو ضرورت او اړتیا
  داخرت په هکله داسلام تصور
- داخرت په اړه دماده پالو نظریات او عملی تنقید
- دقیامت سا ینسي او عقلي ثبوت
- په اخرت دایمان تقاضا
- په بشری ژوند داخرت په ورځ دایمان اغیزې
- دقیامت نښې ،

پنځلسم څپرکی

په اخرت ایمان

سریزه

ژوند خو یوازې دهمدې د نیا ژوند نه بلکې له مرګه وروسته بیا همېشه ژوند پیلېږي چې ترهغه وروسته به چاته هم مرګ په برخه نه شي دغه ژوند به یادایمان اونېکواعمالولـــه املـــه دعـــیش اوارام ژوند اویابـــه دکفراوبدواعمالولـــه کبلـــه دغمونواوکړاوونوژوندوي همدغه باوراویقین ته داخرت عقیده وایي

دنړی دموجوده نظام دورانېدوپیل به داسرافیل دشپېلی دپوکي څخه وکړای شي ټول کاینات به ګډوډځمکه به ډېرسخت ټکانونه وخوري لمراوسپوږمی به په ټکر،ستوري به تت اوخپاره شي غرونه به ډډانده س شویوورېږوپه څېرشي اوبه به اورواخلې دځمکې ژوي به ټول مړه شي بیابه دالله تعالی په حکم دویم ځل شپېلی پوکړای شي قبرونه به وچوي اوټول مړه شوي انسانان به دادم علیه السلام له وخته تر قیا مته دوباره را ژوند ي کړی شي اودخپلوقبرونو څخه به رااوچت اودحشر په میدان کې به راغونډاودالله جلت عظمته پرورانديې به ودرېږي داژوندبه همېشه ژوندوي دابه ډېره وېرووونکې ورځ وي دخلکوزړونه به له وېرې لړزېږي اوهریوبه خپل انجام ته منتظروي،ټول انسانان به دحشر په میدان دالله جل جلاله پرورانديې راټول په دغه ورځ به یوازې دده حکومت وي هېڅاته به دساه وېستلومجال نه وي دهغه له اجازې پرته به چاته دخولې پرانستلوهمت نه وي الله جل جلاله به دخپل علم حکمت اوانصاف پربنسټ له هرچانه جلاجلادټول ژوند حساب واخلي انسان ته به دخپلو عملونواسنادپه لاس ورکول کېږي دهغه ټول اعمال به ورته مجسم شي دهغه اندا مو نه به پر هغه ګواهي ورکوي اوحساب به ورسره وشي له هېڅاسره به ظلم ونه کړی شي نېکوخلکوته به په ښي لاس اومجرمانوته به په کین لاس عملنامې ورکړی شي ښي لاسي به کامیاب اوکین لاسي به ناکام اونامرادوي دېرې مینډونکوڅېرې به له خوشالی ځلېږي اونامراده خلک به تورمخي اوله غمه ډک وي نېکان به جنت ته اوبدخلک به دوزخ ته بیول کېږي خوګنهګارمئومنان به له دوزخ څخه ترتاکلې مودې وروسته راو ېستل کېږي اوجنت ته به بیول کېږي

داخرت دورځې پېژند نه

دغه دقیامت له ورځې څخه عبارت ده هلته چې ترمړ ینې وروسته به انسانان دحساب اوجزاء لپاره له قبر ونوراپاځولی شي اودرب العالمین پروړاندې به دربرې دغې ورځې ته داخرت ورځ هم وایي ځکه چې له دې نه وروسته بله ورځ نشته تردې وروسته به جنتیان جنت ته اودوزخیان به دوزخ ته ځي.

په اخرت دایمان مفهوم

په اخرت ایمان ددغې ورځې اړوندوچاروته شمولیت لري لکه کو چنی اولویې ننبې، دقبرعذاب او راحت داسرافیل شپېلی، له قبرونودخلکوراوچتېدل، حساب اوجزادقیامت هولناکه منظر، دمحشرتفصیل، دعملناموخپرېدل، دمیزان دتلې تېنګښت، دصراط پول دکوثر حوض، شفاعت، جنت اودوزخ.

په اخرت دایمان اهمیت

داخرت په ورځ باوردایمان دارکانو دجملې څخه ده داخرت په ورځ ایمان ستر اهمیت لري دقران عظیم الشان په ډې و ځایونوکې په الله جل جلاله دایمان تر څنګ یې ذکرشوی دایمان دشپږ ګونو اساساتو دجملې څخه ده دهغوستروموضوعاتو له جملې نه چې په قران عظیم الشان کې ترهرځه نه زیات وروانديې بحث شوی اوزیات دلایل پرې وړاندې شوي اومشرکینوپې په هکله ترټولوزیات اعتراضات اوپوښتنې کړي اوهغه یې ناشونی ګڼلی هغه په اخرت دایمان موضوع ده په مکي سورتونوکې په همدغې مسئلی بحث شوی دمکې قریشوته داخبره اسانه وه چې الله تعالی ومني خوددې خبرې منل ورته سخت وچې ددې عالم موجوده نظم به پای ته ورسېږي پس له هغه چې انسان ومري اودهغه هډوکي وراسته شي هغه به بېرته راژوندی کېږي؟داخبره هغوی ته دمنلووړنه معلومېده په همدې توګه دغه ورځ دسترشان له املهډ ېرنومونه لري

داخرت دورځې نومونه

ځینوعلماء وداخرت دورځې ګڼ نومونه ذکرکړي دي موږدلته دقیامت مشهورنومونه ذکرکوؤ

۱ – الساعة:

۲ – یوم القیامة: دودرېدلو ورځ

۳ – یوم الوعید: دعذاب ورځ

۴ – یوم الدین :دجز اورځ
۵ : یوم الحسرة دافسوس ورځ
۶ – الدارالاخرة : داخرت کور
۷ – یوم التناد :یوبل ته دچینعیو ورځ
۸ : یوم الحمج :دجموکېدوورځ
۹ : دفیصل : دفیصلې ورځ
۱۰ – یوم الحساب ورځ
۱۱ – یوم الخلود :دهمېشه والی ورځ
۱۲ – یوم الخروج : دراوتلو ورځ
۱۳ یوم التغابن:دتاوان ورځ
۱۴ یوم التلاق:دملاقات ورځ
۱۵ – یوم الازفة:نېژدې ورځ
۱۶ – الواقعة :
۱۷ – الحاقة :رینبتینې ورځ
۱۸ – القارعة :تکوونکې ورځ
۱۹ – الطامة الکبری
۲۰ : الصاخة کنوونکې ورځ
۲۱ – یوم البعث :له قبرونو
۲۲ – الغاشیة: پټونکې ورځ

دقیامت درامینځته کېدو دلایل

قران عظیم الشان یوازې دقیامت په امکان اکتفاء نه دی کړې بلکې په دېروایاتونوکې یې دهغې په وقوع تاکید کړی دی اسلامی پوهانوددې بېلابېل دلایل بیان کړي دي.

- **لومړی دحکمت دلیل**

داچې دالله تعالی څخه هېڅکله ببهوده اوبابېزه فعل نه صادرېږي نودانسان پیدا ینښت دیوستر هدف لپاره ده دانسان دژوندنهائي هدف دادی چې خپل همېشنې کمال ته ورسېږي ددغه هدف تحقق داخرت دژوندون نه پرته امکان نه

درلوداوهغه داچې هلته تل ترتله واوسېږي قران عظيم الشان دانسان دژوند حکمت ته داسې اشاره کوي ﴿ أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَٰكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ ﴿١١٥﴾ ﴾ المومنون: ژباړه:ایاتاسې انګېرلې وه چې مونږتاسې بابېزه پیداکړي یاست او زمونږلوري ته ستاسې هېڅکله راګرځېدل نشته؟په بل ځای کې ارشاددی ﴿ وَمَا خَلَقْنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لَٰعِبِينَ ﴿٣٨﴾ ﴾ الدخان: ژباړه:دغه اسمانونه اوځمکه اوددوی ترمینځه شیان مونږد لوبو لپاره نه دي پیداکړي

- **دویم دعدالت دلیل**

الله تعالی عادل دی اودظلم صدورورځخه ممکن نه برېښي دالله تعالی عدالت ددې غوښتنه کوي چې نېکوکارانواوبدکارانوته خپل ثواب اوعذاب ورکړي داچې دنیوی ژوندد ثوابونواوعذابونولږظر فیت لري تول انسانان دخپلواعمالوسزاپه دې نړۍ کې نه ګوري نوپرهمدې اساس الهي عدالت ددې غوښتنه کوي چې بله نړۍ دې اوسي اوهلته دې نېکوکارانواوبدکاروته خپله بدله ورکړی شي قران عظیم الشان فرمایي ﴿ أَمْ حَسِبَ ٱلَّذِينَ ٱجْتَرَحُوا۟ ٱلسَّيِّـَٔاتِ أَن نَّجْعَلَهُمْ كَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَوَآءً مَّحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ ۚ سَآءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴿٢١﴾ ﴾ الجاثیة: ژباړه: ایاهغه کسانو چې هغوی دبدی مرتکب شویدي داانګېرلې ده چې مونږبه هغوی اوایمان راوړونکي اونیک عمل کوونکي سره برابرکړوچې دهغوژونداومرګ یوشانته شي؟ډېره ناوړه فیصله ده چې دوی یې صادروي.

په بل ځای کې داسې ارشاد دی ﴿ وَخَلَقَ ٱللَّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ بِٱلْحَقِّ وَلِتُجْزَىٰ كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٢٢﴾

﴿ الجاثية. ژباړه: الله خو اسمانونه او ځمکه په حقه پیدا کړیدي اوددې لپاره یې کړیدي چې هرچاته دهغه دکړنو بدله ورکړه شي پرخلکو به هیڅکله ظلم ونه شي

داخرت په هکله داسلام تصور

۱: انساني ژوند په اصل کې داخروي ژوند یوه مقدمه اوسریزه ده دغه ژوند لږ اومؤقتي مګر اخرت تل ترتله اوهمېشه دغه ژوند نیمګړی اوهغه کامل دی دټولو اعمالو پشپړ نتایج په دې عارضي اولږ ژوند کې هېچاته نه په برخه کېږي بلکې ددغه لږ ژوند دحقیقي نتایجو ثمرات به په اخروي ژوند کې څرګند ېږي

۲ – څرنګه چې په نړۍ کې هرشی عمرلري چې په نتیجه کې به له مینځه ولاړشي په همدې توګه دغه ټول نظام هم عمرلري چې په پای ته رسېدلوسره به یې وروسته بل نظام اوبله نړۍ رامینځته شي چې د هغې طبیعي قوانین به ددې او سني نظام سره بشپړ تفاوت ولري.

۳ – ددغه موجوده نظام تر ړنګېدو اودانسان ددوباره ژوندنه وروسته به دانصاف اوعدل یوه ستره محکمه قایمه کړی شي چې هلته به دانسان دهرعمل محاسبه کېږي اودخپل ځښتن پروړاندې به حاضر ېږي اودښو اوبدو اعمالو سزا به هرچاته ورکول کېږي

داخرت په اړه دماده پالو په نظریاتو علمي نیوکه

په انسانانو کې یو دماتریالستانو ټولګی دی هغوی نه دکاینا تو خالق منې اونه داخرت نړۍ هغوی پردې باور لري چې ماده ازلي اوتل ترتله ده په مرینې سره دانسان هرڅه پای ته رسېږي دوباره ژوندون له سره شتون نه لري

حقیقت دادی چې دوی یوازې په خپلو حواسو اعتماد کوي اووایي چې داخرت نړۍ موږ محسوس کړې نه ده نوله سره نشته، دغه فکر سراسر ناسم ځکه دی چې ددې برخې مګر ستر ګې یې نه محسوسوي دمثال په توګه دمادې الیکتروني

خو ځښت، دځمکې جاذبه، مقناطیسي قوه، دغه ارته لویه نړۍ چې دانسان له احاطې بهرون ده یوواقعیت دی په همدې توګه دمرګ اوژوندپه اړه په حواسواعتمادکول معقول کارنه بربښي ځکه موږ سره داسې سترګې نشته چې دمرګ له پولې اخوانړۍ پرې ووینوله دې وروسته دنړۍ په موجوده نظام دنه زوال حکم پردې اساس لګول چې موږیې ورانی نه دی لیدلی داخبره دې ته ورته دی چې یوڅوک ووایې دغه تعمیربه تل تر تله وي ځکه چې مایې رنګبدل نه دي لیدلي ایادعقل پربنسټ دغه استدلال صحت لري؟نه هېڅکله

دله مرګه وروسته ژوندقضیه یوازې عقلی اوفلسفي مسئله نه ده بلکې زموږله عملي ژوندسره یې ژوره اړیکه ده زموږداخلاقي اوتمدني ژوندټول انحصارپه همدغې مسئلې پورې تړلی دی ځکه چې یوڅوک پردې باوري وي چې هرڅه دي په همدغه ژوندپورې اړوندي له مرګه وروسته ژوندله سره شتون نه لري ددغسې شخص اخلاقي اوعملي کړنلاره له هغه انسان څخه تفاوت لري چې یوڅوک داخرت په سوال او ځواب باوري وي دغه حقیقت دیومثال په ترڅ کې څرګندوو.

دوه تنه ترکندهاره دسفرپروګرام جوړوي یوشخص پردې باوري دی چې کندهارته په رسېدوسره به زماسفرنه یوازې پای ته رسېږي بلکې دهغه ځای دپولیسواومحکمې څخه ازادیم ددە پرعکس دویم شخص پو هېږي چې ترکندهاره تلل یوازې دسفریو پراؤدی زه داسې سیمې ته روان یم چې ددې ځای اودهغه ځای بادشاه یودی دهغه په دفترکې زمادټولوکړووړوریکارډموجوددی تاسوپه خپله ووایاست چې ددې دواړواشخاصوپه اعمالوکې به څو مره لوی بېلتون موجودوي.

دماده پال اومئومن انسان په سیرت اواخلاقوکې لوی امتیازوي ماده پرست انسان مایوسه اوپست همته شخص وي دشریرواوظالموانسانانوپه بنه ژوندسرته رسوي دشهوت،شهرت اوځان پالنې په احساس ژوندکوي ددە پرعکس په اخرت باوري انسان مسؤلانه ژوندلري اودخرت لپاره په تیاري کولوبوخت وي دژوندستره اسره یې بشرته خیررسول دالله تعالی رضااودجنت حصول وي

دقیامت ساینسي او عقلي ثبوت

لمرتراوسه دخپلوهستوی تعاملاتوپه نتیجه کې ځلېږي دلمرزیاته برخه دهیلیم اوهایدروجن غازونه دي اودواړه دهستوي تعاملاتو په نتیجه کې دځلاواودلمردژوندلامل ګرزېدلي دي هیلیم په ډېرسرعت سره دلمرهستې ته

داخلېږي دلمرهسته چې له هايدروجن څخه ډکه ده په هماغه اندازه هايدروجن له هستې څخه ډوزي اوپه هيليم بدلېږي چې په پای کې نور، انرژي اوتودوخه توليدوي لمرد دوودلايلوپراساس تراوسه څلېږي

۱ -که چېرې په لمرکې هستوي ځواک اوجاذبه قوه شتون ونه لري لمربه دهايدروجن دبم په څېروچوي

۲ - که چېرې په لمرکې هستوي تعاملات نه وي لمربه په داخل کې رنګ او پای ته به ورسېږي.

هستوي تعاملات به ترهغه په لمرکې جاري وي چې هايدروجن دلمرپه هسته کې په بشپړه اندازه مو جوداوسي په داسې حال کې چې لمرپه هره ثانيه کې ۷۰۰ مليونه تنه هايدروجن له لاسه ورکوي چې په نتيجه کې نور، تودوخه اوانرژي توليدوي داچې په يوه دقيقه، ساعت اوورځ کې دهايدروجن څومره اندازه ضايع کېږي تاسويې په پخپله حساب وکړئ تراوسه ۳۷ بر خې په سلو کې دلمرهايدروجن ضايع شوی هرکله چې دهايدروجن زياته برخه ضايع شي دلمريزنظام بربادي به پيل کړی شي.

له يوې تاکلې اوږدې مودې وروسته به دلمردهستې دهايدروجن زياته برخه په هيليم بدله شي اودلمرپه هستوي تعاملاتوکې به ډېرلوی خلل رامينځته شې په دغه مهال لمردهايدروجن له کمبودسره مخامخ کېږي هيليم په ډېرسرعت سره دلمرهستې ته تنوزي اوپه ډېرسرعت سره به راؤزي نورنوهيليم له هايدروجن څخه پرته هستوي تعاملات له لاسه ورکوي جاذبه قوه زياتېږي لمرپه ډېرشدت اوسرعت دخپلې هستې په داخل کې نړېږي(solarcollaps)دلمر نړېدابه دومره قوي سريع انفجاروي چې نورې سيارې به هم له تزلزل سره مخ کړی دلمرنورې سيارې له خپل مدارڅخه بېځايه کېږي اوفراربه وکړي دهيليم سريع حرکت ددې باعث ګرزي چې دلمرتودوخه زياته شي دهرې شيبې په تېرېدوسره دلمرتودوخه زياتېږي اوپه ځمکه کې دژوندانه شرايط له مينځه ځي دګرمۍ دزيات والي له کبله دجنوبي اوشمالي قطب يخچالي برخه اوبه کېږي اوداوبوسطحه لوړتياومومي اووچې ته مخه کوي دسمندرساحلي برخې اوبه لاندې کوي قران عظيم الشان دغه مطلب داسې روښانه

کوي ﴿ وَإِذَا ٱلۡبِحَارُ فُجِّرَتۡ ﴿٣﴾ ﴾ الانفطار: ژباړه: اوکله چې سمندرونه وشلېږي

په دغه مهال دلمر حجم زیاتېږي اوسورنګ به لري دځمکې فضاء به هم سوررنګ پیداکوي اودزیاتې تودوخې له امله به چاودنې پیل شي قران عظیم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې داسې فرمایي ﴿ يُرۡسَلُ عَلَيۡكُمَا شُوَاظٞ مِّن نَّارٖ وَنُحَاسٞ فَلَا تَنتَصِرَانِ ﴿٣٥﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٣٦﴾ فَإِذَا ٱنشَقَّتِ ٱلسَّمَآءُ فَكَانَتۡ وَرۡدَةٗ كَٱلدِّهَانِ ﴿٣٧﴾ ﴾

الرحمن: ژباړه: کله دتېښتې هڅه وکړئ نوپرتاسې به داورشُغلې اولوګې خوشې کړای شي چې تاسې به دهغومقابله ونکړای شئ.ای پیریانو اوانسانانوتاسې به دخپل رب کوم کوم نعمتونه (قدرتونه) درواغ وګڼئ نو(څه به جوړشي په هغه وخت کښې)کله چې اسمان وچوي اودسړې څرمنې غوندې سورشي؟

دزیاتې تودوخې له امله دځمکې ترپوښ اوغرونولاندې اورغورځوڼکي برخه دومره ګرمېږي چې دهغې دبخارفشارځمکه چوي اوډېرې سختې زلزلې پیلېږي قران عظیم الشان دغه مطلب داسې بیا نوي ﴿ إِذَا زُلۡزِلَتِ ٱلۡأَرۡضُ زِلۡزَالَهَا ﴿١﴾ ﴾ الزلزلة: ژباړه: کله چې ځمکه په خپل ټول قوت سره وخوځوله شي

په دغه وخت کې دلمرجاذبه قوه زیاتېږي په سمندونوکې ډېرې لویې څپې رامینځته کېږي دلمرتودوخه دومره لوړېږي چې دځمکې دمخ ټول ځنګلونه سوزي اودځمکې په هره برخه کې چاودنې رامینځته کېږي قران عظیم الشان دغه مطلب داسې روښانه کوي ﴿ يَوۡمَ تَرۡجُفُ ٱلۡأَرۡضُ وَٱلۡجِبَالُ وَكَانَتِ ٱلۡجِبَالُ كَثِيبٗا مَّهِيلًا ﴿١٤﴾ ﴾ المزمل: ژباړه: دابه هغه ورځ وی چې ځمکه اوغرونه ولرزېږي اودغرونو حالت داسې شي لکه دشګو ډېره چې خورېږي

په بل ځای کې داسې ارشاد دی ﴿ ٱلْقَارِعَةُ ۝١ ﴾ القارعة ژباړه: هغه ستره پېښه !

اوس دلتـــه داپوښـــتنه راولاړېـــږي چـــې مـــوږولې پـــه ځمکـــه کـــې دلمردانفجاراتواوچاودونوغږنه اورو؟ځواب يې څرګنددی اوهغه داچې دفضاهغه برخه چې له ګازونوخالي ده هغه خلابلل کېږي له خلا څخه نور،تودوخه اوانرژي په ډېرې اسانتیاسره عبورکوي البته ددې پرعکس اوازله خلاځخه نه تېرېږي دزمکې اولمرترمینځ ډېره لویه خلاموجوده ده دلمردچاودونواوازونه همدلته توقف اوبېرته دلمرپه لوري ورګرزي کـه چېرې فضـانه وای دلمرهولناکوچاودنوبـه ځمکـه دومـره لرزولې وای چې دغرونولو ړې څوکې به رانړېد لې وای

هلته قیامت ته نېژدې دلمردانسباط اودزیات لمریزطوفان solar wind لـه املـه بـه دغه خلاله مینځه ولاړه شي عطارد ،لمرته نېژدې سیاره به دلمرداخل ته ولاړه شي په پـای کـې بـه سـپوږمی هـم دلمرخېټې تـه ورننـو زي قـران عظـیم الشـان دغـه منظرداسې بیـا نـوي ﴿ فَإِذَا بَرِقَ ٱلْبَصَرُ ۝٧ وَخَسَفَ ٱلْقَمَرُ ۝٨ وَجُمِعَ ٱلشَّمْسُ وَٱلْقَمَرُ ۝٩ يَقُولُ ٱلْإِنسَٰنُ يَوْمَئِذٍ أَيْنَ ٱلْمَفَرُّ ۝١٠ ﴾ القيامة بیاکله چې سترګې تیغې وخېژی اوسپوږمی بې نوره شی اولمراو سپوږمی یوځای کړای شی په هغه وخت کښې به همدغه انسان ووائی ((چیرته وتښتم ؟))

په دغـه مهـال بـه دځمکـې اوبـه اورواخلـي قـران عظـیم الشـان فرمـایي ﴿ وَإِذَا ٱلْبِحَارُ سُجِّرَتْ ۝٦ ﴾ التكوير ژباړه: اوکله چې سمندرلمبه کړل شي دتودوخې درجه بـه دوه زره څلـه زیـات والـی ومـومي پدغسـې تودوخـه کـې غرونـه ویلې کېږي اودسیلاب پـه بڼـه حرکـت کـوي قـران عظـیم الشـان دغـه مطلـب داسـی بیانوی ﴿ وَإِذَا ٱلْجِبَالُ سُيِّرَتْ ۝٣ ﴾ التكوير ژباړه:اوکله چې غرونـه وخوځـول شي

په دغه وخت کې لمردومره لـوئېږي چې دځمکې دفضـازیاته برخـه نیسـي نورنو هیلیم دهستو ي تعـاملاتو ځواک لـه هایدروجن نـه پرتـه لـه لاسـه ورکـوي

د دبه قوه زياتېږي اولمړيه ډېرشدت اوچتکتياسره دخپلې هستې په لورنږېږي
ددغه سترانفجارنه وروسته نورې سيارې له خپل مدارنه ببخايه کېږي قران

عظيم الشان دغه مطلب داسې بيانوي ﴿ وَإِذَا ٱلْكَوَاكِبُ ٱنتَثَرَتْ ﴿٢﴾ ﴾

الانفطار: ژباړه:اوکله چې ستوري خواره واره شي

لمړيه يوسپين ډوله جسم بدلون مومي چې حجم به يې دځمکې سره برابرالبته کثا فت اوکتله به يې زياته وي ساينس پوهان يې black dwarfبولي دځينوساينس پوهانولـه نظره بـه دلمـرحجم دځمکـې دحجـم پـه انـدول پـاتې شـي اوخپـل پـاتې نوراورنابه له لاسه ورکړي اوپه يوتورجسم بدلون مومي قران عظيم الشان په دې هکله داسې فرمايي ﴿ إِذَا ٱلشَّمْسُ كُوِّرَتْ ﴿١﴾ ﴾

التکوير: ژباړه: کله چې لمر ونغښتل شي

ځينې ساينس پوهان پردې باوودي چې دلمردهستوي تعاملاتودنشتوالي له کبلـه کـوچنی کېږي خوکتلـه اوجاذبـه بـه يـې هماغـه شـان وي پـه پـای کې بـه لمردسپوږمۍ څخه کوچنی اوبيابه د فوټبال دتوپ په اندول او په پای کې به يې حجم له صفرسره مساوي شي مګرجاذبه اوکتله به يې په خپل ځای وي چې سا ينس پوهان يې black hole بولي

په اخرت دايمان غوښتنې

په اخرت باندې ايمان ګڼې غو ښتنې لري په لاندې تکيوکې يې رالنډوو

۱ – ددنياپه مقابل کې اخرت غوره کول :په اخرت دايمان لومړۍ تقاضاددنيا په مقابل کې اخرت ته تر جيح ورکول دي .اخروي ژوندبه يې ستره موخه اودې ته به تياروي چې داخرت دبهبود لپاره به ددنياهرازستونزې ګالي اومحروميتو نه به مني دنياته به يې شااواخرت ته به يې مخه وي مئومن مسلمان دنيااوددنياسامان وسيله اوداخرت توښه بولي په دنياکې به دمسافر په توګه ژوندترسره کوي دنيا به په اخرت خرڅوي اوددنيا هرڅه به داخرت لپاره قربانوي دنيايوه مئوقتي قرارګاه ده اوداسې مثال لري چې يوڅوک دمؤقت وخت لپاره ونې سيوري لاندې توقف اودڅوشيبولپاره ارام کوي ددنيا ژوند همداسې وګڼې اصل هدف اومقصد اخرت ده

۲ – له مرګ نه نه وېرېدل :په اخرت باندې ایمان بله غوښتنه له مرګه نه وېرېدل دي دالله په لارکې مړینه دهغه ترټولولوړه هیله وي په هغه قام اوملت کې دشهادت تلوسه اوهیله مري چې په اخرت ایمان ونه لري ګناه، فساداو خیانت ددې باعث شي چې انسان له مرګه ووېرېږي. مرګ دژوندپای نه بلکې دبل ژوند پیل دی مرګ له یوې نړۍ څخه بلې ته دورتګ وسیله ده مرګ تا خپل هدف ته رسوي

۳ – ډاډ اواطمینان :په اخرت دایمان څښتن هېڅکله نه ناامیده کېږي ترسختو نه په سخت حالت کې مطمئن او ډاډه وي ځکه هغه دخپل مستقبل له نتیجې نه مطمئن وي انسان هغه مهال په نا امیدۍ اخته کېږي چې ګومان وکړي عملونه یې بې نتیجې پاتې شوه دهغه کوښښ ضایع شوخوچې انسان په دې ډاډه وي چې دی دخپلو اعمالواوهلوځلوعوض ارومرو ترلاسه کوي هغه په هېڅ صورت کې نه مایوسه کېږي چې دغه په اخرت باندې دایمان نتیجه، غوښتنه اوتقاضاده

په اخرت دایمان اغیزې

هرکله چې یو شخص په اخرت ایمان ولري او پردې یې بشپړ باوروي چې له مرګه وروسته به ژوندی کېږم اغیزې یې په لاندې توګه وړاندې کېږي.

۱ – په انسان کې دعبادت، طاعت او بندګۍ داحساس وده او ښېرازتیا

۲ – دغه تصور انسان دې ته هڅوي چې خپل ځان اومال دالله تعالی په لارکې ځارکړي

۳ – دغه فکر په انسان کې دریښتینولۍ احساس رامینځته کوي هغه هېڅکله دروغژن نه وي

۴ – دغه طرزفکرمظلوم انسان ته ډاډپه برخه کوي چې که چېرې نن مولـه ظالم نه غچ وانه اخیست سبا ته دقیامت به ورځ به الله تعالی زماانتقام واخلي.

۵ – په اخرت ایمان دانسان په ټولنیز، سیاسي اواقتصادي ژوندکې انضباط رامینځته کوي همدغه دننه قلبي احساس مومن اوکافرسره جلاکوي کفري ټولنه دمادي ځواکونو اودبرچې په زورامن ټینګو ي مګراسلام دخلکوپه زړونوحکومت کوي لـه زراورورنـه پرتـه ورتـه ځـان تسـلیموي هلتـه دسـترومخابر اتـی وسایلواوپولیسوپه ذریعـه ښـارونه ساتل کېږي کـه دغـه وسـایل شـنډ کړای شـي نواریانوونکي جرایم به په ستر ګو ولیدل شي. دنیویارک په ښارکې په یوه شپه کې

دلږوخت لپاره دبر ښېنادنه شتون له امله ددوه لکه غلا ګانو جرایم ثبت شول چې ددوه ملیارده ډالرو په تناسب په غلا لاس پورې شوی ؤ

۶ – دوهړې اوهیلو احساس: داخرت په ورځ ایمان په بو شخص کی داخرت دعذاب وېره او الله جلت عظمه ته دهیلو اوامیدونو احساس ته وده په بر خه کوي دتل لپاره دالله څخه وېرې طاعت ته هڅاند اوله ګناهونوخپل ځان ژغوري

۷ – په خو ښې اوغم دوارودا عتدال چلند غوره کول: په اخرت دباورثښتن نعمتونه دطغیان اوسرکشۍ ترسرحد ه نه رسو ي اوغمونه یې نه نااو میده کوي بلکې تل ترتله دتوازن په حال کې وي

۸ – دښوخویونودرلودل: په اخرت ایمان په انسان کې ښایسته اخلاق رامینځته کوي لکه سخاوت، شجاعت، تواضع رحمت، شفقت اوداسی نور ..

۹ :مئومن ته ډاډ اواطمینان په برخه کېدل :مؤمن مسلمان دالله تعالی رضاغواړي په دنیاکې که چېرې ورځخه نعمتونه فوت شي داخرت هیله من وي

دقیامت ننبې

دقیامت په راتلو کې هېڅ شک اوشبهه نشته، قیامت نېژدې دی اوعلم یې یوازې الله تعالی ته په بر خه ده اوایمان پرې دمغیباتو دجملې څخه ده دقیامت کوچنۍ اولویې ننبې شته چې په قران عظیم الشان اونبوي حدیثوکې بیان شوي

دي قران عظیم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې داسې فرمایي ﴿ فَهَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا ٱلسَّاعَةَ أَن تَأْتِيَهُم بَغْتَةً فَقَدْ جَآءَ أَشْرَاطُهَا فَأَنَّىٰ لَهُمْ إِذَا جَآءَتْهُمْ ذِكْرَىٰهُمْ ﴿١٨﴾ ﴾ محمد: ژباړه:نوآیا دوی فقط دقیامت انتظارباسي چې هغه په ناڅاپي ډول وربانديې راشي؟دهغه علامات(ننبې ننبانې)خوراغلي دي. کله چې هغه پخپله راشي نوآیادوی لپاره به دنصیحت قبلولوڅه فرصت باقي پاتې شي؟

په پورتنی ایات کریمه کې قیامت ته ساعت ویل شوی دلته له ساعت څخه هغه وخت مراددی چې قیامت به په کې قایمېږي قیامت ناڅاپه راځي دقیامت له ننبوڅخه هدف دادی چې قیامت نېژدې اودئې عمرنورپای ته رسېدونکی دی.

دقیامت اطلاق

په شریعت کې په درې شیانو د قیامت اطلاق کېږي

الف : کوچنی قیامت : چې دانسان له مړینې څخه عبارت دی څو ک چې په مړینه محکوم شی نودده قیامت قایم شه ځکه چې دغه شخص داخرت نړۍ ته انتقال ومونډ .

ب :مینځنی قیامت :چې هغه دیونسل له مړینې څخه عبارت دی

ج : لوی قیامت : چې هغه له قبرونو د حساب اوسزا لپاره دمړیورا اوچتېدل دي .

دقیامت دنښانو حکمت

له قیامت نه دمخه دنښانو حکمت دادی چې خلک دغفلت له درانه خو ب راپاڅېږي توبه اوالله تعالی ته رجوع وکړي له دنیا څخه ځان غوڅ اوداخرت لپاره بشپړ تیاري لاس پورې کړي

دقیامت دنښانو ډولو نه

الف : دقیامت کوچنی علامې

دقیامت کوچنی نښانې ډېرې دي تفصیل بحث يې زمونږ موخه نه ده په اجمالي تو گه به مونږ ورته اشاره وکړو په دې کې ځینې واقع شو ي اوځینې يې دواقع کېدو په حال کې دي

۱: درسول الله صلی الله علیه وسلم بعثت اونبو ت

۲: درسول الله صلی الله علیه وسلم وفات

۳: دبیت لمقدس فتحه اوسوبه

۴:دعمواس طاعون اووبا

۵: دمال زیات والی اوله خیر ات څخه دخلکو بې پروایي

۶ : دفتنوڅرگند بدل

۷ : دنبوت ددروغڅنو مدعیانو څرگند بدل

۸ : په حجازکې داورڅرگند بدل

۹ : دترکانوسره جگړه

۱۰ : دعجموسره جگړه

۱۱ : دامانت ضایع کېدل

۱۲ : ددیني علم له مینځه تلل اودجهل څرگند بدل

۱۳: دپولیسواودظالمانودمرستیالاتو زیاتوالی
۱۴: دزناخپربدل
۱۵: دسود ترویج
۱۶ :دموسیقي زیات والی اورواګنل
۱۷ : دشرابوڅښلوزیاتوالی اودشرابوحلال ګنل
۱۸ : دجوماتونوښایست اوپري ویاړل
۱۹ : دبلې نګونواوقصرونوجوړول
۲۰: دوینځي باداره زېړول (دکورنی نظام ړنګېدل دمشراوکشر ددرناوي خاتمه)
۲۱ دوژنواوشخړو زیات والی
۲۲ : دزماني نېژدې کېدل
۲۳ : دښارونو نېژدې توب (دنویو وسایلو ایجادسفردوسایلو زیات والی)
۲۴: په اسلامي امت کې دشرک څرګندېدل
۲۵ :دبخل زیات والی
۲۶ : دسوداګرۍ زیات والی
۲۷ : دزلزلوزیات والی
۲۸ : دځمکې خسف (ننو تل)،
۲۹ :مسخه (دانساني جثې بدلون)
۳۰:له فضاء څخه دکانو اورښت
۳۱ :دصالحونواونېکانوخلکومړینه
۳۲ : دذلیلو اوسپکوخلکولوړ تیا اومشرتوب.
۳۳ : دسلام اچول دپېژندګلوی اساس ګرزول
۳۴ : دبربنډوبنځوڅرګندېدل
۳۵ :دمئومن دخوبونوریښتیاګرزېدل
۳۶ :دلیک اولوست زیات والی اوخپربدنه
۳۷: داسلامي سنتوتوهین اوسپکاوی
۳۸ : دسپوږمی پرسېدل
۳۹ : ددرواغو زیات والی اوپه خبرونوکې عدم تثبت.
۴۰ : ددرواغو دګواهۍ زیات والی اودحق شهادت پټول

۴۱ : دښځودشمېرزیات والی اودنارینه ؤکمبود
۴۲ : دناڅاپه مړینوزیات والی
۴۳ : دباران زیات والی اودحاصلاتوکمبود
۴۴ : دفرات په سیند دسروزرو دغره څرګند ېدل
۴۵ : انسان سره دځناورو اوجامداتو خبرې اتري .
۴۶ :دسختو ابتلاء اتو اوازمېښتونوله املە دمرګ هېلې
۴۷: درومیانوزیات والی اوله مسلمانانوسره جګړه
۴۸ : دقسطنطینې(استانبول)فتحه
۴۹ : له یهودوسره جګړه
۵۰ : دمئومنانوداروا ګانودقبض په خاطر دښایسته هوا ګانولېږل
۵۱:دبیت الله دعزت اودرناوی پای ته رسېدل اودکعبې رنګېدل .

دقیامت لویې نښې

دقیامت دسترونښودجملې څخه چې په نبوې احادیثوکې ذکرشوي یوه غیرمرتبه مجموعه ده دلته چې په روایاتوکې کوم ترتیب ذکرشوی په وقوع کې داسې نه دي له همدې املە دقیامت دنښانوپه ترتیب کې اسلامي پوهانوېلابېل نظریات وړاندې کړي دي حافظ ابن حجررحمة الله علیه دغه روایات جمع کړي دي په دې کې یې ددجال راوتل اوله لویدیځه دلمرراختل یې په لومړیتوب کې راوستي دي

ددغوروایاتوله مجموعې څخه څرګندېږي چې ددجال راوتل تر تولولویه نښه ده چې دعیسی علیه السلام په لاس به وژل کېږي په همدې توګه له لویدیځه دلمرراختل دکایناتودستربدلون نښه ده چې پای یې دقیامت په پیلېدوسرته رسېږي، امکان لري(دابة الارض)به هم دهمدغی ورځې په پیل کې راووځي حکمت یې دادی چې له لویدېزه دلمرپه راختلوسره دتوبې دروازه بنده ېږي(دابة الارض)له ځمکې څخه راؤوزي مئومن ته به مئومن اوکافرته به کافرلیکي ،دلویونښودجملې څخه چې قیامت ته نېږدې رامینځته کېږي ددجال څرګندېدل، دعیسی علیه السلام له اسمانه راکوزېدل، یاجوج اوماجوج اودځمکې خسف(ننوتل) لوی دود ،له لویدیزه دلمرراختل، ددابة الارض راوتل اواورچې خلک به دحشر په لوري راجمع کوي

مور به ترهرځه دمخه له امام مهدي څخه يادونه وکړودا ځکه چې دده ظهورله دغوټولوعلاموځخه مخکې دی دده ترمشرتابه لاندې به مسلمانان ددجال مقابلې ته راؤوزي اوله هغه وروسته به له اسمانه عيسى عليه السلام راپرېوځي اودامام مهدي په امامت کې به لمونځ اداکړي خوداخبره بايدځرګنده کړوچې هرکله ددغولو يونښوځخه يوه هم رامينځته شي نورې به يوپربلې پسې دتسپوددانو په څېرادرومي

قيامت ته نيژدې لويې علامې

۱: امام مهدي

نوم يې محمد دعبدالله زوی دفاطمة الزهراءاوبيادحسن بن علی رضی الله عنهم داولادې څخه دی.دلوړې پوزې څښتن اودختيځ له لوري څخه به راؤوزي دده په هکله روايات دتواترحدته رسېدلي دشپږويشت اصحاب کرامونه دده په هکله روايات نقل شوي دي

۲:مسيح دجال

ده ته مسيح وايي ځکه چې په ټوله ځمکه کې به فسادخپروي او دجال ورته ځکه ويل کېږي چې هغه لوی دروغژن دحق اوباطل يو ځای کوونکی دوکه مارانسان دی نوموړی دګمراهۍ مسيح دی چې په اخروخت کې به راؤوزي خلک به په فتنوکې اچوي الله تعالی ورته ځينې خارق العاده صفات په برخه کړي لکه بې وخته باران اوبه نباتاتوسره دځمکې ښېرازتيا

ددجال صفات

دجال انسان دی ګڼ صفات لري چې په روایاتوکې راغلي دي تر څوورځخه خلک ځانونه وساتي دهغودجملې څخه،داچې دجال ځوان،سور،لنډ،دنښتووښتانو،لوړې پوزې،پراخې سينې خاوندپه يوه سترګه رونديچې سترګه يې نه وتلې اونه ننوتې ده دتندي لپاسه يې ک،ف،ر،اویاکافرليکل شوي چې هرځوک يې لوستلی شي شنډ اوبې اولاده انسان دی

ددجال دراوتلو ځای :

دختيځ له سيمې دخراسان داصفهان ديهو ديانوځخه به راؤوزي په ټوله ځمکه کې به ګرزي البته مکې مکرمې اومدينې منورې ته نه شي ننوتلی ځکه چې

دملایکوپه وسیله یې څارنه کېږي، په لومړي ځل به دنبوت اوبیابه دالوهیت دعوه وکړي خلک به له دین څخه اړوي

دده ستره فتنه

ددجال فتنه دحضرت ادم علیه السلام له وخته راواخله ترقیامته پورې دتاریخ ستره فتنه ده چې الله تعالی ورته خارق العاده اریانو ونکې چارې په بر خه کړي دي،له ده سره به داوبوویالې اودډوډیو غرونه وي بې وخته باران به کوي اوځمکه به رازرغونوي دځمکې خزانې به ورسره وي دباددچټکتیاپه څېربه په ځمکه کې ګرزي جا مدات اوحیوانات به یې خبره منې یوځوان به ووژني اوبېرته به یې ژوندی کړي له همدې املـه تولوپیغمبرانوخپل قاموند ددغه راندہ دروغژن څخه وېرولي(خبراوسی چې نومورې روند اوستاسورب روندنه دی دستر ګوپه مینځ کې یې کافرلیکل شوي دي)

دده پیروان

ددجال زیاتره پیروان، یهودیان، عجم خلک، ترکان، باندچیان او بښځینه دي دانس بن مالک څخه روایت دی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي ددجال پیروان به داصفهان اویازره یهودیان وي چې داطلس جامې به یې اغوستې وي دابوبکرصدیق رضی الله عنه څخه روایت دی چې موږته رسول الله صلی الله علیه وسلم دخپلې ویناپه ترڅ کې وویل: دجال به دختیځ له خوادخراسان له سیمې راڅوزي دده پیروي به داسې وکړي کوي چې دډال په څېرپلن مخونه به یې وي.

له دغه مبارک نبوي فرمان څخه څرګنده ږي چې دغه دترکانواومغلونسل دی چې ددجال ملاتړي به وي، داچې ددجال زیاتره پیروان به باندچیان اوبښځینه وي له دې املـه چې دوی زیاتره ناپوهان اوجاهلان دي په یوروایت کې راغلي دي چې دجال ته به زیاتې بښځې راڅوزي یوشخص به کورته راشي خپله مېرمن، مور، لو راوخوراوتروبه وتړي له دې وېرې چې ونه ووزي

په یونبوي فرمان کې راغلي دي چې یوه باندچې ته به ووایي چې که چېرې زه ستامورا وپلارله قبره راژوندي کړم ته به زماالوهیت ومنې ؟هغه به ورته دهوکې ځواب ورکړي نوپه دغه مهال به شیطان ورته دده دپلارا ومورپه بڼه څرګندشي ورته وبه وایي چې زویه پیروي یې وکړه دغه ستارب دی

په ځمکه کې يې بقا

دجال به په ځمکه کې څلوېښت ورځې پاتې شي يوه ورځ به لکه کال، مياشت اواونۍ وي همدغه مطلب داصحابو کرامو له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتلی ؤچې دده پاتې کېدل به په ځمکه کې څومره وي؟هغه ورته په ځواب کې فرمايلي ؤڅلوېښت ورځې يوه ورځ به لکه کال اويوه ورځ به لکه مياشت اويو ه ورځ به لکه اونۍ وي پاتې نورې ورځې به يې ستاسو دنورو ورځوپه شان وي

دخلاصون وسايل

پيغمبرصلى الله عليه وسلم خپل امت ته ددجال له فتنې څخه دخلاصون لارښوونه کړې ده دهغودجملې څخه

- په اسلام منګولې لګول
- دالله تعالى په اسماء و اوصفاتوپوهه
- ددجال دفتنې څخه الله تعالى ته پناه وړل
- دکهف دسورة دځينوايا تونوحفظ اويادول
- له دجال څخه تېښته اولېرې اوسېدل

ددجال وژنه

د جال به دعيسى عليه السلام په لاس ووژل شي په صحيحواحا ديشوکې همدغسې راغلي دي هغه به ددمشق دجومات په ختيځه مناره له اسمانه راپرېوزي مئومنان به ورځخه راتاؤ اوددجال په لوري به رهي شي په دغه مهال به دجال دبيت المقدس په لوري درومي د(لد)په دروازه کې به يې ومومي ،لد په فلسطين کې بيت المقدس ته نېژدې يوښاردى هرکله چې دجال عيسى عليه السلام ووينې نودمالګې په څېربه ويلې کړې شي عيسى عليه السلام به ورته ووايي نن به تاته يوګوزاردرکوم هېڅکله به راڅخه خلاص نه شې نوعيسى عليه السلام به ګوزارپر ې وکړې اووبه يې وژني اودهغه پيروان به ماتې وخوري مئومنان به ورپسې شي تردې چې وبه يې وژني کانې اوونې به نارې وهى اى مسلمانه اى دالله بنده زماترشا يهودي پټ دى ويې وژنه مګردغرقد ،ونه داکارنه کوي داڅکه چې دادېهوددوونه ده .

ددجالي فتنې نوعيت

ددجال فتنه په دوه ډوله دى

- **دشخص فتنه** :له دې نه هغه دجال مراددی چې په اخرکې قیامت نېژدې به رادرومي لکه چې په نبوي احادیثوکې یې یا دونه شوې ده.
- **دجنس فتنه** :دباطل ټولې ډلې چې فتنې راولاړوي اوداسلام پر خلاف په شکونواوشبهاتو

لاس پورې کوي دغه ټولې ددجالي فتنې دجنسه څخه دي شیخ الاسلام امام تقی الدین ابن تیمیه رحمة الله علیه په دې هکله داسې ویلي دي: دشریعت پرخلاف ټولې توطئې اودسیسې چې په کاراچول کېږي ټولې ددجالي فتنې دجنسه څخه دي البته دمشخص دجال فتنه ترټولوستره ده

شننه :

اوسنی لویدیځ تمدن، الحادي، کمونستي، لبرالي، سیکولار یستي اونشنلستي لادینه تصورات دجالي افکاردي، داچې دغه ټولې فتنې دعیسی علیه السلام په امت کې رامینځته شوي دغه ټولې دلوی دجال مقدمه ده له همدې امله به عیسی علیه السلام دخپل قام اوامت داصلاح په خاطرله اسمانه راکوزېږي دجال به وژني اودجالي تمدن ته به دپای ټکی وردي اوپه ځمکه کې به دعدل اوانصاف نظام برپاکوي ځمکه به له خیراوعدل څخه ډکوي

۳:له اسمانه دعیسی (ع) راکوزېدل

مخکې موځرګنده کړه چې دقیامت دلویونښانودجملې څخه له اسمانه دعیسی علیه السلام راکوزېدل دي، دده په هکله دمسلمانانوعقیده په لاندې ټکیوکې راخلاصه کولی شي.

- هغه دالله تعالی بنده اورسول دی
- هغه له پلاره پرته دمعجزې په توګه پیداشوی
- هغه داولوالعزمو پیغمبرانودجملې څخه دی
- هغه دالله تعالی بنده ده نه رب دی اونه معبود
- دمعجزوڅښتن دی لکه دمړیوژوندي کول درانده اوبره ګي روغول
- خپل قام یې دالله تعالی بندګی ته رابللی دی
- دمحمد صلی الله علیه وسلم دنبوت زېری یې ورکړی
- دده اومحمدصلی الله علیه وسلم ترمینځ بل پیغمبرنشته
- نه په دارخېژول شوی اونه په قتل رسېدلی بلکې ژوندی اسمان ته

خبړول شوی

- ددرمیانه قد ،سره رنګ،پراخې سینې،لوی سر ،پراخو وښتانوځښتن دی

- دراپرېوتلوپرمهال به داسې ښکاري لکه چې دحمام څخه راوتلی دومره ښایسته وښته به يې وي چې شاته داوږو ومینځ به يې ډک کړی وي

د مسیح لقب

ده ته ځکه مسیح وایي چې په کوم رنځوربه يې لاس رابنکه روغ به شواویاداچې له موره داسې زېږېدلی ؤلکه چې په غوږیوغوږشوی وي اویاداچې ښایسته اودجمال څښتن اویاداچې په ځمکه کې به وګرزي.

له اسمانه دده دراکوزېدو دلایل

- دده دراکوزېدلوپه هکله قران کریم ګواه دی دده دراکوزېدو تکذیب دقران عظیم الشان

دروغ ګڼل دی الله جلت عظمته په خپل سپېځلي پیغام کې دده په هکله داسې فرمایي﴿ وَإِنَّهُۥ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا وَٱتَّبِعُونِ ۚ هَٰذَا صِرَٰطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴿٦١﴾ ﴾ الزخرف: ژباړه:اوهغه په اصل کښې دقیامت یوه نښانه ده،نوتاسې په هغه کښې شک مه کوئ اوزماخبره او متابعت ومنئ،همدغه سمه سیخه لره ده .په بل ځای کې ارشاددی﴿ وَإِن مِّنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهِۦ قَبْلَ مَوْتِهِۦ ۖ وَيَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ يَكُونُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا ﴿١٥٩﴾ ﴾ النساء: ژباړه:اوله اهل کتابونه به هېڅوک داسې نه وي چې دهغه له مرګ نه مخکښې پرهغه ایمان رانه وړي اودقیامت په ورځ به هغه پرهغو شاهدي ووایي،

- په دې هکله نبوي روایات دومره زیات دي چې دتواترحدته رسېدلي دي. ددجال له راوتلواوپه ځمکه کې دفساددرااو چتولونه وروسته به الله جل جلاله عیسی علیه السلام ځمکې ته راولېږي دشام دسوریې دهبواددمشق دښاردجومات په سپینه ختیځه مناره به راپرېوزي دوه ژېړپخن ځادرونه به يې

اغوستي وي اودواړه لاسونه به يې پردوومليکو ايښي وي دسړپه خوځولوسره به ورځخه دمرغلروپه څېرځاځکي رالو ېږي،دده مبارک داوسپلي په رسېدلوبه کافرمړکېږي دده ساه اواوسپلی به دسترګو دنظردرسېدلوپه اندازه وي په دغه مهال به مسلمانان ددجال مقابلې ته راټول شوي وي دسباؤون دلمانځه پر مهال به راکوزشي ددې امت امام به ورته دامامت بلنه ورکړي هغه به ورته د(نه)ځواب ورکړي اوددې امت په امام پسې به اقتداء وکړي

دده دراکوزېدوحکمت

ځينواسلامي پوهانودغه حکمت ته په لاندې توګه اشاره کړې ده

- په يهوديانوتردېدهلته چې هغوی دده دوژنې ادعاء کړې الله تعالی دوی اونورومنافقانوته

ځرګندول غواړي چې عيسی ددوی مشردجال وژني اوهغه به په خپل مرګ مري.

- دده راکوزېدل ددې په خاطردي چې دده دمرګ نېټه نوره نېژدې شوې داسې نه ده چې دی به

ددجال دجنګ لپاره راکوزېږي ددجال جګړه ناڅاپي مسئله ده له هغه وروسته به وفات کړی شي مسلمانان به پرې دجنازې لمونځ وکړي اوپه ځمکه کې به ښخ کړی شي.

- هرکله چې عيسی عليه السلام ددې امت فضيلت په انجيل کې وموندنوالله تعالی ته يې

ددعا لاس پورته کړ،چې دمحمد صلی الله عليه وسلم په امت کې مې حساب کړې الله تعالی دده دعاقبوله کړه اسمان ته يې پورته کړاوپه اخروخت کې به يې ددين دمجددپه توګه راولېږي ترڅوله دين نه ګردونه اودوړې لېرې کړي اوداسلام ضددجالي ځواکونوسره جګړه اعلان او دجال په قتل ورسوي

- دنصاری ؤ دتکذيب په خاطر،هغه به نصرانيت له ځانه جوړ شوي دين ته دپای تکی کښېږدي ټول باطل مسلکونه اوتګلارې به لغوه کړي صليب به مات،خنزيربه ووژني اوجزيه به پای ته ورسوي
- ددجال اودجالي فتنې پای ته رسېدل به دده مبارک په لاسونو ترسره شي.هرکله چې الله تعالی دعيسی عليه السلام پرلاس دجال نابودکړي له هغې وروسته به سوځي ماسوځي(ياجوج

اوماجوج، راؤوزي په ځمکه کې به لوی فساد راپورته کړي عیسی علیه السلام به الله تعالی ته ددعا لاسونه پورته کړي الله تعالی به دده دعا قبوله اوسوځي سوځي به تباه اوبربادکړي اویوتن به هم ورځخه پاتې نه شي تردې وروسته به عیسی علیه السلام په محمدي شریعت فیصلې کوي دا ځکه چې اسلام دټولو دینونو وروستی دین دی چې رهبر اولاربنودبه یې عیسی علیه السلام وي دحج فریضه به هم اداکوي

- دهوساله امن نه ډک اوله برکتونو ډک ژوند :دعیسی علیه السلام زمانه به دامن،سلام ،مادي

پراخې اوبرکتونو دور وي حسداکینه به دخلکوله زړونو ولاړه شي

په ځمکه کې دده دپایښت موده

په ځینوروایاتوکې اوه کاله اوپه بل روایت کې څلوېښت کاله راغلي دي

ددواړو روایاتو تطبیق

دغه دواړه روایات صحیح دي اوه کاله به له اسمان نه تراکوزېدلو وروسته په ځمکه کې دده دژوندموده شي البته اسمان ته دپورته کېدو پرمهال دده عمر دري دېرش کاله ؤ نواوه کاله اودري دېرش کاله دواړه څلو ېښت کاله ګرزي.

۴ : دیاجوج اوماجوج راوتل

دځوزوماځوزوراوتل دقیامت دسترونښانوڅخه شمېرل کېږي دوی انسانان دي دیا فث بن نوح داولادڅخه دي دادم نسل که چېرې په لسو برخو ووېشو څوزي ماځوزي نهه برخې دي اونوریوه برخه تشکیلوي

ددوی صفات :

دوی دترکانواومغولو په څېرکوچنۍ سترګې پیتې پزې،پراخه مخونه لري په صحیحوروایاتوکې راغلي دي چې دوی ډېرپیاوړی جسدونه لري هېڅوک له دوی سره دجګړې توان نه لري په ځینو اثاروکې ددوی وصف داسې بیان شوی دی دوی په دري ډوله دي

- ځینې څلورګزه په څلوروکې قداوونه لري
- ځینې اوږده غوږونه لري یو یې بستراوبل یې برسترن جوړوي
- ځینی دوه اویادرې لوېشتې اوږدوالی لري

په همدې توګه په ځینو روایاتوکې راغلي دي چې دوی دځمکې ټول حشرات لکه ماران لړمان اوداسې نور خوري ددوی په څېرهېڅ یوحیوان وده نه کوي چېرته چې

سره مخامخ شي دحيواناتو او څارويو په څېريو له بل سره يوځای کېږي په دوي کې ځينې يوښکر اولکی. اووتلی تېره غا بس هم لري چې خامې غوښې پرې راشوکوي

ددوی فساد اوورانی

هرکله چې څوزي ماڅوزي راڅوزي نوددوی پرلاس به ډېرلوی ورانی ،فساد ،لويه فتنه اولوی شرر امينځته شي دوی ډېرې ډلې لري او ډېر زيات دي څه وخت چې دوی دطبرستان په سيند تېرېږي نوتولې اوبه به يې وڅښي چې کله يې بله ډله راورسېږي وايي به چې دلته هم اوبه وې؟

ابن عربی رحمه الله ويلي دي دڅوزو ماڅوزو راوتل به دعيسی عليه السلام له راوتلوڅخه وروسته وي دوی دواړه زيان کاره او وران کاري کافر ټولګي دي

ددوی دراوتلو دليل

- لومړی : قران عظيم الشان هلته چې فرمايي ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا فُتِحَتْ يَأْجُوجُ وَمَأْجُوجُ وَهُم مِّن كُلِّ حَدَبٍ يَنسِلُونَ ﴿٩٦﴾ ﴾ الأنبياء: ٩٦

- دويم : نبوي سنت :هغه روايات چې دڅوزو ماڅوزو په راوتلو دلالت کوی دومره ګڼ دي چې دتواترترحده رسېدلي دي

۵ :**خسف (دځمکې ننو تل)**

دقيامت دسترونښانو څخه دري ځايه دځمکې نړېدل اوننوتل دي ،اوس پوښتنه دادی چې ايادغه حوادث رامينځته شوي اوکه نه؟حقيقت دادی چې دغه پېښې دنورولويونښو په څېرنه دي څرګندې شوي اګرکه ځينې علماء پردې باوري دي چې دغه حوادث رامينځته شوي دي.البته صحيح خبره داده چې داپېښې نه دي رامينځته شوي

۶ : **لوګی**

په اخروخت کې دلوګي څرګند ېدل دقيامت دلويونښوڅخه شمېرل کېږي چې په قران کريم اونبوي احاديثوکې يې يادونه شوې ده

• لومړی دلیل یې قران عظیم الشان :الله په خپل سپېځلي پیغام کې دغه مطلب داسې بیانوي

﴿ فَٱرۡتَقِبۡ يَوۡمَ تَأۡتِي ٱلسَّمَآءُ بِدُخَانٖ مُّبِينٖ ﴿١٠﴾ يَغۡشَى ٱلنَّاسَۖ هَٰذَا عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿١١﴾ ﴾ الدخان ژباړه: ښه نو،انتظار وکړه دهغې ورځې چې داسمان غاړې ته یوڅرګندلوګی ښکاره شي اوهغه پرخلکو باندې خپورشي،دغه دردناکه سزاده

دغه عظیم الشان لوګی دقیامت دهغو نښانو دجملې څخه دی چې قیامت ته نېژدې وخت کې به رامینځته کېږي

• دوهم : نبوي سنت :په ځینو روایاتوکې ددې ذکرشوی له دې جملې څخه دابوهریرة روایت دی :

۷:**له لویدیځه دلمر راختل**

له لویدیځه دلمر راختل دقیامت دلویونښانودجملې څخه دی او دغه په قران عظیم الشان او نبوي سنتوسره ثابته ده.هلته چې فرمایي ﴿ هَلۡ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن تَأۡتِيَهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَوۡ يَأۡتِيَ رَبُّكَ أَوۡ يَأۡتِيَ بَعۡضُ ءَايَٰتِ رَبِّكَۗ يَوۡمَ يَأۡتِي بَعۡضُ ءَايَٰتِ رَبِّكَ لَا يَنفَعُ نَفۡسًا إِيمَٰنُهَا لَمۡ تَكُنۡ ءَامَنَتۡ مِن قَبۡلُ أَوۡ كَسَبَتۡ فِيٓ إِيمَٰنِهَا خَيۡرٗاۗ قُلِ ٱنتَظِرُوٓاْ إِنَّا مُنتَظِرُونَ ﴿١٥٨﴾ ﴾ الانعام:ژباړه: ایااوس خلک دې ته ستړکې په لاردي چې دهغوی مخې ته پرښتې راشي ودرېږي،یا ستاربه خپله راشي اویاستادرب ځینې څرګندې نښانې ښکاره شي؟په کومه ورځ چې ستادرب ځینې مخصوصې نښانې راڅرګندې شي بیابه یو داسې چاته دهغه ایمان هېڅ ګټه ونه رسوي چې مخکښې یې ایمان نه وي راوړی ي یې په خپل ایمان کښې څه نیکي نه وي ګټلې.ای محمده(ص)!دوی ته ووایه چې ښه نوتاسې ستړکې په لاره اوسئ مونږ هم انتظارباسو

صحیح احادیث پر دي دلالت کوي چې په دغه ایات کریمه کې ځینې ننبسې له لویدیځه دلمر راختل دي همدغه دزیاتو قران څېړونکیو وینا ده په یونبوي فرمان کې چې ابی هریره رضی الله عنه یې روایت کوي داسې راغلي دی پیغمبر علیه السلام فرمایي، لاتقوم الساعة حتی تطلع الشمس من المغرب...)

۸: دابة الارض څرګندېدل

په اخروخت کې دقیامت دلویونښانو څخه دابة الارض څرګندېدل دي چې قران عظیم الشان اونبوي سنتو ثابت ده

لومړی: قران کریم: ﴿ وَإِذَا وَقَعَ ٱلْقَوْلُ عَلَيْهِمْ أَخْرَجْنَا لَهُمْ دَآبَّةً مِّنَ ٱلْأَرْضِ تُكَلِّمُهُمْ أَنَّ ٱلنَّاسَ كَانُوا۟ بِـَٔايَـٰتِنَا لَا يُوقِنُونَ ﴿٨٢﴾ ﴾ النمل

دغه ایات کریمه په بشپړه توګه دابة الارض په راوتلو څرګندونه کوي په دغه مهال به خلک فاسدشوي اوالله تعالی اوامربه یې پر ښبسې وي نوبه دغه مهال به الله تعالی دقدرت دننبانو څخه وي څکه چې په عادي بڼه خوحیوانات خبرې اترې نه کوي له دې امله چې له عقل څخه بر خمن نه دي

دراوتلو ځای یې

ځینوعلماء وویلي دی چې په مکه مکرمه کې به دیوسترجومات څخه راوزي ځینوبیاویلي دي چې دابة الارض دري ځایه دراوتلو دي دځینو صحراګانو څخه بیادځینوکلیوڅخه بیابه په مسجدحرام کې څرګنده شي اوځینونورووېلي دي چې له مکې حرم څخه به راوزي.

کړه وړه یې

هرکله چې دابة الارض راوزي مسلمان ته په مخ مسلمان لیکي او کافرته به په مخ کافرلیکي.

۹: لوی اور

دقیامت دلویونښانو څخه دستر اورراوتل دي دغه دقیامت وروستنی ننبسه اودقیامت دقیام داعلان لومړنی علامه ده.

دراوتلو ځای يې

په روایاتوکې راغلي دي چې ددې اورراوتل د یمن دعدن له سارځخه وي اوپه بل روایت کې حضرموت راغلی دی دیمن دهبوادځخه ددغه ستراوردځرګند بدلوپرمهال به په ټوله ځمکه کې خپورشي اوخلک به دمحشرځمکې ته راټولوي.دشام ځمکه به دحشرځمکه وي همدغه حقیقت په نورورواياتوکې بیان شوی البته دغه ددنیاحشردی نه هغه حشرچې خلک له قبرونو راپا ځول شي

دپنځلسم ځپرکي دموضوعاتولنډ پز

- داخرت په ورځ باور دایمان دارکانو دجملې ځخه دی په اخرت باندې دایمان مفهوم دادی چې

یووخت به دکایناتوموجودنظم پای ته ورسېږي لمر،سپوږمی اوستوری به په خپل مینځ کې تصادم وکړي غرونه به والوزي اوبه به اورواخلي داموجود نظم به ختم بیابه الله تعالی نوې دنیادنویو ظوابطو سره پیداکړي اوټول انسانان به راژوندی کړي اوحساب به ورسره وشي مئومنان به جنت ته اوکافران به دوزخ بیول کېږي

- داخرت ورځ دقیامت له ورځې نه عبارت دی ځکه چې له دې نه وروسته بله ورځ نشته
- داخرت په ورځ ایمان ددغې ورځې اړوندو چاروته شاملېږي لکه دقیامت کوچنی اولویې

ننبې دقبرعذاب اوراحت داسرافیل شپېلی له قبرونودخلکوراپاځېدل،حساب او جزادقیامت هولناکه منظردمحشرتفصیل دعملناموخپرېدل دمېزان تله دصراط پول دکوثرحوض،شفاعت جنت اودوزخ

- داخرت په ورځ ایمان ستراهمیت لري په قران عظیم الشان کې په الله جل جلاله دایمان ترڅنګ یې یادونه شوې دسترشان له مله ډیرنومونه لري
- دقیامت رامینځته کېدل یو ضرورت اوارتیاده داځکه چې له الله تعالی هېڅکله عبث کارنه کوي دانسان پیدا ینبت دیوسترهدف لپاره ده په همدې توګه الله تعالی عادل دی دالله جلت عظمته عدالت ددې غوښتنه کوي چې نېکوکارانواو بدکارانوته سزاورکړي.
- داچې دنبوي ژوند دثوابونواوعذابونو لپ ظرفیت لري ټول انسانان دخپلو

عمالوسزاپه دې دنیاکې نه ګوري بلکې ددې کارلپاره بله نړۍ په کارده چې هغه اخرت ده مړینه یوانکار نه منونکی حقیقت دی هرڅوک مړی خومئومن مسلمان خپل سفر پېژني اوتیاری ورته کوي مګر کافرنه پوهېږي چې کوم لوري ته به درومي

• داخرت په هکله داسلام تصورڅرګندد ی هغه داچې انساني ژوندپه حقیقت کې داخروي ژوندمقدمه ده ددنیا ژوند لږاوموقتي مګراخرت تل ترتله دی ځرنګه چې په نړۍ کې هرشی عمرلري په همدې توګه دنړۍ موجوده نظام هم عمر لري چې په پای ته رسېدلوسره به یې بل نظام اوبله نړۍ رامینځته شي چې دهغې قوانین به ددې موجوده نړۍ سره بشپړ تفاوت لري.

• ماتړیالستان نه الله تعالی مني نه اخرت جنت اودوزخ هغوی په حواسواعتمادکوي اووایي چې داخرت نړۍ مورد محسوسه کړې نه ده دافکر ناسم اوغیرعلمي دی دیوشي نه لیدل دهغه شی دنشتوالي دلیل نه دی داڅکه چې مورد ډېرشیان په سترګه نه وینو مګر شتون لري لکه دمادې الیکترونی حرکت،جاذبه قوه،دعقل اوروح شتون مګرپه سترګونه ښکاري ددې نړۍ لاڅه چې دانسان دبدن ډېرې برخې دانسان له حواسوبهردي لکه دحجري جوړښت مګرشتون لري

• په له مرګه وروسته ژوندباوریوازې عقلي او فلسفي قضیه نه ده بلکې داخلاقي اوتمدني ژوندټول انحصارپه همدې پورې تړلی دی له اخرت نه منکر ماده پال انسان مایوسه، پست همت شریراوظالم ،یونفس پالونکی حیوان وي په ظلم،لوټ تالان دشهوت،شهرت اوځان پالنې په احساس ژوندترسره کوي مګرپه اخرت باوري انسان ددې پرعکس مسئولاته، ډاډه ژوندلري دژوندستره اسره یې دالله تعالی رضااودجنت حصول اوبشرته خیر رسول وي.

• دغه نړۍ تل نه ده بلکې یو وخت به ړنګه شي قیامت عقلي اوسا ینسي ثبوت لري اوهغه داچې لمردخپلوهستوي تعاملاتوپه نتیجه کې ځلېږ دلمر زیاته برخه دهیلیم اوهایدروجن غازونه تشکیلوي هېلیم په ډېرسرعت سره دلمرهستې ته داخلېږي او هایدروجن راباسي اوپه هېلیم بدلون مومي چې نورانرژي او تودوخه تولیدوي لمرپه هره ثانیه کې (۷۰۰) ملیو نه ټنه هایدروجن له لاسه ورکوي تراوسه (۳۷) برخې په سلوکې دلمرهایدروجن ضایع شوی هرکله چې دهایدروجن زیاته برخه ضایع شي دلمریزنظام بربادي به پیل کړی شي ،لمربه دهایدروجن له کمبو سره مخامخ شي دهیلیم سریع حرکت به ددې باعث شي چې دلمر تودوخه زیاته شي

دګرمۍ دزیات والي له کبله به دشمال اوجنوب قطب یخچالي برخه ویلې اوداوبوسطحه به لوړه شي دلمر حجم به زیات اورنګ به یې سورشي دزیاتې تودوخې له امله به ځنګلونه وسوزي ځمکه به وچوي اوسختې زلزلې به پیل شي دلمرجاذبه به زیاته کړی شي په پای کې به عطارداوسپوږمۍ دلمرخبتې ته ولاړې شي دځمکې اوبه به اورواخلي دلمرتودوخه به دوه زره درجې نوره اضافه شي غرونه به ویلې، هیلیم دهستوی تعاملاتوځواک له لاسه ورکوي اولمړیه ډېرې چټکتیاسره دخپلې هستې په لورنړېږي ټولې سیارې به له خپل ځایه ببځایه په پای کې دلمردحجم دهستوي تعاملاتودنشتوالي له کبله کوچنی کېږي خوکتله اوجاذبه به یې هماغه شان وي او بیابه دفوټبال توپ په اندازه شي په پای کې حجم له صفرسره برابر ېږي مګرجاذبه اوکتله به یې په خپل ځای وي چې ساینس پوهان یې بلیک هول بولي

- په اخرت باندې ایمان ډېرې غوښتنې لري دهغوله جملې څخه ددنیاپه مقابل کې اخرت غوره کول له مرګه نه وېرېدل اوډاډاو اطمینان دی
- په اخرت ایمان دیو شخص ژوندډېرې مثبتې اغیزې لري دهغوله جملې څخه په انسان کې

دطاعت اوبندګۍ احساس خپل ځان اومال دالله تعالی په لارکې ځارول ، په انسان کې دریښتینولۍ احساس، مظلوم انسان ته ډاډپه ټولنیز ،سیاسی اواقتصادی ژوندکی انضباط

- کفري ځواکونه په انسانانو دبرچې په زورحکومت کوي مګراسلام

دخلکوپه زړونوحکومت کوي له زر اوزورنه پرته ورته ځان تسلیموي په اخرت ایمان په یوشخص کې داخرت دعذاب وېره اوالله جل جلاله ته دهیلواوامیدونو احساس ته وده په برخه کوي اوپه انسان ښه اخلاق لکه سخاوت، شجاعت،تواضع،رحمت اوشفقت رامینځته کوي مئومن مسلمان دالله رضاغواړي اوداخرت هیله من وي

- قیامت نېږدې اوعلم یې یوازې الله تعالی ته حاصل دی خو ننبې ننبانې یې په قران اونبوې احادیثوکې یې یادونه شوې دقیامت له ننبوځخه هدف دادی چې قیامت نېږدې اودنړۍ عمر نورپای ته رسېدلی دی دقیامت له راتلونه مخه دقیامت دننبانو حکمت دادی چې خلک دغفلت له درانه خوبه راپاځېږي توبه او الله جل جلاله ته رجوع وکړي.

• دقیامت نښې په دوه ډوله کوچنۍ اولویې په کوچنیونښوکې ځینې څرګندې شوي اوځینې نه دي شوي په کوچنیونښوکې درسول الله صلی الله علیه وسلم بعثت اووفات دبیت المقدس فتحه، دعمواس طاعون، دمال زیات والی دفتنوڅرګند بدل، دنبوت ددروغو مدعیانوظهورپه حجازکې داورڅرګند بدل، دترکانوسره جګړه دعجموسره جنګ دامانت ضایع کیدل ددیني علم له مینځه تلل دپولیسواوظا لمانودمرستیالاتوزیات والی دزناخپربدل ،دسودترویج، دموسیقي جواز، شراب څښل، دجوماتونو تزئین دبلډنګونو جوړول، وینځې باداره جوړبدل، دښارونو نهڅدې والی، دشرک ظهور، دبخل زیات والی، دسوداګرۍ زیات والی، دزلزلوزیاتوالی، دځمکې خسف ،دصالحانومړینه، درزیلوخلکو مشرتوب، دسلام اچول دپېژندنې پراساس دبرینډوښځوڅرګند بدل، دلیک اولوست زیات والی دسنتوتوهین دسپورمی پرسېدل ددروغوزیات والی ، ددروغوګواهی ،دښځوزیات والی، دنارینه ؤکمبوداومړینه ،دباران زیات والی اودحاصلاتوکموالی، دفرات په سیند دسروزرو دغره څرګند بدل ،انسان سره دځناورواوجا مداتوخبرې، دمرګ هیلې درومیانوزیاتوالی اوله مسلمانانوسره جګړه داستانبول فتحه له یهودوسره جګړه دبیت الله توهین او رنګبدل.

• دقیامت په لویونښوکې دامام مهدي راوتل ددجال راوتل دعیسی علیه السلام له اسمانه راکوزبدل، یاجوج اوماجوج او دځمکې خسف، لوی لوګی له لویدیزه دلمر راختل ددابة الارض څرګند بدل دیمن له عدن نه داور راوتل چې خلک به دحشرپه لوري شړي.

دپنځلسم څپرکي پوښتنې

۱ - په اخرت دایمان مفهوم واضح کړی ؟

۲ - داخرت په ورځ ایمان کوموچاروته شاملږي.

۳ داخرت په ورځ دایمان اهمیت ولیکئ

۴ - داخرت په هکله داسلام تصور واضح کړئ

۵ - ماتریالستان څوک دي داخرت په هکله دهغوی مفکوره څه ده دهغوی دمفکورې د ،رد دلایل ولیکئ

۶ - له اخرت نه منکر انسان .... وي

۷ – په اخرت باوري انسان وي
۸ – دقیامت عقلی اوساینسی ثبوت واضح کړئ
۹ – په اخرت دایمان دري غوښتنې ولیکئ.
۱۰ – په بشري ژوند په اخرت ایمان ډېرې مثبتې اغیزې لري څلو ریې ولیکی
۱۱ – دقیامت کوچنی شل ننبې ولکئ
۱۲ – دقیامت لویې ننبې شرحه کړئ ؟

کورنی دنده

دمضمون استاذدې دقیامت په هکله ګڼ ایاتونه راغلي دي اوهمدارنګه ډېر روایات دي هغه ایاتو نه اوروایات دې ورته په ننبه کړي اودحفظ دنده دې ورته وسپاري.

دشپاړلسم څپرکي دموضوعاتو فهرست

لړليک

- دقيامت نتداري
- سريزه
- په شپېلۍ کې پوکی
- بعث (له قبرونو راپورته کېدل)
- قيامت
- حساب
- تله
- دعملنامو خپرېدل
- دکوثر حوض
- دصراط پول
- جنت
- دوزخ
- دشپاړلسم څپرکي دموضوعاتو لنډيز
- پوښتنې
- اخځونه

شپارلسم څپرکی

دقیامت نداري

سریزه

قران عظیم الشان اونبو ي حدیثونه په کتلو سره داخبره څرګنده ږي چې دنړۍ دعمرپه پای ته رسېدلواودقیامت په پیلېدوسره دوه ستري حادثې چې له یو بل سره مشا به دي او دشپېلۍ په پو کي سره شهرت لري رامینځته کېږي دشپېلۍ وهل دخطر دزنګ حیثیت لري داسرافیل دلو مړۍ شپېلۍ پر مهال به ډېر یو هیتبنا که اووهروونکی غږ پورته کړی شي دابه دنړۍ دمو جوده نظام دپای ته رسېد لودخطر زنګ وي ددغې ستري پېښې له املـه بـه دخلکو زړونه وچوي ځمکه بـه ډېرسخت تکانونه وخوري اوبـه بـه اورواخلي غرونـه بـه ډډاندې شويو وړيوپه څېر والوزي ددویمې شپېلۍ په وهلو سره به له قبرونو څخه ټول انسانان لوڅ لپر، سرتواو پښې ابله دمحشر میدان ته روانېږي ترڅو دالله جلت عظمتـه پـه دربارکې له خلکو سره حساب صورت و مومي.

مو ږ بـه پـه دغـه بحث کې دنړۍ دنظام دبر با دېد لو د لو مړۍ اودویمې شپېلۍ (دخطر زنګ) دالله پر وړاند ي درېد ل ، حساب او میزان دعملنا مو خپر ېدل دکو ثر حوض ،دصراط پل، جنت اودوزخ تر څېړنې لاندې ونیسو.

په شپېلۍ کې پو کی

پېژ ندنه یې: داله هغه ښکر څخه عبارت دی چې دقیامت نه مخکې به یې مقربه ملا یکه اسرافیل علیه السلام دالله تعالی په امر غږ وي اودابه دنړۍ دورانېد و دخطر زنګ وي.

دلایل یې

په شپېلۍ کې دپو کې دلا یل په قران عظیم الشان،نبو ۍ سنتواودامت په اتفاق سره ثابت دی

لومړی دلیل قران عظیم الشان: په قران کریم کې ګڼ شمېر ایاتونه په دې هکله راغلي دي مو ړ په یو څو اکتفا کو ؤ هلته چې فرمایي ﴿ وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَصَعِقَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا مَن شَآءَ ٱللَّهُۖ ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخۡرَىٰ فَإِذَا هُمۡ قِيَامٞ يَنظُرُونَ ﴿٦٨﴾ ﴾ الزمر: ژباړه:

په بل ځای کې داسې ارشاد دی ﴿ وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَإِذَا هُم مِّنَ ٱلۡأَجۡدَاثِ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ يَنسِلُونَ ﴿٥١﴾ ﴾ یس: ژباړه: بیا به یوه شپیلۍ پوکړه شي او په ناڅاپي ډول به دوی دخپل رب حضور ته دوړاندې کېدولپاره له خپلو قبرونو څخه راووځي.

دشپیلیو شمېر

اسرافیل علیه السلام به دخطر دوه شپیلۍ (دخطر زنګونه) ووهي په لومړي خل به ټول خلک بې هوښه اومړه شي اوبه به اورواخلي اوغرونه به والوزي اوله یو بل سره به په ټکر شي دانفطا راوتکویر په سورتونوکې دغه انځوربیان شوی دی دغه پوکي ته دهیبت، ټکان او سختې چې نوم هم ورکړشوی په دوهم خل به ټول خلک له قبرونو څخه راڅوند ي کړای شي اودب العالمین دحساب لپاره به وړاند ې کولی شي دویمی شپیلۍ ته رادفه هم وایي.

بعث (له قبر ونو راپور ته کېدل)

پېژند نه:

بعث په لغت کې راپا ځېد لو ته وایي اوپه شرعي اصطلاح کې له جسمانی دوباره ژوند ون څخه عبارت دی چې دقیامت په ورځ به روح له جسم سره دحساب اوفیصلې په خاطر یوځای کېږي

دثبوت دلایل یې

له مرګه وروسته دوباره ژوندون په قران کریم نبوي سنتو، اجماع عقل اوسلیم فطرت سره ثابت دی د قران عظیم الشان کې په ګڼو ځایونوکې دغه مطلب ته اشاره

شوي ﴿ يَوْمَ هُم بَٰرِزُونَ ۖ لَا يَخْفَىٰ عَلَى ٱللَّهِ مِنْهُمْ شَىْءٌ ۚ لِّمَنِ ٱلْمُلْكُ ٱلْيَوْمَ ۖ لِلَّهِ ٱلْوَٰحِدِ ٱلْقَهَّارِ ﴿١٦﴾ ﴾ غافر: ژباړه :هغه ورځ چې ټول خلک بې پردې وي له الله نه به دهغو هېڅ خبره هم پټه نه وي(په هغه ورځ به په لوړاواز پوښتنه وشي)نن باچاهي دچاده ؟ (ټول مخلوق به غږوکړي) ديوه قهار الله.

ددويم ځل ژوند دلايل

قران عظيم الشان ددوباره ژوند ون په اړه ګڼ دلايل وړاندې کوي دهغوله جملې څخه دالله جلت عظمته په قدرت او مطلق علم اتکا ء ددغې شبهې په ځواب کې چې يو ځل انسان په خاورو بدلو ن ومو مي څنګه به د دويم ځل لپاره ژوند ی کړ ی شي ؟

- داچې الله تعالى قادر او دمطلق ځواک او دعلم څښتن دی دمړيودوباره ژوند ي کول دهغه له واک نه بهرون نه دي قران عظيم الشان دغه مطلب داسې بيا نـــوی ﴿ أَوَلَيْسَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ بِقَٰدِرٍ عَلَىٰٓ أَن يَخْلُقَ مِثْلَهُم ۚ بَلَىٰ وَهُوَ ٱلْخَلَّٰقُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٨١﴾ ﴾ يس: ژباړه: ايا هغه ذات چې اسمانونه اوځمکه يې پيداکړل پردې باندې قادرنه دی چې ددوی په څېرپيداکړای شی ؟ ولې نه پداسې حال کښې چې هغه ماهرخلاق دی .
- دانســان لــومړی ځــل پيدا ايښــت :قــران عظــيم الشــان دقيامــت دمنکرينودشبهاتودله مينځه وړلو

لپاره دهغوی لومړي پيدا ايښت ته پام رااړوي قران عظيم الشان فرمايي ﴿ وَهُوَ ٱلَّذِى يَبْدَؤُا۟ ٱلْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ وَهُوَ أَهْوَنُ عَلَيْهِ ۚ وَلَهُ ٱلْمَثَلُ ٱلْأَعْلَىٰ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٢٧﴾ ﴾ الـــروم: ژباړه: هماغه ذات چې دهستوني پيل کوي،بيابه هماغه د هغې اعاده وکړي

اوداد هغه لپاره لازياته اسانه ده په اسمانونواو ځمکه کې دهغه صفت ترتولولورډی او هغه برلاسی اودحکمت څښتن دی

• په کاياتو کې ددويم ځل ژوندون ښېلګې او نمونې: ددويم ځل ژوندون په هکله ستردليل په ځمکه کې دفصلونوشنه کېدل اووچېدل دي قران عظيم الشان فرمايي ﴿ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنَّكَ تَرَى ٱلْأَرْضَ خَٰشِعَةً فَإِذَآ أَنزَلْنَا عَلَيْهَا ٱلْمَآءَ ٱهْتَزَّتْ وَرَبَتْ ۚ إِنَّ ٱلَّذِىٓ أَحْيَاهَا لَمُحْىِ ٱلْمَوْتَىٰٓ ۚ إِنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٣٩﴾ ﴾ فصلت: ژباړه: اوداللہ له نښانو څخه يوه داده چې ته ګوري چې ځمکه وښه پرته ده ، بيا څنګه چې موږ پر هغې باندې او به وا ورولې،په ناڅاپي ډول هغه برکښې او غورېږي په يقيني ډول کوم ذات چې دغه مړه لوېدلې ځمکه ژوندۍ کوي هغه دمړو ژوندۍ کوونکی هم دی په باوري ډول هغه په هر څه باندې قدرت لري .

• ددويم ځل ژوندتاريخي نمونې:قران عظيم الشان دقيامت منکرينوته تاريخي حوادث هم مخې ته ږدي هلته چې خلک په مرينه محکوم شوي اوبيا يې ددويم ځل لپاره ژوندي کړي تر څو دقيامت په دوباره ژوند دليل شي قران عظيم الشان فرمايي ﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ خَرَجُوا۟ مِن دِيَٰرِهِمْ وَهُمْ أُلُوفٌ حَذَرَ ٱلْمَوْتِ فَقَالَ لَهُمُ ٱللَّهُ مُوتُوا۟ ثُمَّ أَحْيَٰهُمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ ﴿٢٤٣﴾ ﴾ البقرة: ژباړه: ايا تا دهغو خلکوحال ته څه پاملرنه کړېده،چې دمرګ له وېرې يې خپل ټاټوبي پرېښي وتلي وواودهغوشمېرزرګونوته رسېده ؟ اللہ هغوته ووېل:ومرئ بيايې هغوی ددويم ځل له پاره راژوندي کړل حقيقت دادی چې اللہ پرانسانانو زيات مهربان دی خوزياتره خلک شکرنه اداکوي.

په دين کې يې مرتبه

له قبرونودوباره راپاڅېدل داخرت په ورځ په ايمان کې شامل دي ددې اهميت او په دين کې سترمقام له هېڅا نه پټ نه دی هلته چې اللہ جل جلاله ددې کارپه

رامینځته کېدو سوګند خو ړلی اوویلي یې دي چې دایو ریښتیې اوارو مروپېښېدونکی خبردی

دانکار حکم یې

له بعث بعد الموت څخه انکارپه الله جل جلاله ،اسماني کتا بونو او پیغمبر انو کفر کول دي

قیامت

دقیامت تعریف : قیامت دمصدر صیغه او داخرت دورځې دنو مونودجملې څخه ده .

دنومېدنې لامل یې

داچې خلک به له قبرونوراپا ځېږي اوالله جلت عظمته په وړاندې به درېږي اویا داچې په دې ورځ به جبریل اوملایکې دصفونوپه بنه دالله جل جلاله پروړاندې ولاړ ې وي .

دشان لوړ تیا یې :

دقیامت ورځ ډېره ستره او عظیم الشانه ورځ دی هلته چې قران عظیم الشان ددغې ورځې عظمت ته په لاندې توګه اشاره کوي

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُوا۟ رَبَّكُمْ ۚ إِنَّ زَلْزَلَةَ ٱلسَّاعَةِ شَىْءٌ عَظِيمٌ ۝١ يَوْمَ تَرَوْنَهَا تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّآ أَرْضَعَتْ وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَتَرَى ٱلنَّاسَ سُكَٰرَىٰ وَمَا هُم بِسُكَٰرَىٰ وَلَٰكِنَّ عَذَابَ ٱللَّهِ شَدِيدٌ ۝٢ ﴾ الحج: ای خلکو!دخپل رب له غضب نه ځان وژغورئ،حقیقت دادی چې دقیامت زلزله لوی(هولناک)شی دی هغه ورځ چې تاسې هغه ووینئ،حال به داوي چې هره تی ورکوونکې به له خپل تي رودي ماشوم څخه غافله شي،او هره

حامله به خپل حمل وغورخوي،اوخلک به تاته بهسده ښکاره شي،پداسي حال کې چې هغوی به نشه نه وي بلکې دالله عذاب به ډېر سخت وي

ځینو پخوانیو علماءو ویلي دي که د قیامت د ورځې په شان اوس لمر راو خېژي نو دځمکې هر څه به اور و اخلي ، تېږې به ویلې اواو به به ټولې په بخار تبدیلې

دعرش تر سیوري لاندې وګرځي

هلته ډېر اعمال دي چې الله تعالی به یې دقیامت دسختیو څخه دنجات وسیله وګرزوي هغه خلک چې الله تعالی به یې دخپل عرش درحمت تر سیوري لاندې ودروي په نبوی مبارک حدیث کی اوه ډوله خلک ښودل شوي دي

حساب

دحساب پېژندنه

په عربي ژب دودکی حساب شمېرلو ته وایي او په اصطلاح کې د قیامت په ورځ دبندګانوپه اعمالواوکړوورودالله تعالی خبرتیاته ویل کېږي

دحساب دلایل

دحساب دلایل په قران کریم ، نبوی سنتواودامت په اتفاق سره ثابت دی دقران عظیم الشان او نبوي سنتو په دې هکله ډېر ګڼ دلایل دي هلته چې فرمایي ﷺ

﴿ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُم ﴿٢٦﴾ ﴾ الغاشية: ژباړه: بیا د هغو حساب همدا زموږ کاردي.

پیغمبر صلی الله علیه وسلم به په خپلو ځینولمونځونوکې داسی دعاکوله (اللهم حاسبنی یسیرا)

دامت اجماع

دټولو مسلمانانو په اتفاق سره دقیامت په ورځ حساب ثابت دی

حکمت یې

حساب او کتاب دالهي حکمت غوښتنه هم ده دائکه چې الله جلت عظمته خپل اسماني کتابونه نازل کړي دي او خپل استازي یې رالېږلي دي او په خلکو باندې

يې په هغه پيغام منل او عمل کول لازم ګر زولي چې پيغمبر انو عليهم السلامو خپلو ولسو نو ته له خا ن سره راوړ ی ؤ دهغو خلکو پر ضد يې جګړه فرض ګر زولې وه چې څو ک له دغه نظام سره په ټکر کې واقع دي دهغو ی مالو نه او دهغوی وينې يې رواګرزولې وې نو کچېرته حساب او کتاب جزاوسزا نه واى نو دا کار خو بيا عبث ګر زېد ه ځکه چې مجرم او غير مجرم په يوردیف کی راتلل الله تعالى خو له عبث کارڅخه منز ه اوپاک دی قران عظيم الشان دغه مطلب داشارې په ترڅ کې فرمـــــايي ﴿ فَلَنَسْـَٔلَنَّ ٱلَّذِينَ أُرْسِلَ إِلَيْهِمْ وَلَنَسْـَٔلَنَّ ٱلْمُرْسَلِينَ ۝٦ فَلَنَقُصَّنَّ عَلَيْهِم بِعِلْمٍ وَمَا كُنَّا غَآئِبِينَ ﴾ الأعـراف: ژبـاړه: نـو دا کارارومروکيدونکی دی چې مونږ لـه هغو خلکو څخه حساب واخلو چې مونږ هغوی ته پيغمبران ورلېږلي دي اوله پيغمبرانونه بـه هم پوښتنه وکړو(چې هغوی دپيغام رسولو فريضه ترکومه ځايه سرته ورسوله اوهغوته په مقابل کښې څه ځواب ورکړشو)بيابه مونږ په خپله په کامل علم سره ټوله ماجراد هغوی مخې ته وړاندې کړو،او مونږ چېرته غائب نه وو.

- **دالهي محا سبې کيفيت :**

داسلامي شريعت څر ګند نصوص دحساب په کيفيت او صفت ګواه دي په اجمالي توګه داسې ويلى شو ! چې دقيامت په ورځ به الله تعالى خپل بنده په خپل مخکې ودروي په خپل جرم اعما لو اووينا ء و به يې قانع کړي،په دنيا کې ايمان ؤ که طاعت او استقامت اوکه کفر،عصيان اوانحراف په ټولواللہ جل جلا له پوه ؤ نو پردې اساس الهي محا سبه شمو لي بڼه لري دمثال په توګه دالله تعالى وينا دوی ته چې داسې موولې کړي دي،ددوی معذرتونه ،اوپردوی ددلايلواقامه دګواهانو شهادت تردې چې دانسـان اندامونـه بـه ګـواهي ورکړي داعمـالو وزن اوداسې نورو ټولو ته شامل دي

- **دحساب ډولونه**

دحساب څخه ځينې سخت ، ځينې اسانه او ځينې دبيان،عزت اودرناوي حساب دی ځينې درټلو ، مئواخذ ې اوسزاحساب دی

• **بې حسابه وګړي**

حساب ټولوخلکو ته شامل دی مګر هغه چې رسو ل الله صلی الله علیه وسلم مستثنی ګرزولي دي البته له کافرانو سره حسا ب نه کېږ ی څکه چې دوی نېک عمال نه لر ي لېکن ددوی ناوړه اعمال شما رلی شي دوی به پرې اعتراف وکړي اوپرې شر منده به کړی شي

• **محاسبه شوی امت**

تر هر څه دمخه به دمحمد صلی الله علیه وسلم له امت سره محا سبه کولای شي لکه چې په یو نبو ي مبارک فرمان کې داسې راغلي دي . (نحن الاخرون السا بقون ...)

• **دمحا سبې عمل**

تر هر څه دمخه به له مئومن سره دلما نځه احساب کېږ ي که لمو نځ یې سم ؤ نو ټول اعمال به یې سمو ن ومو مي او که لمو نځ یې فاسدؤ ټو ل اعمال به یې فاسدوي

• **دبند ګانوپه حقونوکې**

دبندګانوتر مینځ به تر هر څه دمخه دوینو په تویو لوکې محاسبه کېږي .

تله

داخرت په ورځ داعمالو اوکړوورو په وزن کولو ایمان لازم دی مو ږ به دلاندې اموراتو په هکله بحث وکړ و !

پېژ ندنه یې :

داهغه وسیله ده چې په دې سره دشیانو سپکوالی او دروند والی معلو مولی شي په شرعي اصطلا ح کې له هغه څه نه عبارت دی چې الله تعالی به یې دبند ګانو دعمالو لپاره وټاکي .

داثبات دلا یل : دمیزان تله په قران کریم ، نبو ی سنتو او دامت په اجماع سره ثابت ده

لومړ ی دلیل قران عظیم الشان :الله جلت عظمته دمیزان (تلې) په هکله داسې فرمایي ﴿ وَنَضَعُ ٱلْمَوَٰزِينَ ٱلْقِسْطَ لِيَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْـًٔا ۖ وَإِن كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ أَتَيْنَا بِهَا ۗ وَكَفَىٰ بِنَا حَٰسِبِينَ ﴿٤٧﴾ ﴾

ژباړه: دقیامت په ورځ به مونږ برابري تول کوونکي تلې کړدو، بیایه پرهیڅاویښترې څ م نه وي دچاچې داوري ددانې په اندازه هم څه کړه وړه وي هغه به مونږ ورمخې ته کړواودحساب کولو له پاره مونږکافي یو.

په بل خاکې داسې ارشاد دی ﴿ وَٱلْوَزْنُ يَوْمَئِذٍ ٱلْحَقُّ ۚ فَمَن ثَقُلَتْ مَوَٰزِينُهُۥ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴿٨﴾ وَمَنْ خَفَّتْ مَوَٰزِينُهُۥ فَأُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓا۟ أَنفُسَهُم بِمَا كَانُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا يَظْلِمُونَ ﴿٩﴾ ﴾ الأعراف: ژباړه اوپه هغه ورځ به تله کټ مټ حق وي دچا چې پله درنه وي هماغوی به خلاصون ومومي او د چا چې پلې سپکې شي هغوی به په زیان کښې د خپل ځان اخته کوونکي وي ځکه چې هغوی زمونږ له آیتونو سره له ظلمه ډک برخورد کاوه.

دویم دلیل: نبوي سنت او دامت اجماع دی تول امت داعمالو دتول اووزن په اعتبار متفق دي خواوس پوښتنه دادی چې ایا دمیزان تله حسي ده او که معنوي؟ هغه تله چې دقیامت په ورځ به په کې اعمال تلل کېږي حسي اوحقیقي ده دوه پلې لري

دتول وړ شیان:

په دې کې دښد ګانو اعمال تللی شي اګر که دغه اعمال اعراض وي مګر الله تعالی به ورته اجسام په بر خه کړي نېک اعمال به په یوه تله اوبد اعمال به په بله تله کې واچول شي، ځینو علماوویلي دي چې داعمالوپانې به وتلل شي اوځینووویلي دي چې په خپله عامل شخص به وتلل شي، زمونږ اسلامي پوهانوددغو نصو صوترمینځ داسې تو فیق رامینځته کړی چې حقیقي وزن داعمالودلیکلوشویوپانو ده اوهغه روایت چې دعمل ځښتن به تلل کېږي مرادورځخه دهغه قدراوعزت ده

دتلوشمېر:

ځینو اسلامي پوهانو ویلي دي دملتونو، افرادواواعمالو په اعتباربه تلې ګڼې وي په قران عظیم الشان کې موازین جمع راغلې ده

د تلې د نصب حکمت

د تلې په نصب کې حکمت د الهي عدل اظهار دی له همدې امله هېڅوک به عذر نه شي وړاندې کولی له همدې کبله الله تعالی انبیا ء علیهم السلام راستولي دي تر څو خلکو ته بهانه پاتې نه شي

دعملنا مو خپر ېدل

دعملنا مو د غو ړېدلو څخه مو خه هغه دفتر ونه دي چې ملا یکو به په کې د انسان ټول اعمال شمېر لي او سا تلي وي دقیا مت په ورځ به راڅر ګند او خپلو څښتنا نو ته به ووېشل شي مئو منانو ته به په ښي لاس او کافر انو او منا فقینو ته به په کېڼ لاس ورکول کېږ ي

دلایل یې

دعملنا مو دخپر ېدا دلایل قران عظیم الشان ، نبوي سنت او دامت اجماع ده،دمئومنانو مورحضرت عا یشه رضی الله عنها فرمایي چې ما دپیغمبر صلی الله علیه وسلم نه پو ښتنه وکړه ایا تا سو ته به دقیامت په ورځ خپل اهل او عیال درپه یا دوي ؟ رسو ل الله صلی الله علیه وسلم په ځواب کې ورته ویلي ؤپه دري ځایونوکې به هېڅا ته څوک ورپه یا دنه وي یوداعمالودتول په مهال ترڅو څرګنده شي چې درنه به شي او که سپک او بل هغه مهال چې عملنا مې به خپرې شي تر څو ورته څر ګنده شي چې په ښي لاس به ورکول کېږي اوکه په کېڼ دشا له خوا ،اوبل دصراط په پله چې ددوزخ په مینځ کې به پر ې تېرېدل صوت ومومي

دعملنا مو درا نیو لو بڼه

مئو من مسلمان ته به عملنا مه په ښي لاس ورکول کېږي خو ښ اوخو شا له به وي

قران عظیم الشان په دې هکله داسې فرمایي ﴿ فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ فَيَقُولُ هَآؤُمُ ٱقْرَءُوا۟ كِتَٰبِيَهْ ﴿١٩﴾ ﴾ الحاقة: ژباړه: په هغه وخت کښې چې دچا عملنامه د هغه په ښی لاس کښې ورکړه شي هغه به ووائي ((هه وګورئ ، ولولئ زما عملنامه

اوکافر ته به په کښ لاس دشا له خوا ورکو ل کېږي فرياداو چيغې به وهي چې هاى

بربا دشوم قران عظيم الشان فرمايي ﴿ وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِشِمَالِهِۦ فَيَقُولُ

يَٰلَيْتَنِي لَمْ أُوتَ كِتَٰبِيَهْ ﴿٢٥﴾ وَلَمْ أَدْرِ مَا حِسَابِيَهْ ﴿٢٦﴾ ﴾ الحاقة ژباړه:

دکوثر حوض

پېژندنه : دغه داوبو هغه حوض دی چې دپيغمبر عليه السلام لپاره به دقيامت په ورځ دمحشر په ميد ان کې لګېدلی وي

دلا يل يې : دکوثر حوض په قران عظيم الشان ، نبوي سنتو او دامت په اجماع سره ثا بت دی په قران عظيم الشان کې پيغمبر صلى الله عليه وسلم ته فر مايي ﴿

إِنَّآ أَعْطَيْنَٰكَ ٱلْكَوْثَرَ ﴿١﴾ ﴾ الكوثر ژباړه: (اي پيغمبره !) بېشکه مونږ تانه کوثر درکړی دی

په نبو ي احاديثو کې دکوثر دحوض په هکله ګڼ روايات راغلي دی چې دتوا تر حدته رسېږي او څه لپاسه دېرش اصحابو کرامو روايت کړي دي دحضرت انس څخه روايت دی چې کله رسول الله صلى الله عليه وسلم دمعراج په شپه دپورته نړۍ څخه ننداره کوله پيغمبر عليه السلام فرمايي چې زه په يوه ويالې ورغلم چې څنډې يې دملغرو څخه جوړې وې اوګنبذي بڼه يې درلو ده ما جبريل ته وويل داڅه شی دی ؟ راته په ځواب کې يې وويل دغه دکوثر حو ض دی،له بلې خوادحوض کوثر په هکله ټول امت اتفاقي عقيده لر ي

صفت يې

دکو ثر دحوض په هکله ګڼ روايت راغلي دي چې مو ږ يې لنډيز وړاندې کو ؤ (دغه يوستر حوض دی چې له جنت نه دکوثرله ويا لې رابهېږ ي اوبه يې له شېدواو سپينوزرو سپينې اوله واورې يخې اوله شاتوخو ږ ې اوله مشکوخو شبو يه دي لو بنې يې داسمان دستوروپه شا ن پلن والی اواو ږ دوالی يې ديوې ميا شتې دمز ل په الله ول دی يوځل چې چا ورځخه او به وڅښلې هېڅکله به تږ ی نه شي په مينځ کې

يې مشک شنه شوي او څنډې يې په مرغلرواودسروزرو ه تهو تهواو جو اهراتو
نايسته شوي دي

دحوض اختصاص

اوس پو ښتنه دادی چې ايادغه حوض يواز ې رسول الله صلى الله عليه وسلم پورې
مختص دی او که نورپيغمبران يې هم لري ؟ په ځينوروایاتو کې راغلي دي چې هر
پيغمبرحوض لري لېکن زمو ږ دپيغمبر محمد صلى الله عليه وسلم حوض تر ټولو
ستر، لوی اوخو ږدی او ډېرمراجعين لري

او سنی شتون يې

دکوثرحوض اوس هم شتون لري دليل پرې دعقبه بن عامر رضى الله عنه روايت دی
چې يوه ورځ پيغمبرصلى الله عليه وسلم له خپل کوره راؤوت اوداحد دشهيدانومزار
ته ورغی اوپرهغوی يې داسې دجنازې لمونځ وکړلکه څنګه چې يې هو شخص په
مړي ترسره کوي بياترستنېدوروسته منبرته وخوت ويې ويل زه له تا سې نه مخکې
تلونکی يم اوزه پرتا سې ګواه يم په الله سوګندچې زه خپل حوض ته هم دااوس
ګورم

له حوضه شړل شوي وګړي

حوض ته راتلونکي ريښتينی مئومنان دي اوورځخه شړ ل شوي مرتد ،بې دينه عنا
صراومبتد عين ددين بدلوونکي وګړي دي څو ک چې دمسلمانانو له جماعت نه
مخالفت وکړي او له هغو ی څخه خپله لاره ببله کړي لکه ددې دخت مسلمانې
ګمراه ډلې همدارنګه ظا لمان اودلويې ګنا ه ګنهګا ران .

حقيقت دادی چې تل تر تله دوزخ دکافراومنکر لپاره ده چې په زړ ه کې يې يو ه ذر
ه ايمان هم نه وي

دصراط پول

پېژ ندنه : داهغه او ږ دپول دی چې په دوزخ لپاسه تېرشوی ترڅوپرې خلک
جنت ته ورسېږي .

دثبوت دلا يل يې

قران عظيم الشان،نبوي سنت اودامت اجماع ده قران عظيم الشان دغه مطلب
داسې اشاره کوي ﴿ وَإِن مِّنكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا ۚ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتْمًا

مَقْضِيًا ﴿٧١﴾ ژباړه له تاسې نه هېڅوک داسې نشته چې دوزخ ته ورتلونکی نه وي، داخویوه فیصله شوې خبره ده چې دهغې اورمروترسره کول ستادرب په ذمه دي

ځینو مفسر ینو له دې څخه دصراط په پله تېر ېدل اخیستي دي او ځینو دوزخ ته ننو تل لېکن له دې څخه به بیا نجات پیداکو ی

په پله دخلکو تېر ېدل

دصراط پول دجهنم لپاسه اینښودل شو ی دجنت اودوزخ ترمینځ حایل دی خلک به دخپل عمل په اندازه په تېزی سره پرې تېر ېږ ي ځینې خلک به دستر ګې درپ ځینې دنوردسرعت په اندول ځینې لکه بادځینې به دتیزاس ځینی داو ښځینې به پیا ده روان وي اوځینې به داوسپنې دکو ندوپه وسیله راونیو ل شي اوپه دوزخ کې به غورزول شي لنډ ه داچې څوک دصراط په پله وزتېرشي جنت ته به داخل شي همدغه ویناد نبوي احا دیثوخلا صه ده

دصراط پول او کافر ان

حقیقت دادی چې دصراط پول دمئو منانو لپاره لګول شوی په دوی کې منا فقین اوګنهګا رمئو منان هم دي دهمدوی لپاره دصراط پول نصبولی شی خلک به په دووبرخو وېشلی شي یومئومن موحداوبل کافراومشرک مشرکان به دصراط په پله د پښې اینښو دلونه مخکې په دوزخ کې غو ر ځو ل کېږ ي

جنت

په د ې کې هېڅ شک نشته چې کله مئومنان جنت ته په ډ ېر عزت اوویار سره داخل اوملا یکې یې په سلام سره استقبال کړ ي له دې نه پرته بله هېڅ خو شالي اوکامیا بي نشته

- **پېژندنه یې**

جنت دګڼو ونوشنه باغ ته ویل کېږي په شرعي اصطلاح کې دنعمتونواوخو شالیوهغه کوردی چې الله تعالی په اخرت کې دمخلصو مئو منانو لپاره تیارکړی دی

• **دجنت دنومبدو لا مل**

ده ته جنت دد دنیاله باغ سره دتشبیه پراساس وایي او یا خو جن هغه څه ته ویل کېږي چې له ستر ګو پټ وي دجنت نعمتو نه هم زمونږ له ستر ګو پټ دي قران عظیم الشان دغه مطلب ته داسې اشاره کوي ﴿ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ أُخْفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَآءً بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٧﴾ ﴾ السجدة: ژباړه: نو دستر ګو یخېدو کوم وسائل چې د هغو د عملونو په مکافات کښې د هغولپاره پټ کړای شوي دي هیڅ نفس پرې خبر نه دی .

• **دجنت درجې**

جنت ببلا ببلې درجې او مرتبې لري جنتیان به دخپلو اعمالو په برابر په کې او سېږي.

• **جنتیان څوک دی ؟**

جنتي هریو پر هیز ګار مئومن دی قران عظیم الشان دغه مطلب ته داشاري په ترڅ کې فرمایي

﴿ وَسَارِعُوٓا۟ إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلْأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ ﴿١٣٣﴾ ﴾ ال عمران: ژباړه: پر هغه لاره په منډه منډه وځغلئ چې ستاسې دپروردګار د بخښنې اود هغه جنت خواته تللې ده چې هغه لکه داسمانونو اوځمکې په شان پراخ دی،او هغه له الله وپرېږدونکیو خلکو له پاره تیارکړای شویدی

• **جنتونو او سنی شتون یې**

جنتو نه هم دااوس مو جود دي په عربی ژبه کې اعداد تیا رو لو ته والي ټول اهل سنت دجنت په شتون او په او سني وجود یو نظر لري.

- **دجنت پناه کېدل اوزوال**
- دجنت نعمتونه تل تر تله دی چې پناه کېدل نه لري دجنت په دوام دقران عظیم الشان ګڼ ایاتو نه دلیل دی نو پر دې اساس جنت اودوزخ پناه نه لر ي بلکې همیشه دي
- **دجنتو نو ځای**

جنتو نه په اعلی علیین کې دي قران عظیم الشان فرمایي ﴿كَلَّآ إِنَّ كِتَٰبَ ٱلۡأَبۡرَارِ لَفِي عِلِّيِّينَ ﴿١٨﴾﴾ المطففين: ژباړه: هېڅکله نه، اروموړو دنېکانو عملنامه دلوړ مقامه خلکو په دفتر کښې ده

- **په جنت دایمان مطلب**

جنت دایمان معنا دادی چې یو شخص ټینګ باور ولري چې جنت شته او نعمتونه بې تل تر تله او همیشه دي

- **لومړي ننوتونکي**

جنت ته به تر ټولو دمخه رسول الله صلی الله علیه وسلم ننوزي او په ټولوامتونوکې به لومړی درسول الله صلی الله علیه وسلم امت ننوزي اوددې امت لومړ ی شخص به ابوبکر صدیق رضی الله عنه جنت ته داخلېږي

جنت ته بې حسابه

دغه ددې امت په ایمان کې لوړمنزلته پرهیزګاره بادیا نته شخصیتو نه دي چې جنت ته به دیو صف په توګه داخلېږي مخو نه به یې دسپو ږ مې په شان ځلېږي. ددې امت فقیران به به دشتمنو څخه مخکې جنت ته درومي په دې هکله دوه ډوله روایات راغلي په یوه کې دځلوېښتوکلونو دمخکې والي او په بل کې دپنځه سوه کلونودمخکې وایي ذکرراغلی دی .داچې فقیران اوشتمن دجلاجلاحالاتوڅېښتنان دي په فقیرانوکې هم ځینې وګړي په ایمان اوتقوی کې سره جلا دي او شتمن هم همداسې درواخله هر کله چې حساب دلومړي فقیراوداخري شتمن جنتی څخه واخلې نو پنځه سوه کاله کېږي اواوکه چېرې په فقیرانو کې وروستی فقیرجنت ته په داخلېدوکې اولومړی شتمن جنت ته په داخلېدو کې محا سبه کړی شي نو څلو ېښت کاله عمرجوړېږي

تل ت تله او همېشه

جنت همېشه او فنا نه لري او جنتيان تل تر تله خلک مړينه نه لري قران عظيم الشان دغه مطلب ته د اشارې په ترڅ کې فرمايي ﴿ لَا يَذُوقُونَ فِيهَا ٱلْمَوْتَ إِلَّا ٱلْمَوْتَةَ ٱلْأُولَىٰ ۖ وَوَقَىٰهُمْ عَذَابَ ٱلْجَحِيمِ ﴿٥٦﴾ ﴾ الدخان: ژباړه هلته به د مرګ خوند هغوی هېڅکله ونه څکي ، فقط په دنيا کښې چې کوم مرګ راغی . خوراغی . او الله به هغوی د دوزخ له عذاب نه وژغوري ،

دوزخ

پېژ ندنه :هغه تا وجن ګرم کور دمجرمانو زندان او ستره رسوايي چې الله جل شانه کافرانو منا فقينو ، سرکښانو او دپيغمبر انو دښمنا نو ته تيار کړی دی

ددوزخ پورونه :دوزخ ددوزخيانو دبدو اعمالو په اعتبار بېلا بېل پورونه لري

دوزخي : هر يو کافر بدبخته ملحد او بې دينه انسان دی قران عظيم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې فرمايي ﴿ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ شَقُوا۟ فَفِى ٱلنَّارِ لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَشَهِيقٌ ﴿١٠٦﴾ ﴾ هود: ژباړه: څوک چې بدمرغه وي هغوی به دوزخ ته لاړ شي (چې هلته به د ګرمی او تندې له ډېرې سختی نه) د هغوی ستمهاراو پشهار وي.

شتون يې :

داهل سنت والجماعت دټولو علماءو په اتفاق جنت اودوزخ همدا اوس موجود دي

ددوزخ فناء کېدل

دوزخ پناه کېدل او له مينځه تلل نه لري قران عظيم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې داسې فرمايي ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَعَنَ ٱلْكَٰفِرِينَ وَأَعَدَّ لَهُمْ سَعِيرًا ﴿٦٤﴾ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ۖ لَّا يَجِدُونَ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴿٦٥﴾ ﴾ الاحزاب.

ددوزخ ځای :

په اسفل سا فلين دځمکې لاندې برخه کې موقعيت لري قران عظيم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې داسې فرمايي ﴿ كَلَّآ إِنَّ كِتَٰبَ ٱلْفُجَّارِ لَفِى سِجِّينٍ ﴿٧﴾

ژباړه هېڅکله نه،اړومرودبد کارانوعملنامې دسجین په دفترکې دي

دغه ایات په تفسیرکې دبراء بن عازب رضی الله عنه څخه دقبردعذاب په هکله مشهورروایت دی الله تعالی به ووایي چې زمادبنده داعمالو دفتر په سجین کې داووځمکو لاندې ولیکئ ځینو نوربیا وایي چې دوزخ پورته اسمان کی دی ځینې نوربیاپه دې هکله څه نه وایي بلکې دځای علم یې الله تعالی ته سپاري اووایي چې مو ږ ته دالله تعالی په مخلوقاتوداحاطې علم نشته

په دوزخ دایمان معنا :

پر دې ټینګ باورچې همداوس مو جو داو پنا ه کېدل نه لري په دې کې ددوزخ په عذابو نو باورهم شا مل دی

دشپاړلسم څپرکي دموضوعاتو لنډ ېز

۱ - قران عظیم الشان اونبو ي حدیثو ته په کتلو سره داخبره څر ګندېږي چې دنړۍ دعمر په پا ی ته رسېدلو او دقیامت په پیلېدو سره دوه ستري حادثې رامینځته کېږ چې یوې ته لو مړۍ شپېلۍ ،دخطر رنګه ، او بلې ته دوهمه شپېلۍ وایي په لومړۍ شپېلۍ سره به ټول خلک مړه او مو جوده نظام به رنګ شي او په دویمې شپېلۍ سره به ټول انسانان له قبرونو ژوند ي را ؤو زي اودحشر په میدان کې درب العا لمین دحساب لپار ه روانو لی شي

۲ - شپېلۍ له هغه ښکر څخه عبارت دی چې دقیامت نه مخکې به یې مقربه ملا یکه (اسرافیل) علیه السلام به یې دالله تعالی په امرغږ وي په شپېلۍ کې دپو کې دلایل په قران عظیم الشان ، نبو ي سنتو او دامت په اتفاق سره ثا بت دي

۳ - دشپېلیو شمېر دوه دی په لو مړۍ سره به ټول خلک مړه اودنړۍ مو جودنظام به رنګ او په دویمې سره به خلک له قبرونو را پا څو ل شي

۴ - بعث بعد الموة له مړینې وروسته له قبر ونو دوباره جسماني ژوند ون او پا څېد لو ته وایي دلایل یې قران کریم نبو ي سنت او د امت اجماع او اتفاق دی اوپه عقل اوسلیم فطر ت سره ثابت دي

۴ - ددوباره ژوندون په اړه ګڼ دلایل دي دهغو دجملې څخه دالله تعالی په قدرت او مطلق علم اتکاء دی په همد ې تو ګه قران عظیم الشان دهغوی لو مړي پیدایښت ته دهغوی پام رااړوي په پیل کې انسان څه شی ؤ ؟دوباره پیدا کول خو دالله تعالی ته څه

سخت نه دي په همدي تو گه ددويم خل تا ريخي نمو نې په نړۍ کې شتون لري هلته
چې خلک په مړينه محکوم شوي او بيا يې بېرته په دنيا کې ژوند ي کړي تر څو
خلکو نه په قيامت ددوباره ژوند ون دليل شي
۵ – له قبر ونو دوباره راپا ځېدل داخرت په ورځ په ايمان کې شامل دي په دين کې
دې اهميت له هېڅا نه پټ نه دی او د انکار حکم يې کفر دی
۶ – قيامت ته له دې امله قيامت ويل کېږي چې خلک به له قبرونو راولاړ او درب
العالمين دمحاسبې پر وړاندې به ودرېږي دغه ډېره عظيم الشانه او له هيبت نه ډکه
ورځ ده
۷ – په عربي ژبه حساب شمېر لو ته وايي په اصطلاح کې دقيامت په ورځ دبند ګانو
په کړو وړو دالله تعالی خبرتيا نه ويل کېږي داعمالو دمحاسبې دلايل په قران کريم
،نبوي سنتواودامت په اتفاق سره ثا بت دي
۸ – دقيامت په ورځ له انسان سره محاسبه دالهي حکمت غو ښتنه هم ده ځکه چې الله
تعالی خپل اسماني کتا بونه نازل کړي او خپل استازي يې را لېږ لي دي او په خلکو
يې دهغه پيغام منل او عمل کول لازم ګرزولي دي دهغوخلکو پر ضديې جګړه فرض
ګر زولې ده چې څوک ددغه نظام سره په ټکر کې واقع وي نوکچېرې حساب او کتاب
جزااوسزا نه واى نو داکارېيا عبث ګرزېده ځکه چې مجرم او غير مجرم په يوردېف کې
راتللو او داکا رعبث ؤ الله تعالی خودعبث کارځخه منزه او پا ک دی
۹ – په قيامت کې دالهي محاسبې کيفيت او صفت داسې دی چې الله تعالی به خپل
بنده په خپل مخکې ودروي په خپل جرم ،اعمالو اووينا ء و به يې قانع کاند ي دلايل
، ګواهان او داعمالو وزن به صورت ومو مي
۱۰ – له بند ګانو سره محا سبه ډېره دقيقه له عدل اوحکمت څخه ډکه بشپړ عدل دی
هېڅوک دبل په ګنا ه نه نيو ل کېږي
۱۱ – حساب تولو خلکو ته شامل دی مګر هغه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم
مستثنی ګر زولي چې له حسابه پرته به جنت ته درومي ،البته له کافرانو سره حساب
صورت نه نيسي ځکه چې دوی نېک اعمال نه لري لېکن ددوی نا وړه اعمال به شما
رلی شي دوی به پرې اعتراف وکړي او شرمنده به شي
۱۲ – تر تولو دمخه به درسول الله صلی الله عليه وسلم له امت سره محا سبه وشي په
عباداتو کې تر هر څه دمخه دلما نځه حساب کېږي او دبند ګانو په حقو قو کې دوينو
تويو لو حسا ب تر هر څه مخکې صورت نيسي

۱۳ - په قیامت کې داعمالو تول ثابت حقیقت دی ،تله هغه وسیله ده چې په ې سره رښیانو سپکوالی اودروندوالی معلومولی شي، دتلې داثبات دلایل قران کریم،نبوي سنت اودامت اجماع ده

۱۴ - هغه تله چې قیامت په ورځ به په کې اعمال تلل کېږي حسی او حقیقي ده دوه پلې لري

۱۵ - په تله کې به دانسان اعمالوته جسم ورکړی شي ځینوعلماءوداعمالو پا نې تلل اوځینوپه خپله دعامل شخص تلل اخیستي دي

۱۶ - دتلې په نصب کې حکمت دالهي عدل اظهاردی له همدې املې هېڅوک عذرنه شي وړاندې کولی

۱۷ - دعملنامودغو رېد لو ځخه مو خه هغه دفترونه دي چې ملایکو په کې دانسان اعمال شمېر لي اوساتلي دي دقیامت په ورځ به راڅر ګندا وخپلوځښتنانوته به ووېشل شي منو منانو ته په ښي لاس اوکافرانو ته به په کین لاس ورکول کېږي.

۱۸ - دعملنا مودخپر ېدا دلایل په قران کریم ،نبوي سنتو او دامت په اتفاق اواجماع سره ثابت دی

۱۹ - دکوثر حوض داوبوهغه حوض دی چې دپیغمبر علیه السلام لپاره به په دقیامت په ورځ دمحشر په میدان کې لګېدلی وي دلایل یې قرانکریم ، نبوي سنت اودامت اجماع ده

۲۰ - دکوثرحوض دجنت دکوثرله ویالې را بهېږي اوبه یې له شهدواوسپېنوزروسپېنې اوله واورویخې او له شا تو خوږې دي او له مشکو خوشبویه دي لوښي یې داسمان دستو رو په شان پلن والی اواوږد والی یې دیوې میا شتې دمزل په اندول دی یوځل چې چاورځخه اوبه وڅښلې هېڅکله به تږی نه شي په مینځ کې یې مشک شنه شوي او څنډې یې په ملغلواودسرورزرو په توتو اوجودهراتو بنا یسته شوي دي

۲۱ - هر پیغمبر حوض لري خود محمدصلی الله علیه وسلم حوض تر ټولو ستراولوی دی دکوثر حوض هم دا اوس شتون لري.

۲۲ - درسول الله صلی الله علیه وسلم حوض ته تلونکي خلک به ریښتینی مئومنانووړځخه شړل شوي مرتدبې دینه عناصر اومبتد اعین اوددین بد لوونکي دی

۲۳ - دصراط پول هغه اوږد پول دی چې ددوزخ لپاسه تېرشوی تر څو پرې خلک جنت ته ورسېږي دثبوت دلایل یې قران کریم ، نبوی سنت او دامت اجماع ده

۲۴ – دصراط په پله به ځینې خلک دستر ګې درپ ځینې دنوردسر عت ځینې دبادځینې دتېزاس او ځینې به داوښ دمزل اوځینې به پیاده روان وي او ځینې به داو سپنې دکونډو په وسیله راو نیو ل شي اوپه دوزخ کې به وغورځول شي کا فران، منا فقین اومشرکان به په دوزخ نه شي تېربدلی بلکې دصراط په پله دپښې اېښو دلو نه مخکې به په دوزخ کې وغور زول شي

۲۵ – جنت دګنو ونو شنه باغ ته ویل کېږي په شرعي اصطلاح کې دنعمتونو او خو شا لیو هغه کورته ویل کېږي چې په اخرت کې الله تعالی دمخلصو مئو منانو لپاره تیار کړی دی دجنت نعمتو نه زمو ږ له ستر ګو پټ دي

۲۶ – جنت بېلا بېلی مر تبې اودرجې لري جنتیا ن به دعمالو په برابر په کې او سېږ ي

۲۷ – جنتي هریو متقي او پر هېز ګار مئومن دی

۲۸ – جنتونه همداوس مو جو د دي دجنت نعمتو نه تل تر تله دي چې پناه کېد ل نه لري دجنت دوام په ګنو ایاتو نو ثا بت دی

۲۹ – په جنت دایمان معنا دادی چې یو شخص پر دې ټینګ باور ولري چې جنتونه شته اونعمتونه یې همېشه دي

۳۰ – جنت ته به تر ټولو دمخه محمدصلی الله علیه وسلم ننو وزي اوبه ټولو امتونوکې به درسو ل الله صلی الله علیه وسلم امت او ددې امت لومړی شخص به ابو بکر صدیق رضی الله عنه جنت ته داخلېږ ي

۳۱ – ددې امت په ایمان کې لوړ منز لته پر هېزګاره بادیانته شخصیتو نه به دیو صف په تو ګه جنت ته داخلېږ ي مخونه به یې دسپوږ مي په شان خلېږ ي

۳۱ – ددې امت بې وزله خلک به دشتمنوځخه مخکې جنت ته درو مي

۳۳ – جنت همیشه ده او فنا نه لري او جنتیان تل تر تله خلک دي چې مرینه نه لري

۳۴ – دوزخ تا ؤ جن ګرم دمجرمانو زندان او ستره رسوایي ده چې الله تعالی دکافرانو، منا فقینو سر کښانو اودپیغمبر انو دښمنانوته تیار کړی دی

۳۵ – دوزخي هریو کافرید بخته ملحد اوبې دینه انسان دی

۳۶ – داهل سنت والجما عة دټولو علماء و په اتفاق جنت اودوزخ هم دااوس مو جو ددي

۳۷ – دوزخ دځینو علماء وپه نېز ددځمکې لاندې برخه کې او ځینې وایي په اسمان اوځینې نورېې بیا علم الله جلا جلا له ته سپاري

پو ښتنې

لومړی پو ښتنه په لومړی شپېلی سره به څه پېښ شي او په دويمې سره به څه پېښ شي ؟

دويم پو ښتنه : شپېلی راوپېژنی اوهم په شپېلی کې دپوکې دلايل شرح کړی ؟

دريمه پو ښتنه : بعث بعد الموت راوپېژ نی اودبعث دلايل په ګو ته کړی ؟

څلورمه پو ښتنه : قيامت ته ولې قيامت وايي

پنځمه پو ښتنه : داعمالو حساب څه معنا لري ؟

شپږمه پو ښتنه : په قيامت کې دالهی محا سبې کيفيت واضح کړی ؟

اووه پو ښتنه : له کافرانو سره حساب کېږي اوکه نه ؟

اته پو ښتنه تر ټولو دمخه به له کوم امت سره محا سبه وشي ؟

نهمه پو ښتنه : به عباداتوکې تر هر څه دمخه دځه شي اودبند ګانو په حقوونو کې به لو مړی دځه شی محا سبه کېږي؟

لسمه پو ښتنه : په قيامت کې دميزان دتلې مطلب واضح کړي ؟

دولسمه پو ښتنه : دتلې دنصب حکمت واضح کړی ؟

ديارلسمه پو ښتنه: دعملنا مو غورېدلو مو خه واضح کړی ؟

څوارلسمه پو ښتنه: حوض کوثر راوپېژ نی

پنځلسمه پو ښتنه : دکوثرحوض له کوموځايه رابهېږي ددغو اوبوصفت بيان کړی

شپارلسمه پو ښتنه : د صراط پول راوپېژنی

اتلسمه پوښتنه : دثبوت دلايل يې عبارت دی له

نولسمه پو ښتنه : دصراط په پله دتېر ېدو کيفيت وليکی

شلمه پو ښتنه : جنت راوپېژنی؟

يو ويشتمه پو ښتنه : جنتي چاته ويلی شي

دوه ويشتمه پو ښتنه : جنتونه اوس شته اوهم ايا پناه کېدل لری اوکه نه ؟

درويشتمه پو ښتنه : په جنت دايمان معنا وليکی

څلېروشتمه پو ښتنه : په پيغمبرانو کی به لومړی او په امتونوکې به کوم امت اؤ په امت کې به لومړی شخص څوک جنت ننووزي ؟

پنځه ويشتمه پو ښتنه : دوزخ راوپېژ نی ؟

شپږ ويشتمه پو ښتنه : ايا دوزخونه هم دااوس موجود دي

اته ويشتمه پو ښتنه : دوزخو نه چېر ته دي

داوه لسم څپرکي دمطالبو فهرست

لړليک

سرپڼه

دایمان نواقض

د ایمان دنواقضو ډولونه

لومړی دایمان اعتقادي نواقض

- کفر
- شرک
- ارتداد
- بدعت
- نفاق

دویم دایمان قولي نواقض

- دالله تعالی له ربوبیته دانکار شکلونه
- دالله تعالی له الوهیته دانکار صورتونه
- دالله تعالی په ذات اوصفاتو کې دطعن شکلونه
- په نبوت اورسالت کې طعن او عیبونه لګول

دریم: دایمان عملي نواقض

- له کفارو سره دمینې اودوستۍ شکلونه

دشپاړلسم څپرکي دمطالبولنډیز

دشپاړلسم څپرکي تشریحي پوښتنې

اولسم څپرکی

دایمان نواقض (له مینځه وړونکي)

سرېزه:

الله تعالی اسلام ته دنوتلو لپاره په شهادتینو (لااله الا الله محمد رسول الله) اقرار اوتصدیق ننووت لازه ګرزولې ده یوشخص له اسلامه هلته وځي چې له ده څخه داسې وینا، عمل اویا اعتقاد څرګند شي چې تهر اقرار او باور له مینځه یوسي په دې توګه چې یا دالله تعالی په ربوبیت یا په الوهیت یا په اسماءو او صفاتو اویا په رسالت کې په طعن اوعیب لګولو لاس پورې کړي په دغه صورت کې ددغه شخص اقرارمات او دالله له دین څخه وؤت له اسلامه دیو شخص وتل له دلیل اوثبوت څخه پرته صحت نه لري دغه ډېره خطرناکه مسئله ده بې ځایه او له دلیله پرته په خلکو دکفر فتوی صادرول هېڅکله جواز نه لري په دې څپرکي کې به درانه لوستونکي په لاندې مطالبو پوهه حاصله کړي

د نواقضو معنا:

نقض په لغت کې ماتولوته وایي اوپه اصطلاح کې ځینو اعتقاداتو، ویناءو او افعالو ته ویل کېږي چې ایمان له مینځه وړي دې ته نواقض ځکه وایي چې کله یې انسان مرتکب وګرزي له اسلامه خارجېږي او په کفر کې داخلېږي دایمان نواقض ډېر زیات دي موږ یې په درې ډولونو کې خلاصه کوؤ

۱. اعتقادي نواقض

۲. قولي نواقض

۳. عملي نواقض

اعتقادي نواقض

(۱) کفر (۲) شرک (۳) بدعت (۴) ردت (۵) نفاق

لومړی: کفر

کفرپه لغت کې پټولو او انکار کولوته وایي او په اصطلاح کې هغه څوک چې له پوهې او عقل سره دالله عز وجل له سپېڅلي ذات او یا یې له طاعت څخه انکار وکړي په دې توګه هغه شیان چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دوحی په ترڅ کې

دالله تعالی له لوري په غوځ ډول راوړي لکه له لمانځه نه انکار ،دزنا ،شرابو ،قمار اوسود حلال ګڼل اوداسې نور.....

دغه شخص ته ځکه کافر ویل کېږي چې هغه په خپل فطرت يې دنا پوهې پر ده غوړ ولې ، هغه داسلام په فطرت ز ېږ ېد لی په ده کې الله جلت عظمته د پنځه ګو نو حواسو او عقل داسې استعداداو صلا حیت ایښی چې هغه پرې پېژ ندلی شي که له دغه ځواکو نو ځخه کا ر واخلي دالله عزوجل دپېژ ند نې لپاره ورته کفایت کوي هغه داسلام په فطرت ز ېږ ېد لی دهغه په بد ن او گر د چا ر پېر ه نړ ی باند ې الهی ظو ابط او قو انین حا کم دي چې یو ه ذره بد لو ن نه مو مي دکا ینا تو منظمه کار خا نه روانه ده مګر دهغه په عقل پر ده پر ېو تې له دومر ه ستر حقیقت ځخه انکا ر او دخپل فطرت پر خلا ف سو چ او فکر کو ي .کفر لو یه نا پو هي او تر ټولو لو ی ظلم دی . کفر یو اځې ظلم نه بلکې بغا وت او نا شکر ي هم ده

کفر

- داچې یو ځوک له الله عز وجل ځخه انکار
- او یا له الهي احکا ما تو او هد ایا تو ځخه منکر شي
- او یا د الهي هدایت لپاره پیغمبر ان وسیله ونه بو لي
- او یا د پیغمبر انو تر مینځ متعصبا نه چلنه غو ر ه کړ ي ځینې ومني او او ځینو له منلو ځخه سر غړ ونه وکړ ي
- او یا دپیغمبر ځینې لار ښو نې ومني او له ځینو نو رو ځخه منکر شي او س به په تفصیلي تو ګه دکفر ډولو نه وځپړ و

د کفر ډولونه

- **دشک کفر** په هغه څه کې شک درلودل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له خانه سره راوړي دي په دې توګه چې نه يې تصد یقوي اونه يې تکذ یبوي ځوک چې مشرکانو ته کافر نه وایي او یا ددوی په کفر کې شک کوي او یا ددوی ټکلارې سمه بولي له اسلام ځخه وتلي دي
- **داعراض کفر** دالله تعالی له دین ځخه اعراض کول اوورځخه مخ اړول په دې توګه چې نه يې په زده کړه لاس پورې کوي او نه پرې عمل کوي همدارنګه درسول الله داطاعت ځخه په خپله هم مخ اړوي اونور هم ورته هڅوي اوداسلامي شریعت دقوانینو دمنلو ځخه په بشپړه توګه خلک اړوي

• **دجحود کفر** داچې له هغه نظامه څخه منکر شي چې رسول الله له خا ن سره راوړی او یا ددین له یو ې معلو مې بر خې څخه انکا ر وکړي

• **دتکذیب کفر** پیغمبر ته دروغژن نسبت کول او داسلام دین دروغ بلل دتکذیب کفر دی

• **داستکبار کفر** هغه څوک چې داسلام په حقانیت معتقد مګر دکبر اولویي له امله بل مسلک او تګلاره غوره کړي اوپردې یې یقین وي چې دغه دین دوخت شته ستونزې نه شي حل کولی.

دویم ـ شرک:

دشرک لغوي او اصطلاحي پېژندنه په عربي ژبه کې ددوو اشخاصو ترمینځ دیو شي اشتراک ته وایي اوپه اصطلاح کې چې انسان دالله جل جلاله نه پرته نور شیان په یوکار کې شریک وبولي چې هغه الله جل جلاله پورې اختصاص ولري لکه لمر،ستورو،بت،طبیعت،ملایکو،حضرت عیسی علیه السلام او نورو پیغمبرانو او نېکانو خلکو ته په عبادت نذر او نیازلاس پورې کول، په همدې توګه په کهانت اودالله تعالی په ملکیت،حاکمیت ،خالقیت اوتصرف کې دمخلوق شریکول.

شرک د جا هلیت یو ه نا ولې او کثیفه څیبر ه ده چې دبنسټ ډبر ه یې پر وهم اټکل او ګو مان ایښو دل شو ې . مشرک انسان دتل لپاره دوېرې اوخیال په سمند رکې ډوب وي دمثال په توګه یو څوک او ر وینې ، ررو ښنا یې لري رو ښنا یې ته په عظمت قا یل او دالله عز وجل صفت ورته ورکو ي دخیر سر چینه یې ګڼې مشر کا ن په الله عز وجل قایل او له الله جلت عظمته څخه انکار نه کو ي قران عظیم الشان دغه مطلب ته داشا ري په ترڅ کې فر ما یي (

مشر کانو به دالله تعالی جلت عظمته په نا مه سو ګند ونه یا دول ، الله عز وجل ته به یې فر یا دو نه کو ل . خو ، له دې سره سره هم قران یې کا فر ان بو لي

دشر ک دبطلان دلایل

(۱) څنګه چې مشر ک دالو هیت په خا نګړ تیاؤکې مخلوق شریکوي داډېرلوی ظلم دی څنګه کېدای شي چې ناتوانه مخلوق له الله جلت عظمته سره یوشان شي ،ظلم اوزیاتی دې ته وایي چې یوشی له خپل ځای اومحل څخه پرته کېښودل شي نوهرڅوک چې دغیرالله په بندګی اوستاینې لاس پورې کړي هغه په حقیقت کې بندګي اوعبادت غیر مستحق ته کوي چې دلوی ظلم مرتکب وګرځېد.

۲، الله تعالی جلت عظمته موږته خبر راکړی چې یوځوک له شرکه توبه ونه باسي
نه یې بخښي
۳، الله تعالی جنت یې په مشرک حرام ګرځولی دی
۴، شرک دانسان ټول نېک اعمال باطلوي
۵، دمشرک سړي مال اخیستل او وینه تو یول روا دي
۶، رسول الله صلی الله علیه وسلم شرک ډیر لوی جرم بللی دی
۷، شرک یو عیب او نیمګړتیا ده چې الله جلت عظمته ورځخه خپل ځان پاک او
سپېځلی ګرځولی دی نوپردې اساس هرځوک چې له الله عزوجل سره شرک وکړي
په حقیقت کې یې هغه شی چې الله پاک ورځخه ځان ساتلی ؤهغه جلت عظمته ته
یې ثابت کړهمدغه کارډ هره لویه دښمني اوله الله عزوجل ځخه ډ هرلوی مخالفت
دی

دشرک ډولونه

۱۔لوی شرک

۲۔کوچنی شرک

لوی شرک:دېته وایي چې یو شخص له الله تعالی نه پرته بل معبود ونیسي.

حکم یې:ستر ظلم اولوی جرم دی چې هېڅکله یې الله تعالی نه بخښي مرتکب یې کافر له اسلامه خارج ټول نېک اعمال یې برباد او په دوزخ کې به دتل لپاره اوسېږي.

دلوی شرک ډولونه

- **په دعاء کې شرک**:دعا او زاري ستر عبادت دی ځوک دغه عبادت غیرالله ته وکړي په لوی شرک کې اخته اوله اسلامه ووت دمثال په توګه یوسړی دیوولي الله قبر ته رادرومي او ورته اواز کوي چې ای دالله دوسته ازما رنځ ښه کړه او بازما دغه حاجت پوره کړه او یا درسول الله قبر ته راځي اووایي ! ای دالله رسوله ! زما دغه حاجت پوره کړه زما فریاد واوره اوداسې نور...
- **په علم کې شرک**:داچې له الله عزوجل ځخه پرته کوم،پیر،فقیر،ملنګ،ملایکې اویاپیغمبرته په بشپړه توګه دغیبوعلم ثابت کړي ،حضرت موسی علیه السلام دطورغره ته ولاړځلویښت شپې یې هلته تېرې کړې سامري قام ګمراه کړهغه پرې خبرنه ؤ،حضرت یعقوب علیه السلام ځلویښت کاله

دخپل زوی حضرت یوسف په مړینه اوژوند معلومات نه درلود .مشرکانوله رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه داصحاب کهف په باره کې پوښتنه وکړه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته معلومات نه ؤاتلس شپې وروسته وحی نازله شوه دپورته دلایلوپر اساس پیغمبرانوته په غیبوعلم حاصل نه وي مګرهغه چې الله جل جلاله یې پرې خبرکړی

- **دویم په تصرف کې شرک** په غا یبا نه توګه ما فو ق الاسباب دنفعې او زیان رسو لو خو اک یو چا ته ثا بتو ل شرک دی ما فوق لاسباب غو ښتنه دې ته وایې چې له یو چا څخه داو لاد او صحت غو ښتنه وشي دغه غو ښتنه جواز نه لري البته ما تحت الاسباب مر سته غوښتل جواز لري الکه یو چا څخه پیسې او سا مان غو ښتل چې دهغه په واک کې وي

فعلي شرک

- **دعبادت او تقرب شرک** په دې توګه چې غیر الله ته په عبادت لاس پورې کړي لکه بتانو ته سجده ،قرباني،نذر او نیاز،دقبرونو څخه تاوېدل خاورې اوختمې یې څټل او داسې نور.....
- **دطاعت اواتباع شرک** الله تعالی دټولو موجوداتو خالق دی دحلالو او حرامو واکي دده په لاس کې دي داسماني وحی په ترڅ کې یې خپل وروستی قانون قران عظیم الشان رالېږلی دی پردې اساس چې یو څوک مخلوق مطلق حاکم دروا او ناروا ؤواکمن وبولي په شرک کې اخته او له اسلامه خارج شو،دیهودو اونصاری ؤ عالمانو هم په همدغه کار لاس پورې کاؤ په اوسني وخت ددغه شرک څرګندې نښې په اسلامي هېوادونو کې دانګلستان،فرانسې روسیې او امریکا دوضعي قوانینو واکمني ده چې اسلامي شریعت یې د ژوند له ډګره ګوښه کړی دی.

دویم کوچنی شرک

هر هغه شی چې شریعت منعه کړی وي اویو شخص پرې له اسلا مه نه وځي البته توحید ته زیان رسو ي اودلوی شرک وسیله جوړېږي

دکوچني شرک ډولونه

(۱) څرګند لفظي (۲) کو چنی فعلي (۳) پټ او نا څر ګند

- **څرګند لفظي شرک**

ښکاره او څرګند شرک هم الفاظ او هم افعال دي دالفاظو شرک لکه له الله عز وجل نه پرته په بل څه سوګند خوړل په هم دې توګه یوه اصحابي ډویل ما شاء الله وما شاء محمد صلی الله علیه وسلم یعنې چې دالله عزوجل او دهغه درسول صلی الله علیه وسلم خوښه وشي . پیغمبر صلی الله علیه وسلم وویل : اجعلتنی الله ندا: ایا تازه له الله تعالی سره شریک جوړ کړم داسې وایه (ما شاء الله وحده) یعنې چې یو اځې الله عز وجل غوښتنې وي

- **کوچنی فعلي شرک**

دمثال په توګه په غاړه کې دحلقې او تار اچول په دې هدف چې بلا ګانې به ورڅخه لېرې کړي که یو څوک په دې باور ولري چې دغه شیان دبلا ګانو او افتو نو دلېرې کولو وسایل دي په دغه صورت کې کوچنی شرک ګڼل کېږي . البته که یو څوک په دې عقیده ولري چې دغه شیان پخپله بلا او افت لېرې کوي په دغه حالت کې لوی شرک ګڼل کېږي

- **کوچنی خفي شرک**

دغه شرک په قصد او نیت کې را مینځته کېږي لکه ریا ، شهرت او داسې نور دمثال په توګه یو څوک دخلکو په مخ کې لمونځ ترسره کوي غواړي خپل لمونځ اوږد کړي او یا خیرات ورکوي تر څو ورته خلک سخي ووایي او یا دخلکو داورېد لو په خاطر دخپل تلاوت عبر لوړ کړي ریا او تظاهر چې هر کله له عمل سره یوځای کړای شي نېک عمل له مینځه وړي پیغمبر صلوة الله وسلامه علیه فرمایلي دي درانی اخوف ما اخاف علیکم الشرک الاصغر ، قالوا یا رسول الله وما الشرک الاصغر ؟ قال : الریاء

دلوی او کوچني شرک دنتایجو بېلتون

په پورته ډول چې موږ کومې څرګندونې وړاندې کړې دلو او کوچني شرک دېبلتون نتیجه وړاندې کېږي .

(۱) لوی شرک مشرک شخص داسلام له ملت څخه خارجوي خو کوچنی شرک يې له دین څخه نه وباسي .

(۲) لوی شرک تول نېک کړه وړه له مینځه وړي او کوچنی شرک یې له مینځه نه وړي یو اخې ریا ء او هغه کارچې دد نیا لپاره تر سره شوی هماغه عمل فاسد وي او دله مینځه وړلامل یې ګرځي

(۴) لوی شرک دمشرک وینه او مال مباح ګرځوي مګر کوچنی شرک یې مباح نه ګرځوي

او س مو ، چې دشرک پېژندنه ، ډولونه او مثالونه ولوستل باید ډېر سخت محتاط واو سو چې دشرک له تولو ډولونو ځخه خپل ځان وساتو او خپل تول کړه وړه یو اخې دالله عز وجل درضاء په خاطر سرته ورسوتر څو دالله عز وجل په دربارکې دقبول وړ وګرځي

درېیم : بدعت

داسلام په احکامونا پوهي او بی اعتنا یي ددې باعث ګرځېدلې چې کوم شیان ددین برخه نه ده دین ته یې نسبت کېږي او ورو ورو دیني شکل ځانته نیسي او خلک یې په سرته رسولو کې دثواب هیله من وي .ځنګه چې بدعت دعقیدې دله مینځه وړلو ډېر خطرناک عنصر دی په هم دې اساس دبدعت د خطر او زیان په هیله یو څه څرګند ونه غواړم .

- **دبدعت پېژندنه**

بدعت په لغت کې په دین کی نوې ایجاد او دنوي کار رامینځته کولو ته وایي چې له پیغمبر صلوة الله وسلامه علیه ځخه وروسته رامینځته شوی وي .شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمة الله علیه ویلې دی چې بدعت له هغې ویناو کار ځخه عبارت دی چې الله عز وجل او پیغمبرصلی الله علیه وسلم رواګرځولي نه وي اودوجوب او استحباب امر یې نه وي صادر کړي .

بدعت په دوه ډوله دی یو په وینا او بل په عقیده ، اعمالو او عاداتو کې دی په هم دې توګه امام ابن تمییه رحمة الله علیه دبدعت په هکله ویلې دي : بدعت له هغې عقیدې او عبادت ځخه عبارت دی چې دکتاب او سنت او دامت دسلفو صالحینو دراجماع مخالف وي لکه خوارج ، روافض، قدریه ، جهمیه او دهغو خلکو کړه وړه چې په جوماتونو کې په ګډا ، موسیقی ، عبادت او ذکر لاس پورې کوي حافظ ابن رجب رحمة الله علیه دبدعت په تعریف کی ویلي دي : له بدعت ځخه

هد ف هغه شی دی چې نو ی رامینځته شو ی وي او په اسلامي شریعت کی هیڅ اساس ونلري

دبد عت ډولو نه

(۱) مکفره (۲) مفسقه

لومړی مکفره بد عت چې په اختیارولو سره یې شخص له اسلامه وځي

دویم مفسقه بد عت چې په اختیار ولو سره یی سړ ی له اسلام څخه نه وځي.

دبد عت دخرابتیا دلایل

دبد عت دقبا حت په هکله په قران کریم او نبو ي حد یثو نو کې ګڼ دلا یل دي مو ږ دلته په لنډ ډول یو څو دلا یلو ته اشا ره کو ؤ.

- **له قرانکریم څخه**

الله تعالی جلت عظمته فرما یلې دي ( )

صراط مستقیم هما غه لار ه ده چې الله جل جلا له ورته خلک رابللي دي او هغه دسنتو لاره ده نو ر ې لارې دصر اط مستقیم څخه محر فې لار ې دي په هم دې تو ګه په بل ځای کې ارشاد د ی ( )

- **له نبوي سنتو څخه**

دبد عت دنا وړتیا په هکله له رسو ل اکرم صلی الله علیه و سلم څخه ډ هر رو ایتو نه نقل شو ي دي. مو ږ دلته دیو څو دلا یلو په راوړلو اکتفا ء کو ؤ.

(۱) دمئو منا نو له مو ر عا یشي رضی الله عنها څخه روایت دی چې رسو ل اکرم صلی الله علیه وسلم فرما یلې دی (من احدث فی امر نا هذا ما لیس منه فهو رد) دصحیح مسلم په روایت کې دغه الفاظ راغلي دي (من عمل عملا لیس علیه امر نا فهو رد)

(۲) له جا بر رضی الله عنه څخه روایت دی چی رسو ل اکرم صلی الله علیه وسلم به په خپله خطبه کې ویل (اما بعد فا ن خیر الحد یث کتا ب الله وخیر الهدی هدی محمد صلی الله علیه وسلم وشر الامو رمحد ثا تها وکل بد عة ضلا لة ابو بکر صدیق رضی الله عنه ویلې دي (ایها النا س انما انا متبع ولست بمبتد ع فا ن احسنت فا عینو نی وان ز غت فقو مونی)

عبد الله بن مسعو د رضی الله عنه فرما یي دي (اتبعو او لاتبتد عو ا فقد کفیتم کل بد عته ضلا لة

امام مالک رحمة الله علیه فرمایلي دي ، من ابتدع فی الاسلام یرا ها حسنة فقد زعم ان محمد صلی الله علیه وسلم خان الرسالة لان الله یقول الیوم اکملت لکم دینکم فما لم یکن یو منذ دینا فلا یکون الیوم دینا ،

دبدعت حکم

په یقیني توګه په دین کې بدعت حرام کفر او ګمراهي ده دبدعت سرته رسول صحیح نه دي او عمل پرې حرام او نا روا دی البته دحرمت وجه یې دنوعیت په اعتبار فرق لري

له بدعاتو څخه ځینې کفر دي لکه له قبر ونو طواف او سجده په هم دې توګه قبر ونو ته ذبحې او نذرونه وړاندې کول قبر ته فریاد او ژړا او ورځخه مرسته غوښتل لکه د جهمیانو . معتزله ؤ او افراطي روافضو اعتقادیات او ویناوې ،ددې بدعاتو دشرک وسایل لکه په قبر ونو کې دلما نخه اقامه په قبر ونو ګنبذې جوړول او داسې نور

ددې بدعاتو له جملې څخه ځینې ګناه دي لکه دازدواج دنه کولو بدعت لمرته په ودرېدلو سره روژه نیول ،خپل ځان خصي کول او داسې نور

دبدعت زیانونه

بدعت ډېرخطرناک او ناوړه اغیزې لري چې موږ ورته په لنډ ډول کتنه کؤو .

(۱) بدعت دکفر استازی دی ډېر بدعات مبتدع کفر ته رسوي

(۲) مبتدعین له ټولو زیات په الله او پیغمبرصلی الله علیه وسلم دروغ ترې .

(۳) بدعتیان له سنتو سره دښمني لري

(۴) دبدعتي کړه وړه مردود دي

(۵) شیطان غواړي چې بدعتي دتل لپاره په بدعت کې پاتې او خاتمه یې په بدعت سره وګرځي

(۶) بدعتي انسان تل په فتنو کې واقع کېږي

(۷) بدعتي دحق او باطل په ېېلتون کې حیران وي

(۸) بدعتي دخپل ځان او دخپلو پیروانو ګناه پر خپل ځان باروي .

(۹) بدعت مبتدع دالله په لعنت اخته کوي .

(۱۰) بدعتي حق پټوي او خپلو پیروانو ته یې نه وایي .

(۱۱) دبدعتي عمل له اسلامه دخلکو دبېزار تیا لامل ګرځي

(۱۲) بدعتي په امت کې اختلاف اچوي او امت دوه ټوټې ګرځوي

(۱۳) مبتدع دهوا اوهوس پیرو او دشریعت نشر سخته دښمن وي .

داؤودبدعت په هکله لنډ معلومات چې درنو لوستونکوته وړاندې شو هیله ده چې په ډېر احتاط سره په پرلوتلو کې ورځخه خپل ځان وساتو

دایمان دنو اقضو له جملې څخه

څلورم :ار تداد

مرتد هغه عاقل انسان ته ویل کیږي چې پخپلې ارادې او اختیارسره له جبراو زو رڅخه پرته بسل دیـــن اومســـلک غـــوره کـــړي لکـــه یهودیت،نصـــرانیت ،لبرالزم،نشنلزم،سیکولارېزم،کمونېزم اوسوسیالېزم ،ماوئېزم اودا سې نور ....اویا ددین له یو ه څر ګندشي څخه انکار وکړي او یا په داسې یو ې تکلارې عمل وکړي چې داسلام خلاف وي او یا داسې وینا وکړي چې له کفر څخه پرته بل تا ویل ونلري لکه ، نصر انیت ، یهو دیت ، کمو نز م نشنلز م ، سیکولرنزم ، لبرالیزم ،ماء ویزم اوداسې نور مسلکو نه اختیاراو یا دلما نځه اوددین له څر ګند ی برخې څخه انکا رکو ل اوداسې نور

د ار تداد ډولونه

ارتداد په درې ډولوه دی ۱ـ اعتقادي ۲ـ قولي ۳ـ فعلي

اعتقادي ار تداد دټولـو علماءو په اتفاق چې څوک الله نه منکر او یا دالله تعالی دځینو صفاتو څخه انکار وکړي او یا ورته زوی،لور،مېرمن او مثل ثابت کړي اویا ددین له معلومې برخې نه انکار وکړي

ددین معلومه برخه هغه چې په قران کریم اودنبوي سنتو په قاطعو متواترو او ایاتو اود اصحابو په اجماع سره ثابت وي

قولي ار تداد ددین له عقایدو ،قوانینو څخه انکار اویوې کفرې نظریې ته دصحت نسبت کول الله،رسول او قران ته ښکنځلې کول دین پورې ملنډې وهل له اسلامه پرته په بل ملت قسم خو رل او یا له اسلا مه د بېزا رتیا او یا الله عزوجل قران کریم او پیغمبر ته ښکنځلې کول او یا اسلام پورې طعن او ملنډ ې او یا کوم یو ه الحا دي او کفر ي مسلک ته بلنه ورکړ ي د ار تداد لامل ګر ځي اوداسې نور

فعلي ار تـداد لکـه پـه ګنـد ګیو کـې دقـران عظـیم الشـان اچـول پـه لغتـه یـې وهـل ،بت،لمر،سپوږمی ته سجده په خپله سینه د صلیب سمبول نصبول،له شریعت سره مقابله اووضعي قوانینو ته دخلکو د عوتول داسلامي شریعت معطل ګرزول اوپه وضعي قوانینو یې بدلول او په همد ی تو ګه د داحا دیثو او قران تو هین اوداسې نور

حکم یې له مور او پلار نه میراث نه ورل ښځې سره یې بېلتون مذبوحې یې نه خورل اود ټولو اعمالو یې برباد ېدل په دوزخ کې همېشه اوسېدل

دایمان دنو اقضو له جملې څخه پینځم نفاق

پیژند نه یې نفاق له نفق څخه دی نفق په عربي ژب دورکې چا رو او ګوګ ته وایې منافق انسان هم مسلمان ته خپل ایمان څرګند وي او په پټه کافر او دروغژن او زړه یې له ایمانه خالي وي

دنفاق ډولونه

(۱) اعتقادي (۲) عملي

(۱) **اعتقادي** اعتقادي نفاق چې په زړه کې یې ایمان نه وي اعتقادي نفاق کفر دی خو دکفر دعدم اظهار له امله ورسره دکفارو معامله نه شي کولای

دویم عملي عملي نفاق هغه ده چې قلبا اسلام ته معتقد وي مګر په لاندې اعمالو اخته وي لکه دروغ ، خیانت دوعدې خلاف ، او بنګنځلې دغه کړه وړه سړی فسق ته رسوي او کافر نه ګرځي عملي نفاق سړی تل تر تله په دوزخ کې له استوګنې څخه ژغورې او اعتقادي نفاق سړی تل تر تله ددوزخ په اوسهد لو اخته کوي

په قرانکریم کې دمنافقینو صفات

(۱) په خمکه کې فساد برپا کول ، منو منانو ته دسفاهت نسبت

(۲) منو منانو ته دوکه ورکول له کفارو سره دکفر اظهار او څرګند ونه

(۳) داسلامي شریعت له حاکمیت څخه سرغړونه دالله تعالی له حاکمیت څخه دخلکو بندول

(۴) په منکراتو او ناروا چارومارو او دنیکو چارو مخنیوی

(۵) کافرانو خپل سرپرستانو او رینبتینې دوستانو ګډل

(۶) له منو منانو سره دایمان له امله دښمني او له کافرانو سره دوستي

دویم دایمان قولي نواقض

- **په ربوبیت کې**

دالله تعالی له ربوبیته دانکار شکلونه

(۱) له الله تعالی انکار

(۲) دمادی په تقدیم باور

(۳) په تصادف او طبیعت یقین

(۴) دالله تعالی له ملکیته انکار

(۵) له الله تعالی عزوجل سره په ملک او روزي کې بل څوک شریکانو بلل

(۶) دغه ادعاء چې الله دکائناتو خالق دی خو په کائناتو کې دتصرف تدبیر ، ساتنې او ملکیت څښتن نه دی

(۷) خپل خان او یا بل چا ته دمطلق تصرف ، واکمنی او حاکمیت دعوه
(۴) الله عزوجل ته داولاد ، بښځې ، خوب او غفلت نسبت ثابتول
(۵) خپل خان او یا بل چا ته دالله تعالی دعلم او حکمت په اندازه علم او پوهه ثابتول

- **په الوهیت کې**

څوک چې دعبادت استحقاق بل چاته ثابت کړي په همدې توګه چې څوک پردې خوښ وي چې خلک ورته سجدې وکړي اویاورته په رکوع لاس پورې کړي اویادازاد قانون جوړولو ادعاء وکړي په دې توګه چې زنا ،شراب قمار او سود رواوګرزوي او دجواز امریې صادرکړي او همدارنګه دجرایمو عقوبات چې په قران کریم او نبوي حدیثو کې ذکر شوي معطل او ملغی اعلان کړي

- **په ذات او صفاتو کې**

(۱) دالله تعالی جل جلاله دصفاتو له جملی له یوه څخه انکار دمثال په توګه دالله له علم ،سمع او قدرت څخه منکر یدل
(۳) دالله له قدرت ، قیومیت ، علم او کلام څخه انکارو
۴دالله تعالی صفات دمخلوق دصفاتو سره مشابه ګرزول په دې توګه چې ووایي الله تعالی هم دانسان په بنه ستړګې ، غوږونه لاسونه او پښې لري اورېدل یې دمخلوق داورېدلو او قوت یې دخلکو دقوت په شان دی
۴الله تعالی ته زوی ،لور ، میرمن مور او پلار ثابتول کفرګڼل کېږي

- **په نبوت اورسالت کې**

(۱) دپیغمبرپه ریښتینولې ، امانت ، عفت ، عقل او پوهه کې عیب بیانول پیغمبر ته بنکنځلی کول ،اوورپورې تو قی او ملنډې وهل اویادقران عظیم الشان دیوې برخې او یادقران دحفاظت نه انکار په قران اوسنتو دثابت شي نه انکار لکه دمیزان تله ، قیامت ، حساب دصراط پل او دجنت او دوزخ نه انکار کفرګڼل کېږي
(۲) له هغوچارو څخه انکار چې پیغمبر یې خبر ورکړی لکه بعث ، پل صراط او یا بل غیبي کار
(۳) په کفر خوښي او په اسلام نا خوښي چې لاندې صورتونه غوره کوي
الف کافرانو، ملحدینو ، مشرکانو او مرتدینو ته دکفر نسبت نه کول دهغوې په کفر کې شک کول او یا دهغوی په تګلاره دصحت ننبه ایښودل دمثال په توګه چې ووایي یهودیت او نصرانیت هم داسلام په شان دینونه او دتابعدارۍ وړدي
دالله تعالی په الوهیت کې د طعن او عیب لګولو شکلونه
(۱) دالله تعالی منل خو ، له عبادت اوحاکمیت څخه یې انکار
(۲) دالله تعالی له مخلوقاتو نه یوچا ته په بندګۍ او واکمنۍ قایلېدل

۳ ، له اسلامي شريعته پرته بل قانون او نظام نه سر ټيټول او دزړه له تل څخه يې منل ،
د غير شرعي قوانينو وضع کول او ورته په مينه غاړه اينبودل دسا ري په نوګه دز نا جو از
، شراب ، سود ، عريا ني او داسې نور

درېيم دايمان عملی نواقض

- **له کفار وسره مينه او دوستي**

۱ ، دهغوی دخو اهيشاتو پيروي
۲ ، دهغوی دا و امر و ا طاعت
۳ ، کا فرانو ته قلبي تما يل اودزړه له تله يې خو ښيد ل
۴ ، هغو ی ته دميني او محبت څر ګند ونه
۵ ، له هغوی سره مر سته
دهغو ی دبا دادری منل
- له هغوی سره داسلام او مسلمانانو پر خلا ف پلا نو نه جو ړ ول
د هغو ی دپلا نو نو تنفيذ او تطبيق
۲ ، دهغو ی دافکار او نظر ياتو ، ارز ښتو نو او کړ نلا ري درنا وی
۷ ، په اسلام نا خو ښي
۸ ، الله ، رسو ل ، قران کريم او منو منانو پو ري دايمان له امله ملنډ ې وهل او هغو ی ته سپک کتل
، دين پو دي ملنډ ې او په دين نا خو ښي ددين له څر ګند و شيا نو څخه انکار لکه لمو نځ ، روژه ،
زکات حج برابره خبر ه ده چې په وينا ، عمل او اشا ري سره وي دغه شيان انسان دارتداد په درشل
ورتنباسي

دشپاړلسم څپرکي دمطالبو لنډيز

الله تعالی اسلام ته ددا خلېدولپاره په شهادتينو «لااله الا الله محمدرسول الله»اقرار اوتصديق ننووت لازه
ګرزولې ده دايمان نواقض له اسلامه دخارجېدو شيان دي
دايمان نواقض څينواعتقاداتو ،وينا،و اوافعالو ته ويل کېږي چې په عمل سره يې سړی له اسلامه
خارجېږي او په کفر کې داخلېږي چې دري برخو ته شاملېږي اعتقادي نواقض، قولي نواقض، عملي
نواقض
اعتقادي نواقض لکه کفر ،شرک، بدعت، ارتداد ،نفاق
دويم دايمان قولي نواقض ۱ دالله تعالی له ربوبيته انکار ۲دالله تعالی له الوهيته انکار ۳دالله
تعالی په ذات او صفاتو کې طعن اوعيبونه بيانول ۴په نبوت اورسالت کې طعن او عيبونه لګول
درېيم دايمان عملي نواقض:
دکافرانو دخواهشاتوپيروي، دهغوی داوامرو اطاعت، کافرانو ته دزړه ميلانا و هغوی ته دميني
اومحبت څرګندونه، له هغوی سره مرسته دهغوی باداری منل، له هغوی سره داسلام پرخلاف پلانونه
جوړول، دهغوی دپروګرامونو تطبيق، دهغو دافکارودرناوی په اسلام ناخوښي، الله ،رسول او قران
پورې ملنډې وهل او ددين له څرګندو شيانو انکار.

جمعیت اصلاح و انکشاف اجتماعي افغانستان

د نشراتو او فرهنګي څانګه









جمعیت اصلاح و انکشاف اجتماعي افغانستان یو تربیتي، اصلاحي، دیني، ازاد او غیر دولتي سازمان دی چې د اسلامي اصیل پوهاوي د خپراوي، غیر اسلامي افکارو سره د مقابلې او اسلامي کلتور او افغاني ارزښتونو د پیاوړتیا په موخه د فرد، کورنۍ او ټولنې د اصلاح په برخه کې کار کوي.

دغه ټولنه په لاندې څانګو کې فعالیتونه لري:

* د نشراتو او فرهنګي څانګه: (د ملي اصلاح ژوند، اذان، معرفت او قافله خپرونې د اصلاح غږ راډیو، اصلاح ان لاین نت www.eslahonline.net یې لیسه)
* تعلیمي څانګه: (د اصلاح عالي دارالمعلمین، دامام ابو یوسف بنوونیز مرکز اود اصلاح عالي فخري دارالعلوم، شاه ولي الله دهلوي دارالعلوم، آینده سازان متوسطه
* د مهارتونو د ودې څانګه
* د عامه فعالیتونو څانګه
* د اجتماعي خدماتو څانګه
* د خویندو څانګه
* د ځوانانو څانګه
* د مرکزي دفتر پته:

کابل، تایمني واټ، د حاجي محمد داد څلور لاري، څلورم سړک، د ترشا

تیلفون شمیره: ۰۷۹۹۳۹۴۰۱۶ / ۰۷۵۲۰۱۶۶۴۰

د نشراتو څانګې دفتر: کابل، خوشحال مینه، الف ساحه، د شاداب ظفر بلاکونو

تیلفون: ۰۷۹۹۳۹۴۰۱۵، ۰۷۵۲۰۲۱۲۲۱/ ۰۷۷۸۱۹۱۳۸۲ څلورم

د سیمیزو دفترونو پتې:

ننګرهار: د جلال آباد بنار د محاکمو ریاست ترشا چهل متره سړک، بني لاس کوڅه، لومړی کور د تیلفون شمیره: ۰۷۰۰۶۳۲۴۸۰.

کندهار: شهر نو، هرات سړک، خوشبخت صالون ته مخامخ سوري ښه، د جمعیت اصلاح دفتر تیلفون: ۰۷۰۰۳۰۸۲۷۱.

لغمان: مهترلام بنار، د تیلفون شمیره: ۰۷۹۹۴۴۲۹۲۰.

هرات: د وینې بانک سړک، د قمر له تالار نه پورته، د هشت بهشت کوڅه انجمن اخلاق و معرفت